ځلورمه برخه:

د خوارزمشاهانو وروستۍ ماته او د چنګېز راوتل

(۶۱۶ – ۶۴۰هـ)

د چنګېز د رواتلو په وخت کي د غزنوي او غوري کورنيو مرکزي واکمني له منځه تللې وه او د هيواد د شمالي سيمو واک د خوارزمشاهي دربار په لاس کي وو. په سيستان کي د نيمروز محلي ملکانو کمزوری حکومت چلاوه. د افغانستان د لمر خاته برخي هم د هغو اميرانو په لاس کي وې، چي د غور سلاطينو کښېنولي ول او په هرات کي د کرت حکمرانانو حکومت کاوه (ال کورت).

په داسي حال کي چي د هيواد قوتونه سره تيت او پاشلي سوي ول، پر ودان افغانستان او د هغه پر مترقي او مدني ښارو باندي د آمو له ها خوا ځخه د چنګېز دهشتناک يرغلونه شروع سول او د (۶۰۰هـ = ۱۲۰۳ م) په شاوخوا کي د چنګېز خان (تموچن د يسوکای بهادر زوی چي د قيات په ټبر کي په ۵۴۹ هـ = ۱۱۵۴ م زېږېدلی وو) تر فرمان لاندي د منګوليا په قراقروم کي يوه لويه امپراطوري جوړه سوه، چي حدود ئې د چين له سينده تر پاميره رسېده او د سلو مليونو په شاوخوا کي د منګوليا د ټولو طايفو وږي او وحشي خلک د چنګېز تر کلکي اداري او خونړي تېغ لاندي د ده فرمان ته منتظر ول.

دا وخت سلطان علاؤالدين محمد خوارزمشاه له اورګنجه پر ماوراءالنهر او د افغانستان او ايران پر يوې برخي حکومت کاوه. ده د سمرقند د ترکانو او قراخطائيانو دولت چي د خوارزمي دولت او چنګېزي قواوو تر منځ حائل وو، له منځه يووی او هم ئې د افغانستان غوريان چي د ده ملاتړ ول او له غزنه او د افغانستان له نورو سيمو ئې د وحشي غزانو په پوپنا کولو کي امتحان ورکړی وو، له پښو واچول او د بغداد د خليفه الناصرالدين الله (۵۷۵ – ۶۲۲ هـ) سره ئې هم اختلاف درلود او د هغه نوم ئې له خطبې او سکې ځخه ايسته کړی وو او نوموړي خليفه د خپلو ليکنو له لاري چنګېز خان د

خوارزم پر دولت یرغل ته پاڅاوه او پخپله د سلطان درباریانو هم د چنګېز سره مکاتبه درلوده او د هیواد په چارو کي هم د سلطان د مور ترکان خاتون له لاسه ګډوډۍ او ورانی راغلی وو. تر دې حده چي د دې ستمګاري ملکې له لاسه د هیواد ټول مشران پزي ته راغلي ول او ګواکي له دننه او دباندي د خوارزمشاهي دولت د نړېدو سببونه راغونډ سوي ول.

د چنګېز امپراطوري د خوارزمشاهي دولت سره په (٦١٦ هـ – ۱۲۱۹ م) کال ونښته او په همدغه کال کي وو چي سلطان خوارزمشاه د تاتار تجارتي کاروان تالا کی او د چنګېز سفیر ئې وواژه. چنګېز له ډېره قهره د دوو سوو زرو تنو لښکر سره د طوفاني سېلاب په څېر د خوارزمشاه پر هیواد راوخوت او تر شا ئې یو ملیون نور ملاتړ هم درلود. د ده لښکر تر سیحون راپوري ووت ا و سلطان محمد خوارزمشاه ئې مات کی ا و په یو داسي زور او وحشت چي په تاریخ کي ئې ساری نه وو لیدل سوی پر اسلامي ودانو ښارونو لکه بخارا او سمرقند او بناکت او خجند او د ماوراء النهر پر نورو ښارونو یرغل وکی او دا ښارونه ئې په خورا دهشت وران او خلک ئې ووژل (٦١٧ هـ = ۱۲۲۰م).

خوارزمشاه چي د چنګېز له زورورو حملو څخه تر جیحون راپوریوتلی او په بلخ کي ناست وو د ماوراءالنهر د ورانۍ د خبر تر اورېدلو وروسته مخامخ طوس ته وتښتېد او دا ښارونه ئې دې لاندي امیرانو ته وسپارل چي د چنګېز مخه ونیسي:

ترمذ ئې د سیستان د لښکر مشر امیر زنګي ابي حفص ته او د تخارستان ولخ ئې امیر سرهنګ سام ته، د بامیان کلا ئې امیر عمر باوردي، پېښور او غزنی ئې ملک اختیارالدین خرپوست ته ، د غور سنګه ئې ملک حسام الدین سرزراد د غور نور ي کلاوي ئې ملک قطب الدین حسن، د هرات کالیون ئې اختیارالملک دولت یار، هرات ئې شمس الدین جوزجاني، د غرجستان فیوار ئې پهلوان اصیل الدین نشاپوري، د تالقان نصرت کوه ئې د الغ خان خدمتګارانو ته، د غرجستان کلاوي ئې عمید پهلوان شروان، د فېروز کوه ښار ئې مبارزالدین سبزواري ته او د تولک کلا ئې امیر حبشي نېزه ور ته وسپارل.

خو د چنګېز لښکري د جبه او سبتای او تغاجار په مشرۍ د (٦١٧هـ = ۱۲۲۰م) کال په لومړۍ خور (ربیع الاول) کي له جیحونه راپوریوتلې او د بلخ تر نیولو وروسته

ئې په خوارزمشاه پسې د هرات لاره واخیسته او د هرات حکمران امین ملک ئې کلابند کی او تر پوشنجه پوري ئې خلک قتل عام کړل او په ډېري چټکی ئې ځانونه طوس ته ورسول، خو محمد خوارزمشاه په ډېره نامرادی د آبسکون جزیزې ته وتښتېد او د (٦١٧ هـ) کال د کوچني اختر (شوال) په میاشت په داسي حال کي چي کفن ئې نه درلود مړ سو او چنگېز خان د هغه هډوکي وسوځل. تر هغه وروسته د چنګېز لښکر د خوارزمشاهیانو مرکز یعني د (جرجائیه) د اورگنج ښار چي د اسیا خورا ودان ښار وو او د علم او پوهي او ادب زانگو وه وران کی او خلک ئې له یوه سره ووژل (٦١٨هـ = ١٢٢١م کال صفري میاشت) او د محمد خوارزمشاه مور د هغه کهاله د نورو غړو سره د چنگېز د لښکر په لاس کي بندیان سول او د محمد خوارزمشاه زړور زوی جلال الدین د نشاپور او زوزن له لاري بست ته راغی او ځان ئې هرات ته ورساوه له هغې خوا پخپله چنگېز د آمو غاړي ترمذ ته راغی او تر یوولسو ورځو جگړې وروسته ئې د هغه ښار خلک قتل عام کړل او د بلخ خلک ئې هم تر تېره تېغ تېر کړل او زوی ئې (تولی) د خراسان ښارونه له مرو او نسا څخه نیولې تر هرات او فېروز کوه او استیه او تولک پوري ونیول او وران ئې کړل او یوازي د مرو په لوی ښار کي ئې تر دوه ملیونه زیات خلک ووژل (٦١٨هـ = ١٢٢١م). د هرات خلکو چي د شمس الدین جوزجاني په مشری د تولی سره جگړه کوله تر اوو ورځو کلابندی وروسته تسلیم او په سوو زره تنه ئې ووژل سول او یوازي سل زره نجوني او پېغلي ئې بندیاني سوې. تر هغه وروسته چنگېزیانو د جوزجان ولایت او اندخوی او میمنه او فاریاب تر تالقانه پوري ونیول او د تالقان د نصرت کوه کلا لس میاشتي کلابنده وه او ټولو اوسېدونکو ئې تر وروستی سوگلی پوري مقاومت وکی او گرده ووژل سول. تر هغه وروسته ئې بیا پر بامیان یرغل وکی خو د بامیان په جگړه کي چي د چغتای زوی موتوچن ووژل سو، چنگېز له ډېره درده پر انسانانو سربېره د بامیان څاروي هم ووژل او هغه ښار ئې ماوبالیغ (بدمرغه ودانی) وباله او داسي ئې له بېخه ګډوډ کی چي بیا څوک پکښي و نه اوسېدل. تر هغه وروسته ئې د تخارستان ښارونه ونیول (٦١٨هـ = ١٢٢١م). په دې وخت کي جلال الدین منکبرني خوارزمشاه له هراته غزني ته راغی او د افغانستان وطني مشران لکه امین ملک له خپل دېرشو زرو تنو لښکر سره او سیف الدین اغراق او اعظم ملک او مظفر ملک افغاني مشران هم د ده سره یو ځای سول او پر پروان (د کابل شمالي ته په اوسني جبل السراج

کې) ئې د چنګېز ۴۵ زرو لښکریانو سره، چې د قوتون په مشرۍ جنګېدل جګړه وکړه او تر دوو ورځو جګړې وروسته ئې چنګېزي لښکرو ته سخته ماته ورکړه او چنګېزیانو د تخارستان د ولخ کلا پرېښووه او وتښتېدل خو د جلال الدین د بریالي لښکر ملکان د یو بل په غاړه کې سره ولوېدل او پېښور ته وګرزېدل او هلته ئې تر درو میاشتو پورې یو بل وژل، څو چې چنګېز خان د پروان د ماتې د کسات اخیستلو له پاره د تالقان نصرت کوه تر نیولو وروسته د بامیان له لارې پر غزني یرغل وکی او جلال الدین له غزني څخه ووت د ګردېز خوا ته پر شا سو. چنګېز غزني ته راغی او وروسته تر هغه چې هلته ئې خپل حاکم کښېناوه د سند خوا ته پر مخ ولاړ او (د اټک جنوبي خوا ته) د نېلاب پر ګودر ئې جلال الدین چې تر سینده پوریووت ګیر کی. اته کلن زوی ئې ور وواژه. جلال الدین خپله مور او ماندینه او د حرم نور غړي په سیند کې ډوب کړل او پخپله د اوو سوو تنو سره د چنګېز د لښکر په مقابل کې جنګېده، خو په پای کې ئې خپل ځان پر یوه آس باندې سپور د سیند تر اوبو پورې یوست. چنګېز د سلطان پاته کسان او خپلوان ووژل او درې میاشتې ئې په پېښور او د پنجاب پر وېش خلک وژل او د سیند پر راسته غاړه ئې تر چتراله یرغل وکی او تر هغه وروسته ئې دوه زامن اوګدای او چغتای په هغو سیمو کې پرېښوول او پخپله د کابل او بامیان له لارې د جیحون غاړې ته ستون سو (۶۱۸ په شوال) او درې کاله وروسته په (۶۲۱ هـ) کال تر لي نوین د چنګېز د لښکر سردار ناصر الدین قباچه ئې په ملتان کې څلوېښت ورځې محاصره کی او بېرته ناکامه راوګرزېد.

د جلال الدین راوتل په ټول خراسان کې د جنګېز پر خلاف خلکو ته جرئت ورکی. په مرو او هرات کې او نشاپور کې د ده کوټوالانو او حکمرانانو ته پورته سول، خو د چنګېز لښکر د مرو څخه تش ډاګ جوړ کی او هراتیان ئې چې د ملک مبارزالدین سبزواري په سالارۍ جنګېدل ټول د (۶۱۹ هـ) کال په وروستۍ خور (جمادي الاخري) ووژل او ښار ئې د چنګېز د لښکرو د افسر (ایلچیګدای نویان) په امر وران کئ او په (۶۲۰ هـ) کې ئې د غرجستاني امیر محمد چې د مور له خوا د غور ملکانو ته منسوب وو او د اشیار په کلا کې ئې مقاومت کاوه وواژه.

او په غزني کې هم اوګدای بې له کسبګرانو نور ټول خلک بیابان ته وکوچول او هلته ئې تر تېغ تېر کړل او حتی فېروز کوه ئې په (۶۱۹ هـ) کال داسې وران کی چې اوس ئې د ځای ټاکل هم مشکل دي. همدا شان چغتای د سند او مکران او کرمان (په فتحینو

د کورم په ناوه کي) ولايتونه چور او چپاو او ويران کړل. څنګه چي چنګېز د سند د سيند پر غاړه د اوبو او هوا د خرابۍ په وجه ناروغه سو، ځکه نو دی او زامن ئې په (٦١٩هـ =۱۲۲۲م) کال ماوراء النهر ته ستانه سول او په (٦٢١هـ = ۱۲۲۴م) کال د خپلي کورنۍ اصلي چوڼۍ (اردوګاه) ته ورسېد او چنګېز هغه مدهشه بلا د (٦٢۴هـ = ۱۲۲٦م) کال په روژه کي د (۷۲) کالو په عمر د تنګت په صحرا کي مړ سو او يو عالم خلک ئې له خپل وحشت او عذاب څخه ارام کړل. (د چنګېز د فتوحاتو شرح او په نوره دنيا کي د ده ورانۍ د افغانستان په تاريخ اړه نه لري).

خو جلال الدين خوارزمشاه هغه ننګيالی مېړه چي په ډېري بې وسۍ کي ئې هم خپل همت له لاسه ور نه کی څه موده ئې د سيند چپه خوا ته په ځنګلو کي تېره کړه او ډېر ژر ئې يوه ډله پر ځان راټوله کړه او د سند د حکمران ناصرالدين قباچه سره ئې په رقابت لاس پوري کی او د ډهلي له لوی پاچا سلطان شمس الدين ايلتتمش (٦٠٧هـ - ٦٣٣هـ) څخه ئې مرسته وغوښتله خو سلطان په دې پلمه چي د ډهلي هوا خراپه ده دی و نه مانه او جلال الدين په لاهور کي د هند د يوه راجا لور وکړه او د هغه په ملاتړ ئې ناصر الدين قباچه ته سخته ماته ورکړه او ډېره ولجه ئې په لاس ورغله او د تهته او دېبل تر ښاره پر مخ ولاړ، مګر سلطان شمس الدين ايلتتمش د جلال الدين د ورځ په ورځ زياتېدونکي اتلتوب (نبوغ) څخه وېرېد او دېرش زره تنه لښکر ئې د ده د مخنيوي له پاره واستول.

که څه هم د جلال الدين د لښکر يو مشر د ډهلي لښکر مات کی خو جلال الدين د څلورو زرو ملګرو سره په (٦٢١هـ = ۱۲۲٦م) کال د مکران له لاري د اېران کرمان ته ولاړ او تر تفليس او اخلاط او ګرجستان او ارمنستان پوري ئې ونيول او په (٦٢٨هـ) کال په ميافارقين کي د کردانو له لاسه ووژل سو او د ده د مړيني سره د خوارزمشاهي د کهول وروستنۍ ډېوه مړه سوه (د جلال الدين منکبرني د فتوحاتو او احوال نوره شرح د افغانستان په تاريخ اړه نه لري).

د چنګېز لښکريانو په جلال الدين پسي د اېران تر پايه وځغستل او په خراسان کي د بقية السيف ښارو او ستمديده خلک د ساتني له پاره لږ عسکرو ته اړ ول او په غزني او باميان او غور کي د چنګېز له خوا د (٦٢٢هـ له شا وخوا څخه بيا تر ٦٣٣هـ = ۱۲۳٦م) پوري سيف الدين حسن قرلغ حکمران وو او همدې سړي په (٦٢٢ هـ) کال د بغداد د خليفه الظاهر په نامه سکه وهلې ده. په (٦٢٦هـ = ۱۲۳۱ م) کال چي اوګتای قاآن پر

تخت کښېنوست، د خراسان خلک د قراچه ویغان سنقور په مشرۍ د دوی کوټوالانو او حاکمانو ته پورته سول . اوګتای په بادغیس کي له اوسېدونکو لښکریانو څخه یوه برخه د طایر بهادر په مشرۍ ور واستول او قراچه ئې تر دوو کالو پوري د سیستان د ارګ په کلا کي کلابند وساته او داسي شورشونه په ټول افغانستان کي پیدا سول ځکه نو تاتاریانو دوهم وار د غور او هرات او غرجستان او سیستان او کالیون او فوار او تولک او سیفرود او خیساراو غزنه په ښارو او جنګي کلاوو کي د هغو خلکو په وژلو لاس پوري کی چي د دوی له تېغه ژوندي پاته سوي ول او هم ئې بیا هغه ودانۍ چي د دوی له ورانۍ څخه خوندي پاته وې وراني کړې او تر هغه وروسته جنتمور د خراسان په حکمدارۍ وګمارل سو (۶۳۵هـ =۱۲۳۷م) او ده بیا ملک بهاوالدین د خراسان امیر وټاکه او تر هغه وروسته د (۶۳۵هـ = ۱۲۳۷م) په شاوخوا کي نو سال او د (۶۳۸هـ =۱۲۴۰م) په شاوخوا کي ګرګوزو او له (۶۴۱هـ تر ۶۵۴هـ = ۱۲۴۲ – ۱۲۵۶م) پوري امیر ارغون د چنګېزیانو له درباره د خراسان حکمرانان ول او د کرت ملکانو د دوی تر اطاعت لاندي پر هرات او فېروزکوه او غرجستان (د افغانستان پر غربي مهمو برخو) باندي حکومت کاوه او دا بلا وهلي ښارونه ئې د تاتار له بلا څخه ساتل. لکه د (۶۴۳هـ = ۱۲۴۵م) په شاوخوا کي چي هولاګو (۶۳۹هـ – ۶۴۹هـ) د چنګېز نمسی خراسان ته راغی. امیر ارغون د هرات د پاچا ملک شمس الدین کرت په ملګرۍ د هغه حضور ته د اطاعت منلو په توګه ورغلل.

چغتائیانو چي په ماوراءالنهر کي اوسېدل د افغانستان ولایتونه: تخارستان، بلخ، میمنه، جوزجان، غرجستان، غور، هرات، بادغیس، سیستان، زابل تر غزنه او کابل پوري مستقیماً د تېغ په زور او یا بالواسطه اداره کوله. دوی په دېرش کاله کي هغه لوی ښارونه چي په اسیا کي د مدنیت او ثقافت او اسلامي علومو مهم مرکزونه ول وران کړل. خلک ئې بېرحمانه له یوه سره ووژل او په زرو لویې کتابخانې ئې وسوځولې، ځکه نو د ثقافت او مدنیت او صنایعو او علومو او تجارت او ادب بازار سوړ سو. خراسان په جغرافي مفهوم د سند تر غاړو پوري یوه هولناکه کنډواله سوه او د مؤرخینو په اتفاق د چنګېز فاجعه د تاریخ له خورا مدهشو او خورا سوزناکو فاجعو څخه وه چي د ابن اثیر په قول ټولو خلکو ته ئې زیان ورسېد او څنګه چي د چنګېزیانو اردو هر ځای ته رسېدلی او د لښکر مشران ئې د خلکو باداران ول، ځکه نو د افغانستان د خلکو په

مدنيت کي چي تر هغه وخته ئې د لرغوني آريايي او اسلامي عربي مدنيتو يوه ګډه بڼه درلوده او ساماني او غزنوي او غوري لوی پاچهانو پاللی وو يو بل نوی عنصر هم زيات سو چي هغه ته (مغولي عنصر) وايو. مغولي آدابو د هغو د ژبي او لغاتو سره په دري ژبه کي چي رسمي او درباري ژبه وه اغېزه وکړه. د ژوندون ډول خويونه، اخلاق او کالي هم د دوی په تقليد واړول سول.

(د هغو محلي ملکانو يادونه به په راتلونکي مبحث کي وسي چي د چنګېزيانو په دربار کي په آزاده توګه او يا اطاعت له لاري اوسېدل).

سره له دې چي په خراسان کي د چنګېزيانو ګډوډيو او وينو تويولو عالمان او مدرسې او کتب خانې له منځه يوورې خو بيا هم وينو چي په دغه دوره کي داسي شاعران او عالمان ول چي اسلامي ثقافت ئې د خراساني اجتماعي ممېزاتو سره ساته او ځيني هم د وحشت او سفاکۍ له دې ډګره د هند هيواد او د روم ښارو ته وتښتېدل.

په خراسان کي د مغولي دورې عالمان او شاعران دا دي: حضرت مولوي بلخي (د مثنوي خاوند)، شيخ نجم الدين دايه (د مرصادالعباد څښتن)، خواجه نصير الدين طوسي (نامتو حاکم)، معين الدين جويني (د نګارستان خاوند)، شيخ عطار نيشاپوري (نامتو صوفي او د تذکرة الاوليا څښتن)، پور بهاء جامي (شاعر)، امامي هروي (شاعر)، امير حسيني غوري (د نزهة الارواح خاوند)، ابن يمين فريومدي جويني (شاعر)، سليمان ماکو (د پښتو تذکرۀ اوليا – ٦١٦ هـ په شاوخوا کي).

د چنګېزيانو په وخت کي اداري او سياسي تشکيلات او اصطلاحات له هغه شکله چي د خلفاوو او غزنويانو او غوريانو په وخت کي ول په بل ترتيب واړول سول. په دې معنا چي په ټولو مفتوحه هيوادو کي د چنګېز لښکري سپه سالارانو د ياسا په توګه يعني د چنګېزي احکامو او قوانينو پر اساس په ډېر شدت حکم کاوه. په دې ياسا کي د لښکرکښيو او د ښارو د ورانولو او ملک د مصالحو او د شورى د ترتيب او د جزاګانو د ډول او د تاتاريانو د ژوند د دود او دستور قواعد درج ول، چي هغه ته بې د آسماني کتاب په څېر په درنه سترګه کتل او توره (د قومي آدابو او د نيکه ګانو دساتيرو مجموعه) ئې هم ورته ويل. همدا راز د فرانسوي مستشرق کاترمر په قول (د جامع التواريخ رشيدي په مقدمه کي) چنګېزي پاچهانو هر يوه اسلامي مشاوران د حاجب په عنوان هم درلودل، چي د هغو په واسطه او د قاضي القضات په حکم ئې د مسلمانانو په

منځ کي اسلامي احکام او آداب ساتل او د دوی په منځ کي د (بخشي و توين) په نامه کشيشان هم ول، چي د کوډو او سحر مخنيوی بې کاوه او هم د دوی تر منځ اويغوري ليک دود رسم الخط رواج درلود. د مغولي دورې په کاردارانو کي دا رتبې وې: قورچي (وسله وال)، چربي (د وره ساتندوی دربان)، داروغه (د خاصه قراول آمر)، کشيکچي (گارډ)، بهادر (مبارز).

په دربار کي دا لويان ول: نوين يا نويان (شهزاده) او الغ نويان (لوی شهزاده) ترخان (عسکر افسر) پخپله ئې پاچا ته خان او قاآن ويل او د دوی لښکر په لس زري (نومان) وېشل سوي ول، چي هرو زرو تنو ته ئې (هزاره) او سلو تنو ته ئې (صده) ويل او د جگړې په ډگر کي په جرنغار (ميسره) او برنغار (ميمنه) او قول (قلب چي خان دريځ وو) او چنداول (ساقه) او هراول (مقدمه) او قراول (کشاف) باندي وېشل کېده.

عسکري بنه، ارزاق او ښځي ئې (اغروق) بللې. پر لويو لارو ئې د مسافرانو له پاره سرايونه (يام) ودان کړي ول، چي په هر يام کي دولتي چاپار آسان د (الاغ) په نامه موجود ول او د هغو په واسطه ئې شاهي مخابرات او مواصلات اجرا کول.

قضايي محکمې ئې (يرغو) او قاضي ئې (يرغوچي) او د محکمې د حکم سند ئې (موچلکا) بلل، حشر (اشر) يعني عسکري او اجباري کار او خدمت ئې هم په خلکو کاوه. د باچا مهر ساتونکي ته ئې (تمغاچي) او مهر ته ئې (تمغا) ويل، هر يرليغ (فرمان) چي به دا مهر پر باندي وو، واجب الاطاعه گڼل کېده. دا فرمانونه د ايلچي په لاس استول کېده. زيات وختونه به د سردارانو شوری چي (توريلتای) نومېده جوړېده. د لښکر چوڼۍ (يورت يا اردو) به په ييلاق (صيفيه) او قشلاق (شتائيه) کي ول او افسرانو ته ئې (يورتچي) ويل. په دې عصر کي د چين د نقاشۍ فن په منځنۍ آسيا کي ښه اغېزه وکړه او دا صنعت ډېر پر مخ ولاړ. همدا رنگه کاشي کارۍ او معمارۍ او ورېښمني نساجۍ او زرينو جامو او مرصع او زربفت او د غاليو او اليچي اودلو هم پرمختگ وکی او چين او مغول او د هند تجارتي روابط د خراسان له لاري د اېران او عراق او روم سره زيات سول او مشهوره ورېښمينه لار چي د ورېښمو د تجارت په مناسبت په دې نامه ياده سوې ده، له چين څخه خراسان ته او له هغه ځايه ليرو غربي هيوادو ته تله او د پېښور او کابل او بلخ يا کندهار او هرات او سيستان له لاري د هند او سند له لاري د چنگېز د امپراطورۍ تجارتي روابط پراخ کړي ول. دا ځکه چي مغولي

خانان هم د خراسان له لاري اروپا ته تله، خو دا تجارتي پراختیا هغه وخت منځ ته راغله چي چنگېز مړ سو او څه نه څه د ده د اولادو او نمسو شدت او وحشت لږ سو. چنگېزي پاچهانو په دې کلو کي پر افغانستان حکومت کړی دئ:

۱. *چنگېز (په افغانستان کي) (۶۱۶ – ۶۱۸ هـ)
۲. *اوگدای د چنگېز زوی (۶۱۸ هـ)
۳. *چغتای د چنگېز زوی (۶۱۸ – ۶۳۹ هـ)
۴. *تولی د چنگېز زوی (۶۲۰ هـ په شاوخوا کي)
۵. *قراهولاگو د تولوی زوی او د چنگېز نمسی (۶۳۹ – ۶۴۹ هـ)
۶. *ارغون د اباقا زوی او د هولاکو نمسی (۶۴۳ هـ)

مأخذونه:

طبقات ناصري – جامع التواریخ رشیدي – جهانکشای جویني – تاریخ وصاف – ابن ثمر – دول اسلامیه – د پاول هورن تاریخ اېران – د عباس اقبال از چنگېز تا تېمور – حبیب السیر – تاریخ گزیده – د محمد نسوي سیرة جلال الدین – تاریخ سند – د براون تاریخ ادبیات اېران – د پښتو ادبیاتو تاریخ: ۲ – روضة الصفا – د ابن عبري مختصر الدول.

د چنګېزيانو په وخت کي

د کرت اولاده او افغاني اميران

(۶۰۰ – ۷۸۳هـ)

د سلطان غياث الدين محمد سام غوري په وخت کي (۵۵۸ – ۵۹۹هـ) دوه ورونه يو تاج الدين عثماني مرغني او بل عزالدين عمر مرغني د غور د سلطان د اکا زامن د دربار مخور کسان ول او په اسلامي دايرة المعارف کي د لانکورث ديمز په قول دوی د هغه امير محمد غرجستاني له اولادې ځخه دي، چي په (۶۲۰هـ = ۱۲۲۳م) کال د اشيار په کلا کي د مغلو په لاس وژل سوي ول. (خو دا قول غور غواړي) عزالدين د سلطان وزير وو او د هرات سيمه ده ته سپارل سوې وه. ده غرجستان حسام الدين علي عمر مرغني او خيسار ئې تاج الدين عثمان ته سپارلي ول چي دې وروستي د سر جاندار منصب درلود او د عزالدين لور عايشه خاتون د سيستان د ملک ناصرالدين عثمان حرب ماندينه وه (د ۶۱۲هـ = ۱۲۱۵م). دا دوه ورونه د ملک ابوبکر کرت کړوسيان ول، چي د غور د ملکانو په وخت کي ئې شهرت درلود او ملک رکن الدين محمد د تاج الدين عثمان زوی او د خيسار کوټوال د سلطان غياث الدين محمود (۵۹۹ – ۶۰۷هـ) لور ئې کړې وه او نامتو مؤرخ منهاج سراج د ده له درباريانو ځخه وو. دی د چنګېز د ايلچيانو سره په نرمۍ چلېده او چي د چنګېز له خوا د خيسار او غور او د هغې سيمي نور تابعه ښارونه ده ته وسپارل سول نو خپل خوريی ملک شمس الدين محمد مهين ئې خپل وليعهد او د چنګېزخان مصاحب وټاکه او په دې سبب د چنګېزيانو په دربار کي مقرب او د اعتبار خاوند سو او چي په (۶۴۳هـ = ۱۲۴۵م) کال رکن الدين مړ سو نو شمس الدين محمد مهين ئې پر ځای کښېنوست. ده په (۶۴۴هـ) کال د سالين نوين سره چي د چنګېزيانو سپه سالار وو پر ملتان حمله وکړه او د لاهور او ملتان ملکان ئې د ځان تابع کړل او د لاهور په حکمرانۍ وګمارل سو خو چنګېزيان د مسلمانانو د طرفدارۍ په سبب

وربانديي په خښم سول. ده تاتاري حکمران طاير بهادر ته پناه يووړه او (د کندهار په شاوخواکي) د تګين آباد حکمران سو او څنګه چي د افغانستان (دا نوم په تاريخ کي لومړی وار له همدې وخته ياد سوی- د سيفي تاريخ هرات ۱٦۳ مخ) د خلکو په حمايت تورن وو، ځکه نو له هغه ځايه د منګو خان حضور ته ورغی (٦۴۵ هـ = ۱۲۴۷م) او منګو خان د ده د تېر کهول د قدرداني له مخي د ټول هرات او جام او باخرز او کوسويه او فوشنج او تولک او غور او فېروز کوه غرجستان او مرغاب او فارياب او مرجق د آمو تر سينده او فراه او سجستان او تګين آباد او کابل او تېراه او بست او افغانستان د سند تر سينده ده ته پرېښوول او د اوسني ټول افغانستان د سند تر غاړو او خراسان پوري خپلواک حکمران وګاڼه سو او د (٦۴٦هـ = ۱۲۴۸م) په شاوخوا کي ئې د خپل دربار خپلواک سرداران مامور کړل، چي د غور او هرات حکمران اشرف الدين بيتکچی ئې چي پر خلکو ئې ظلم کاوه ونيو او د هغه د تابعينو سره ئې وواژه. تر هغه وروسته په (٦۴۷هـ) کال ملک فخرالدين د تالقان حکمران او ملک شمس الدين د اسفزار حکمران او محمد عوض د خواف حکمران او ملک شمس الدين (په ميمنه کي) د ګرزيوان حکمران او ملک عزالدين او حسام الدين او شمس الدين د تولک حکمرانان او ملک علي مسعود ازابی او ملک تاج الدين د فراه حکمرانان او هم له سيستانه ملک علي مومن او نصرالدين نيهي د شمس الدين مهين حضور ته راغلل او د اطاعت غاړه ئې کښېښووه خو د غرجستان ملک سيف الدين غاړه کښې نه ښووه او رانغی، ځکه نو ملک مهين د خپل لښکر سرداران غرجستان ته واستول او سيف الدين ئې ونيو او د هراته فراه ته راغی او د سيستان لښکر ئې هم له ځانه سره واخيست . د خيسار کلا ته ولاړ او له هغه ځايه د غور د لښکر سره تګين آباد ته رهي سو او غوښته ئې چي افغانستان ونيسي (په هغه وخت کي د افغانستان کلمه د کندهار او غزني تر منځ بيا د سند تر سينده اطلاقېدله) د دې سيمو لوی اميران دا ول:

۱- فخرالدولة والدين ملک شاهنشاه لوی افغاني حکمران چي له خپل پايتخت مستنګ څخه ئې (چي په اوسني بلوچستان کي وو) (د هغه وخت) پر ټول افغانستان حکومت کاوه او د مغولو ماليه ئې منلې نه وه.

۲- ملک ميرانشاه د شاهنشاه زوی.

۳- ملک بهرام شاه د شاهنشاه زوی.

۴- ملک تاج الدین هرموز (د کندهار شمال ته) په تیري کي.
۵- حسام الدین جاول په زاول کي
٦- پهلوان جلم
۷- سندان افغان
۸ -احمد توری
۹- مهتر کیورا
۱۰- مهتر سیورا
۱۱- رانا کنجر
۱۲- جمال الدین بهروز کهیرائي.

افغاني امیر شهنشاه چي تر اوسه په مستنگ کي خپلواک حکومت درلود، ملک ته پېشنهاد وکی، چي کالني مالیات دي وتاکي، چي ور وائې ستوي او د ده وطن ته دي لښکر نه راولي خو شمس الدین د مستنگ تر وېشه پر مخ ولاړ (۶۵۱هـ - ۱۲۵۳م) ملک تاج الدین د مېرانشاه (د افغانستان له خاوري څخه د ۵۰ پرسخه مځکي د حکمران) ورور او نور افغاني ملکان هم ده ته تسلیم سول او شمس الدین په (٦۵۲ هـ) کال مستنگ محاصره کی مگر امیر شهنشاه او بهرام شاه او میراشاه د پنځو زرو جگړونو سره د خاسک کلا ته پناه یووړه او تر اوو جگړو او څلورو کلا بندیو وروسته شهنشاه او بهرام شاه د نوي تنو خپلوانو سره ووژل سو خو میرانشاه په ډېره مېړانه د شمس الدین د لښکر پر زړه (قلب) حمله وکړه، تر ووت او سیستان ته ئې پناه یووړه. څو چي په (٦۵۸هـ = ۱۲۵۹م) کال بیا مستنگ ته راغی او د شمس الدین مهین د لښکریانو سره په یوه جگړه کي ووژل سو .

د افغانانو بل مرکز د تېري حصار وو، چي اوس هم د کندهار شمال ته څلوېښت میله لیري په همدې نامه سته. د دې حصار امیر المار افغان وو چي د طایر بهادر او قرانوین او سالي نوین لښکري ئې څو واره مکرري ماتي کړي وې او د چنگېزیانو اطاعت ته ئې غاړه نه وه ایښې. په دې وخت کي چي شمس الدین مستنگ ونیو د تېري پر حصار ئې هم یرغل وکی او المار ئې تر سختي جگړې وروسته وواژه او حصار ئې امیر حسام الدین جاول (د زاول مرادف) ته وسپاره (د ۱۲۵۵م صفره). همدا رنگه شعیب نامي پښتون له نومیالیو افغانانو څخه وو. د (٦۵۳هـ) کال د برات د میاشتي په

لومړیو ورځو کي له کشمیره راوګرځېد. د تګین آباد په شاوخوا کي ئې د آل کرت پر حکمران حمله وکړه خو شمس الدین مهین له خیساره ژر راورسېد او دی ئې د کهیرا په حصار کي وواژه او تر هغه وروسته د شعیب د اکا زوی سندان افغان ته چي په ختهٔ سورانی وو، متوجه سو او هغه ئې (د اوسني بلوچستان) د دوکی په حصار کي تر سختو جګړو وروسته د جګړې په ډګر کي وواژه. په دې جګړو کي خورا لوی جنګیالي کسان لکه د تولک ملک عزالدین او د بغني ملک تاج الدین او ملک تاج الدین کرت د آل کرت د لښکر په مشرتوب جنګېدل (۶۵۳هـ = ۱۲۵۶م کال منځ). په دې جګړې پسې لښکري مشرانو د سلیمان د غره تر لمنو پوري په خپلو مخالفینو پسي ولاړل او چي په لاس ورتلل وژل ئې او د ساجي حصار ئې چي د سرحد د نورو پښتنو امیرانو مرکز وو، هم تر سختو جګړو وروسته ونیو (۶۵۵هـ) او شمس الدین په تګین آباد کي پهلوان مبارز الدین محمد نهي حکمران وټاکه او پخپله هرات ته ولاړ خو یو کال وروسته ئې چي د سیستان ملکانو د خپلواکۍ بیرغ پورته کاوه د مسعود زوی ملک علي ئې وواژه او د هغه وراره ئې ملک نصرالدین او ملک علاء الدین ئې مستنګ ته فرار کړل او سیستان ئې ټول ونیو او سیستانیان ئې بې وسلې کړل (۶۵۷هـ = ۱۲۵۸ م) او چي سرکښان ئې له پښو واچول نو په (۶۵۷هـ = ۱۲۵۸م) کال ئې د سند د رود پر غاړه د بهکر حصار محاصره کی او د لسو زرو دینارو او ډېرو ولجو تر اخیستو وروسته بېرته راوګرزېد او په دې توګه شمس الدین مهین ټول افغانستان د هرات تر مرکزیت لاندي راووست او تر غوریانو وروسته ئې د هیواد یووالي ته ښکاره بڼه ورکړه او سره له دې چي د دې ویر لیدلي هیواد بدن د چنګېزیانو له لاسه ډېر مادي او معنوي ټپونه لیدلي ول خو بیا هم دې ننګیالي پاچا پر هغو تبو د سیاسي یووالي د ملهم پټۍ کښېښووه.

په (۶۵۹هـ =۱۲۶۰م) کال چي ملک تاج الدین کرت یاغي سو او د امیر هرموز تېري او امېر هوبو پښتنو سردارانو په ملاتړ د مستنګ کلا ته راغی نو د دوی سره د کرت د لښکر افسرانو ملک اختیارالدین د تولک او د محمدنهي او د بغني تاج الدین جګړې وکړې او شمس الدین تر (۶۶۵ هـ = ۱۲۶۶م) کال پوري اېران او نورو ځایو ته د چنګېزي پاچهانو په سفرو کي اخته پاته سو او په (۶۶۶هـ) کال ئې د افغانستان په خاوره کي تر تېرا پوري جنګونه وکړل او هغه خلک ئې د ځان تابع کړل او باج ئې پر کښېښوو. څنګه چي هرات په همدې وختو کي د چنګېزي شهزادګانو د جګړې ډګر وو

نو ځکه شمس الدين مهين انزوا غوره کړه او د خيسار په کلا کې ئې ځان گوښه وساته. هغه وو چې شهزاده براق د آباقا له لښکر څخه ماته وکړه او بيا د پخوانيو ولايتو فرمان د شمس الدين مهين په نامه صادر سو او دی ئې هرات ته راووست (۶۷۴هـ = ۱۲۷۵م) خو څنگه چې چنگېزي شهزادگانو و نه غوښته چې پر خراسان باندي دې د خپل خراسان يو غښتلی او مقتدر سړی حکومت وکي، په تېره بيا چې شمس الدين مهين خراسان او افغانستان ته سياسي وحدت هم ورکړی وو، ځکه نو له ده څخه وبېرېدل او اصفهان ته ئې وغوښت او په تبرېز کې ئې په (۶۷۶هـ =۱۲۷۸م) مسموم کی او وې واژه.

تر شمس الدين مهين وروسته ئې زوی ملک رکن الدين (د شمس الدين کهين په لقب) په (۶۷۷هـ) کال په هرات کې د پلار پر ځای کښېنوست او د هرات او خراسان په وداني کې ئې زيار ويوست او د عدل او نياو کمبله ئې وغوړوله او تر (۶۷۸هـ) پوري ئې د غور او خيسار نوري ټولي کلاوي ونيولې او په (۶۸۰هـ =۱۲۸۱م) کال ئې د کندهار کلا هم ونيوله خپل زوی ملک علاء الدين ئې په هرات کې خپل نايب پرېښوو او پخپله د غور د خيسار په کلا کې کښېنوست (۶۸۲هـ = ۱۲۸۳م) او د پلار غوندي ئې د چنگېزي شهزادگانو سره دوستانه روابط ټينگ کړل او تاتاري هندو نوين ئې چې د هرات په سيموکي ئې خلک ازارول ونيو او هرات بيا د شهزادگانو يرغلو او کورنيو جگړو وران کی او ملک شمس الدين مهين په همدې حالاتو کې په (۷۰۵هـ) کال مړسو خو يو کال دمخه په ((۶۸۳هـ = ۱۲۸۴م) کال د ده مشر زوی ملک فخرالدين چې پلار بندي کړی وو له بنديخانې څخه ووت او له خيساره هرات ته ولاړ او له هغه ځايه ئې خواف او فراه او د خراسان نور ښارونه ونيول (۶۸۵هـ = ۱۲۸۶م) او په (۶۹۷هـ = ۱۲۹۷م) کال په هرات کې پر تخت کښېنوست او غازان خان د ده حکومت له هراته د سند تر اوبو او آمو په رسميت وپېژاند.

فخرالدين علم پالونکی عمران دوسته او اديب پاچا وو او خطيب پوشنجي چې ربيعي ئې تخلص وو، د کرت نامه کتاب د ده په نامه منظم کړی دئ ده په (۷۰۱هـ = ۱۳۰۱م) کال څو واره پر اسفزار يرغل وکی خو چې چنگېزی اولجايتو پاچا سو، دی ئې له هراته مبارکۍ ته ورنغی، ځکه نو اولجايتو دانشمند بهادر د لسو زرو سپرو سره د ده د سرټکولو له پاره هرات ته واستاوه فخرالدين د غور يو زړور جمال الدين سام ئې د هرات د کلا ساتلو ته وگوماره او پخپله د امانکوه کلا ته ولاړ او نوموړی سام دانشمند

بهادر وواژه او د هغه لښکر ئې مات کی اولجایتو له ډېره غضبه امیر یساول او بوجای د دانشمند بهادر زوی ئې د ډېرشو زرو سپایانو سره په منډه ورواستول. په دې وخت کې فخرالدین (۷۰٦ه = ۱۳۰۷م) او د سردارانو اختلاف او کاختیۍ سام غوري هم مجبور کی چې کلا تسلیم کې او پخپله دی او ملگري ئې د یساول په حکم ووژل سول.

اولجایتو د هرات او اسفزار او فراه او سیستان او غور او غرجستان حکومت د فخرالدین ورور ملک غیاث الدین محمد ته وسپاره (۷۰۷ه) او چې د اولجایتو له حضوره هرات ته ورسېد نو غور او خیسار او اسفزار ئې هم ونیول خو ځینو امیرانو اولجایتو د ده په باب کې بدبینه کی ځکه ئې نو په (۷۱۱ه = ۱۳۱۱م) کال دی خپل اردو ته وغوښت او تر (۷۱۵ه = ۱۳۱۵م) پوري ئې د بېرته تلو اجازه ور نه کړه او د ده تر شا اودلدای او بوجای د بلوا له بېري د هرات پر خلکو ظلم او ستم را اخیستی وو او له تاتاري شهزاده گانو څخه یوه عادل شهزاده چې داود خواجه نومېد غزنه او بست او زابل او تگین آباد لاس ته وروستلي ول خو غیاث الدین محمد په (۷۱۵ه = ۱۳۱۵م) کال بیا د اولجایتو له درباره د افغانستان تر پایه او د آمو تر وېش پوري د هرات په حکمرانۍ وگومارل سو. په دې وخت کې چنگېزي شهزادگانو او د بدخشان ملک غیاث الدین علیشاه د آمو پر غاړه سره ونښتل او له شبرغان څخه تر بلخ او مرغاب پوري د جگړې ډگر سو. په دې جگړه کې د دانشمند بهادر زوی بوجای ووژل سو او په (۷۱٦ه) کال د نکودریان امیر آوجي بلا د غیاث الدین له لاسه ووژل سو او خپل نوي مخالفین ئې هم پر سر وټکول او د خراسان او سیستان کلاوي ئې ونیولې او په اسفزار کې ئې ملک قطب الدین او په فراه کې ئې ملک ینالتگین او د زره باخرز په حصار کې ئې ملک عبدالعزیز او په تولک کې ئې ملک فرخ زاد وترټل او په (۷۲۱ه ۱۳۲٦م) کال ئې خپل زوی شمس الدین محمد په هرات کې پر خپل ځای کښېناوه او پخپله حج ته ولاړ اوهمدا غیاث الدین وو چې په (۷۲۷ه = ۱۳۲٦م) کا ل ئې امیر چوپان وواژه او په (۷۲۸ه) کې د ابو سعید دربار ته ولاړ او په (۷۲۹ه = ۱۳۲۸م) کال چې له حج څخه راغی په هرات کې مړ سو.

د ملک غیاث الدین تر مړیني وروسته ئې زامن ملک شمس الدین محمد (۷۲۹ – ۷۳۰ه) او ملک حافظ (۷۳۰ – ۷۳۲ه) او ملک معز الدین حسین (۷۳۲ – ۷۷۱ه) پاچهۍ ته ورسېدل او دا ملک معز الدین د آل کرت له نومیالیو او د علم او ادب له

روزنکو څخه وو، چي مولانا سعدالدين تفتازاني خپل مطول د ده په نامه وليکه او امير مسعود (د خراسان د سربدارانو د سلسلې د مؤسس) خواجه عبدالرزاق باشتيني ورور په زاوه کي د ده سره جګړه وکړه او مات سو (۷۴۳هـ = ۱۳۴۲م کال د صفري په ۱۳). حسين برى وموند او خپل دښمن ته ئې کاري ضربه ورسوله او تر هغه وروسته ئې په بادغيس کي د اندخود او شبرغان اميرانو ته ماته ورکړه او څنګه چي امير قزغن د آمو له ها خوا څخه راغی هرات ئې کلابند کی نو په (۷۵۲هـ =۱۳۵۱م) کال ئې د هغه سره روغه وکړه او بل کال چي ماوراء النهر ته ولاړ د ده په غياب کي ئې ورور امير باقر د پاچهی دعوه وکړه خو حسين ژر راوګرځېد او باقر ئې بندي کی. معزالدين حسين تر ۳۹ کالو پاچهی وروسته په (۷۷۱هـ = ۱۳۶۹م) کال کي مړ سو او د ملک غياث الدين زوی ئې په (۷۷۱ – ۷۸۳هـ) کال د ده پر ځای کښېنوست. دی د سبزوار د سربدارانو په جګړه کي بريالی سو او خپل زوی پيرمحمد ته ئې د امير خورزه وکړه خو په (۸۳۴هـ = ۱۳۸۱م) کال چي امير تېمور هرات ونيو نو غياث الدين د هغه د زوی پير محمد او ورور محمد سره ماوراء النهر ته تبعيد کی او په (۸۳۴هـ = ۱۳۸۵م) کال ئې وواژه او د آل کرت د سلسلې کمبله ټوله سوه.

په سيستان کي د نيمروز ملکان د آل کرت معاصرين ول، چي د هغو حالات مو د صفاريانو د مبحث په پای کي راوړي دي او بل کهول چي د آل کرت معاصر وو د ترنک د رود د غاړي د اميرانو کورنۍ هوتکيان او د راتلونکي افغاني هوتکي دولت اسلاف ول، چي د غلجيو د کلات د ترنک د رود د غاړي په غرو کي ئې حکمراني کوله او د چنګېزيانو د يرغلو مخه ئې نيوله، چي يو له هغو څخه بابا هوتک د تولر زوی (چي په ٦٦١ هـ کي زېږېدلی او په ۷۴۰هـ کي مړ دئ) د پښتنو نوميالی عارف او شاعر د چنګېزيانو په مقابل کي له لويو مدافعينو څخه وو. تر هغه وروسته ئې زوی شيخ ملکيار د (۷۴۹هـ = ۱۳۴۸م) په شاوخوا کي د نومياليو جګړنو اميرانو څخه او د پښتو ژبي شاعر وو، چي د ترنک د رود پر غاړه ئې د دښمنانو په مقابل کي جګړې کولې او همدې کهول په دوولسمه هجري پېړۍ کي د کندهار هوتکي دولت جوړ کی (په دې کتاب کي دي د هوتکيانو شرح حال وکتل سي). شيخ متي خليل (٦٢٣ – ٦٨٨م) د پښتو صوفي شاعر وو. محمد د علي بستي زوی د تاريخ سوري مؤلف، احمد د سعيد لودي زوی د اعلام اللوذعي في اخبار اللودي مؤلف (٦٨٦هـ)، شيخ کته متې زی خليل

(د ۷۵۰ هـ په شاوخوا کي) د لرغوني پښتانه مؤلف هم د افغانستان د دې دورې له علمي کسانو څخه ول.

آل کرت علمدوسته فاضل پروره او عمران خوښونکي پاچهان ول. د دوی په وخت کي د چنګېزیانو د چور او چپاو سره سره علم او ادب او صنعت في الجلمه زلمیتوب وموند. د دوی دربار د پوهانو او شاعرانو د غونډېدو ځای وو. د ربیعي پوشنجي کرت نامه، د تفتازاني مطول، د هرات تاریخ د سیفي هروي مجموعه غیاثي او سامنامه او د امیر حسیني غوري نزهة الارواح او زادالمسافرین د آل کرت د دربار له مشهورو مؤلفاتو څخه ول.

د هرات د کرت اولاده:

۱. ملک کرت د (۵۰۰هـ) په شاوخوا کي
۲. تاج الدین عثمان مرغني د (۶۰۰هـ) په شاوخوا کي
۳. عزالدین عمر مرغني د (۶۰۰هـ) په شاوخوا کي
۴. ابوبکر کرت د(۶۰۰هـ) په شاوخوا کي
۵. رکن الدین خیسار د (۶۴۳هـ) په شاوخوا کي
۶. ملک شمس الدین محمد د ابي بکر کرت زوی (۶۴۳ – ۶۷۶هـ)
۷. ملک رکن الدین ملقب په شمس الدین کهین د ابي بکر کرت زوی (۶۷۷ – ۷۰۵هـ)
۸. ملک فخرالدین د کهین زوی (۷۰۵ – ۷۰۶هـ)
۹. *ملک غیاث الدین محمد د کهین زوی (۷۰۶ – ۷۲۹هـ)
۱۰. ملک شمس الدین د غیاث الدین محمد زوی (۷۲۹ – ۷۳۰هـ)
۱۱. ملک حافظ د غیاث الدین محمد زوی ۷۳۰ – ۷۳۲هـ)
۱۲. *ملک معزالدین د غیاث الدین محمد زوی (۷۳۲ – ۷۷۱هـ)
۱۳. باقر د غیاث الدین محمد زوی (۷۵۳هـ)
۱۴. *ملک غیاث الدین پیر علي د معزالدین زوی (۷۷۱ – ۷۸۳هـ)
(۶۱ شجرې ته دي رجوع وسي).

مأخذونه:

تاریخ هرات د سیفي – د (تعدیل در نسب نامه آل کرت) مقاله د آریانا په مجله

کي د حبيبي په قلم- تاريخ ايران در عصر مغول د عباس اقبال - پټه خزانه - لب التواريخ - تاريخ سيستان- تاريخ ادبيات ايران ۴ ټوک د براون - تاريخ ادبيات پښتو ۲ ټوک - تزک تيموري - حبيب السير - روضة الصفا - طبقات ناصري.

۶۱ – نمبر

د هرات کرتیان

گُرت (تر ۵۹۹هـ وروسته)

؟ (حدود ۵۶۰هـ)   ؟ (حدود ۵۶۰هـ)

تاج الدین عثمان   حسام الدین علي مرغنی (؟)   عزالدین عمر مرغنی

مرغني (حدود ۶۰۰هـ)   عايشه

لور (د ابوبکر کرت مابنه – ۶۰۰ حدود)   رکن الدین خیسار (۶۴۳هـ)

شمس الدین محمد مهین (۶۷۶هـ)

محمد رکن الدین (شمس الدین کهین) متوفا ۷۰۵هـ

ملک فخرالدین (۷۰۶هـ)   ملک غیاث الدین محمد (۷۲۹هـ)   ملک علاء الدین (۷۱۳هـ)

ملک شمس الدین (۷۳۰هـ)   ملک حافظ (۷۳۲هـ)   ملک معزالدین حسن (۷۷۱هـ)   باقر (؟) (۷۵۳هـ)

محمد   غیاث الدین پیرعلي (۷۸۳هـ)

پیرمحمد (حدود ۸۰۰هـ)

چنګیز خان

(۶۰) – لمبر

پنځمه برخه:

د هرات تيموريان

(۷۷۱ – د ۹۲۰ تر شاوخوا پوري)

تيمور (په پښتو املا تمر د اوسپني په معنا) مشهور په کورګان يعني زوم او تيمور لنګ د تراغاى برلاس زوى د چنګيز کهول ته منسوب د قرجارنوين له تکومه د ماوراء النهر د کش په ښار کي د ۷۳٦ هـ کال د برات پر ۲۷ د (۱۳۳٦م د اپرېل پر ۱۱) زېږېدلى او د دنيا له لويو فاتحينو او خونخوارو پاچهانو څخه وو. تيمور په (۷٦۱هـ = ۱۳۵۹م کال) شهرت وموند او د (۷۷۱هـ = ۱۳٦۹م) کال په برات کي ئې د ماوراء النهر حکمران امير حسين مغلوب کى او په (صاحبقران) ملقب سو او د ماوراء النهر د سيمو تر تصفيې وروسته په (۷۸۲هـ = ۱۳۸۰م) کا ل د آمو تر سيند راپوريووت اندخود او سرخس او پوشنج ئې ونيول او د هرات نيولو ته ئې ملا وتړله او د آل کرت وروستنى حکمدار غياث الدين پير علي ئې له منځه يووى. د تيمور بل يرغل د (۷۸۵ هـ = ۱۳۸۳م) په شاوخوا کي د افغانستان پر سبزوار او فراه شروع سو. زره او سيستان ئې چور او چپاو او اوسېدونکي ئې قتل عام کړل او ودانۍ ئې داسي وراني کړې چي کنډوالې ئې تر اوسه ليدلي کېږي او ډېر کله منارونه ئې جوړ کړل. په دې سفر کي ئې بست او کندهار هم وران کړل. تيمور د خپل ژوند تر پايه ۳۵ واره له چينه تر مصره او له ډهلي څخه تر استانبول او مسکو پوري لښکرکښۍ او خونرېزۍ وکړې چي د ده نور فتوحات د افغانستان په تاريخ پوري اړه نه لري، خو په (۸۰۰هـ = ۱۳۹۷م) کال چي د هند د نيولو په نيت راووت د افغانستان پر ستم ليدلي هيواد ئې بيا يرغل وکى او هغه ښارونه چي تر چنګيزي چور او چپاو وروسته د آل کرت په وختو کي بيرته ودان سوي ول، بيا وران کړه سول.

په همدې کال تيمور خراسان له فېروز کوه څخه تر ري پوري خپل زوى شاهرخ ته

وسپارل او کابل او غزنه او کندهار ئې خپل نمسي پیرمحمد ته ورکړه. پیر محمد د سلېمان په غره کي د سند تر سینده پوري د اوغانانو (افغانانو) سره جګړې وکړې. واچه ئې کلابند کی او د سارنګ خان د ګومارل سوو کسانو سره ئې لاس واچاوه او ملتان ئې هم تر شپږو میاشتو کلابندۍ وروسته ونیو. تیمور هم د اندراب پر لار له هندوکشه راواوښت او د کابل تر نیولو وروسته د لغمان سهول ته وووت او له هغه ځایه د شمال خوا ته د (کیتر)[1] د تور کالیو (سیاه پوشو) کافرانو سره جګړې وکړې او د چغان سرای په شاوخوا کي ئې د خپلو فتوحاتو یوه کتیبه په غره کي وکیندله، چي تر اوسه سته. تر هغه وروسته ئې هند ته مخه کړه او د (۸۰۱هـ کال د محرم پر ۱۲ او د ۱۳۹۸م کلا د سپتمبر پر ۲۴) د سند د نیلاب له ګودره پوریووت او هندوستان ئې تر ډهلي پوري چور او یو لک تنه ئې ووژل. په دې سفر کي دولس زره پښتانه د ملک بهاءالدین جلواني او ملک یوسف سرواني او ملک حبیب نیازي په مشرۍ د ده سره ول. تیمور تر ورانیو او د لویي امپراطورۍ تر تاسیس وروسته د (۸۰۷هـ = ۱۴۰۴م) کال د برات پر ۱۷ د ۷۱ کلنۍ په عمر مړ او په سمرقند کي ښخ سو.

د تیمور د مړیني پر وخت د تیمور نمسی پیرمحمد د غیاث الدین جهانګیر زوی د کابل او د افغانستان له آمو او بلخ څخه د سند تر سینده حکمران وو. ده په لهو او فسق ژوند تېراوه، ځکه نو په سمرقند کي د تیمور نمسي د میرانشاه زوی خلیل د چارو واګي په لاس کي ونیولې او تر (۸۱۲هـ = ۱۴۰۹م) پوري ئې د ماوراء النهر پر ځینو برخو حکم چلاوه، خو شاهرخ د تیمور زوی د (۸۰۷هـ) کال په روژه کي په هرات کي پر تخت کښېنوست. دی د شرق له لویو علم دوستو او عمران خوښوونکو پاچهانو څخه وو، چي تر شل کاله ئې زیات په هرات کي پاچهي وکړه او په افغانستان کي ئې د چنګېزي او تیموري فتوحاتو پر ټولو هغو ټپو ملهم کښېښوو، چي د چنګېز او تیمور د یرغلو په اثر پیدا سوي ول. مجللي ودانۍ او مدرسې او خانقاوي ئې جوړي کړې چي تر اوسه ئې هم په هرات او ټول خراسان کي لکه د مشهد د بقعه رضوي ماجت او نوري نخښې سته. د ده او د ده د ملکې (ګوهرشاد) نومونه په علمدوستۍ او ادب پرورۍ او عمران او عدالت مشهور دي. ده د خپل سلطنت په لومړي کال د سلطان علي سبزواري ښورښت آرام کی

---

[1] د کوچنیو کوشانیانو د لقب (کداره) قیدار، یو شکل دئ چي اوس هم په دې نامه یادېږي.

او په ۸۰۸ هـ کال ئې د تیمور نمسی سلطان حسین او امیر سلیمانشاه له پښو واچول او د ده زوی میرزا الغ بېگ اندخود او شبرغان ونیول او د ټول خراسان حکمراني تر طوس او نشاپور پوري ده ته وسپارله سوه. کله چي ملک صالح د ملک اسماعیل زوی له هنده غور ته راغی او د محمد سپهبد غوري په ملګرۍ ئې هلته ښورښت پیدا کی نو امیر لقمان برلاس او امیر حسین جاندار د هغې پېښي مخه ونیوله (۸۰۹ هـ = ۱۴۰۶م) او یو کال وروسته شاهرخ د پیرعلي تاز د مخنیوي له پاره بلخ ته مخه وکړه. پیرعلي هندوکش ته وتښتېد او شاهرخ تر تخارستان او ختلان پوري د افغانستان ټولي شمالي سیمي ونیولې (۸۱۰هـ). په (۸۱۱هـ) کال ئې په فراه کي ینالتګین، شاه اسکندر او پهلوان شمس الدین دراز تر کلا بندۍ وروسته د ځان تابع کړل او د اوک او جوین کلا ئې ونیوله او شاه قطب الدین د ملک محمود زوی ئې بېرته د سیستان په زره کي کښېناوه او هغه ولایت ئې پهلوان جمال ته وسپاره او د کندهار او غزنه او کابل ولایتونه ئې تر سند پوري خپل زوی میرزا قیدو او د بلخ او تخارستان او بدخشان ولایتونه ئې میرزا ابراهیم نامي ته وسپارل او شیخ زین الدین خوافي ئې د سیستان امارت ته واستاوه (۸۱۲هـ) او څنګه چي په کندهار کي د دوو وروڼو امیر تومان کندهاري پیرمحمد د امیر کتلو زوی مشهور په پیرک او د مودود ګرمسېري تر منځ مخالفت پېښ سو. دواړه هرات ته ولاړل او په نتیجه کي د هغه ځای حکومت پیرک ته وسپارل سو او مودود د هرات په دربار کي مقرر سو (۸۱۳هـ = ۱۴۱۰م).

د (۸۱۴ هـ = ۱۴۱۱م) په سر کي د هند د پاچا له خوا د ملتان قاضي خضر خان د سفیر په حیث د شاهرخ دربار ته راغی او په بادغیس کي ئې ورسره وکتل. د عبدالرزاق سمرقندي په قول په هند کي د شاهرخ په نامه خطبه ویلي سوي او سکه وهل سوې وه.

په (۸۱۵هـ = ۱۴۱۲م) کال د بدخشان حکمران شاه بهاء الدین یاغي سو او د شاهرخ لښکریانو له بغلان او اشکمش څخه پر بدخشان یرغل وکی او په بهاء الدین پسي تر پامیره ولاړل او د هغه ولایت حکومت ئې د بهاء الدین ورور شاه محمود ته ورکی، خو څلور کاله وروسته میرزا غتمش د بدخشان حکمران سو او په (۸۱۶ هـ = ۱۴۱۳م) کال د هرات د ښار د اختیار الدین حصار چي فخرالدین کرت جوړ کړی او د تیمور په یرغلو کي وران سوی وو، د شاه رخ په امر بېرته ودان سو او په (۸۲۰هـ = ۱۴۱۷م) کال چي د دوو محلي حاکمانو د سیفل کندهاري د زوی او ملک محمد تر منځ

شخړه پېښه سوه او د کندهار پښتنو د سند تر سینده او ګرمسېره پوري بلوا وکړه.
شاهرخ صدرالدین ابراهیم صدر عالي د هزاره سیمي ته ولېږه او د هغه ځای مشران ئې د پاچا خدمت ته راوستل او د بدخشان لښکریان د میرزا سیور غتمش سره او د سیستان سپایان د ملک قطب الدین سره یو ځای سول او د شاهرخ تر رکاب لاندي ئې پر کندهار یرغل وکی او د هزاره ګانو امیران د برمل افغان د مشرانو سره د خواجه لقمان (نعمان) تر مشرۍ لاندي د غزني له شاوخوا څخه راغلل او اطاعت ئې ومانه او کابل میرزا قیدو ته وسپاره سو او شاهرخ د هلمند د غاړي څخه د اغرق له لاري بېرته هرات ته ولاړ او امیر عبدالصمد ئې د ګرمسېر په حکومت او امیر حسام ئې د کندهار په کوتوالي وټاکل، خو څنګه چي میرزا قیدو یاغي سو او د اوبې د ناب تر جګړې وروسته ګرفتار او په هرات کي بندي سو نو شاهرخ د کابل او غزنه او کندهار ولایت او افغانستان د هند او سند تر حدودو پوري خپل زوی میرزا سیور غتمش ته ورکی (۸۲۱هـ) او نهه کاله د ټول افغانستان حکمران وو، څو چي د (۸۳۰ هـ = ۱۴۲٦م) کال د محرمي په میاشت د کابل په ښار کي مړ سو او شاهرخ هغه ټول ولایت د هغه زوی میرزا سلطان مسعود ته وسپاره.

شاهرخ پر یو ارت هیواد له سیحونه د عرب تر بحیرې او د فارس له لودیځو څنډو څخه د سند د سیند تر غاړو پوري پنځوس کاله په بري سره حکم چلاوه او یو اویا کلن د (۸۵۰هـ = ۱۴۴٦م) کال د ذیحجې د میاشتي پر ۲۵ په ري کي مړ سو. د شاهرخ تر مړیني وروسته د ده په ارت هیواد کي د تیموري شاهزادګانو تر منځ نفاق او شخړي پیدا سوې او په سمرقند کي د ده عالم او منجم زوی الغ بېګ (د زیج الغ بېګ او اولوس اربعه مؤلف او د سمرقند د رصدګاه ۸۴۱ هـ مؤسس) د ده پر ځای کښېنوست او د خپل لښکر سره بلخ ته راغی او د افغانستان شمالي ولایتونه ئې ونیول او خپل زوی میرزا عبداللطیف ئې د هغو ولایتو حکمران وټاکه او پخپله سمرقند ته ولاړ (۸۵۱هـ)، خو په همدې وخت کي د میرزا علاء الدوله د بایسنقر زوی او د شاهرخ نمسي پر هرات قبضه وکړه او د عبداللطیف د مقابلې له پاره ئې پر بلخ او شبرغان یرغل وکی، خو بې له دې چي خپل مقصد ته ورسېږي تر چور او چپاو او ورانولو وروسته هرات ته ستون سو (۸۵۱هـ = ۱۴۴۷م). الغ بېګ د ماوراء النهر او ختلان او کندوز او بغلان او بدخشان او میمنې او فاریاب پوري لښکر راغونډ کی او د هرات خوا ته پر مخ ولاړ، خو میرزا علاء الدوله د خپل لښکر سره د سنجاب د کوتل له لاري مقابلې ته وروووت او د هرات په ۱۴

فرسخي په ترناب کي سره ونښتل. د میرزا علاء الدوله لښکر ماته وکړه او پخپله مشهد ته وتښتېد او خپل ورور میرزا ابو القاسم بابر ته ورغی او الغ بېگ سید عمادالدین ته وزارت او مولانا قطب الدین احمد امامي ته د قضای اعلی منصب ورکی او پخپله ئې د مشهد خوا ته مخه وکړه (۸۵۲هـ) د ده تر شا امیرزاده یارعلي او امیر سلطان ابو سعید چي د هرات د نره تو په حصار کي بندیان ول، له زندانه ووتل او په هرات کي ئې اړودوړ جوړ کی. الغ بېگ له مشهده بېرته د هرات خوا ته مخه کړه او د ښار دباندي ئې چور کی او د هغه ځای حکمراني ئې میرزا عبداللطیف ته پرېښووله او پخپله تر آمو پوریووت (۸۵۲هـ). میرزا عبدالطیف پنځلس ورځي وروسته هرات میرزا ابوالقاسم بابر ته چي له سرخسن څخه پر مخ راتی پرېښوو او پخپله بلخ ته وتښتېد. بابر میرزا هرات ونیو او امیرزاده یارعلي ئې وواژه (۸۵۲هـ پای).

تر هغه وروسته بابر میرزا سیستان او نیمروز هم پخپل هیواد پوري وتړل، خو څنگه چي د ده ورور علاء الدوله په بلخ او بدخشان کي ورته پورته سو، نو بابر د هرات د لښکر سره د بدخشان د غرو خوا ته وخوځېد او شمالي ولایتونه ئې له بدخشانه څخه تر مرغاب پوري امیر ناصرالدین او امیر مبارزالدین هزارسپي ته وسپارل (۵۴هـ). بابر میرزا تر (۸٦۱هـ = ۱۴۵۸م) پوري پر هرات او سیستان او د افغانستان پر شمالي ولایتو باندي تر بدخشان او خراسان پوري سلطنت وکی او په همدې کال مړ سو، خو عبداللطیف په بلخ کي د خپل پلار پر خلاف بیرغ پورته کی او په (۸۵۳هـ = ۱۴۴۹م) ئې خپل پلار الغ بېگ او خپل ورور عبدالعزیز ووژل او یو کال وروسته دی پخپله هم ووژل سو (۸۵۴هـ =۱۴۵۰م).

د هرات د تیموریانو نومیالي سلطان ابو سعید گورگان د سلطان محمد زوی د میرانشا نمسی او د تیمور کړوسی دئ چي په (۸٦۱هـ = ۱۴۵٦م) کال د هرات د سلطنت پر تخت کښېنوست. ده هم پر زابلستان د خراسان او توران تر پایه حکم چلاوه او د شاهرخ نومیالۍ ملکه گوهر شاد ئې په (۸٦۲هـ) کال ووژله او تر لسو کالو پوري ئې په کامراني سره حکومت وکی او د کابل او غزنه او د افغانستان ولایتونه ئې د هندوستان تر وېش پوري زوی میرزا الغ بېگ ته ورکړي ول او د دې شهزاده ځیني سپاهیان د ملتان تر دروازې هم ورسېدل (۸۷۳هـ).

خو د بدخشان په ولایت کي د ابو سعید بل زوی میرزا سلطان ابوبکر (۸٦۵ –

۸۸۴هـ) حکومت کاوه چي د بدخشان يوه محلي شهزاده ورباندي حمله وکړه خو نوموړی شهزاده هم ووژل سو. همدا شان د کندهار او گرمسېر ولايت ئې خپل بل زوی ميرزا سلطان مراد ته ورکړی وو. څو چي په (۸۷۳هـ = ۱۴٦۸ م) کال په يوه جگړه کي د اوزون حسن په لاس کښېووت او ووژل سو.

د ابو سعيد له لويو رقيبانو څخه يو هم سلطان حسين د منصور زوی د بايقرا نمسی، د عمر شيخ کړوسی او د تيمور کوسی دئ، چي علمدوسته فاضل پاچا وو. ده په ايران او ماوراء النهر کي تر اوږدې حکمرانۍ وروسته ډېري لوړي ځوړي وليدلې. څنگه چي سلطان ابو سعيد د ايران د شمال داران د قراباغ په اووه فرسخي کي د امير حسين بېگ د لښکر په مقابل کي ماته وکړه، بندي او ووژل سو (۸۷۳هـ د رجب ۱۴) نو سلطان حسين د (۸۷۳ هـ = ۱۴٦۸م) کال دروژې په لسمه د جمعې په ورځ په هرات کي د پاچهۍ پر تخت کښېنوست. د ده پاچهي هم د شاهرخ د دورې په شان د علم او ادب او صنعت د روزني دوره وه. د ده نامتو وزير امير علي شېرنوائي د علم او ادب او جهانداری په کارو کي بې ساری وو. (۹۰٦هـ = ۱۵۰۰م د جمادي الثاني – څلورمي خور پر ۱۲) مړ دی. واعظ کاشفي، علامه جلال الدين دواني، مولانا جامي نامتو عالم او صوفي، مير خواند، خواند مير او عبدالرزاق سمرقندي د دې دورې نوميالي تاريخ پوهان دي.

د هرات زبردست نقاش بهزاد د ده په عصر کي اوسېد او د سلطان حسين بايقرا د عمراني آثارو څخه د بلخ په خواجه خيران کي د هغه مزار ودانول دي چي حضرت علي ته منسوب دئ (د افغانستان په شمالي سيمه کي اوسنی مزار شريف) د ده په وخت کي امير ابو اسحاق ترخان د بلخ حکمران او ميرزا سلطان حسين د شبورغان حاکم وو، هغه وخت چي هغه دواړه مړه سول. مير مغول په بلخ کي او ملک يحيی په سيستان کي واليان سول او د (۸۷۴هـ = ۱۴٦۹م) په شاوخوا کي ميرزا محمدعمر چي له تيموري شاهزادگانو څخه وو له هراته د گرمسېر د نيولو له پاره واستول سو او نظام الدين احمد برلاس چي د کندهار حاکم وو تسليم سو او ميرزا محمدعمر د هغې سيمي حکمران سو. همدا رنگه پخپله سلطان حسين د نره تو کلا ونيوله او د مرغاب غاړي ئې له مخالفينو څخه پاکي کړې. د ترکمنو قبيلو سره په اخ و ډب اخته وو. د ده ورور يادگار ميرزا هرات ونيوه. هغه وو چي سلطان حسين د زرو سپرو سره له ميمنې او فارياب څخه تېر سو او

يادگار ئې په هرات کې د خوب په حال کي ونيو او وئې واژه او پخپله سلطان حسين تر ۳۹ کالو پاچهۍ وروسته د (۹۱۱هـ = ۱۵۰۵م) کال د ذيحجې د مياشتي پر ۱۱ په اويا کلنۍ کي مړ سو. (۶۲ – ۶۳ عکس).

دا هغه وخت وو، چې د هرات د دولت سياسي او علمي اغېزه تر استانبول او جنوبي هندوستان پوري رسېدلې وه او له استانبوله د آل عثمان سلاطينو او له جنوبي هنده د اسلامي دولت نامتو اديب وزير محمود گاوان د هرات د دربار او مولانا جامي سره سياسي او علمي ليکني درلودلې.

د سلطان حسين ميرزا تر مړيني وروسته د هرات غښتلي مرکزي دولت د بديع الزمان ميرزا او مظفر حسين ميرزا شاهزادگانو په لاس کي وو خو له بده مرغه هغه مدنيت دوسته او عمران پسنده دولت چي هرات ئې د آسيا د علم او ادب او صنعت مرکز گرزولی وو او د سند له غاړو د ايران تر پايه او د سيحون له سينده تر عربي بحيرې پوري ئې سياسي نفوذ غوړېدلی وو، بيا د چنگېز نژاد ته منسوب د يوه سړي شيبک خان په لاس وران او برباد سو او هم د اوزبکانو او صفويانو په جگړو کي د سني او شيعه مذهبي اختلافاتو د هرات ښايسته ښار وران کی.

د هرات تيموري پاچهان:

۱. *تيمور د تراغای زوی (۷۷۱– ۸۰۷هـ)
۲. *شاهرخ د تيمور زوی (۸۰۷ – ۸۵۰هـ)
۳. *الغ بېگ د شاهرخ زوی (۸۵۰ – ۸۵۳هـ)
۴. *عبداللطيف د الغ بېگ زوی (۸۵۳ – ۸۶۱هـ)
۵. *ابو القاسم بابر د بايسنقر زوی او د شاهرخ نمسی (۸۵۴ – ۸۶۱هـ)
۶. *ابو سعيد گورگان د محمد ميرانشا زوی او د تيمور نمسی (۸۶۱ – ۸۷۳هـ)
۷. *سلطان حسين د غياث الدين منصور زوی، د بايقرا نمسی، د عمر شېخ کړوسی او د تيمور کوسی (د تيموريانو د نسب شجره دي وکتله سي).

مأخذونه:

رياض الانشاء د محمود گاوان– مطلع السعدين د عبد الرزاق سمرقندي– تاريخ ايران در دوره مغول د عباس اقبال– تاريخ ادبيات ايران بعهد مغل د براون– رهنمای افغانستان– دايرة المعارف اسلامي– حبيب السير– روضة الصفا.



سلطان حسین بایقرا

٦٢ – لمبر عکس

امیرعلي شېرنوايي

٦٣ –لمبر عکس

۶۴ - لمبر

د هرات تېموريان



(تر نومو وروسته د وفات کلونه دي)

د کونړ حکمرانان او یوسفزیان

(د ۸۰۰ – ۹۰۰هـ شاوخوا)

د (۸۰۰هـ = ۱۳۹۷م) په شاوخوا کي چي د افغانستان په سیمو کي د تیمور یرغلونه جاري ول، د کونړ په درو کي یوې محلي کورنۍ حکمراني کوله، چي د دې کورنۍ حکمران ئې (سلطان) باله. دې کهول د کونړ د پېچ په دره کي مرکز درلود او محلي افسانو دوی د ذوالقرنین اولادې ته منسوب بلل. د دې کهول له نومیالیو څخه یو سلطان پکهل او بل د هغه ورور سلطان بهرام ول، چي دوی بیا د سلطان کهجامن زامن او د هندو نمسیان ول. سلطان پکهل له لغمانه تر کونړه او باجوړ او سوات او کشمیر پوري حکومت کاوه او (د پېښور د هزاره ضلع) پکهلي نومي ځای همده ته منسوب دئ او د کونړ په درو کي د ده لیکني (کتیبې) پاته دي او تر ده وروسته د ده زامن په سوات کي سره ونښتل او لوی جنګ ئې وکی.

خو سلطان بهرام لغمان او ننګرهار ونیول او خپل یوه برخه مخالفان ئې پېښور ته فرار کړل او د ده د حکمرانۍ مرکز د سپین غره په لمنه کي پاپین وو او تر ورور وروسته ئې د هغه د حکمرانۍ مځکي تر کشمیر پوري هم ونیولې او له کابله تر کشمیره ئې پر یوه هیواد باندي حکم کاوه او تر ده وروسته سلطان تومنا د حکمرانۍ واګي په لاس کي ونیولې. خو د دې کورنۍ حکمراني د شینوارو او کونړ او سوات باجوړ په غرو کي د هزاره تر ضلع او کشمیر پوري محدوده پاته وه. د کابل او ننګرهار او پېښور په غرو او رغو او د غرو په لمنو کي د کندهار د سیمو او د ارغسان د رود د غاړو د پښتنو مهاجرتونه د تیمور د اولادې په وختو کي شروع سول. د کند او زمند ټبرونه د ګاونډیانو د اختلاف او د څړ د ځایو د لږوالي په سبب د کندهار له سیمو څخه د کابل خوا ته راوکوچېدل او د ګومل او نورو ځایو خلک د دوی سره یو ځای سول او د کابل په درو کي اوسېدل او د دوی حکمرانان مداد او مدو او شیخ عثمان ول او د (۸۷۰ هـ = ۱۴۶۵م) په شاوخوا کي چي میرزا الغ بېګ د سلطان ابو سعید کورګان زوی د کابل حکمدار وو. د دې ټبرو ټول مشران ئې د ملک سلطان شاه سره یو ځای راغونډ او وئې

وژل، خو د سلطان شاه یوسفزي وراره (احمد) له دې کشتاره خلاص سو او ترکلاڼي خلک ئې په لغمان کي مېشته کړل، خو په حصارک کي ئې مهمندزو د ننګرهار سیمي ونیولې او یوسفزیانو د باجوړ او بونیر او سوات خوا ته مخه کړه. د هغه ځای بومي خلک چي دلازاک ول وتښتېدل او پرشور (پېښور) ته ئې پناه یووړه او یوسفزو د شلمانیو مشر چي جلو نومېد وواژه او د پېښور د شمال د اشنغر او دوابه پر ټولو ځمکو ئې قبضه وکړه. له ناوګي څخه ئې د (باجوړ) تر ارهنده ونیول. په دې وخت کي د یوسفزو حکمرانان ملک احمد او ملک ملي ول او دا شیخ آدم مشهور په (ملي) د یوسف زوی د پښتنو له سرېني ټبر څخه دئ چي د یوسفزو د قوم سر مشر، لارښوونکی، واکمن او نامتو مقنن (Law- Giver) او په تقوی او فضلیت مشهور سړی وو. ده د (۸۲۰هـ = ۱۴۱۸م) په شاوخوا کي یوکتاب د شیخ ملي د دفتر په نامه د اجتماعي قوانینو، قومي دودونو او د ځمکو د وېش په باب کي ولیکه، چي یوسفزیانو له هغه وخته تر وروسته څلورو پېړیو پوري هم خپلي میراثي ځمکي د هغه دفتر د قوانینو په اساس وېشلې. په دې قوانینو کي د کرهڼي، څړ او اوسېدو ځمکي د عدالت او مساوات له مخي وېشلي سوي او تر لسو کالو وروسته د کورنیو د غړو د زیاتوالي یا لږوالي پر اساس نوی وېش کېده او دا کتاب د پښتو د نثر له پخوانیو آثارو څخه وو او په هغه کي د دې قبیلې د مهاجرت تاریخ د پښتنو د ټبرو د نسبو د شرحي سره لیکل سوی وو.

تر شیخ ملي وروسته د یوسفزیانو واکمني کجو خان راڼي زوی ته ورسېدله (د ۹۰۰هـ = ۱۴۹۴م شاوخوا) کجو خان هم یو کتاب ولیکه چي د شیخ ملي د دفتر پایڅوړ یا تکمله وه او په هغه کي ئې د یوسفزو د تاریخ شرح او د شیخ ملي د وضع کړو قوانینو سمون او تکمیل راوړی وو او ډېره موده د دې قوم مشر او واکمن وو او د (۱۲) زرو سپرو په مرسته ئې په شیخ پټور کي د غوریه خیلو سره جګړه وکړه او مات ئې کړه او د یوسفزو بله مهمه جګړه په لنګر کوټ کي د دلازاک سره وه چي دلازاک ته ئې وروستنۍ ماته ورکړه. تر کجو خان وروسته د یوسفزو دوه تنه شاه منصور د ملک سلیمان زوی او سلطان ویس سواتي د هغو سیمو حکمرانان ول چي د (۹۱۰ – ۹۲۵هـ) په شاوخوا کي محلي واکمنان ګڼل کېدل او د شاه منصور یوه لور بي بي مبارکه د بابر ماندینه وه او همدا رنګه سلطان علاء الدین سواتی او طاووس خان د بابر له معاصرو نومیالیو څخه

ول، چي ده پخپله دا نوميالي ياد کړي دي.

د دې حکمرانانو نوميالي:

۱. سلطان پکهل د کونړ د کهجامن زوی او د هندو نمسی (د ۸۰۰ هشاوخوا)

۲. سلطان بهرام د کهجامن زوی (د ۸۱۰ هشاوخوا)

۳. سلطان تومنا (د ۸۱۵ هشاوخوا)

۴. ملک احمد یوسفزی (د ۸۱۵ هشاوخوا)

۵. شیخ آدم ملي د یوسف زوی (د ۸۲۰ هشاوخوا)

۶. کجو خان رانی زی (د ۹۰۰ هشاوخوا)

۷. شاه منصور د ملک سلیمان زوی (د ۹۱۰ هشاوخوا)

۸. سلطان ویس سواتی (د ۹۱۰ هشاوخوا)

۹. سلطان علاء الدین سواتی (د ۹۱۰ هشاوخوا)

۱۰. طاووس خان (د ۹۱۰ هشاوخوا)

مدارک:

تاریخ مرصع- تذکرة الابرار والاشرار- تاریخ پشاور- حیات افغاني- نسب نامه افاغنه مجله آثار عتیقه هند - سالنامه های کابل- پټه خزانه -تاریخ ادب پښتو ۲ ټوک- خورشید جهان-صولت افغاني- بابر نامه.

د هند تیموریان

د ارغونیانو او اوزبکو او صفویانو اغېزه

(۹۱۰ – ۱۱۵۱)

د هرات د تیموریانو د دورې په پای کې ظهیرالدین بن محمد بابر د عمر شېخ میرزا زوی او د هرات د پخواني سلطان ابوسعید کوګان نمسی د (۸۹۹هـ = ۱۴۹۳م) کال د روژې د میاشتې پر پنځمه د فرغانه په اند جان کې په یوولس کلنۍ پر تخت کښېنوست. دا وخت د هرات شهزادګان پخپلو منځو کې سره نښتي او اخته ول او د هرات سلطنت کمزوری سوی وو. څنګه چې بابر د پلار او مور له خوا چنګېز او تیمور ته منسوب وو، ځکه نو که څه هم د سن له مخې کوچنی وو خو بیا ئې هم وکولای سوه چې پاچهي وساتي. په دې وخت کې د ده اکا سلطان احمد میرزا په سمرقند کې او سلطان محمود میرزا د بدخشان په کندوز کې حکومت کاوه او د بابر سره ئې مخالفت درلود او د بابر ورور جهانګیر میرزا هم د ده رقیب وو چې دې مخالفینو او د ده نورو رقیبانو د ده ورور له اندجانه ویوست او شیباني خان (۹۰۵ –۹۱۶هـ) د ابراهیم زوی چې د چنګېز د زوی جوجي له تکومه وه سمرقند ونیو او د بابر سره ونښت چې هغه د افغانستان په تاریخ پورې اړه نه لري.

بابر تر (۹۰۹هـ = ۱۵۰۳م) پورې د شیباني په مقابل کې جګړه وکړه او څنګه چې ئې خپل بډ (حریف) غښتلی ولید، نو د افغانستان خوا ته ئې مخه کړه او په همدې کال له جیحونه راپوریووت او د بدخشان حکمران خسرو شاه ته چې په کندوز کې وو، ورغی او تر لږې مودې وروسته ئې د خسرو د لښکر اته زره سپاره او پلې پر ځان راټول کړل او خسرو ئې د میمنې خوا ته وشاړه چې د تېموري شهزادګانو بدیع الزمان میرزا ته ئې پناه یووړه. پخپله بابر د خسرو مالونه د ځان کړه او د خسرو د لښکریانو او درې څلور زرو مغولي کورنیو سره ئې له کندوزه کابل ته مخه کړه، خو په دې وخت کې د کابل حکمران

عبدالرزاق میرزا د الغ بېگ میرزا کوچنی زوی وو، چي د حکومت چاري ئې د شیرم زکه (زکي) نامي په لاس کي وې او د کابل مشرانو لکه امیر محمد یوسف او محمد قاسم بېگ او امیر یونس علي دی په سلطاني دېوانخانه کي وواژه. په همدې وختو کي د افغانستان د جنوبي سیمو د کندهار او گرمسیر حکمراني د میر حسن د زوی امیر ذوالنون ارغون په کهاله اړه درلودله. دا امیر ارغون (چي په بلوڅي روایاتو کي په زنو مشهور دئ) د ابو سعید کورگان له نوکرانو څخه وو، چي سلطان حسین بایقرا د غور او غرجستان او زمینداور په حکمرانۍ ټاکلی وو. ده په (۹۰۴هـ) کال د هزاره او نکدري قبیلې رعیت کړې او د دې خدمت په پاداش کي ئې د فراه او غور او کندوهار حکومت وموند او په (۹۰۲هـ=۱۴۹۶م) کال ئې شاهزاده بدیع الزمان ته خپله لور ورکړه او د هغه سره ئې په هغه یاغیتوب کي چي خپل پلار سلطان حسین بایقرا ته باغي سوی وو مرسته وکړه او په (۹۰۴هـ = ۲۴۹۸م) کال ئې هرات ونیو او چي بدیع الزمان پر بلخ بری وموند، ارغون سیستان ونیو او هغه وخت چي سلطان حسین بایقرا په (۹۱۱هـ) کال مړ سو، نو د ارغون نفوذ لا زیات سو او له کندهاره ئې د شال او بولان او مستنگ (اوسنی بلوچستان) پر ولایت د سند تر غاړو پوري قبضه وکړه او پخپله د هرات په کلابندۍ او د شیباني په جگړه کي ووژل سو (د ۹۱۳هـ = ۱۵۰۷م شاوخوا) خو تر ده وروسته ئې دوو زامنو شاه بېگ او محمد مقیم ارغون له کندهاره د سند تر سیند حکم کاوه او د هرات تر نیولو وروسته ئې د شیباني خان سره روغه وکړه. بیا چي زکي ووژل سو او د کابل چاري ویجاړې پاته سوې، نو محمد مقیم ارغون د کندهار له گرمسېره پر کابل یرغل وکی او په (۹۰۸هـ) کال ئې میرزا عبدالرزاق د لغمان خوا ته پر شا وشاړه او کابل ئې ونیو د الغ بېگ لور ئې وکړه. هغه وخت چي بابر د شمال له خوا تر هندوکش راتېر سو او محمد مقیم له کابله کندهار ته ولاړ نو بابر کابل ونیو (۹۰۹ هـ=۱۵۰۳م).

محمد مقیم په کندهار کي د لښکر په تجهیز لاس پوري کی او بابر د غزني خوا ته ووت او د غلجیو تر کلات پوري پر مخ ولاړ او خپل ورور جهانگیر میرزا ته ئې د غزني حکومت ورکی (۹۱۱هـ = ۱۵۰۵م) یو کال وروسته د افغانستان ټول تیموري شاهزادگان د شیباني د ورځ په ورځ زیاتېدونکي قوت په مقابل کي د مرغاب پر غاړه سره غونډ سول او بابر ئې هم وروغوښت. بابر چي د سلطان حسین د مړیني خبر اورېدلی وو او پخپله د ده په قول په زړه کي ئې د هرات خرخښه وه نو د هزاره او یماق له لاري مروچاق

ته ولاړ او د کل باغان په پړاو کې د نوموړو شهزادګانو سره یو ځای سو. د (۹۱۲ هـ ځلورمه خور جمادي الاخر ۱۵۰٦ م). څنګه چې شیباني جنګ ته را وړاندې نه سو او د بلې خوا له کابل څخه هم د خړ پړتیا خبر بابر ته راورسېد نو بابر بېرته په سره ژمي کابل ته راغی او په لاره کې درانه تلفات ور پېښ سول. دا ځکه چې د ده تر شا د کابل ځینو مشرانو د بابر اکا جان میرزا په پاچهۍ منلی وو، خو چې بابر کابل ته راورسېد، اکا ئې کندهار او سیستان ته وتښتېد. په همدې وختو کې شیباني پر بدخشان یرغل وکی او د بابر کشر ورور ناصر میرزا ئې د کابل و خوا ته پر شا وشاړه.

بابر په افغانستان کې تر چنګېز او تېمور وروسته غښتلی پاچا وو، چې د هغو پښتني قبایلو سره ونښت، چې په غرو او رغو کې د کوچیتوب په حال کې د رمو او ګلو په روزنه بوخت ول او هغه درانه تلفات ئې چې د هرات په سفر کې ورپېښ سوي ول، د غزني د لمر ختیځ، جنوب د غلجیو قبایلو په چور او چپاو تلافي کړه (۹۱۳هـ). په همدې کال چې شیباني خان د هرات او فراه تر یرغل وروسته ګرمسېر ته ورسېد، نو بابر له کابله ور ووت او د کندهار په خالیشک نومي ځای کې ئې د شاه بېګ او محمد مقیم ارغون سره جګړه وکړه او د خپلو دوو زرو تنو لښکرو په مرسته ئې کندهار ونیو او شاه بېګ مستنګ ته او مقیم زمیندا ور ته وتښتېده. بابر د کندهار ایالت خپل ورور ناصر میرزا ته وسپاره او پخپله کابل ته را رهي سو، خو د ارغون زامن چې شیباني ته ئې پناه وړې وه، د شیباني په ملاتړ ئې بېرته پر کندهار یرغل وکی او ناصر میرزا ئې کابل ته وشاړه. شیباني کندهار شاه بېګ ته وسپاره او پخپله بېرته خراسان ته ولاړ (۹۱۳هـ).

دمخه مو وویل چې میرزا عبدالرزاق د محمد مقیم له لاسه ماته وکړه او له کابله د افغانستان لمر ختیځې خوا ته وتښتېد او په ننګرهار کې ئې د علي شبکور سیستاني او محمد علي شیباني او عبدالله صف شکن او نظر او یعقوب او نورو په مرسته ئې د پاچاهۍ بیرغ پورته کی. بابر په (۹۱۴هـ =۱۵۰۸م) کال پر هغه حمله وکړه او د خپلو درې، ځلور زرو تنو لښکرو سره په ننګرهار کې وجنګېد او عبدالرزاق ئې وواژه او هم ئې زبیر راعي چې په بدخشان کې ئې د بابر سره مقابله کوله د خپل اکا جان میرزا په واسطه له منځه یووړ. په همدې وختو کې چې بابر په کابل او بدخشان کې اخته وو، په هرات کې د تیموري شهزادګانو د حکومت کمبله د شیباني له خوا ټوله کړه سوه او شیباني ته ټول خراسان تر کندهاره پورې لاس ته ورغی، ځکه په (۹۱٦هـ = ۱۵۱۰م) کال

صفوي پاچا شاه اسمعیل مرو ته ولاړ او شیباني ئې هلته کلا بند کی او شیباني د برات د میاشتي پر ۲٦ د پنځلسو زرو تنو سره پر صفویانو یرغل وکی او په دې جنګ کي لس زره اوزبک پخپله د شیباني سره ووژل سول او شاه اسمعیل د (۹۱۷هـ = ۱۵۱۱م) کال په پسرلي کي تر امو پوري پر مخ ولاړ او بیرته هرات ته راغلی او څنګه چي د صفویانو په جګړه کي د بابر لوی رقیب شیباني خان ووژل سو نو ځکه بابر د شپېتو زرو تنو سره له کابل او بلخ څخه پر ماوراء النهر یرغل وکی او تر ډېرو فتوحاتو وروسته تر (۹۲۰هـ = ۱۵۱۴م) پوري ئې هغه نیولي ښارونه بېرته له لاسه ووتل او ناکامه کابل ته راوګرځېد.

څنګه چي بابر په ماوراء النهر کي د ډېرو غښتلیو او کلکو رقیبانو سره مخامخ کېده نو ځکه ئې تر هغه وروسته هغې سیمي ته توجه و نه کړه او وې غوښتل چي د هند ارتو ملکو په نیولو لاس پوري کړي. د دې کار لومړني مراتب ئې په کابل کي تهیه کړي او له (۹۲۵هـ = ۱۵۱۹م) څخه ئې پر هند باندي خپل لومړی یرغل شروع کی او د سند د نیلاب له ګودره د پنجاب تر بهره پوري ورسېد او هغه سیمي ئې حسین بېګ اتکه ته وسپارلې او د کهکران پر ولایت او د پرهاله پر کلا ئې حمله وکړه او د بهر او سند تر منځ ولایت ئې محمد علي ته وسپاره. بېرته کابل ته راغلی او په لاره کي ئې د پېښورد شمال د یوسفزو ډېري قبیلې د ځان پر خوا کړې او د یوسفزیو د یوه مشر شاه منصور لور ئې وکړه او په دې وسیله ئې وکولای سوه، چي د سبکتګین په څېر (چي د محمد مور ئې د زابلي پښتنو څخه کړې وه) د پښتنو زړه ور او ننګیالي قبایل ځان ته متمایل کړي او د هغو په قوت او ملاتړ د هند راتلونکی امپراتور سي، ځکه چي یوسفزیان د خیبر او سند تر منځ په ارته سیمه کي پراته ول او امکان ئې نه درلود چي د دوی بې مرستي ځوک له کابله د هند او ماورای سند خوا ته تېر سي.

څنګه چي په دې وسیله د بابر کار اسانه سو، نو په دوهم یرغل کي چي د (۹۲۵هـ) کال په پای کي ئې وکی تر اټک پوریووت او چي بېرته راوګرزېد نو په لاره کي ئې د حضر خېل قبیلې چور کړې. په دریم یرغل کي (۹۲٦هـ = ۱۵۱۹م) کي د پنجاب تر سیالکوټه پر مخ ولاړ. سید پور ئې وران او خلک ئې قتل عام کړل، کابل ته راغلی. څنګه چي شاه بېګ ارغون له سنده پر کندهار یرغل کاوه نو ځکه بابر کندهار کلابند کی او د شاه بېګ سره ئې روغه وکړه، بېرته کابل ته ستون سو (۹۲٦هـ = ۱۵۱۹م رجب) او بل کال ئې بیا کندهار کلابند کی او شاه بېګ ئې د شمال خوا ته پر شا وشاړه او د (۹۲۸هـ

= ۱۵۲۱م) کال د کوچني اختر د میاشتي پر ۱۳ ئې د کندهار ښار په روغه ونیو او شاهزاده کامران ئې د هغه ځای حکمران کی.

د بابر څلورم سفر په (۹۳۰هـ = ۱۵۲۳م) کال تر لاهور او سیالکوټه پوري وو او په پنځم سفر کي ئې (د ۹۳۲ هـ د رجب پر ۸) د پاني پت په جګړه کي سلطان ابراهیم لودي وواژه او (د ۹۳۲هـ = ۱۵۲۵م د رجب پر ۱۲) د ډهلي پر تخت کښېنوست. په دې وخت کي وو، چي د پېښور او کوهاټ او بنو خوا د یوسفزو د لویو قبیلو مهاجرتونه بشپړ سول او د بلوڅو لویو قبیلو د سند سیمه د غازي خان تر ډېرې او د پنجاب تر جنوبه ونیوله.

تر هغه وروسته افغانستان له کابل او بدخشان او کندهار له ډهلي څخه د بابر له خوا اداره کېده او خواجه کلان د غزني او ګردېز حکمران (۹۳۲هـ) او شهزاده همایون د کابل او بدخشان حکمران (۹۳۳هـ = ۱۵۲۶م) او شهزاده کامران د کندهار حکمران وو. همدا رنګه همایون په (۹۳۵هـ) کال هند ته ولاړ. سلطان سعید خان کاشغري پر بدخشان حمله وکړه، خو د بابر زوی هندال میرزا هغه ته ماته ورکړه او د بدخشان حکمراني د بابر له خوا سلیمان میرزا ته وسپارل سوه.

کندهار تر کامران وروسته شهزاده عسکري ته وسپارل سو او ده په (۹۳۰هـ = ۱۵۲۳م) د کندهار د چهل زینې په دالان جوړولو او کتیبه لیکلو لاس پوري کی او تر (۹۵۳هس = ۱۵۴۶م) پوري ئې پای ته ورساوه.

بابر د افغانستان یو نومیالی زړور خونرېزه پوه او مؤلف پاچا وو، چي له بلخ او بدخشان او کابل او کندهاره ئې تر ډهلي پوري پر یو لوی هیواد حکومت کاوه. ده په فارسي او ترکي شعر وایه او څو مهم تالیفونه لري او د (۹۳۷هـ = ۱۵۳۰م) کال په څلورمه خور – جمادي الثاني په آګره کي مړ او د ده د وصیت له مخي د کابل د بابر په باغ کي ښخ سو او د ده هدیره په (۱۰۵۶هـ = ۱۶۴۶م) کي شاه جهان جوړه کړه، چي تر اوسه په کابل کي مشهوره ده. تر ده وروسته د ده زوی نصرالدین همایون د ډهلي پر تخت کښېنوست او پنجاب، پېښور، لغمان، کابل، کندهار او بامیان ئې د خپل ورور شهزاده کامران د حکمرانۍ سیمه وبلله او بدخشان ئې د بابر د اکا جان میرزا زوی میرزا سلیمان ته وسپاره. د (۹۴۲هـ = ۱۵۳۵م) کال په شاوخوا کي صفوي سام میرزا له هراته پر کندهار یرغل وکی او د کندهار ښار ئې د میرزا کامران د حکمران له لاسه ویوست. هغه وو چي کامران له لاهوره کندهار ته راغی. سام میرزا ئې مات کی او کندهار ئې خواجه

ظهیرالدین محمد بابرشاه

٦٥ - لمبر عکس



په کابل کي د بابر مقبره

٦٦ – لمبر عکس

شېرشاه سوري

٦٧ –لمبر عکس

کلان بېګ ته وسپاره پخپله لاهور ته ولاړ او د بل کال په سر کي پخپله صفوي شاه طهماسپ کندهار بیا له خواجه کلان څخه واخیست او میرزا بداغ خان قاجار ته ئې وسپاره او هغه وخت چي شاه طهماسپ ایران ته ولاړ، بیا کامران له لاهوره راغی او کندهار ئې ونیو (۹۴۳هـ = ۱۵۳۶م).

خو همایون په هندوستان کي و نه سو کولای چي د خپل پلار د پاچهۍ مقام وساتي. دا ځکه چي بابر د لودیانو شهنشاهۍ برباد کړې او په هند کي ئې افغاني تاریخي عظمت ته صدمه رسولې وه، نو له همدې سببه پښتانه د خپل تاریخي عظمت د راګرځولو په تکل کي ول او د هند شهنشاهي ئې خپل موروثي ملک ګاڼه او څنګه چي سلطان ابراهیم لودي د بدي اداري او د سالم عقل د نه درلودلو په اثر افغاني قوت تیت کړی وو او نتیجه ئې د پاني پت په جګړه کي د بابر په مقابل کي ولیدله. نو ځکه په همدې وخت کي یو نابغه هوښیار پښتون لکه فرید خان مشهور په شېر شاه په هند کي د سوري له ټبره منځ ته راووت. په هند کي افغاني تیت قوتونه ئې سره راټول کړل او د افغاني عظمت نغری ئې بیا تود کی او د پښتنو د چارو تر تنظیم او د دوی تر اتحاد وروسته ئې پر همایون او مغولي قوتو حمله وکړه. همایون مات سو او د هند د شهنشاهۍ مقام بېرته د هغه د تاریخي خاوندانو په برخه سو. د ماتي په همدې کال د (۹۴۷هـ۱۵۴۰م په رجب کي) همایون د سند عمرکوټ ته ورسېد او د شال او مستنګ او د افغانستان د جنوب ګرمسېر او سیستان له لاري هرات او مشهد ته ولاړ او صفوي دربار ته ئې پناه یووړه، خو میرزا کامران په کابل او میرزا عسکري او میرزا هندال په کندهار کي پناه سول او تر څه مودې وروسته میرزا کامران له کابله هڅه وکړه او په نارین کي ئې د هغه د حکمران سلیمان میرزا سره جګړه وکړه او هغه ئې په جبر د ځان تابع کی او تر هغه وروسته ئې پر کندهار یرغل وکی او هغه ئې د هندال میرزا له لاسه ویوست. میرزا عسکري ته ئې وسپاره او هندال د (جلال آباد) جوی شاهي ته مقرر سو او په افغانستان کي خطبه او سکه د کامران په نامه جاري سوه. ده تر هغي جګړې وروسته چي په (۹۴۸هـ = ۱۵۴۱م) کال ئې په اندراب کي د سلیمان میرزا سره وکړه، ټول بدخشان ئې د خپل هیواد سره یو ځای کی او له بدخشانه تر کندهار او له کابله د سند تر سینده ئې حکم کاوه او د حکومت مرکز ئې کابل وو.

خو همایون د صفوي له درباره مرسته واخیستله او په (۹۵۱هـ = ۱۵۴۴م) کال د

دېرشو زرو تنو سره د هرات له لاري د هلمند غاړي ته راورسېد او په بست کي ئې د کامران حکمرانان شاهم علي او مير خليج کلابند کړل او ډېر ژر ئې کندهار تر شپږو مياشتو کلابندۍ وروسته په (۹۵۲هـ) کال له ميرزا عسکري څخه ونيو او د هغه تړون سره سم چي د صفوي پاچا سره ئې کړی وو، هغه ښار ئې شهزاده مراد صفوي ته وسپاره. څنګه چي هغه کوچنی شاهزاده په کندهار کي مړ سو نو همايون هغه ښار بېرم خان ته وسپاره او صفوي لښکريان ئې بېرته رخصت کړل او پخپله ئې کابل ته مخه کړه او د شاه کامران حکمرانان ورته تسليم سول او د (۹۵۳هـ = ۱۵۴۶م) کال په روژه کي کابل هم د همايون لاس ته ورغی او کامران غزني ته وتښتېد او له هغه ځايه ئې د سند ارغونيه حکمرانانو ته پناه يووړه.

همايون په همدې کال سليمان ميرزا د هندوکش له شمالي ولاياتو څخه ماوراء النهر ته وشاړه او هغه ولايتونه ئې هم د ځان کړل. بيا همايون په ډېر تلوار له شمالي سيمو څخه راغی او د (۹۵۴هـ =۱۵۴۷م) کال په لومړۍ خور (ربيع الاول) ئې کامران مات کی او هغه بدخشان ته وتښتېد او کابل د همايون لاس ته ورغی.

خو څنګه چي کامران په بدخشان او تالقان او بغلان کي څه نفوذ وموند، نو همايون ئې بې له ځنډه په تالقان کي تسليمېدو ته مجبور کی او د کولاب ولايت ته ئې واستاوه او ميرزا ابراهيم ئې په هغه ولايت کي پرېښود، خپله کابل ته راغئ (۹۵۴هـ =۱۵۴۷م)، خو کامران په کولاب کي يوه ډله راټوله کړه او د پيرمحمد خان په کومک ئې بدخشان ونيو، ځکه نو همايون دريم وار د هندوکش شمالي سيمو ته ولاړ او د هغو سيمو تر تصفيې وروسته ئې د ختلان او کولاب سيمي ميرزا کامران ته او د ظفر او تالقان کلا ئې ميرزا سليمان او ابراهيم ته او کندز او اشکمش او نارين ئې ميرزا هندال ته ورکړه او پخپله کابل ته راغی (۹۵۵هـ = ۱۵۴۸م) د روژې دوهمه ورځ.

د همايون څلورم سفر بلخ ته د پيرمحمد خان په مقابل کي وو خو ناکامه راوګرزېد (۹۵٦هـ = ۱۵۴۹م) او په (۹۷۵هـ) کال چي کامران بيا په شمالي ولايتو کي څه قوت وموند نو همايون پنځم وار هغې خوا ته ولاړ، خو د غوربند په جګړه کي ئې ماته وکړه او کامران بيا کابل ونيو، خو همايون ډېر ژر لښکر راټول کی او په اشترګرام کي ئې د کامران سره جګړه وکړه. کامران لغمان ته وتښتېد او همايون کابل ونيو او ميرزا عسکري ئې چي په دې جنګ کي نيول سوی وو، بدخشان او بلخ ته واستاوه، چي له هغه

ځایه عربستان ته ولاړ او هلته مړ سو (۹۶۵ھ)، خو کامران بیا د پښتنو د مهمندو او خلیل قبیلو څخه لښکر جوړ کی او د جلال آباد د چهار باغ کلا ئې محاصره کړه، څو همایون هغه په جګړه کي له خیبره پېښور ته وشاړه او بیا په (۹۵۸ھ =۱۵۵۱م) کال په چپرهار کي د دې دوو وروڼو تر منځ جګړه وسوه. میرزا هندال ووژل سو او کامران هند ته وتښتېد، مګر سلطان آدم ککهر هغه ونیو او په (۹۶۰ھ ۱۵۵۲م) کال ئې همایون ته وسپاره او همایون په بېرحمۍ ړوند کی.

په دې وخت کي چي د بابر اولاده په افغانستان کي پخپلو منځو کي سره اخته ول او همایون خپل وروڼه له منځه ایستل او د افغانستان خاوره په وینو لړلې وه، په هند کي شېرشا سوري د مدنیت او نظم او ودانۍ او جهانداریٔ ګټور بنسټونه کښېښوول، خو دا مدنیت پالونکی شهنشاه د (۹۵۲ھ = ۱۵۴۵م) کال د لومړۍ خور (ربیع الاول) پر لسمه ورځ د کالنجر د کلا د اور لګېدلو په یوه ناوړه پېښه کي مړ سو او د ده اولادې و نه سوه کولای د ده په شان د افغاني عظمت نغری تود وساتي او افغاني مشرانو چي پوه لاربښوونکي ئې نه درلود نو سره خپاره واره سول، خو له دې خوا همایون ځان د وروڼو له جنجاله وزګار کی. خپلورور شهزاده محمد حکیم ئې په کابل کي حکمران پرېښوو او پخپله د (۹۶۲ھ) کال د صفري په میاشت د پېښور له لاري د هند د نیولو په نیت وخوځېد او د (۹۶۲ھ) کال د روژې په سر کي د ډهلي پر تخت کښېنوست او د (۹۶۳ھ =۱۵۵۵م) د لومړۍ خور (ربیع الاول) پر پنځمه په ډهلي کي مړ سو.

او د ده پر ځای د ده دیارلس کلن زوی جلال الدین محمد اکبر (۹۶۳ھ = ۱۵۵۵م) کال د دوهمي خور (ربیع الثاني) پر ۱۲ د جمعې په ورځ په لاهور کي پاچا سو. څنګه چي د همایو ن د مړیني خبر کابل ته ورسېد، نو میرزا سلیمان او زوی ئې محمد اکبر کابل ته راغلل او محمد حکیم ئې د کابل په ښار کي څلور میاشتي کلا بند کی خو څنګه چي د اکبر لښکر کابل ته راورسېد، نو سلیمان بې له دې چي د کابل ښار ونیسي بېرته بدخشان ته ولاړ (۹۶۳ھ) او د کابل د چارو واګي د شهزاده محمد حکیم مور (ماه چوچک خانم) په لاس کي ونیولې او مختلف امیران سره په شخړه اخته ول، څو چي په (۹۷۰ھ = ۱۵۶۲م) کال د اکبر له درباره منعم خان خانان کابل ته وګومارل سو. دی د جلال آباد په چهار باغ کي د کابل د لښکر سره مخامخ، ماته ئې وکړه او هند ته وتښتېد. څنګه چي همایون کندهار د کلات غلجي شاه محمد ته سپارلی وو نو ځکه صفوي شاه

همایون شاه

٦٨ -لمبر عکس

طهماسپ يو لښکر د شاه اسمعيل صفوي د نمسي سلطان حسين ميرزا په مشرۍ کندهار ته راوخوځاوه او په (۹۴۶هـ) کال ئې د کندهار ښار له شاه محمد څخه ونيو.

همدارنگه په (۹۶۷هـ = ۱۵۵۹م) کال ميرزا سليمان له بدخشانه د بلخ د نيولو په نيت لښکر راويوست او د گازران پر چينه باندي ئې د پير محمد خان د لښکر سره جگړه وکړه، خو مات سو او زوی ئې محمد ابراهيم د دښمن په لاس ووژل سو.

تر هغه وروسته ابو االمعالي ترمذي د (۹۷۱هـ =۱۵۶۳م) کال په شاوخوا کي د اکبر له درباره کابل ته راوتښتېد او د محمد حکيم خور ئې وکړه او د شهزاده مور ئې د ځينو نورو اميرانو سره ووژله. شهزاده او د کابل مظلومينو د بدخشان له حکمران ميرزا سليمان څخه مرسته وغوښتله. ميرزا د غوربند د پله سره د ابوالمعالي او کابل د لښکر سره مخامخ سو. ابو المعالي ئې وواژه او د (۹۷۱هـ =۱۵۶۳م کال د روژې پر ۱۷) ئې کابل ونيو. سليمان کابل خپل زوم شهزاده محمد حکيم او ميرزا سلطان اميدعلي ته پرېښوو پخپله بدخشان ته ولاړ او محمد حکيم د اکبري دربار په ملاتړ له کابله د سند تر سينده او له کندهاره د هندوکش تر سلسلې پوري خپلواک حکمران سو او د ميرزا سليمان نفوذ له منځه ولاړ (۹۷۲ هـ = ۱۵۶۶م). څنگه چي محمد حکيم په کابل کي غښتلی سو نو د خپل ماما فريدون په لمسه ئې له پېښوره پر لاهور يرغل وکی خو په (۹۷۴هـ = ۱۵۶۶م) کال اکبر شاه له اگرې څخه لاهور ته راغی او محمد حکيم ئې بېرته پېښور ته پر شا وشاړه.

خو د محمد حکيم په غياب کي ميرزا سليمان له بدخشانه راغلی او کابل ئې کلابند کړی وو او چي د محمد حکيم د بېرته راتلو خبر ئې واورېد کابل ئې پرېښوو، بدخشان ته ولاړ او له هغه ځايه د خپل نمسي شاهرخ د ابراهيم د زوی له لاسه چي په بدخشان او اندراب او تالقان او کندوز کي غښتلی سوی وو، د کابل له لاري هند ته وتښتېد او د بدخشان حکمراني د شارخ ميرزا سوه (۹۸۳هـ = ۱۵۷۵م). خو سليمان له هنده د بيت الله د زيارت په پلمه ایران ته ولاړ او له هغه ځايه کندهار او کابل ته راغی او په (۹۸۷هـ = ۱۵۷۹م) کال ئې د محمد حکيم په مرسته پر بدخشان او خپل نمسي يرغل وکی او شاهرخ ورسره روغه وکړه. له تالقانه تر هندوکشه سليمان ته پرېښوو او پخپله ئې د بدخشان اکتفا وکړه (۹۸۸هـ).

شهزاده محمد حکيم تر دې روغي وروسته له کابله د پېښور او لاهور خوا ته

لښکر ویوست او دا ښار ئې کلابند کی، خو د (۹۸۹هـ = ۱۵۸۱م) کال په محرمه اکبر دی د لاهور له شاوخوا څخه ترشا وشاړه او پخپل ورور پسې تر کابله ولاړ دا د ده لومړی سفر وو، مگر کابل او زابلستان ئې بېرته محمد حکیم ته وسپارل او د (۹۸۹هـ کال د صفر پر ۱۴) له هغه ځایه هندوستان ته وگرځېد، خو په بدخشان کي د میرزا سلیمان او شاهرخ اختلاف ورک نه سواو له دې اختلافه د بلخ حکمران عبدالله اوزبک گټه واخیسته. دواړه ئې کابل ته پرشا وشړل او بدخشان ئې د هندوکش تر سلسلې پوري د بلخ سره یو ځای کی.

شهزاده محمد حکیم د (۹۹۳هـ =۱۵۸۵م) کال د برات پر ۱۲ په کابل کي مړ سو او اکبر پاچا د کابل د ساتني د پاره کنورمان سنگه د نوي قوت سره راواستاوه او زین خان کوکه ئې د دې ځای حکمران وټاکه او کابل مستقیماً د اکبري هیواد برخه سو (۹۹۵هـ = ۱۵۸٦م). د اکبر لښکري د سوات او باجوړ په سیمو کي د پښتنو د توریالیو قبیلو سره ونښتلې او پخپله اکبر هم په (۹۹۷هـ = ۱۵۸۸م) کال پېښور ته راغی او دا کابل ته د ده دوهم سفر وو او په کابل کي تر یوې میاشتي تېرېدو وروسته ئې د کابل حکمراني کابلي قاسم خان ته ورکړه او پخپله پېښور ته وگرزېد، خو د روښاني حکمدارانو او د بایزید د زوی جلال الدین سره ئې د افغانستان په جگړه کي څلوېښت پنځوس زره شاهي سپاره او د اکبري دربار مهم غړي راجه بیربل د پښتنو له لاسه ووژل سول او غزني د روښانیانو لاس ته ورغی، چي تفصیل به ئې د روښانیانو تر عنوان لاندي راسي.

لکه چي د مخه مو ولیکل د کندهار ښار د صفوي شهزادگانو په لاس کي وو او له اکبري هیواده بېل سوی وو، ځکه نو په (۹۹۹هـ =۱۵۹۰م) کال خان خانان د بلوچستان له لاري پر کندهار حمله وکړه او کابلي شاه بېگ خان دا ښار بیا د اکبري هیواد برخه کړه (۱۰۰۳هـ = ۱۵۹۴م) او د اکبر د دورې تر پایه د کندهار حکمران وو او په (۱۰۱۱هـ = ۱٦۰۲م) کال ئې د بدخشاني شاهرخ زوی میرزا حسین چي پر کندهار ئې حمله کړې وه، غور ته پرشا وشاړه او په (۱۰۱۴هـ = ۱٦۰۵م) کال چي د هند شهنشاه جلال الدین محمد اکبر له دنیا ولاړ، د هغه زوی نورالدین جهانگیر ئې پر ځای کښېنوست. دا وخت د هرات صفوي حکمران حسین شاملو د سیستان د حاکم په مرسته پر کندهار حمله وکړه، خو شاه بېگ خان په کلا کي بندي کی پښې ئې ټینگي کړې او جهانگیر هم له هنده ملاتړ لښکر کندهار ته راواستاوه او صفوي لښکر ناکامه وتښتېدل او د کندهار او سند او



اکبرشاه

٦٩ –لمبرعکس

ملتان حکمراني د جهانګیر له درباره غازي خان ته ورکړه سوه (۱۰۱۴هـ = ۱۶۰۵م).
جهانګیر په (۱۰۲۰هـ = ۱۶۱۱م) کال چي روښاني پښتون احداد پر کابل یرغل وکی نو جهانګیر د شاه بېګ خان پر ځای قلیچ خان د کابل په حکمرانۍ وګوماره (د اکبر او جهانګیر سره د روښانیانو د جګړو تفصیل دي د روښانانیانو په فصل کي ولوستل سي).

څنګه چي کندهار تل د صفوي او بابري پاچهانو د جګړې ځای وو، اوس هغه د جهانګیر لاس ته ورغلی وو، خو په (۱۰۳۱هـ = ۱۶۲۱م) کال هغه شاه عباس صفوي ونیو او جهانګیر که څه هم په (۱۰۳۵هـ = ۱۶۲۵م) کال کابل ته خپل دوهم سفر وکی، مګر پر دې ئې بری و نه موند چي کندهار ته لښکر وباسي، ځکه ئې نو خواجه ابو الحسن د کابل او بنګښ د سیمو د سند تر سینده حکمران وټاکه او په خپله هند ته ولاړ او د (۱۰۳۷هـ = ۱۶۲۷م) کال د صفر په ۲۸ د یکشنبې په ورځ په لاهور کي مړ سو (۷۰ عکس) او د ده پر ځای شاهزاده خرم د ده زوی د هند پر تخت کښېنوست او په شهاب الدین محمد شاه جهان مشهور سو. د بایزید روښان د کهاله جنګونه چي په تېرا او پېښور او کابل او غزني او بنګښ کي د همایون او اکبر له عصره شروع سوي ول. د شاهجهان د جلوس تر وخته ئې دوام وکی، ځکه نو د ډهلي د دربار حکمرانان د افغانستان په سیمو کي د سختو مقابلو سره مخامخ ول (شرح به ئې د روښانیانو تر عنوان لاندي راسي).
جهانګیر چي له دنیا ولاړ د افغانستان حکمران ظفر خان د روښاني احداد سره په جګړه اخته وو. په دې وخت کي د بلخ حکمدار نذرمحمد خان فرصت غنیمت وګاڼه او د بامیان د ضحاک پر کلا ئې یرغل وکی او د افغانستان د شمالي ولایاتو د ټولو سیمو تر نیولو وروسته تر هندوکش راتېر سو او کابل ئې په خونړیو جګړو کي درې میاشتي کلابند کی. شاهجهان خواجه ابو الحسن او مومند لښکر خان د ۱۵ زرو سپرو سره او سپه سالار مهابت خان د شلو زرو سپرو سره افغانستان ته راواستاوه (د ۱۰۳۷هـ = ۱۶۲۸م کال د ذیقعدې میاشت) او نذر محمد د غور له لاري بلخ ته پر شا سو او کابل د لښکر خان لاس ته ورغی (د ۱۰۳۸هـ = ۱۶۲۸م کال د محرمي میاشت). د دې کال په پای کي د شیخ رکن الدین افغان زوی کمال الدین د اټک له غاړو بیا تر کابل پوري پښتانه قبایل د ځان سره یو لاس کړه او د ډهلي د حکومت پر خلاف پورته سو او پېښور ئې کلابند کی، خو د کابل حکمران اسماعیل خان پورته سوي خلک سره تیت کړه او پېښور ئې وساته (د ۱۰۳۸هـ = ۱۶۲۸م کال د ذیحجې میاشت).

جہانگیر

۷۰–لمبر عکس

په اکبري عصر کي حسن خان ترین د اوسني بلوچستان د پښین د سیمو له غټو مشرانو څخه وو، چي زوی ئې شېر خان ترین د صفوي او د ډهلي د تیموري حکومتو تر منځ خپلواک اوسېد او په (۱۰۴۱هـ = ۱۶۳۱م) کال ئې د سیستان د نیولو هڅه هم وکړه. په دې وخت کي د کندهار صفوي حکمران علي مردان پر پښین حمله وکړه او شېر خان د دوکی او چیټالي کلاوو ته پناه یووړه خو شاهجهان د (۱۰۴۷هـ = ۱۶۳۷م) کال په منځ کي د کندهار خوا ته لښکر راواستاوه. صفوي حکمران علي مردان خان تسلیم سو او کندهار ئې د شاهجهان لښکر ته وسپاره او د کندهار محلي مشران ملک مغدود او کامران (په دې کتاب کي دي د ابدالیانو شرح ته رجوع وسي) د شاهجهان له درباره رسماً د کندهار حکمداران وپېژندل سول او د شاهجهان لښکر د هلمند تر غاړو او زمینداور او بست او گرشک پوري سیمي ونیولې (د ۱۰۴۸هـ = ۱۶۳۸م کال دریمه خور = جمادي الاولي) او د (۱۰۴۹هـ) په محرمه کي شاهجهان کابل ته خپل لومړی سفر وکی او د یوسفزو د جنبش د مخنیوي له پاره ئې چي په نوښار او پېښور کي ئې د شاهجهان غټ حکمرانان وژلي ول، علي مردان خان وگوماره (۱۰۵۰هـ) او سعید خان ئې په کابل او قلیچ خان ئې په کندهار کي مقرر کړ او نیم افغانستان ئې د هندوکش له حدودو څخه تر کندهاره پوري د ډهلي د تیموري دولت برخه کړه، خو پښتانه ملک اودل او ملک حمزه چي په هلمند او سیستان کي ئې خپله خپلواکي ساتله د (۱۰۴۹هـ) کال په برات کي ئې د هلمند پر غاړه د شاهجهان د لښکر سره جگړه وکړه خو ناکامه له منځه ولاړه او شاهجهان پر کندهار باندي د صفوي حملو د مخنیوي له پاره شهزاده داراشکوه د پنځوسو زرو سپرو سره وگوماره او بیا څنگه چي د کندهار صفوي قواوو او د هندوکش د شمالي ولایاتو حکمران نذر محمد خان کابل تهدیداوه نو ځکه شاهجهان د (۱۰۵۵هـ = ۱۶۴۵م) کال په ذیحجه میاشت کي شهزاده مراد بخش د پنځوسو زرو سپرو او لسو زرو پلیو او درنې توپخانې سره راوخوځېدل او دی پخپله هم د (۱۰۵۶هـ) کال په دوهمه خور کابل ته راورسېد او بې له ځنډه ئې د پروان او د هندوکش د درو له لاري پر شمالي ولایاتو یرغل وکئ او د بدخشان ټولي سیمي ئې تر بلخه پوري ونیولې او د ډهلي د تیموري هیواد وېش ئې د آمو تر سینده ورساوه او خواص خان ئې د کندهار په صوبه داری وټاکه او خواجه عبدالرحمٰن ئې په بدخشان او سعادت خان ئې په ترمذ او اسدالله ئې په زمینداور او ذوالفقار خان ئې په کابل کي وگومارل او پخپله د پېښور پر

لار لاهور ته ولاړ، خو د نذرمحمد خان زوی عبدالعزيز خان د توران والي په (۱۰۵۷هـ = ۱۶۴۷م) کال پر بلخ بيا يرغل وکی او د ده حملې د هندو کش تر کلاوو پوري ورسېدلې، ځکه نو شاهجهان کابل ته دريم سفر وکی او شهزاده اورنگ زېب د خپلو لښکرو سره د هندوکش په شمالي سيمو کي د اوزبکو د حملو د مخنيوي له پاره تر بلخ او اندخود او ميمنې پوري پر مخ ولاړل، څنگه چي د هندوکش د شمال ساتنه سخته وه، ځکه نو شاهجهان بلخ نذرمحمد خان ته وسپاره او پخپله هند ته ولاړ (۱۰۵۷هـ = ۱۶۴۷م کال د رجب مياشت).

صفويانو کندهار هېر نه کی او په (۱۰۵۸هـ) کال ئې لومړی د کندهار د ښار د غوښتلو په باب کي د دوستۍ له لاري يو ليک شاهجهان ته واستاوه او تر هغه وروسته پخپله شاه عباس ثاني د لوی لښکر او پنځو باليمز توپو سره له اصفهانه راووت پر کندهار ئې يرغل وکی او دا ښار ئې په ژمي کي د پنځوسو زرو سپرو په مرسته کلابند کی. د ډهلي له دربار شهزاده اورنگ زېب د اويا زره تنو لښکر د لاهور او کابل څخه کندهار ته متوجه سو، خو صفوي پاچا تر خونړيو جگړو وروسته کندهار ونيو او محراب خان ئې د لسو زرو سپرو سره هلته پرېښود. پخپله دی هرات ته ولاړ. شهزاده اورنگ زېب د (۱۰۵۹هـ = ۱۶۴۹م) کال په دريمه خور (جمادي الاولي) محراب په کندهار کي کلابند کی او پخپله شاهجهان هم کابل ته څلورم سفر وکی خو څنگه چي ئې کار پر مخ نه بوتی، نو امر ئې وکی چي اورنگ زېب دي د کندهار څلور مياشتنۍ کلابندي پرېږدي او لاهور ته دي ولاړ سي. دوه کاله وروسته شاهجهان کابل ته پنځم سفر وکی او شهزاده اورنگ زېب ئې د پنځوسو زرو سپرو او پليو او شلو کلانړوونکو توپو او شلو ميانه توپو او لسو مستو جنگي پيلانو سره کندهار ته واستاوه او سعدالله خان ئې د نور لښکر سره د شهزاده د ملاتړ په توگه وگوماره. دې درنو قواوو چي کندهار بيا کلابند کړی وو ، تر دوو مياشتو پوري ئې څه کار و نه سو کولای، هغه وو چي بېرته بې نتيجې کابل او لاهور ته ولاړل (د ۱۰۶۱هـ = ۱۶۵۰م د روژې مياشت). بل کال بيا شاهجهان يو لوی لښکر د شهزاده داراشکوه په مشرۍ د کندهار د دريم وار کلابندۍ له پاره راواستاوه چي په دې لښکر کي يو سل اويا جنگي پيلان او دېرش زره د توپ گولۍ وې. د کندهار کروړ حکمران محراب خان بيا ځان ټينگ کی او د کندهار کلا ئې پنځه مياشتي وساتله او شاهجهان بې له دې چي کندهار ونيسي دريم وار هم

ناکامه هند ته ولاړ او په دې توګه یوازې کابل او غزنی د شاهجهان په لاس کې پاته سول او د هغو د ساتنې له پاره ئې بهادر خان افغان وګوماره. کندهار او سیستان او هرات د صفویانو په لاس کې ول او شمالي ولایات له میمنې او اندخود څخه نیولې تر بلخ او تخارستان او هندوکش پورې د توران په حکمدارانو چې د نذرمحمد خان اولاده وه، اړه درلوده. کله چې شاهجهان په (۱۰۶۸هـ = ۱۶۵۷م) کال د خپل زوی اورنګزېب له خوا بندي سو او پر ځای ئې اورنګزېب د ډهلي پر تخت کښېنوست، نو اورنګزېب مهابت خان د کابل حکمران او شمشېر خان د غزني حاکم او سعید خان د افغاني کوهستان او پېښور فوج دار وټاکه.

د عالمګیر عصر د افغانستان ډېره له شوره ډکه دوره وه چې تل د هیواد سیمي له اټک څخه تر کابله د دربار د لښکرو او پښتنو تر منځ د جګړو ډګر وو.

لومړی د پېښور د شمال یوسفزیانو د باکو او ملا چالاک او سلطان محمود ګدون په مشرۍ پر پکهلي یرغل وکی. عالمګیر په (۱۰۷۷هـ = ۱۶۶۶م) د هغو د مخنیوي له پاره د اټک فوجدار کامل خان وګوماره خو د (۱۰۷۹هـ = ۱۶۶۸م) کال په شاوخوا کې ایمل خان مومند (چې د ایمل شاه په نامه ئې سکه وهله) په خیبر کې د خوشحال خان خټک (نومیالی او جنګیالی پښتون او د پښتو نامتو شاعر) په ملګرۍ د عالمګیر د قواوو پر خلاف ډېر جنګونه وکړل او درې کاله عالمګیر پخپله د دوی د مخنیوي له پاره په حسن ابدال کې پروت وو او شهزاده محمد اعظم په کابل کې وو او آغر خان د پښتنو سره خونړۍ جګړې وکړې، څو چې عالمګیر د تهترو او دوابه او نوښار او کنداب او خاپس تر پنځو جنګو او تقریباً د دواړو خواوو د یو لک تنو تر وژلو وروسته و نه سوه کولای چې د پښتنو نهضت له منځه یوسي، نو له دې اوږدې جګړې څخه ئې زړه تنګ سو. پخپله ډهلي ته ولاړ (۱۰۸۱هـ) او ایمل خان په لغمان کې د آغر خان سره خورا لوی خونړی جنګ وکی، څو چې په (۱۱۰۲هـ =۱۶۹۰م) کال آغر د پښتنو له خوا ووژل سو او د عالمګیر د دورې په پای کې شهزاده محمد اعظم بهادر شاه په کابل او پېښور کې حکمران وو چې په (۱۱۱۴هـ = ۱۷۰۲م) کال ئې د پښتنو قبایلو یو غټ مشر پردل خان چې د خپل لښکر سره له خوسته کابل ته راتی د کابل او پېښور د لارې د بندېدو او بلوا له بېرې وواژه.

عالمګیر چې په (۱۱۱۸هـ = ۱۷۰۶م) کال مړ سو معظم له کابله لاهور ته ولاړ او د

شاه جهان

۷۱–لمبرعکس



اورنگزیب عالمگیر

عکس نمبر–۷۲

پاچهۍ بیرغ ئې پورته کی او د ډهلي د تیموري دورې په پای کي ناصر د کابل او پېښور او باقر خان د غزني حکمرانان ول او کندهار تر پښین او مستنګ او دېره جاتو پوري د هوتکي پاچهانو په لاس کي وو. څو چي په (۱۱۵۱هـ = ۱۷۳۸م) کال نادر افشار د بابر د اولادې د پاچهۍ کمبله تر (۲۴۰) کالو وروسته له افغانستانه ټوله کړه. په افغانستان کي د هند د تیموري دورې دوه نیمي پېړۍ موده په خونړیو جګړو تېره سوه او افغانستان د ډهلي د امپراطورۍ او د ایران د صفویانو او د ماوراء النهر د توراني پاچهانو د درو لویو قوتونو د مخامخېدو او یو ځای کېدو نقطه وه، ځکه ئې نو د پاچهانو له مدنیت روزلو او صنعت او ادب پاللو څخه برخه وانه خیسته او دوه نیمي پېړۍ د خارجي تېري کوونکو سر د داخلي آزادۍ غوښتونکو په سختو جګړو کي وران سو او په افغانستان کي د هند د تیموري مدنیت له ودانیو او عمران څخه کمه نخښه و نه لیده سوه. بې له قهره او وینو او جاسوسۍ.

په افغانستان کي د خارجیانو د دې دوه نیمو پېړیو د ورانیو منظر ډېر زړه دردوونکی دئ او هغه څه چي د چنګېز او تیمور تر چور او چپاو وروسته د هرات د تیموریانو دولت جبیره کړي او مدنیت او صنعت او ادبي آثار ئې منځ ته راوړي ول، هغه په دې موده کي وران سول. خو همدا دوره د افغان ملت د خپلواکۍ غوښتلو او وطن سره د میني درلودلو د حس خورا ښه ښکارندوی او مظهر دئ چي دوه نیمي پېړۍ د درو مدهشو قوتو سره وجنګېد او پردي قوتونه ئې پرې نه ښوول چي د دوی پر هیواد په خوښۍ او آرامۍ حکمراني وکړي.

په دې وخت کي د ډهلي تیموري پاچهانو په کابل او کندهار کي او صفوي پاچهانو په هرات او سیستان کي او توراني پاچهانو په بلخ او بدخشان کي سکه وهله او څنګه چي افغاني قومونه له درو خواوو څخه تهدیدېدل ځکه نو په دوی کي د مقاومت روح او د اتونومي ساتل تقویه کېده او پښتو ادبیات په همدې عصر کي نضج او پوخوالي ته ورسېدل او د آزادۍ او خپلواکۍ غوښتلو لارښوونکو لکه پیر روښان او خوشحال خان او نورو په پښتو ژبه ډېر قیمتي آثار ولیکل او د همدې دورې له ممیزاتو څخه دا هم دي چي د پښتو په ادبیاتو کي د هند د بابري پاچهانو د پردۍ سلطې په مقابل کي یو راز سخته کرکه او تنفر پیدا سو.

په افغانستان کي د ډهلي د تیموریانو ملکي او لښکري تشکیلات د هند د

لودیانو او سوریانو پر اساس ول او مستر سمت او دولافوز په قول شېرشاهي مدني اساسو ته ئې توسعه ورکړې ده او افغانستان ئې پر څلورو صوبو وېشلی وو، چي له هغې جملې څخه د کابل صوبې د بابر د شهنشاهۍ له ابتدا څخه بیا د نادر افشار تر فتح پوري په ډهلي اړه درلوده، خو دوهمه صوبه کندهار کله په ډهلي او کله د اېران په صفویه اړه درلودلې وه. دریمه صوبه بدخشان د ډهلي د تیموریانو او د هغو د پلرني خپلوانو تر منځ د شخړیو ځای وو. څلورمه صوبه بلخ هم کله د ډهلي په بابري کهول اړه درلوده او کله ئې د توران په پاچهانو پوري. د کابل صوبې د بابر په وخت کي د ده په قول شل محله درلودل او عایدات ئې شل لکه شاهرخۍ وې چي د یو کروړ او اته ویشت لکه دام سره برابري وې او همدا صوبه د ابوالفضل په قول له پامیر او ګلګت او سوات او بنیر او باجوړ څخه تر کندهار او زابلستان پوري غځېدلې وه او په اکبري عصر کي پر دوه سرکاره کابل او کندهار وېشله کېدله او د کابل سرکار (۲۲) محله وه او (۴۶۵، ۸۰۵۰۷) دام نغدي او (۱۷۸، ۱۳۷) دام مالیه او (۱۸۷، ۲۸) سپاره او (۷۰۰، ۲۱۲) پلي او پخپله د کابل ښار (۴۱۰، ۷۵۸، ۱۲) دام نغد عایدات درلودل.

خو د کندهار سرکار (۲۴) محله او (۸۱۱۴) تومان (د کلیو مجموعه) او (۶۰۰، ۲۹) نغد دیناره او (۷۷۵، ۴۵) پسونه او (۴۵) بلوڅي آسان او (۹۷۷، ۷۵۱، ۳) خرواره غله او (۴۲۰) منه وریجي او دوه خرواره اوړه او (۲۰) منه غوړي او (۸۷۵، ۱۳) سپاره او (۲۶۰، ۲۷) پلي دولتي عایدات ول.

لاهوري عبدالحمید د شاهجهان په وخت کي د بابر د اولادې د هیواد له ۲۲ صوبو څخه د افغانستان څلور صوبې او د هغو دولتي عایدات داسي شمېرلي دي:

کابل شپاړس کروړه دام، کندهار شپږ کروړه دام، بلخ اته کروړه دام او بدخشان څلور کروړه دام (هر پنځه دامه د (۲) آنو سره برابر دي).

د ابوالفضل په قول هره صوبه پر څو سرکارو، ښارو، کلاوو او تاڼو وېشله کېده او صوبه دار ملکي او نظامي آمر وو، چي تر دوولسو کروړو دامه پوري ئې تنخا رسېدله. د صوبه دار تر امر لاندي یو کومکي (موقتي نظامي آمر) او تعینات (دایمي نظامي آمر) او فوجدار (د لوی نظامي افسر مرستیال) تانه دار او کوټوال یعني کلاوال په مهمو مرکزو کي د هیواد د ښارو، لارو او نظامي کلاوو عامه امنیت اداره کاوه او کله هم یوه صوبه د تیول (اقطاع) په توګه یوه ته د امیرانو او شهزادګانو ورکوله کېدله

او هغه ته ئې تيولدار وايه. په هره صوبه او ښار کې د مامور محاسبه او ملي چارو دېوان وو او د شرعي محکمو او عدليه چارې هم قاضي اداره کولې، چې د لښکر له پاره (د اردو عدالت) يو تن ځانته بېل عسکر قاضي موجود وو، بخشي يو مامور وو، چې د لښکر تنخا او لوازم ئې تهيه کوله او واقعه نويس د استخبار او جاسوسۍ چارې اداره کولې چې په هر ځای کې ئې د (هرکاره) په نامه جاسوسان درلوده او کله د ډهلي د بابر د اولادې په دربار کې د ناظم او نظامت په نامه هم فوق العاده تنظيمه رئيسان په موقتي توگه د ځينو مهمو چارو له پاره ټاکل کېدل او د دې ټولو دولتي کارکوونکو رتبې او تنخاوې دا ډول وې: لومړی لس زری (ده هزاری) چې (۷۰۰) اسان او دوه سوه پيلان او دوه سوه بار وړونکي څاروي او (۳۲۰) گاډۍ (عرادې) ئې تر امر لاندې وې او د مياشتې ئې له (۶۰) زرو روپو تنخا اخيستله.

دا رتبې له لس زري (ده هزاري) څخه تر لس باشي (ده باشي) پوري (۶۶) رتبو ته رسېدلې او هر منصب له کښتي خوا له پنځه زري څخه د تنخا له حيثه درې مرتبې درلودلې مثلاً لومړی پنځه زری، دوهم او دريم پنځه زری.

د ډهلي د تيموري دورې له پاتو ودانيو څخه په افغانستان کې: يو د کندهار د اوسني ښار لمر لوېدو خوا ته د سرپوزې په غره کې د چهل زينې دالان دئ چې د هغه دالان د ليکني له مخې د هغه ځای ودانۍ په (۹۳۰هـ) کال کې ميرزا کامران او ميرزا عسکري او ميرزا هندال شروع کړې او په (۹۵۳هـ) کال ئې پای ته رسولې ده او تر هغو وروسته يو اکبري منصبدار مير معصوم نامي په (۱۰۰۴هـ) کال هلته د ماهرو ډبر توږونکو په واسطه په څلور کاله کې يوه ليکنه (کتيبه) د همايون او اکبر په نامه کيندلې ده. بله ليکنه د کندهاري بابا حسن ابدال د خوريي سيدحسن زنجيرپا د مزار کتيبه ده چې همدې مير معصوم په (۱۰۰۱هـ) کال کيندلې ده او همدا راز د کندهار د شمال خوا ته څلوېښت ميله ليرې په خاکرېز کې د سيد عبدالجليل (مشهور په شاه مقصود) د مزار ودانۍ او کتيبه ده چې په (۱۰۵۵هـ) کال د سيد معصوم د زوی مير بزرک له خوا ودانه سوې او کيندلې سوې ده. سيد عبدالجليل د سلطان خليل زوی او د سلطان محمد نمسی په (۸۵۴هـ) کې مړ دئ.

د هغه وخت بله کتيبه د سيد محمد مشهور په سيد شېر قلندر د انصاري د زوی د مزار کتيبه ده، چې د تاريخ معصومي په قول د ۹۳۳هـ کال په محرمه کې وفات سوی او

په (۱۰۰۵ه) کال نوموړي میر معصوم د کندهار د پنجوائي د سپېروان په غره کي کیندلې ده او ودانۍ ئې باندي جوړه کړې ده. بل د کندهار چار باغ دئ چي د ابوالفضل په قول د بابر له ودانیو څخه وو.

خو په کابل کي د شهرآراء باغ او چارباغ او د آهو باغ د عبدالحمید په قول د بابر د ودانیو له بقایاو څخه ول، چي جهانګیر ئې پخپل تزک کي هم ستاینه کړې ده. همدا شان د پغمان باغ (میرزا الغ بېګ او بابر جوړ کړی) او د بابر تخت چي پخپله د ده په امر په ۹۱۴ه کال جوړ سوی او په (۱۰۱۶ه) کال جهانګیر د کابل جنوبي خوا ته بشپړ کی او همدا راز د کابل چارچته (مشهور بازار چي علیمردان خان جوړ کړی وو)، د شور بازار مسجد (چي اورنګزېب ودان کړی وو)، د وفا باغ چي په (۹۱۴ه بابر ودان کی)، د شهباز کلا (چي د ابو الفضل په قول په ۹۹۸ه کال اکبر جوړه کړې وه) او د استالف باغ او د بابر د مزار مرمرین مسجد او د نملې باغ (د کابل لمر ختیځي خوا ته په ۱۰۵٦ه کال ودان سوی) د شاهجهان له ودانیو څخه دي.

د کابل حصار چي له پخوا موجود وو. د جهانګیري تزک په قول میرزا کامران ترمیم کی او د بالاحصار ودانۍ د (۱۰۱۵ه) کال په صفره کي د جهانګیر په امر ودانې سوې، خو د کندهار د ښار حصار چي په (۱۱۵۱ه) کال نادرشاه وران کی او له پخوانۍ زمانې موجود وو، د عبدالحمید په قول شاهجهان هغه د اته لکو روپو په مصرف ترمیم کی. د کابل شمالي خوا ته د پروان کلا (اوسنی جبل السراج) هم په (۹۵۵ه) کال همایون ودانه کړه چي د ده د لښکر مرکز وو.

د ډهلي د تیموري پاچهانو په وختو کي کابل او کندهار او بلخ او بدخشان دارالضرب هم ول او د ابوالفضل په قول د اکبر په عصر کي کابل یو له هغو څلورو صوبو څخه وو، چي د اکبر طلایي سکه پکښې وهله کېدله، په څلورو واړو صوبو کي د ډهلي د تیموري یا د صفوي پاچهانو له خوا د سپنو زرو او مسو سکې وهلې کېدلې او د جهانګیر په وخت کي په کندهار کي مسي سکې وهلې سوي دي، چي د تقویمي شمسي برجو شکل لري. همدا شان جهانګیر د خپل جلوس پر ۱۴ کال په کندهار کي د سپینو زرو روپۍ سکه ووهله چي دا بیت لري: (از جهانګیر بن اکبر شاه سکه قندهار شد د لخواه).

په افغانستان کي د ډهلي د تیموریانو د وختو علمي او ادبي نومیالي دا دي:

ابتري بدخشي (شاعر) ابراهیم بېټنی (د مخزن افغاني بشپړونکی)، ملک ابوالفتح سیستاني (سردار شاعر)، آتشي قندهاری (شاعر- په ۹۷۳ھ کي مړ دئ)، شیخ احمد مجدد کابلی (سر هند عارف – ۹۷۱ – ۱۰۳۴ھ)، ارزاني (پښتو شاعر د ۹۵۰ھ په شاوخوا کي)، اشرف خان هجري (د خوشحال خټک زوی، پښتو شاعر)، میر اعجاز هروي (شاعر او نثر لیکونکی)، سلیم لودي افغان (شاعر)، افضل خان خټک (په ۱۱۸۳ھ کي مړ او د پښتو د تاریخ مرصع مؤلف وو)، ملا الف هوتک (د پښتو بحرالایمان ناظم – ۱۰۱۹ھ)، امام الدین متي زی (۱۰۲۰ – ۱۰۶۸ھ) د تاریخ افغان مؤلف، اماني کابلی (شاعر)، اماني افغان (شاعر –د ۱۰۷۷ھ په شاوخوا کي)، امیر (د پښتو شاعر – ۱۰۳۳ھ)، انوري هروي (شاعر)، بابا بلخي (شاعر – د ۹۵۰ھ شاخوا)، بابو جان (د پښتو شاعر – د ۱۰۵۰ھ شاوخوا)، خواجه باقي بالله کابلی (عارف او د سلسلة الاحرار مؤلف ۹۷۱ – ۱۰۱۲ھ)، شیخ بایزید افغان (د عالمگیر د وختو نامتو زاهد)، بایزید روښان (پښتون مشر او لیکونکی)، بای خان (پښتو شاعر – د ۱۱۰۰ھ په شاوخوا کي)، شیخ بستان بړیځ (پښتون شاعر او عارف چي په ۱۰۰۲ھ کي مړ دئ)، بنایي کابلی (د همایون د وختو شاعر)، بوالعجب کابلی (د اکبري د دورې شاعر)، جهانگیر هروي (د مظهر الاثار ناظم چي په ۹۴۶ھ مړ دئ)، غزنوي (شاعر ۹۷۳ھ کال په پېښور کي مړ دئ)، تادیب هروي (شاعر ۱۰۸۰ھ)، تاش محمد کندزی (د حجة الاورنگ شاهیه مؤلف– ۱۱۰۰ھ)، ترابي بلخي (شاعر)، خوشحال خان خټک (د پښتنو نومیالی شاعر او جنگیالی مشر)، سلطان کندهاری (د اکبر د وختو شاعر)، ثابت بدخشي(شاعر)، ثابت بړیځ (پښتون عارف)، ثاني خان هروي (د اکبري د دورې شاعر)، حبیبي کابلی (د یوسف او زلیخا ناظم– ۱۰۹۰ھ)، قاضي نظام بدخشي (د بابر د دورې قاضي خان)، حسام الدین بدخشي (د بابر او همایون د دورې قاضي)، حلیمه (پښتنه شاعره– د خوشحال خان خټک لور)، ملک حمزه سیستانی (شاعر– ۱۰۸۳ھ)، حمید ماشوخېل مومند (پښتو شاعر– ۱۱۰۰ھ)، حمید گل (پښتو شاعر)، خان گل خلیل (پښتو شاعر)، خاني کابلی (شاعر –۹۸۵ھ)، خرد بېگي کابلی (شاعر– چي په ۹۷۵ھ کي مړ دئ)، خواندمیر (د حبیب السیر او خلاصة الاخبار او دستور الوزراء او نورو لیکونکی –په ۹۴۱ھ کي مړ دئ)، خواجه زاده کابلی (د اکبر د عصر شاعر)، خواجه حسن هروي (شاعر– چي په ۹۷۹ھ کي مړ دئ)، خواجه محمد بنگښ (د

عالمګیري عصر پښتو شاعر)، داعي کشمي (شاعر – په ۹۹۴هـ کال مړ دئ)، درویزه ننګرهاری (د پښتو لیکونکی او نامتو مبلغ)، دولت لوانی (د پښتو شاعر – د ۱۰۵۸هـ په شاوخوا کي)، رابعه کندهارۍ (د برابر د عصر شاعره)، دوست محمد کاکړ (شاعر او د پښتو غرغښت نامې مؤلف – ۹۲۹هـ)، دبیري کابلی (د شاهجهان د وختو شاعر)، ربیع بلخي (شاعر – ۱۰۸۰هـ)، رحمان بابا (د پېښور د پښتو نومیالی شاعر او نامتو عارف)، رونقي بدخشي (شاعر – په ۹٦۴هـ کي مړ دئ)، زایر بدخشي (شاعر په ۱۰٦۷هـ کي مړ دئ)، ساغري هروي (شاعر – د ۹۵۰ په شاوخوا کي)، سروري کابلی (د عالمګیر د عصر شاعر)، زرغونه کندهارۍ (د پښتو شاعره چي په ۹۰۳هـ کال ئې د سعدي بوستان په پښتو نظم کی)، سکندر خان (د پښتو شاعر او د خوشحال ختک زوی)، سلطان کندهاری (د اکبر د عصر شاعر)، سلطان علي اوبهي هروي (شاعر د ۹۵۰هـ په شاوخوا کي)، سلطان محمد خندان (د کابل خطاط او شاعر – د ۱۱۰۰هـ کال په شاوخوا کي)، سوسني کابلی (شاعر او د جهانګیر د عصر آمر)، سید احمد ختک (د اکبري عصر له مؤلفانو څخه)، سیف خان خوستی قطغني (په موسیقي کي د راګ پن مؤلف او د شاهجهان د وختو افسر – چي په ۱۰۹۵هـ کي مړ دئ)، ملا شاه بدخشي (شاعر او د تفسیر لیکونکی په ۱۰۷۰هـ کي مړ دئ)، شجاع سیستانی (شاعر)، شوخي هروي (شاعر)، شیدای بلخي (د بابر د حضور له پوهانو څخه وو)، امیر شېرعلي خان لودي (د مراة الخیال د تذکرې مؤلف – ۱۱۰۲هـ)، شېر محمد هوتک کندهاری (۱۰۹۲ – ۱۱۷۵هـ د اسرار العارفین ناظم په پښتو کي)، شیرمحمد ننګرهاری (د پښتو شاعر – ۱۱۰۰هـ)، صادق کندهاری (د همایون د عصر شاعر)، صبوحي بدخشي (شاعر – چي په ۹۷۳هـ کي مړ دئ)، صبوحي کابلی (د اکبر د دربار شاعر)، صدر خان ختک (د پښتو شاعر او د خوشحال خان ختک زوی)، حاجي عارف کندهاری (د بېرم خان د دربار شاعر او مؤرخ او په تاریخ کي د مطلع او مقطع لیکونکی – ۹۸٦هـ)، عارف کابلی (شاعر ۱۰۰۰هـ)، ملا عالم ګلبهاری (د اکبر د وختو شاعر او د صلصلة الجرس ناظم او دلالة العقل او بحرالوجود او عوالم الاثار او فواتح الولایه لیکونکی چي په ۹۹۲هـ کي مړ دئ)، عباس سرواني (د تاریخ شېرشاهي مؤلف)، عبدالسلام پشاوری (د پښتو لیکونکی او د درویزه نمسی)، عبدالرحمٰن بختیار (۹۰۰هـ د شاوخوا عارف)، عبدالعزیز هروي (د بابر د وختو عالم)، عبدالرحمٰن رمزي بدخشي (د ردالشیعه او

اثبات نبوت مؤلف)، میر عبدالله د میر نعمان زوی (شاعر او د نقشبندیه له مشایخو ثخه وو)، عبدالعلي تالقاني (د انشاه لیکونکی –۱۰۶۰هـ)، عبدالله نیازي (د اکبري دورې عارف چي په ۱۰۰۰هـ کي مړ دئ او د شیخ سلیم چشتي او سید محمد جونپوري شاگرد)، عبدالله (د پښتو شاعر د ۱۰۰۰هـ په شاوخوا کي)، د هزاره د ضلع عبدالرحمٰن مانکراوي (په اکبري عصر کي د حسینه مؤلف)، عبدالرحیم منکراوي (د اکبر په عصر کي د ردالبدع مؤلف)، عبدالوهاب منکراوي (د اکبر په عصر کي د کنزالدقایق ناظم)، عبدالرسول د سید علي زوی (په ۱۱۱۸هـ کال کي د مجمع اللغات والاسماء مؤلف)، عبدالقادر ختهک (د پښتو شاعر او د خوشحال خان زوی)، عبدالصمد بدخشي (د ۹۵۰هـ د شاوخوا شاعر)، عبدالرحیم هوتک کندهاری (د پښتوشاعر)، عبدالرشید د سلطان حسین زوی (د ۱۱۰۰هـ په شاوخواکي د رشیدالبیان ناظم)، عبدالرزاق کابلی (د شاهجهان د عصر عالم پر شرح تجرید محاکمات ئې حواشې لیکلي)، عزت هروي (شاعر او د عالمگیر د دربار لښکري افسر چي په ۱۰۸۰هـ کي مړ دئ)، عشقي کابلی (میر بخشي او د اکبري عصر شاعر چي په ۹۹۰هـ کي مړ دئ)، علي خان (د پښتو شاعر)، سید علي کندوزی د سید قنبر زوی مشهور په پیر بابا (نامتو عرف)، عمر خویشکي (د اکبري عصر له پوهانو او د پیر روښان له پیروانو ثخه وو)، عیسیٰ پشاوری د اخوند پنجو شاگرد (د اهل بیت د فضیلت د کتاب لیکونکی)، عیسیٰ مشوانی (د پښتو شاعر – ۹۰۰هـ)، عیسیٰ اخوندزاده کاکړ (د پښتوشاعر – د ۱۰۵۰هـ په شاوخواکي)، میر کلان غزنوي (د اکبري عصر شاعر او آمر)، غلام محمد د شېر خان گي گیاني زوی (په پښتو د معراج نامې او سیف الملوک ناظم ۱۱۱۵هـ)، غیوري کابلی (شاعر او د شهزاده محمد حکیم نوکر)، فخري هروي (شاعر او د همایون د عصر مؤلف)، فصیح هروي (شاعر)، فصیحه هروي (شاعره)، فیاض پېښوری (پښتو د بهرام او گل اندامي د کیسې ناظم)، فیاض هروي (شاعر – ۱۱۰۰هـ)، فېروزه کابلۍ (شاعره او د همایون د درباریانو ثخه)، قاسم کندهاری (د اکبر د عصر له پوهانو ثخه)، شیخ قاسم سلیماني پېښوری (د اکبر د عصر عارف او د تذکرة اولیاء افغان لیکونکی)، قاسم کاهي کابلی (د اکبر د دربار شاعر)، قاسم شینواری (په پښتو کي د فواید شریعت لیکونکی په ۹۶۷ هـ کي)، قلندر (د پښتو شاعر)، کاظم خان شیدا (د خوشحال خان ختهک د کورنۍ د پښتو شاعر)، کاشفي بدخشي (شاعر – ۱۰۴۲هـ)،

میرزا کامل د احمد بخشي زوی (د بحرالزمان لیکونکی چي په ۱۱۳۱ھ کال مړ دئ)، گدایي کابلی (د همایون د عصر شاعر)، لایق بلخي (د توران د باچا امام قلي خان د دربار شاعر)، شېخ متي کاسی (د اکبر د وختو عارف چي په ۱۰۱۰ھ کي مړ دئ)، میرزا محمد زاهد هروي د قاضي اسلم زوی (د شاهجهان وقایع نویس ۱۰۶۴ھ او د خپل وخت عالم د شرح مواقف د حاشیې او د علامه دواني د شرح تهذیب د حاشیې او د قطب الدین رازي د تصور او تصدیق د حاشیې او د شرح الهیاکل و زاید ثلاثه د حاشیې لیکونکی)، قاضي محمد اسلم هروي (د جهانگیر په عصر کي د کابل او هند قاضي او د شاهجهان امام وو، چي په ۱۰۶۱ھ کال په لاهور کي مړ دئ)، شیخ محمد امین بدخشي (عارف او د قطرات در او د ضروریه د رسالې لیکونکی چي په ۱۰۹۸ھ کال په کشمیر کي مړ دئ)، محمد یوسف کابلی د شاه بېگخان زوی (وژلی سوی شاعر – ۹۸۰ھ)، شیخ محمد صالح الکوزی کندهاری (د پښتو شاعر– او د ۱۰۱۴ھ د شاوخوا عالم)، محمد صالح فارغي (د همایون د عصر شاعر)، محمد تالقاني غافل (شاعر چي په ۱۰۵۰ھ کي مړ دئ)، ملا محمد هروي (د اکبري عصر عالم– ۹۸۲ھ)، محمد هاشم کندهاری (بېرم خان د دربار شاعر)، محمد طاهر انصاري هروي (د ۱۰۰۰ھ د شاوخوا شاعر)، محمد د ابراهیم زوی (د سلطان ابراهیم لودي د عصر مؤرخ او د تاریخ ابراهیم شاهي لیکونکی)، علي محمد مخلص روښاني (۹۵۰ھ د پښتو شاعر)، ملامست زمند (۱۰۵۰ کال په شاوخوا کي په پښتو د سلوک الغزات لیکونکی)، مستفید جگدلکي (د ۱۰۰۰ھ په شاوخوا کي د بخارا د پاچا عبدالعزیز خان د دربار شاعر)، مسعود د عبدالله پېښوري زوی (د پښتو شاعر او د ۱۰۰۰ھ په شاوخوا کي د آدم او درخانۍ د نکل ناظم)، مصطفٰی خان بدخشي (د عالمگیر د دربار امیر او عالم او د قرآن د آیتو د استخراج په باب کي د امارات الکلم د کتاب لیکونکی)، مصطفٰی د نور محمد زوی د عبدالکریم نمسی او د درویزه کړوسی د ۱۱۱۲ھ کال د شاوخوا د پښتو لیکونکی)، مظفر الدین بدخشي (د ۹۸۷ ھ د شاوخوا شاعر)، میر معصوم نامي د سید صفایي زوی د هغه بابا حسن ابدال له نسله چي په کندهار کي (د اکبر د دورې شاعر او نظامي افسر او د تاریخ معصومي او طب نامي مؤلف او د معدن الافکار او حسن ناز او اکبر نامې او پري صورت ناظم)، مغزي هروي (د میرزا کامران د عصر شاعر چي په ۹۸۲ھ کي مړ دئ)، معجز کابلی (د عالمگیر د عصر شاعر)، مفید بلخي (د ۱۰۵۰ھ کال په شاوخوا کي د

بخارا د عبدالعزیز خان د دربار شاعر)، مقصود هروي (د همایون د دربار خطاط)، تاج محمد ممنون (شاعر په ۱۱۵۰هـ کي مړ دئ)، قاسم موجي بدخشي (امیر او د همایون د دربار شاعر او د یوسف او زلیخا او لیلیٰ او مجنون ناظم چي په ۹۷۹هـ کي مړ دئ)، مهري هروي (د ملکه نورجهان د دربار شاعره)، میر کلان هروي (د جهانګیر ښوونکی او نامتو عالم چي په ۹۸۳هـ کي مړ دئ)، میرک بلخي چي فکري ئې تخلص وو (عالم او شاعر وو او په ۱۰٦۱هـ کال په اصفهان کي مړ دئ)، میرک هروي (د داراشکوه ښوونکی او د خپل وخت عالم او د عالمګیر د وخت صدرکل چي په ۱۰۷۱هـ کي مړ دئ)، میر دوست کابلی (د اکبري عصر خطاط)، میرزا خان انصاري روښاني (د پښتو شاعر)، میر الهي بدخشي (د کولاب شاعر او قاضي د ۹۵۰هـ په شاوخوا کي)، میر علي هروي (نامتو خطاط چي په ۹٦٦هـ کي مړ دئ)، میرزا قلي میلي هروي (شاعر چي په ۹۸۳هـ کي مړ دئ)، ناظم هروي (شاعر – د ۱۰۷۰هـ په شاوخوا کي)، میر نصرالدین هروي (د عالمګیر د دربار له پوهانو څخه)، قاضي نظام غازي خان بدخشي (د شهزاده محمد حکیم او اکبر د دربار امیر او عالم او د اثبات کلام او بیان ایمان تحقیق او تصدیق د رسالې مؤلف او د رسایل تصوف او پر شرح عقاید د حاشیې لیکونکی چي په ۹۹۲هـ کي مړ دئ)، خواجه نظام الدین احمد هروي د محمد مقیم زوی د اکبر د دربار مؤرخ او د طبقات اکبري مؤلف (چي په ۱۰۰۳هـ کي مړ دئ)، نظمي بلخي (د ۱۱۰۰هـ د شاوخوا شاعر)، نعمت الله هروي د خواجه حبیب الله زوی (په ۱۰۱۸هـ کي د مخزن افغاني مؤلف)، نعمت الله د رکن الدین تېراهي زوی (د ذکر و فکر د رسالې او رسایل تصوف مؤلف د ۱۰۰۰هـ په شاوخوا کي)، نېکبخته د پېښور د شمالي د شیخ الله داد مموزي لور(د شېخ قاسم سلیماني مور او په۹٦۹هـ کال د ارشاد الفقرا مؤلفه)، واصب کندهاری (شاعر په ۱۰۵۰هـ کال په اصفهان کي مړ دئ)، واصل (۹۰۰هـ په شاوخوا کي د پښتو شاعر)، واصل کابلی (شاعر چي په ۹٦۸هـ کي مړ دئ)، واقعي هروي (د اکبر ملازم – شاعر)، والای قطغني وداعي هروي (شاعر او د شاهجهان په وخت کي د کشمېر صوبدار، چي په ۱۰۷۴هـ کي مړ دئ)، وداعي هروي (د اکبر د وخت شاعر)، وفای هروي (شاعر– چي په ۱۰۵۰هـ کال په اصفهان کي مړ دئ)، وقوفي هروي (د اکبر د عصر شاعر او عالم)، ویسي هروي (۹۸۳هـ په شاوخوا کي شاعر او خطاط)، هدایت بدخشي (د خسرو او شیرین ناظم چي په ۱۰۵۰هـ کال مړ دئ)، همت خان (د شاهجهان د

دربار له اميرانو او شاعرانو څخه وو چي په ۱۰۹۲هـ کي مړ دئ)، همت سيستانی د ملک همزه زوی (د شاهجهان د عصر شاعر)، ياري هروي (د ۹۵۰هـ په شاوخوا کي شاعر)، يحيايي سبزواري (شاعر چي په ۱۰۳۵هـ کي مړ دئ)، يکتای بلخي (د بخارا اسام قلي خان د دربار شاعر)، يگانه بلخي (د بخارا د امام قلي خان د دربار شاعر)، يونس خيبري (د پښتو شاعر).

د بابريانو په عصر کي هندوستان تر يوې سياسي اداري لاندي راغلی وو. په همدې وختو کي د اېران صفوي شهنشاهي د کمال لوړي مرتبې ته رسېدلې وه او هم په ترکيه او عربي هيوادو کي د عثمان د اولادې خلافت د افريقا تر پايه غځېدلی وو او په ماوراء النهر کي هم شيباني کهول (۹۰٦ -۱۰۰۷هـ) اقتدار موندلی وو چي دې څلورو اسلامي شهنشاهيو او د گنگا له غاړو په اروپا کي د ايتاليا تر سواحلو او تر جبل الطارق او طنجې پوري ئې د آسيا او افريقا او اروپا پر لويو هيوادو حکم کاوه او د انگلستان او روسيې او هالند او پرتگال او هسپانيا د هيوادو سياسي او تجارتي روابط هم د هند او اېران او عثمانيه سره ټينگ سوي ول، ځکه نو د هند تجارت د پېښور او کابل او بخارا يا کندهار او هرات او بخارا او مشهد له لارو د ماوراء النهر او اېران سره پر مخ ولاړ او د شاهجهان په وختو کي د کابل او کندهار او بلخ او بدخشان له صوبو څخه په دولتي خزانه کي د دولت د عايداتو له زياتوالي څخه هم ثابتيږي چي تجارت او کرهڼي او صنعت پراختيا موندلې وه، ځکه د هند او اېران او عثماني امپراطوريو د صنايعو او تجارت او علومو د انکشاف په لاره کي ښه خدمتونه کړي دي. له ماوراء النهر او اېران او خراسان څخه به تل صنعت کاران هند ته اوله هغه ځايه به نورو هيوادو ته تله او راتله. پوهانو او عالمانو به هم له يوه هيواده بل هيواد ته تگ راتگ کاوه. تاجرانو به هم د عثمانيه او اېران او ماوراء النهر نفيس کالي او مالونه د خراسان له لاري هند ته او هندي مالونه او عقاقير او دواگاني به ئې خراسان او ماوراء النهر او اېران او عثمانيه ته وړل راوړل. له دې جهته به نو تل تجارتي بډايي قافلې د کابل او د کندهار او هرات له لارو تېرېدلې او امرتسر او پېښور او ملتان او ښکاپور او کابل او کندهار او هرات او بخارا او خجند او مشهد د تجارتي لاري مهم مرکزونه ول:

په افغانستان کي د بابر اولاده:

۱. *بابر (۹۱۰ -۹۳۷هـ)

۲. *همایون د بابر زوی (۹۳۷ – ۹٦۳ھ)
۳. *کامران د بابر زوی (د ۹٦۰ھ شاوخوا)
۴. *جلال الدین محمد اکبر د همایون زوی (۹٦۳ – ۱۰۱۴ھ)
۵. *محمد حکیم د همایون زوی (د ۹۹۰ھ شاوخوا)
٦. *جهانگیر د اکبر زوی (۱۰۱۴ – ۱۰۳۷ھ)
۷. *شاهجهان د جهانګیر زوی (۱۰۳۷ – ۱۰۷٦ھ)
۸. *اورنگزیب عالمگیر د شاهجهان زوی (۱۰٦۸ – ۱۱۱۸ھ)
۹. *معظم شاه د عالمگیر زوی (د ۱۱۱۸ – ۱۱۲۴ھ شاوخوا)

مأخذونه:

تاریخ هند د دولافوز – بابر د فرانسوي فرنارد گرو نارد – اقبالنامه جهانگیر – اکبرنامه – تزک جهانگیر – منتخب اللباب – عالمگیر نامه – طبقات اکبري – ریاض السلاطین – دول اسلامیه – آئین اکبري – رقعات عالمگیري – منتخب التواریخ – تزک بابر – فرشته – مجمع السلاطین – کیمبرج هستري آف انډیا ۴ ج – دائرة المعارف اسلامي – سیر المتاخرین – تاریخ معصومي – مفتاح التواریخ – مخزن افغاني – خورشید جهان – تاریخ نظامي ایران – تذکرة الابرار والاشرار – سلوک الغزات قلمي پښتو – تاریخ مرصع پښتو – دیوان خوشحال خان پښتو – پټه خزانه پښتو – پادشاهنامه – عمل صالح – افغانستان در عصر تیموریان هند د حبیبي – تاریخ هند د سمیت – ماثرالامرا – سبحة المرجان في آثار هندوستان – د کندهار د چهل زینې لیکنه – تذکرۀ نصر ابادي – ذکر مجدد – تذکرة علمای هند – د پښتونخوا هار او بهار – پښتانه شعرا ۲ ټوک – روز روشن – تاریخ افغاني د امام الدین هفت اقلیم – شمع انجمن – د راورټي د ګرامر دیباچه – شکرستان افغاني – بهارستان افغاني – سکینه الفضلا – قاموس الاعلام ترکي – مذکر احباب قلمي – حجته الاورنګ شاهیه قلمي – آتشکده آذر – ګلشن روه – چراغ انجمن – د خوشحال خان د کلیات مقدمه – تذکرۀ حسیني – کلید افغاني – سرو آزاد – تاریخچه شعر پښتو – تاریخ ادبیات پښتو ۲ ټوک – ریاض الشعرا خطي – مرآة الخیال – ماثر رحیمي – مخزن اسلام پښتو قلمي – خزینه الصفیا – د عبدالقادر خان د دیوان مقدمه – تذکرة الخواتین – نفایس الماثر – فواید الشریعه پښتو خطي.

د هند بابري پاچهان او شهزادګان

تېمور ګورګان ← میرانشاه ← سلطان محمد ← ابو سعید

عمر شیخ — خان میرزا

میرزا جهانګیر (۹۱۲هـ) — ۱-بابر (۹۱۰-۹۳۷هـ) — ناصر میرزا — سلیمانمیرزا (۹۹۷هـ)

ابو قاسم

کامران (۹۶۳هـ)

هندال (۹۵۸هـ)

۲-همایون (۹۳۷-۹۶۳هـ)

عسکري (۹۶۵هـ)

ابراهیم میرزا (۹۹۷هـ)

شاهرخ

۳-جلال الدین محمد اکبر (۹۶۳-۱۰۱۴هـ) — محمد حکیم (۹۹۳هـ)

دانیال (۱۰۰۹هـ) — ۴-جهانګیر (۱۰۱۴-۱۰۳۷هـ) — مراد (۱۰۰۸هـ)

شهریار (۱۰۳۷هـ)

جهاندار (۱۰۳۵هـ)

۵-شاه جهان (۱۰۳۷-۱۰۷۶هـ)

پرویز (۱۰۳۶هـ)

خسرو (۱۰۳۱هـ)

راتلونکی مخ وګورئ

د هند بابري پاچهان او شهزادګان

- شاه جهان (۱۰۳۷ – ۱۰۷٦هـ)
  - داراشکوه (۱۰۲۹هـ)
  - ٦ – اورنګزیب (۱۰٦۸ – ۱۱۱۸هـ)
    - سلطان (۱۰۸۸هـ)
    - ۷ – معظم بهادرشاه (۱۱۱۹ – ۱۱۲۴هـ)
      - عظیم الشان (۱۱۲۴هـ)
        - ۹ – فرخ سیر (۱۱۳۱هـ)
      - رفیع الشان (۱۱۲۴هـ)
        - ۱۱ – رفیع الدوله (۱۱۳۰هـ)
        - ۱۰ – رفیع الدرجات (۱۱۳۱هـ)
        - ابراهیم
      - ۸ – جهاندار معزالدین (۱۱۲۳هـ)
        - ۱۴ – عالمګیر ثاني (۱۱٦۷هـ)
          - ۱۵ – شاه عالم (۱۱۷۳هـ)
            - ۱٦ – اکبر ثاني (۱۲۲۱ – ۱۲۵۳هـ)
              - ۱۷ – بهادرشاه ثاني (۱۲۵۳هـ)
      - خجسته اختر
        - ۱۲ – محمد شاه (۱۱۳۱هـ)
          - ۱۳ – احمد شاه (۱۱٦۱هـ)
    - محمد اکبر (۱۰۲۷هـ)
      - نیکوسیر (خلع ۱۱۳۵هـ)
    - اعظم (۱۱۱۸هـ)
      - والاجاه
      - بیداربخت
    - کام بخش (۱۱۱۹هـ)
      - محی السنه
        - شاه جهان ثالث (۱۱۷۴هـ)
  - محمد شجاع (۱۰۷۰هـ)
  - مراد بخش (۱۰٦۸هـ)

شپږمه برخه:

روښانیان

(۹٦۰هـ - ۱۰۴۷هـ)

لکه په تېرو بحثو کې چې مو لوستي دي، د غور د سوریانو دوره چې په ختېځ پښتانه او د افغاني مفاخرو ساتندوی ول په بې ساري برم او جلال تېره سوه او هغه شاهنشاهي د خراسان د لمر لوېدیځو سیمو له پایه د ګنګا تر غاړو خپره سوې وه. که څه هم د چنګېز وحشیانه یرغلو د عظمت هغه کمبله ټوله کړه خو پښتنو هغه برم او جلال هېر نه کی او په هند کې ئې بیا د لودیانو او سوریانو او خلجیانو او نورو د پاچهۍ په جوړولو لاس پوري کی، مګر د چنګېز او تیمور د اولادې پر له پسې یرغلو پرې نه ښوول، چې د افغانستان او خراسان خاوره بیا یو سیاسي یووالی ومومي او بابر چې د همهغه تکم (نژاد) سړی وو، هغه کار ئې بیا تکرار کی چې د ده نیکه ګانو کړی وو.

په دې پرله پسې څو پېړیو کې پښتانه تل د خپل تېر برم او عظمت د راګرزولو په فکر کې ول او په دې څلور سوه کاله کې د پښتنو په غرو کې داسې مړونه پیدا سول، چې د افغاني تاریخي برم د راګرزولو له پاره ئې د قهارو پاچهانو درنو قوا او ته ټټرونه ونیول او پنجه ئې ورسره نرمه کړه او د پردیو فرمانروایانو د ناروا سلطې او سطوت پر خلاف وجنګېدل. لکه په همدې تاریخچه کې چې مو څو واره لوستي دي د تاریخي مجاهدت سره د خپلواکۍ غوښتني بیرغ پورته او رپولی دئ.

یو له هغو مړونو څخه چې غوښته ئې بیا افغان خپل تاریخي برم ته ورسېږي بایزید مشهور په پیر روښان وو، چې استعمار غوښتونکو ورته (پیر تاریک) وایه. دا تاریخي او زړور او د استعمار او تسلط دښمن شخصیت بایزید د قاضي عبدالله زوی او د محمد نمسی، چې ده ته ئې سراج الدین او میا مسکین روښان هم ویل. د انصاري له کورنۍ په ختېځ اورمړ پښتون په (۹۳۲هـ) کال د پنجاب په جالندر کې د ییبڼ (صورت

مهند بي بي) له نسه چي د محمد لور وه وزېږېد . د انصاري کهول لومړی په کندهار کي او تر هغه وروسته د وزيرستان په کاڼي ګرم کي اوسېد او محمد امين د بيبن پلار د عبدالله د نيکه ورور وو او دې کهول په علم او فضيلت شهرت درلود .

د روښان د کهول لومړی نيکه محمد انصاري دوولس زامن درلودل چي له هغې جملې څخه عبدالله فضيلت درلود او د قضا په شغل بوخت وو ا ولکه چي اخوند درويزه وايي اورمړ انصاري د وزيرستان له قبيلو څخه دئ ا و ميا روښان له انصاري قبيلې څخه وو.

خو د پنجاب د جالندر په ښار کي د انصاري په نامه يو کهول وو چي ځانونه ئې د ميا روښان اولاده بللها و د دوی سره د (تذکرة الانصار) په نامه يو کتاب وو، چي په هغه کي ئې د بايزيد نسب په اوولسمه سلسله ابو ايوب الانصاري د حضرت محمد ﷺ يوه صحابي ته رسولی دئ.

او وايي چي د بايزيد د زېږېدو ځای جالندهر دئ او د ده حجره تر اوسه د شيخ احمد غوث ولي مزار ته نژدې سته.

او په دې ترتيب به ئې د انصاري نوم له دې تاريخي نسب څخه موندلی وي، خو څنګه چي د وزيرستان په اورمړ قبيلو کي په دې نامه کمه قبيله نسته، ځکه نو بايد وويل سي چي انصاريان د پښتنو سره له پلار او نيکه څخه اوسېدل. په دې سبب نو دوی پښتانه ول او ټولو خلکو د احترام په سترګه ورته کتل.

بايزيد په کوچنيوالي کي له خپله پلاره او ملا پاينده او ملا سليمان کالنجري څخه درس ولوست او چي زلمی سو، نو پلار ئې وغوښته چي دی په ملتان کي د شيخ بهاء الدين زکريا په کورنۍ وګروهوي او د هغو مريد ئې کي، خو څنګه چي ده وده او لار ښوونه ارثي مسايل نه ګڼل نو د خپل پلار يو ورار ه خواجه اسمعيل د خداداد زوی او د محمد نمسي ته د ارادت لاس وغځاوه او تل ئې په زهد او اطاعت او تقوی ژوند کاوه ا و د خپل پلار سره چي ظاهراً قاضي او په دنيوي چارو ککړ وو، نه اوسېد .

په دې وخت کي بايزيد ځانګړي زيار، زهد او مراقبې او تفکر ته ملا وتړله او لکه چي پخپله وايي يوه شپه ئې حضرت خضر په خوب وليد او تر هغه وروسته د قرب او وصلت مرتبې ته ورسېد او تل ئې خپل پلار او مېرېزي ورور شيخ يعقوب د قاضي توب او رشوت اخيستلو څخه منع کول ځکه نو له هغه وخته د ده او د ده د کورنۍ تر منځ

اختلاف پیدا سوی وو.

بایزید له زلمیتوبه په گرزېدو او سیاحت او د نفس په تزکیه لاس پوري کړی وو او تر کندهار او هند او ماوراء النهر او سمرقند پوري ولاړ او د پوهانو او د نظر د خاوندانو سره ئې وکتل او مروجه عربي او دیني علوم ئې زده کړل. په ادب او فلسفه او تصوف کي ئې مطالعات وکړل او د آفاق او انس په سیر بوخت سو او د دې سفر په ترڅ کي ئې د آسانو تجارت هم کاوه، لکه یو وار چي ئې د سمرقند څخه ښه آسان رانیول او هند ته ئې بوتلل او د ده دا سفرونه له پنځلس کلنۍ څخه د (۹۴۷هـ) کال په شاوخوا کي شروع او د (۹۶۰هـ) کال تر حدودو پوري جاري ول.

دا وخت نو د بایزید علمي او فکري شخصیت ښه پوخ او د مؤرخانو په قول یو فکور او عالم او فصیح فاضل سړی ځني جوړ سو. آخوند درویزه د ده مخالف هم وایي چي هوښیار، پوه او فیلسوف سړی وو. د دبستان مذاهب مؤلف لیکي چي په کابل کي ئې د میرزا محمد حکیم په دربار کي زیات پوهان او علماء په مناظره کي پړه کړل او پر هغو ئې بری وموند، ځکه نو میرزا دی په احترام بېرته واستاوه او حتٰی وایي چي پخپله میرزا او د کابل قاضي قاضي خان او حکیم خان او میرزا اتالیق ټوله پر ده معتقد سول.

بایزید د خپلو سفرو او گرځېدو په وخت کي په ټوله پښتونخوا کي د پښتنو د مظلومیت حال ته ځیر سو او څنگه چي ئې د لودیانو او سوریانو تېر برم او عظمت هم په یاد وو، نو دا فکر ورته پیدا سو چي دا بې وزلي او تیت و پرک خلک پر خپل ملي مرکز راغونډ کړي او په دوی کي داسي حکومت منځ ته راولي، چي پخپله د دوی حکومت وي او د پښتنو د آزادۍ نغری بیا تود کړي.

په دې کي شک نسته چي د بایزید دا سیاسي نظریه د هند د تیموریانو د هغو ظلمو او ستمو رد عمل وو، چي دوی پر پښتنو کول او په لیدو ئې هر حساس پښتون د مخنیوي له پاره پارېدی.

په دې باب کي موږ دوه تاریخي سندونه په لاس کي لرو: لومړی دا چي بایزید د مشهور بېرم خان د حکمرانۍ په وخت کي د (۹۶۰هـ) کال په شاوخوا کي کندهار ته راغلی وو او تجارتي مالونه ئې راوړي ول، لکه پخپله چي ده لیکلي دي: "د هغې سیمي حکمران پر کاروانیانو ستم وکی او د داد خواهۍ پر وخت ئې دی هم دربار ته بوت". دی داسي لیکي: "په هغه وخت کي په کندهار کي یو میر وو چي بېرم خان

نومېد، پر هغه کاروان ئې ظلم وکی... نو د ځينو وارثان ټول سول، د فرياد کولو دپاره او زه ئې هم د ځان سره رهي کړم"...

ما وويل حق تعالی به اميران او پاچهان له عدله وپوښتي او د چا يوه ذره عمل نه ضايع کوي، ورښيي ئې چي: (فمن يعمل مثقال ذرة خيراً يره) نو بېرم خان ومنل او وې ويل چي د حال پوښتنه کوم خو پوښتنه ئې و نه کړه د وعدې مخالفت وسو...

له دې بيانه چي پخپله د بايزيد په قلم نقل سوی دئ داسي څرګندېږي چي دا ستر پښتني شخصيت پرخپل قوم باندي د پرديو حاکمانو د مظالمو له ليدو څخه متاثره او ظالمان ئې د عدالت او نياو خوا ته رابلل.

دا شريف احساس چي د پرديو د زړه ځورونکو ستمو له ليدو څخه هر غيرتمن سړي ته بې شکه پيدا کېږي، د روښاني نهضت اساسي سبب سو او تذکره الانصار ئې داسي بيانوي: "حکام مغل ظلم و ستم خود را بر افغانان بغايت رساندند تا جاييکه روزی يکي ازين ستم کاران يکنفر زن افغان را ماخوذ داشت وموی سر او را باسنگ آسيا فرو بست، چون پله سنگ بدوران آمدی، آنزن نيزبا آن گشتی و فرياد برآوردی...".

بايزيد چي سپېڅلی پښتون وو، د دې ويرجن حالت په ليدو به سره پېچل کېده او له کوګله بې دود خوت. ځکه ئې نو د هغه ظلم او ستم مخنيوی خپله ملي وجيبه وګڼله او د روحي سير او مراقبت په عالم کي ئې د سرور کاينات ﷺ حضور ته عرض وکی او اجازه ئې وغوښتله چي د خپل قوم له مظلومانو څخه د جور او ستم د مخينوي له پاره هڅه وکړي او د ظلم کمبله ټوله کړي. تر هغه وروسته چي ئې داسي روحاني اجازه واخيستله نو په مړانه د پرديو ستمکارانو مخي ته ودرېد او د پښتنو په غرو کي ئې يو داسي نهضت منځ ته راووست، چي په هغه وخت کي د جالندهر يوه نوميالي بزرک شېخ غوث الکرام داسي وويل: "په غرو کي بيا يو اور بل سو. خدای دې عاقبت ته خير کي".

بايزيد د عدل او انصاف پر لار قدم کښېښوده او له هغې سيمي ئې د جور او ستم کرغېړني نخښي ورکي کړې.

دا بيان ښايي چي ټول پر واقعيت بنا نه وي، خو له دې څخه يو حقيقت لاسه ته راځي او هغه دا چي د روښاني نهضت علت العمل د افغان اولس څخه د پرديو د ستمکارۍ مخنيوی وو، چي هغه وخت د (ډهلي) د تيموري حکمدارانو د ظلم په اور کي سوځېده. ځکه چي ظلم او ناروا تل په خپل مقابل کي قهرمان زېږوي او ننګيالي

مړونه پاروي.

د پورتنیو لیکو څخه د بایزید روښان د آزادۍ غوښتلو نظریه او د سیاسي عقیدې فلسفه څرګندېدای سي، خو دا مېړه د یو داسي مرکب کرکټر سجیه درلوده، چي ظاهراً ئې په نورو سیاسي ازادۍ غوښتونکو او په جنګیالیو جنګ ازمویونکو کي څرک لګېدای نه سي، ځکه دی په عیني حال کي چي یو ننګیالی جګړن وو. د تصوف او صلاح او تقوی او د نفس د ریاضت او ارشاد څښتن هم وو، چي د ده د شخصیت دا جنبه په لاندي لیکو کي د هغه د تحلیل سره لوستل کېدای سي:

د چنګېز او تېمور تر هولناک چور او چپاو وروسته د منځنۍ اسیا په هیواد کي له مصره بیا تر هنده د ګوښه ګیرۍ او انزوا او له ژوندون څخه د تېښتي او منفي خوا ته د رجوع یو راز احساس پیدا سو، چي د هغو تاریخي آلامو او مصایبو او وینو تویولو منطقي نتیجه وه او څنګه چي خلک له مادي آلامو څخه ستي سوي ول نو د تصوف او روحانیت په لمنه ئې منګولي ولګولې او د جګړې او چور او چپاو له ډګره ئې د خانقا ګوټ ته پناه یووړه او د تصوف مسلک بشپړ رواج وموند او په ټوله منځنۍ اسیا کي د اولیاء الله او د تصوف د خاوندانو ګاونډ د ویرژړلو او ستم وهلو خلکو له پاره یوازینی ټاټوبی ګڼل کېده او حتی تر (۹۰۰هـ) کال وروسته په ادربیل کي د شیخ صفي الدین د خانقاه له ګوټ څخه یوه لویه شهنشاهي هم تشکیل سوه، چي وروسته ئې پر ټول اېران او د افغاني خاوري پر یوې برخي حکم چلاوه او د دربار رسمي کسان د (صوفي) په لقب یاد سول. په بخارا او هرات کي هم د تیمور د اولادې حکومت پر روحي مبادیو ولاړ وو او د دوی په دربارو کي د نقشبندیانو اغېزه دوني زیاته وه، چي د تیمور غوندي مدهش خونخوار هم ورته پر ګونډو سوی او تندی ئې پر درشل ورته ایښی وو او د هرات په دربار کي مولانا جامي دونه اغېزه درلودله چي د هغه وخت ستر وزیر امیرعلي شیرنوایي د ده په ستاینه کي شعرونه ویل، او د هند نه هغه سره محمود ګاوان نامتو وزیر د خپل نیاز عرض د ده حضور ته لیکه.

په همدې وخت کي د پښتونخوا سیمه چي د هند او اېران او ماوراء النهر تر منځ پرته وه. له دې روحي هڅي څخه خورا زیاته متاثره سوې وه، تر دې حده چي یو سړی د پیر بابا په نامه له اټکه تر کابله د خلکو د ځان او مال کالخوایه وو، او ټول ئې تر روحي اغېزې لاندي ول.

دا نافذ او جذاب شخصیت سید علي نومېده، چي د قنبر علي زوی، د سید احمد نور نمسی، د سید یوسف نور کړوسی او د محمد نور کوسی وو، چي دا محمد نور د تیمور لنګ له خوریانو څخه وو او د ده اولادې د تیمور ي پاچهانو د دربارو سره اړه درلوده او د سید علي پلار له ترمذه کندوز ته راغلی او له هغه ځایه د بابر د زوی همایون سره هند ته ولاړ او پخپله سید علي په مانک پور کي د شیخ سالار رومي لاس ونیو او استفاده ئې ځني وکړه او بیا له هغه ځایه د پښتنو غرو رغو ته راغلی.

سید علي تر (۹۰۰هـ) وروسته زېږېدلی او د (۹۶۲هـ) کال په شاوخوا کي د اټک او خیبر تر منځ سیمو ته راغلی. څنګه چي ده د تیمور د کهاله سره خپښي او اړه درلوده او له بلي خوا په هغو وختو کي د همدې سیمو خلکو د ډهلي تیموري امپراطورۍ ته تل د سر درد پیدا کاوه نو ځکه دې سیمو ته د سید علي راتګ د سیاسي مقاصدو څخه خالي نه وو او دې سیمو ته د رارسېدو سره ئې د یوسفزو د دولت زو د طایفې د یوه لوی ملک لور وکړه او د روحاني اغېزې د خپرولو په ترڅ کي ئې خپل سیاسي مقصدونه هم پر مخ بېول او غوښته ئې چي په دې سیمو کي د دین او روحانیت له لاري د ډهلي د دربار مخالفان بدنام او ناکام کړي او د خلکو میل د ډهلي د دربار اطاعت ته وګرزوي.

سیدعلي دلته مخلص او خونګرمه مریدان پیدا کړل او په پښتونخوا کي تر دېرشو کالو پوري بې تاج او بې تخته پاچا وو، چي د ډهلي له درباره مادي او معنوي مرسته ورسره کېدله، تقویه او تائیدېده. د ده سیاسي او روحاني مرکز د بونېر په غرو کي (پاچا کلی) وو، چي همهلته په (۹۹۱هـ) کال وفات سو. دې سید او د ده مریدانو په خپل ټول قوت د بایزید روښان تکفیر او ناکامۍ ته ملا وتړله او په راز راز وسیلو ئې (لکه پروپاګنډ او وعظ او خطابه او د کتابو د لیکلو له لاري) پر پیر روښان پوري د الحاد او بې دینۍ او بد اعتقادۍ تور وتاړه.

اوس به تاسو ته روښانه سوي وي، چي د بایزید د پیدا ښت په محیط کي تصوف او طریقت او پیرۍ او مریدۍ څوني غښتلې اغېزه او بشپړ رواج درلود، ځکه نو که بایزید اساساً یو ازادۍ غوښتونکی جنګیالی مېړه هم وو، خو د خپل محیط د غوښتني له مخي مجبور وو، خپله متاع د بازاریانو د تقاضا سره سمه عرضه کړي او خپل ځان په هغه وسله مجهز کړي چي د ده د سیاسي مخالفانو سره وه او د ده پر ضد ئې استعمالوله . له دې جهته نو بایزید تصوف او ریاضت او طریقت د خپل سیاسي مسلک سره چي په

دې سیمو کې تاریخي مفاخرو لاس ته راوړل او د افغاني پاچهۍ تجدیدول او سیاسي مرکز جوړول، ګډ کړل او یو داسي عجیب مرکب ئې منځ ته راووست چي هم ئې روحي جنبه درلوده او هم مادي.

تر دې ځایه مو د روښاني نهضت د پیدا ییښت او د دې خلکو د تفکر د طرز او د دوی د تحریک د فلسفې په شاوخوا کي لنډ څه وویل، اوس د دې ستر مېړه پاته نکل لیکو:

بایزید په زلمیتوب کي شمسیه نومې لودۍ پېغله په جالندهر کي په نکاح کړه، چي د دې پښتنې مېرمني له نسه ئې نومیالي اولادونه پیدا سول او لکه د دبستان مذاهب مؤلف چي لیکي: د (۹۶۹هـ) کال تر شاوخوا پوري د بایزید شهرت هري خوا ته خپور سو او ډېر قوت ئې وموند. پښتنو د ده بلنه ومنله او د ده مرستي ته ئې ملا وتړله.

بایزید لومړی د دربار او سیاسیت د خاوندانو په لارښوونه لاس پوري کی او د (صراط التوحید) د کوچنۍ رسالې له لاري ئې خپل نصیحتونه دوی ته ورسول. ده مخلصان مریدان هم پیدا کړل چي د مړیني تر وخته ئې د ده ملا وتړله او د هغو نومیالیو له ډلي څخه دا درې ادیبان او د پښتو ژبي شاعران وروڼه هم ول:

ارزانی (پښتو شعر کي د دېوان خاوند) ملامحمد عمر او ملا علي محمد مخلص (په پښتو کي د دېوان څښتن).

همدا رنګه ملا پاینده او ملا دولت اکوزی او دولت لوانی او میرزا انصاري (دواړه په پښتو کي د دېوان خاوندان) هم د ده ملګري ول.

څنګه چي بایزید د پردیو پر خلاف د جهاد اعلان وکی او په کابل او پېښور کي ئې د ډهلي حکمرانانو ته بېره پیدا کړه نو ځکه دولتیانو او د دوی طرفدارانو چي د سید علي پیر بابا له تابعانو څخه ول، د ننګرهار د اخوند درویزه په روحاني او عملي لارښوونه (چي په فارسي کي د تذکرة الابرار او په پښتو کي د مخزن الاسلام مؤلف وو) د بایزید مخي ته ودرېدل. د ده مرکز دا وخت د پېښور په شمال کي د اشنغر د (کله دېر) د ملا دولت مومند په کور کي وو او د (۹۷۹هـ) په شاوخوا کي د کابل صوبدار محسن خان د سید علي او د اخوند درویزه په مرسته پر ده باندي لښکر راویوست او دی د محسن د لښکریانو لاس ته ورغی او کابل ته ئې بوت او هلته ئې په سیاه چال کي بندي کی او دې پېښو د (۹۸۰هـ) تر شاوخوا پوري دوام وموند.

بایزید په کابل کي لږ موده بندي وو او لکه دمخه چي مو ولوستل، د ده استعداد او د ده د برهان او د استدلال او نفوذ قوت د کابل پر حکمران اغېزه وکړه او دی ئې په ډېر احترام له بنده ایله کی او د خپلو ملګرو په مرسته له زندانه راووت او ننګرهار ته ورسېد او هلته ئې بیا د ازادۍ غوښتلو هنګامه توده کړه او خپل سیاسي مرکز ئې د (تېرا) په غرو کي وټاکه او له همدې ځایه بایزید روښان (د پښتني حکومت) بیرغ ورپاوه.

د (۹۸۰هـ) کال په شاوخوا کي د اپریدو او اورکزو او اتمانخېلو زړورو قبیلو د ده اطاعت ومانه خو څنګه چي د هغه ځای زیاترو خلکو د دښمنانو ملا تړلې وه، نو روښان د هغو ملګرتیا و نه منله او ورته وې ویل: " څنګه چي ستاسي زړونه د مغل سره تړلي دي نو د پښتنو منځ ته راتلای نه سئ". خو هغو خلکو خپل لاسونه وتړل او د پښېمانۍ او توبې په توګه د ده حضور ته ورغلل او بایزید د دوی لوی ګناهکاران ووژل او پاته دیارلس سوه تنه ئې د تیرا څخه وشړل او په دې توګه ئې هغه سیمه د پردیو له اغېزې او اثارو څخه بیخي پاکه کړه، خو د پردیو لښکر د تیرا پر (چوری) نومي ځای باندي یرغل وکی. د بایزید پیروانو چي وسله نه درلوده د هغو تېرو نلانو په واسطه ئې د یرغلګرانو مخه ونیوله چي د تیرا په غرو کي شنه کېږي او هغه ته ئې سخته ماته ورکړه او دا جګړه د روښان د پیروانو په ګټه تمامه سوه.

دروېزه وایي چي: بایزید له تیرا څخه د پردي پرستو ریښې بیخي وایستلې او دوه سوه او شل تنه ئې تر تېره تېغ تېر کړل او پاته کسان د ملي کسات (انتقام) له بېري ننګرهار ته وتښتېدل او تر هغه وروسته نو بایزید د ملي قواوو په ترتیب او تجهیز لاس پوري کی او د پښتنو د تېر عظمت درس ئې د غرو د ننګیالیو اوسېدونکو غوږو ته ورساوه.

د غرو ننګیالي هم په زرو زرو سپاره او پلي د ده خدمت ته حاضر سول او د ډهلي د حکومت پر خلاف ئې د ملي جهاد اعلان وکی او د بایزید په مشرۍ له تیرا څخه د ننګرهار خوا ته راوخوځېدل او په (برو) نومي ځای کي کښېنته سول.

د کابل صوبدار محسن خان چي په دې نهضت خبر وو او د خورا لوی لښکر سر ئې په جلال آباد کي انتظار ویوست، د دوی مخي ته راووت او د شینوارو په (تور راغه) نومي ځای کي دواړه قوتونه سره مخامخ سول، سخته جګره ونښته او د غرو ننګیالي پښتانه چي په تشو لاسو د غرو په لرګو او نیانو ئې جنګ کاوه د ډهلي د پاچاهۍ د وسله

والو قواوو په مقابل کي چي د اور او اوسپني وسلې ئې درلودلې په ډېره مړانه ودرېدل او بايزيد هم د خپلو پيروانو په منځ کي په ډېره مړانه جنګېده څو د همدې خونړۍ جګړې په ډکر کي ووژل سو، ځکه نو د تور راغه جګړه د يرغلګرو لښکرو په ګټه پای ته ورسېدله.

په ثقه قول دی د (۹۸۸ هـ) کال په شاوخوا کي په ۵۶ کلنۍ شهيد سوی دئ او هديره ئې معلومه نه ده خو زيات اټکل دا دئ، چي په وزيرستان کي به وي.

بايزيد په خپل ژوند د پرديو په مقابل کي د ملي نهضت بنسټ کښېښوو او هم ئې خلکو ته د پښتني حکومت د تاسيس فکر ور پيدا کی او پر سياسي او حربي آثارو سربېره ادبي او علمي آثار هم لري. ده په څلورو ژبو خبري او ليکني کولای سوې، پښتو، عربي، فارسي، او هندي، خو په پښتو ژبه کي د فني نثر ليکني يعني د مسجع نثر د ادبي مکتب مؤسس ګڼل کېږي، چي خپل مشهور کتاب خيرالبيان ئې په همدې نثر ليکلی او نيم منظوم دئ او هم فارسي او عربي او هندي برخه لري. د ده نور کتابونه يو (صراط التوحيد) نومېږي، چي په (۹۷۸هـ) کال ئې ليکلی دئ. بل کتاب ئې حالنامه د خپل ژوندون پېښي د کامل پير د لټولو موضوع او نصيحتونه ليکلي دي. بل کتاب ئې د مقصودالمومنين په نامه په عربي ژبه ليکلی، چي د اخلاقو او تصوف او طريقت بحثونه لري. د دې څلورو کتابونو پر ليکلو سربېره ئې د پښتو ژبي له پاره يو رسم الخط هم وضع کړی، چي د دې ژبي مخصوص اوازونه ئې په خاصو اشکالو کي ښوولي ول.

بايزيد په ناکامۍ له دنيا تېر سو، خو د آزادۍ غوښتلو هغه تخم چي ده په پښتونخوا کي وپاشه تر ده وروسته شين سو او ثمره ئې په پښتونخوا کي د ازادۍ غوښتلو پرله پسې نهضتونه ول، لکه په کندهار کي د ميرويس نهضت او په خيبر کي د خوشحال او ايمل هځي او بالاخره د احمدشاهي لويي شهنشاهۍ جوړېدل. دروېزه د پير روښان مخالف قطب د ده او د ده د اولادې دا سياسي مفکوره داسي بيانوي چي: دوی وويل لښکري راغونډوو، هندوستان نيسو، عامه ناره ئې وکړه چي پښتانه سپاره دي پر موږ راټول سي، د اکبر پاچا خزانې زموږ دي.

له بايزيد څخه دوې سلسلې مأثر پاته دي: ادبي مأثر چي د پښتو يوې ډلي ليکونکو لکه دروېزه، بابوجان، حسين، قاسم او نورو د ده د نيم منظوم پر مسجع سبک ئې د نثر کتابونه وليکل.

دوهم حربي او سياسي مأثر دي چي د ده اولادې د پښتونخوا په غرو کي تر يوې پېړۍ پوري د خپلواکۍ غوښتلو جګړو ته ادامه ورکړې وه.

بايزيد حنفي مذهبه مسلمان او فقيه متصوف دئ، چي په تصوف کي د اهل شهود مذهب ته ميل لري، خو کله کله د سکر په حالت کي د وجوديه په مشرب هم ګروهېږي او په تصوف او طريقت کي ئې خپلو مريدانو ته مرتبې ټاکلي دي: شريعت، طريقت، حقيقت، معرفت، قربت، وصلت، وحدت او سکونت چي دا هره برخه يوه مرتبه خاص دودونه او آداب لري.

اما د ده سياسي پروګرام پر څو بنسټو ولاړ وو:

لومړی: د پښتنو آزادي تر دې پلان لاندي:

الف– د پرديو د ظلم په مقابل کي د کرکي د حس پيدا کول.

ب– حکومتيانو ته نژدې کېدل او په انګرېزي اصطلاح نن کواپرېشن.

ج– د آزادۍ په لار کي جنګېدل، قرباني ورکول او سر ښندل.

دوهم: د اداري او مالي او جنګي تشکيلاتو سره افغاني حکومت جوړول.

دريم: په هند کي د افغاني شهنشاهۍ او د غوريانو او خلجيانو او د لوديانو د مفاخرو ژوندي کول.

دا وو د روښانيانو د نهضت د مؤسس د حالاتو لنډيز اوس به وګورو، چي تر ده وروسته څه پېښ سول؟ او دا ملي نهضت کم ځای ته ورسېد؟

د خپلواکۍ او آزادۍ غوښتني هغه اور چي بايزيد د پښتونخوا د غرو د خلکو په سينو کي بل کړی وو، د ده په وژلو مړ نه سو او تر ده وروسته ئې زوی جلال الدين په څلورلس کلنۍ کي د پلار د روحاني او سياسي رياست پر مسند کښېنوست. د ډهلي د دربار مؤرخانو لکه ابو الفضل او خافي خان او بداوني د ده نوم (جلاله) ليکی او وايي چي: د هند پاچا اکبر دی په دې نامه باله.

د دبستان ليکونکی وايي چي: جلال الدين په خپلواکۍ حکومت کاوه. عادل او ضابط سړی وو.

په (۹۸۹ھ) کال چي اکبر له کابله هند ته راغی جلال الدين په پښتنو قبيلو کي په مشرتوب او رياست پېژندل سوی وو. اکبر هغه خپل حضور ته وروغوښت، خو څنګه چي جلال الدين د درباريانو په دروه او چل خبر وو، نو د خپل پلار مرکز ته چي د تيرا په

غرو کي وو، ولاړ او پښتانه قبايل چي د پېښور د تيولدار سيد حامد بخاري له جوره ډېر په تنګ سوي ول، پر جلال الدين راغونډ سول او نوموړی ستمګر حکمران ئې وواژه. دا وخت د پښتنو ملي قوت د جلال الدين تر بيرغ لاندي شلو زرو پليو او پنځه زرو سپرو ته رسېده.

جلال الدين اکبر چي د هند لوی امپراطور وو، د روښاني جلال الدين ورک کولو ته ئې په ډېر شدت ملا وتړله او په (۹۹۴هـ) کال ئې کنورمان سنګ او خواجه شمس الدين خافي د يوه مدهش حربي قوت سره د جلال الدين د مخنيوي له پاره وګوماره. څنګه چي د پېښور د شاوخوا د يوسفزو او غوريه خيلو او مومندو قبيلي ټولي ورسره دي نو د خيبر په غرو کي خورا سختي جګړې وسوې او د اکبر لښکر و نه سوای کولای چي د جلال الدين په مقابل کي څه پر مخ بوزي، ځکه نو اکبر يو بل لوی لښکر د زين خان کوکه سره د خپل مخکني لښکر د ملاتړ له پاره را واستاوه او جګړه لا توده سوه.

دا جګړه تر دا بله کاله جاري وه، څنګه چي د اکبر دوهم لښکر هم د پښتنو د قوت په مقابل کي څه و نه کولای سوه نو اکبر هغه وترټل او په (۹۹۵هـ) کال ئې بل تازه دمه لښکر را واستاوه، چي د بنګښ له لاري د جلال الدين پر قوا وو يرغل وکي، او مان سنګه د بګرام له خوا راووزي، خو جلال الدين د خپلو زرو سپرو او پنځلسو زرو پليو سره پر هغه حمله وکړه. په دې جګړه کي د ده يو نيم زر تنه ووژل سول او اکبري تېري کوونکو ته درانه تلفات ورسېدل.

جلال الدين تر دې جګړې وروسته وکولای سوه، چي خپل نفوذ له تيرا څخه د پېښور د شمال خوا ته په اشنغر کي خپور کي او زړور يوسفزيان هم د ځان ملګري کي. هغه وو چي په (۹۹٦هـ) کال ئې د همدې قبيلو په ملاتړ د سوات او باجوړ په سيمو کي د آزادی خوښولو هنګامه توده کړه او د اکبر د لښکرو سره ونښت او بېرته تېرا ته راغی. د اکبر دربار چي د دې سرسخته رقيب د مقاومت د لاسه په تنګ سوی وو، يو دروند لښکر ئې د صادق خان په مشری د تيرا خوا ته وګوماره، چي د جلال الدين د لښکر پر زړه حمله وکي. صادق د اپريدو او اورکزو پر قبيلو بريالی سو او د جلال الدين د لښکر يو مشر ملا ابراهيم ئې ونيو، خو پخپله جلال الدين د (وزيرستان) د کاڼي کورم له لاري پر شا سو او د اکبر لښکري تر ډېري مودې د يوسفزو د هغو قبيلو سره په جګړه اخته وې، چي د جلالي آزادګانو سره ئې لار او اړه درلوده (۹۹٦هـ).

دا وار جلال الدین څلور کاله د جګړې له ډګره مخ واړاوه او وایي چې توران ته ئې سفر وکی، خو په (۱۰۰۰هـ) کال ئې بیا پښتني قوتونه راغونډ کړل او د اکبر له درباره هم آزمایلي سوي کسان لکه جعفر بېګ، واصف خان او قاسم خان کابلی د ده د له منځه وړلو له پاره وګومارل سول او تر سختو جګړو وروسته د جلال الدین د کهاله څو تنه چې د ده ورور وحدت علي (واحد علي) هم پکښې شامل وو د آصف خان په لاس کښېوتل.

د ډهلي دربار چې جلال الدین د جګړې په ډګر کي د لښکر په زور مات نه کړای سوای، نو دروه او رشوت ورکولو ته ئې لاس واچاوه او پخپله په پښتنو کي ئې نفاق پیدا کی او دروه او رشوت له لاري ئې د قبیلو ځیني مشران د ده پر ضد وپارول چې له هغې جملې څخه ملک حمزه اکوزی په (سرکاوی) کي لاس ورواچاوه خو جلال الدین هغه مات کی، بیا ئې د (میني) په شاوخواکي هم حمزه پر شا وشاړه، مګر تر هغه وروسته اکبر د حمزه د ملاتړ له پاره خورا زیات لښکر راواستاوه او ټول اکبري قوتونه پر جلال الدین را توی سول. په دې جګړه کي د دلازاک خلکو په (توره بېله) کي د جلال الدین دوه نومیالي وروڼه شیخ عمر او خیرالدین ووژل او بل ورور ئې نورالدین موموندانو وواژه، خو خپله جلال الدین چې ډېر تلفات ور رسېدلي ول د تیرا غرو ته ولاړ.

جلال الدین دا وار د غرو د پهلوان په حیث په تېرا کي په مهمو لښکري تجهیزاتو لاس پوري کی او زیات قبایل ئې د ځان سره یو کړل او تر (۱۰۰۱هـ) کال پوري ئې د پښتنو تازه دمه لښکر پر خپل ملي مرکز راغونډ کی. شهنشاه اکبر هم دا پلا خپل ډېر مهم او لومړۍ درجه کسان د ده د مخنیوي له پاره وګومارل چې د لښکر په مخکښې زین خان کوکه او شیخ فیضي ول. وروسته تر هغه راجه بېربل او سعید خان او نورو د لسو زرو سپرو سره ئې ملاتړ ته راغله، خو جلال الدین په خورا شدت هغه لښکر پر مخ وواهه او پر شا ئې وشاړه، چې د ډهلي د دربار د مؤرخانو په وینا د اکبري لښکر له څلوېښتو څخه تر پنځوسو زرو سپرو څخه یو تن هم د زړورو پښتنو له لاسه ژوندی پاته نه سو اوحتّی د اکبر د شهنشاهۍ د ټولو چارو چلوونکی او د اکبري دربار مهم غړی راجه بېربل هم په دې لاره کي سر بایللو، او زین خان کوکه د نورو امیرانو سره د اټک خوا ته وتښتېد او نور نو له هغې جګړې څخه یوه تن هم نجات و نه موند.

د دې تباهۍ خبر چې د اکبر دربار ته ورسېد، راجه تودرمل ئې د قاسم خان کابلي په مرسته د لاري د څارني له پاره واستاوه او دې خلکو په ډېر چل او ول زین خان کابل ته

ورسولای سو.

تر هغه وروسته د ډهلي قواوو تر څو کالو پوري د قاسم خان کابلي په مرسته د کابل او پېښور لاره ساتله او په (۱۰۰۴ﻫ) کال بیا جلال الدین پر اکبري لښکر یرغل وکی او اکبر پاچا قلیج خان د ده د مخنیوي له پاره راواستاوه. دا سړی هم تر څو جګړو وروسته د کابل خوا ته پر شا سو او جلال الدین د پښتونخوا پر ټولو غرو له خیبره نیولې تر تیرا پوري او د کابل پر جنوبي سیمو تر غزني پوري بریالی سو او په (۱۰۰۷ﻫ) کال ئې د غزني ښار هم د توري په زور د پردیو له منګولو څخه ونیو او تر دوو کالو ئې پر هغو سیمو حکومت کاوه. په (۱۰۰۹ﻫ) کال د اکبر لښکر د غزني په ښار کي اووه ورځي د ده سره جګړه وکړه او هم ئې د هغه ځای ډېر خلک د ده په مقابل کي وپارول، څو چي د جګړې په یوه ډګر کي شادمان نومي ټپي کی او تر هغه وروسته جلال الدین د رباط غره ته ولاړ او شریف خان اتکه چي د ډهلي د دربار حکمران وو، مراد بېګ نامی په ده پسي وګوماره، څو چي هغه زمریالی ټپي ئې چي څو کاله د ملي آزادۍ د ساتني له پاره د پردیو د غښتلیو لښکرو په مقابل کي جنګېده وې واژه او د ده له شوره ډک سر ئې اکبري دربار ته واستاوه، حال دا چي د ده ورور کمال الدین لا دمخه په اکبري زندان کي مړ سوی وو.

څنګه چي د ډهلي دربار تصور کاوه، د جلال الدین په وژلو هم د پښتنو د آزادۍ غوښتني تلوسه مړه نه سوه او تر ده وروسته ئې وراره احداد د عمر شیخ زوی او د بایزید نمسی چي د ده زوم وو، د خپلواکۍ غوښتني بیرغ پر خپلو اوږو پورته کی او د خپلو غیرتمنو اسلافو په شان ئې هنګامه توده وساتله او د دبستان د لیکونکي په وینا احداد یو عادل او ضابط او د خپل نیکه پر آئین ثابت سړی وو. د پښتنو قبایل ورباندي راغونډ سول او د (۱۰۲۰ﻫ) کال په صفره کي ئې جهانګیري حکمران چي معزالملک بخشي نومېد مات کی او د کابل پر ښار ئې حمله وکړه. په دې جګړه کي د احداد یو ملګری (بارکی) نامی مړ سو او د ډهلي لښکر د نادعلي میداني او قلیچ خان په ملاتړ د ده سره مقاومت کاوه او احداد په دې جګړه کي پر شا سو.

څلور کاله وروسته بیا احداد نوی لښکر د کابل جنوبي خوا ته په څرخ کي راټول کی او جهانګیر په (۱۰۲۴ﻫ) کال یو دروند او لوی لښکر د ده د مخنیوي له پاره وګوماره. پخپله جهانګیر په دې باره کي داسي وایي:

"احداد افغان که از دیر باز در کوهستان کابل درمقام سرکشی وفتنه انگیزیست و بسیاري از افغانان آن سرحد برو جمع شده اند و از زمان والد بزرگوارم (اکبر) تا حال که سال دهم جلوس من است افواج همیشه بر سر او تعیین بوده اند، رفته رفته شکستها خورد و پریشانیها کشید" (تزوک جهانگیري).

د څرخ ډاگونه د دواړو خواوو په وینو سره سول او تر سختي جگړې وروسته جهانگیري لښکرو بری وموند او د احداد ملگري د درو زرو په شاوخوا کي ووژل سول، خو پخپله احداد د کندهار خوا ته ولاړ او د لښکر مرکز ئې د دښمن د لښکریانو لاس ته ورغی.

په (۱۰۲۸هـ) کال احداد د جهانگیري لښکر په مقابل کي لښکر راغونډ کی او د ډهلي د نامتو درباري مهابت خان زوی امان الله خان ورسره وجنگېد. په دې جنگ کي هم د احداد لښکر ته سخت تاوان ورسېد او غرو ته وخوت.

د ډهلي د لښکر سره د احداد وروستنۍ جگړه په (۱۰۳۵هـ) کال په تېرا کي پېښه سوه او د جهانگیر لښکر د پښتنو د ملي قواوو سره ونښت. په کابل کي د جهانگیري حکمران د خواجه ابوالحسن زوی ظفرخان خورا لوی لښکر راویوست او په تیرا کي ئې پر نواغر (اواغر) چي د احداد د ملي ریاست مرکز وو، یرغل وکی او احداد ئې هلته کلابند کی. یوه شپه چي تېري کوونکي پر کلا وروختل احداد د ژوند تر پایه په مړانه ورسره وجنگېد او په مړانه ئې خپل سر د ملي خپلواکۍ څخه د دفاع په لار کي کښېښوو، شهید سو. د ډهلي لښکرو د ده سر پرې کی او د احمد بېگ د زوی افتخار په لاس ئې د جهانگیر دربار ته سوغات واستاوه. هغه ورځ چي د شهنشاه دربار ته د دې پښتون ملي مجاهد سر ورسېد، نو جهانگیر خدای ته پر سجده سو او د شکر سجدې ئې وکړې، د خوښۍ د ساز او سرود د ږغولو امر ئې وکی، خو:

سـرکشـــته بر نیزه میـــزد نفس
که معراج مردان همینست و بس

احداد د روښان په کورنۍ کي تر جلال الدین وروسته زړور او لوی سړی وو. صمصام الدوله د ده په باب کي لیکي:

شجاعت و بهادري او ناسخ داستان رستم و افراسیاب است، و در عهد جهانگیر آویزش های سخت باعساکر پادشاهي نمود (مأثر الامراء).

د دبستان لیکونکی د ده اخلاقي ښېګڼې داسې شمېري:

"احداد مردی عادل و ضابط... و حق مردم رسانیدی و خمس اموال که از جهاد بهم رسیدی در بیت المال داشتی و آنرا نیز بغازیان رسانیدي..." (دبستان). تر احداد وروسته ئې زوی عبدالقادر چې د جلال الدین د لور علائي له نسه وو، د پلار پر مسند کښېنوست او دوه کاله ئې په تیرا کې حکومت وکی، څو چې شاهجهان په (۱۰۳۷ھ) کال ظفر خان د کابل په صوبداری وټاکه او د عبدالقادر په مقابل کې ئې راواستاوه خو عبدالقادر پر ظفر خان بری وموند او د هغه ډېر ملګري ئې ونیول او سزا ئې ورکړه او یوازې د ظفر خان مېرمن له دې معرکې څخه په ډېر مشکل ووتله. دا خونړۍ جګړه د تیرا په خرمانه درې کې وسوه.

تر هغه وروسته عبدالقادر د خپل اکا د زامنو کریمداد او محمد زمان سره تل د تیرا د ملي لښکر مشرتوب کاوه او په (۱۰۳۹ھ) کال ئې د پېښور څخه اووه میله لیرې په یولم ګذر کې د پښتون کمال الدین په هغه نهضت کې ګډون وکی چې د پېښور په شاوخوا کې د ډهلي د لښکر په مقابل کې منځ ته راغلی وو، خو په (۱۰۴۴ھ) کال عبدالقادر د کابل د صوبدار سعید خان لاس ته ورغی او هند ته ئې فرار کی. همدارنګه د جلال الدین زوی الله داد چې په دې ملي هڅو کې د عبدالقادر ملګری وو او د پښتنو د ملي ټولیو مشرتوب ئې کاوه، د ډهلي د لښکریانو په واسطه هند ته واستول سو او همدا شان د جلال الدین بل زوی کریمداد د (۱۰۴۷ھ) کال په روژه کې د شاهجهان په امر په پېښور کې ووژل سو.

په دې توګه نو د بایزید روښان د کهاله وروستۍ روڼا تر یوې پېړۍ مجاهدو وروسته مړه سوه، خو د ظلم او ستم سره د دې کهول مبارزې او د دوی آزادګي، مړانه او خپلواکي غوښتنه به زموږ په ملي تاریخ کې تل تر تله د یادګار جاوید په شکل پاته وي.

د روښانیانو نومیالي:

۱- بایزید پیر روښان د عبدالله اورمړ زوی (۹۴۹-۹۸۸ھ) په شاوخوا کې.

۲- جلال الدین د بایزید روښان زوی (۹۸۸-۱۰۰۹ھ)

۳- احداد د عمر شیخ زوی او د بایزید نمسی (۱۰۰۹-۱۰۳۹ھ)

۴- عبدالقادر د احداد زوی (۱۰۳۵-۱۰۴۴ھ)

مأخذونه:

د اخون درويزه تذكرة الابرار والاشرار – د پښتو د شاعر دولت قلمي ديوان– د بدايوني منتخب التواريخ – د اخون درويزه مخزن اسلام– مأثر الامراء– منتخب اللباب– پادشاه نامه– تزک جهانگيري– عمل صالح– اقبال نامه – دبستان مذاهب – اكبرنامه – طبقات اكبري– د دولافوز تاريخ هند – فرشته – سروي لساني هند، لسم ټوک – حيات افغاني – مجله معارف ۱۹ ټوک – صراط التوحيد – تاريخ مرصع – مجله آثارعتيقه هند د بمبئي چاپ – تاريخ ادبيات پښتو ۲ ټوک – افغانستان در عصر تيموريان هند – د خير البيان پښتو خطي نسخه (۷۴ لمبر شجرې ته دي رجوع وسي).

روښانیان



د شجرې پاته برخه په راتلونکي مخ کې وګورئ!

روښانيان

۷۴ شکل — **دوهمه برخه**

جلال الدين

- الله داد خان (رشيد خان)
  - صاحبداد
  - اسدالله
  - الهام الله (رشيد خان ثاني)
  - عبدالله
  - نورالله
  - حبيب الله
- هاديداد (د احداد ماينه)
- بي بي علايي (د مرزا خان ماينه)
- نور خاتون
- عالم خاتون
- کريمداد
- ميا داد
- صاحب خاتون

کمال الدين

- پيرداد
  - شاه زمان
  - محمدزمان
    - قادرداد
    - مهدي داد
  - ولي محمد

مرزا خان انصاري

- خداداد
- عبدالحکيم
- عبدالنبي
- (د جلال الدين د لور نور خاتون له نسه)
  - عبدالکريم
  - عبدالسبحان
  - عبدالرحمن
  - فاطمه
  - رابعه
- فتح خاتون (د مياداد ماينه)
- سليم خاتون (د رشيد خان ماينه)
- مريم خاتون (د سکندر ماينه)

(ماخذ: تاريخ افغانستان در عصر گورگانيان هند – مقدمهٔ خيرالبيان)

توخیان

(٩٦٠–١٢٠٠هـ)

توخي د غلجیو پښتنو یو ټبر دئ چي په زابل او د ترنک او ارغنداو پر غاړو د کلات په رغو کي د مقر تر ټکه پوري اوسېږي.

د ډهلي د تیموریانو او د ایران د صفویانو په وختو کي د توخو یوه کهاله د دې دوو شهنشاهیو په منځ کي خپل واک ساته، چي په (٩٦٢هـ) کال د همدې خلکو یو نومیالی شاه محمد کلاتی په کندهار کي حکمران وو او همایون هغه ولایت ورسپارلی وو. تر شاه محمد وروسته له دې کهاله څخه "ملخی" نامی د اورنگزېب په وخت کي د کلات حکمران وو، چي د اورنگزېب له درباره رسماً د سلطان ملخي په لقب وبلل سو او په هغه فرمان کي چي د (١٠٩٣هـ = ١٦٨١م) کال د دریمي خور (جمادي الاولی) پر ٩ د عالمگیر له درباره د ده په نامه صادر سو دی ئې د ټولو غلجیو د ملک په حیث وپېژاند، چي د حکمرانۍ وېش ئې له یوې خوا څخه د صفوي هیواد تر ټکه او له بلي خوا د هند د عالمگیر د دولت تر وېشه رسېده او د ده د زړو کلاوو کنډوالې ئې تر اوسه د شاه جوی او کلات تر منځ سته.

د ده په وخت کي د صفویانو او غلجیو ټبرو تر منځ سختي جگړې وسوې، چي په دې جگړو کي د جبارخان سلیمانخېل (چي د کابل او جلال آباد پر لار په خاک جبار کي ښخ دئ) ووژل سو او ملخي د ابدالي ټبر د مشره سره چي خدایداد سلطان نومېد یو تړون وتاړه او تر خپل منځ ئې د کندهار د جلدک د گرماو ناوه وېش او ټک وټاکه. دی د انځرگي او سرې ډبري (سرخ سنگ) تر منځ د دروازگۍ په جگړه کي ووژل سو. دا پېښه د (١١٠٠هـ = ١٦٨٨م) په شاوخوا کي پېښه سوه او د ده پر ځای ئې زوی حاجي عادل کښېنوست، تر یو وخته پوري ده پخپله او د ده زوی بابیي خان پر کلات او د کلات پر سیمو حکومت کاوه او د ترنک د رود پر غاړه د کلات او جختران کلاوي د دوی مرکز وو، څو چي په پای کي بابیي خان هم ووژل سو او ښالم خان (شاه عالم) د علي خان زوی

او د ملخي وراره او زوی ئې خوشحال خان هم څه موده حکمراني وکړه او د دې کهاله ورستني محلي حکمرانان د خوشحال خان زامن اشرف خان او الله يار خان ول، چې اشرف ته د اعليحضرت احمد شاه ابدالي له خوا تر غزني پورې د کلات حکمراني ورکړه سوې وه او پر هند باندې په لومړۍ حمله کې د احمد شاه سره ملگری وو او د تېمور شاه په وختو کې د اشرف خان زوی امو خان ته د غلجيانو مشرتوب ورسېد او د دې کهول پايڅوړ د امير عبدالرحمٰن خان تر وخت واک او اقتدار درلود.

د توخو نوميالي:

۱- شاه محمد کلاتی (د ۹٦۰ هـ شاوخوا)

۲- سلطان ملخي (د ۱۰۹۰ هـ شاوخوا)

۳- حاجي عادل د ملخي زوی (د ۱۱۰۰ هـ شاوخوا)

۴- بايي خان د عادل زوی (د ۱۱۱۵ هـ شاوخوا)

۵- شاه عالم (مشهور په ښالم خان) د علي خان زوی (د ۱۱۱۵۰ هـ شاوخوا)

٦- اشرف او الله يار د شاه عالم زامن (د ۱۱۲۰ هـ شاوخوا)

۷- امو خان د اشرف خان زوی (د ۱۲۰۰ هـ شاوخوا)

مأخذونه:

پټه خزانه- صولت افغاني - حيات افغاني - خورشيد جهان - آريانا ۲ ټوک - تاريخ سلطاني - د توخو شفاهي روايتونه.

ابدالیان

(۴۴۰ – ۱۱۴۴هـ)

ابدالي د افغانستان او هند په تاريخ کي يو ډېر نامتو ټبر دئ، چي د نامه ريښه ئې د (۴۰۰م) د شاوخوا سپين پوستي آريائي قبيلې ته چي اپتل (Aptal) يا هپتالي نومېدله رسېږي او دې قبيلې په باختر او تخارستان کي يو غښتلی دولت جوړ کی او د برطانوي دايرة المعارف په قول مؤرخانو ئې نوم (ابدلوي) هم راوړی دئ، چي په تواريخو کي ئې مختلف شکلونه هپتل (اودل) = ابدل = هيطل = يفتل ضبط دئ.

د اروپا خلک دا آريايي هپتاليان سپين هونان (White Huns) بولي چي د (هون = هان) د کلمې ريښه په پښتنو کي تر اوسه د (خان) په شکل پاته ده، ځکه چي د فيلالوژۍ له مخي په (خ) سره د (هـ) اوښتل روا وه، لکه د (هوارزم) اوښتل په (خوارزم) سره او د (هو) اوښتل په (خه) (خوب) سره. دې خلکو تر اسلام دمخه د آسيا په زړه کي حکومت کاوه او د اېران د ساسانيانو د شهنشاهۍ سره وجنګېدل چي د عربو مؤرخان دوی د (هياطله) په نامه ليکي او د دوی پايځوړ په زابلستان کي د عربو د راوتو او د اسلام د خپرېدو تر وخته وو، چي ليکني ئې تر اوسه د کندهار د شمال خوا ته په روزګان کي ستة او د ځينو پاچهانو نومونه ئې هم پښتو دي، لکه امير کولا (مير = لمر) او (کولا = کهول) او سربېره پر دې د دوی بڼې او اندامونه او جګي پزي (چي د دوی پر سکو نقش سوي) هم پښتنو ته ورته دي او داسي ثرګنديږي چي دا سپين نژاده آريايي قبايل وروسته تر هغه چي افغانستان ته راغلي د پکهت (پښتون) د پخواني عنصر سره ګډ سوي او د دې هيواد په پخوانيو داخلي عناصرو کي منحل سوي دي.

د اسلامي دورې په تاريخ کي لومړی نامتو سړی چي د (ابدال = اودل) په نامه ياد سوی د پښتني قبيلو مشهور نيکه دئ، چي د خپل نامتو کهول سره د سليمان په غره کي اوسېد. دی د ترين زوی، د شرخبون نمسی او د سړه بن کړوسی وو او د ده نوم په پښتو ادبياتو او پخوانيو نسخو کي (اودل– او د جمع منسوب په صورت اودلي=

ابدال) ضبط دئ چي د (۴۴۰ هـ = ۱۰۴۸م) په شاوخوا کي ئې پښتانه قبايل پر ځان راټول کړي ول او د ده له تکومه (نژداه) ملک سليمان د عيسىٰ زوی چي په زيرک مشهور وو، پښتني قبيلې د سليمان له غره څخه د کندهار سيمي ته بوتلی او هلته ئې ميشته کړې او د خپل ژوند په پای کي ئې خپل زوی ملک بارک په يوه لويه جرگه کي پر ځای کښېناوه او تر بارک وروسته د زيرک بل زوی ملک پوپل خپل نفوذ د (اوسني بلوچستان) تر شال او ږوبه ورساوه او د پنځه شپېتو کالو تر مشرتوب وروسته د ۸۹ کالو په عمر مړ سو. تر هغه وروسته ئې زوی ملک حبيب او بيا د ملک حبيب زوی ملک بامي د کندهار د قبايلو اولسوالان ول او د سلطان سکندر لودي سره ئې (۸۵۵ – ۹۰۰هـ) دوستانه روابط درلودل او نوموړي سلطان د ملک حبيب مشرتوب رسماً پېژندلی وو.

تر هغه وروسته بهلول د کاني زوی او د بامي نمسی او ملک صالح د معروف زوی او د بهلول نمسی لايق اولسوالان ول او صالح د شېرشاه سوري (۹۴۷ – ۹۶۰هـ) د دربار سره ښه روابط درلودل او خپل نمايندگان ئې هند ته ولېږل او تر ده وروسته ملک سدو د صالح ورور چي د سدوزو لومړی نيکه دئ په يوه لويه قومي جرگه کي د کندهار د اولسوالۍ او مشرتوب پر مسند کښېنوست (د ۹٦۵هـ = ۱۵۵۷م کال د ذيحجې پر ۱۷ زېږېدلی) او د کندهار ارغسان ئې خپل مرکز وټاکه او خپل رقيب حاجي زله خان ئې له منځه يووی او محمد د بارکزو مشر (د محمدزو لومړی پلار) د سدو معاصر وو او د سيد جمال الدين افغاني او نورو مؤرخانو په قول د صفوي شاه عباس له درباره هم په رسميت پېژندل سوی وو (د ۱۰۱۰هـ = ۱٦۲۱م شاوخوا). هغه وخت چي سدو د خپل وخت مقتدر محلي حکمران (۷۵) کلنۍ ته ورسېد، نو په يوه لويه قومي جرگه کي ئې له خپلو پنځو زامنو (خواجه خضر خان، مودود (مغدود) خان، زعفران خان، کامران خان او بهادر خان) څخه خواجه خضرخان پر خپل ځای اولسوال او قومي مشر وټاکه او څلور نوميالي ورونه ئې د شاهجهان معاصران ول، چي په (۱۰۴۷هـ = ۱٦۳۷م) کال د شاهجهان لښکرو د دوی په مرسته کندهار ونيو او د شاهجهان له خوا د کندهار اولسوالان وپېژندل سول. دوی د ډهلي د دربار سره دوستانه روابط درلودل او په (۱۰۵۰هـ = ۱٦۴۰م) کال ملک مغدود خان او کامران ډهلي ته ولاړل او شاهجهان ئې احترامانه هرکلی وکی. ملک مغدود په (۱۰۵۳هـ = ۱٦۴۳م) کال د کابل د حکمران

امیر یحیٰی سره جګړه وکړه او ووژل سو او کامران فاضل سړی وو، یو کتاب ئې د (کلید کامراني) په نامه په پښتو ژبه په (۱۰۳۸هـ = ۱۶۲۸م) کال لیکلی وو. خضر خان د ګریفن په قول په (۱۰۳۶هـ = ۱۶۲۶م) کال مړ سو او تر هغه وروسته ئې زامن خداداد سلطان مشهور په (خودکي) او شېر خان د کندهار مشران او ولسوالان ول.

خداداد خان د خپلو ګاونډیو غلجیو قبیلو سره دوستانه روابط وساتل او په قومي جرګو کي ئې د سلطان ملخي سره مفاهمه وکړه او د دوستۍ تړون ئې وتاړه او د دواړو خواوو د اولسوالیو تر منځ وېش ئې د کندهار څخه پنځوس میله لمر ختیځي خوا ته د جلدک ګرما او ډبرین پل وټاکه او د ړوب او بوري مځکي ئې د سلیمان د غره تر لمنو ونیولې او د (۱۱۰۵هـ = ۱۶۹۳م) کال په شاوخوا کي د ده ورور شېر خان د کندهار د صفوي حکمران سره ونښت او د کوږک په بند کي ئې صفوي لښکر پوپناه کی. ده د مغدود خان پر زوی شاه حسین باندي برى وموند او حسین ئې ملتان ته فرار کی او همدې حسین ته عالمګیر په سیالکوټ او رنګپور کي جاګیر ورکړی وو او د ګریفن په قول د دکن په جګړه کي د عالمګیر سره د اووه زرۍ په منصب ملګری وو او د ده ورور الله داد خان د دوو سوو سپرو د مشرۍ رتبه درلودله. دا حسین خان په (۱۰۶۹هـ = ۱۶۵۵م) کال په رنګپور کي مړ سو او شجاع خان د احمد شاه ابدالي په وختو کي او شریف خان د تیمور شاه په دوره کي او مظفر خان رکن الدوله چي د ملتان د ناظمانو په حیث مقرر ول، د همدې حسین اولاده ول.

د سدوزو وروڼو مرکز عموماً د کندهار څخه دېرش میله لمر ختیځي خوا ته د ښار صفا سیمه وه او د صفوي له درباره هم د (میرزا) په لقب پېژندلي سوي ول او د ډهلي دربار شیر خان ته د (شهزاده) لقب ورکړی وو. له کندهاره تر فراه پوري د ابدالي قبیلو مشرانو لکه بدال خان بامیزي او میر الکوزي او نورو د ده مشرتوب منلی وو. تر شېر خان وروسته ئې زوی سرمست خان او تر هغه وروسته د سرمست خان زوی دولت خان د کندهار اولسوالان سول او د پلرو د مشرتوب پر ځای کښېناستل او د سلطان خداداد زوی حیات سلطان هم د کندهار اولسوالي دولت خان ته وسپارله او پخپله د خپل ورور لښکر خان او شپږو زرو ابدالي کورنیو سره ملتان ته ولاړ. دولت خان د کندهار د ښار د صفوي حکمران سره سختي جګړې وکړې او د خپلي خپلواکۍ بیرغ ئې تر غزني او د سلیمان تر غره پوري ورپاوه. دا هغه وخت وو، چي د ایران صفوي او د ډهلي تیموري

دولتو پخپلو منځو کي د کندهار د ښار پر سر په نزاع سره اخته ول او لکه چي دمخه تېر سول، شاهجهان او عالمگیر په وارو وارو کندهار ته لوی لښکر را واستول.

دولت خان چي د دې صحنې پهلوان وو، خپل اقتدار ئې خپراوه او دوا ړي خواوي د ده مرستي ته اړ ول. لکه چي دوهم صفوي شاه عباس په هغو لیکنو کي چي د (۱۰۵۹هـ = ۱٦۴۹م) کال په سر کي ئې دولت ته رالېږلي وې، دی ئې "ایالت پناه، کوتوال قلعه قندهار" بللی دئ او د یوې داسي خورا لویې صوبې د حکومت د ورسپارلو وعده ئې ورسره کړې وه چي د ایران او هندوستان په هیواد کي ئې ساری نه وو (عباس نامه).

څنگه چي د دولت خان د نفوذ لمنه خپره سوه نو پنځوس کاله ئې په بریالیتوب سره حکومت وکی او د صفوي دولت د بیگلربیگي واک او اختیار ئې یوازي د کندهار په کلا کي کلابند کړی وو، ځکه نو تر (۱۱۰٦هـ = ۱٦۹۴م) کال وروسته شاه حسین صفوي زمان خان د کندهار له حکمرانۍ څخه وروغوښت او د هغه پر ځای ئې نصراني گرگین خان گرجي د شاهنواز خان په لقب د کندهار بیگلربیگي وټاکه. دا ظالم سړی چي د صفوي دولت د سقوط سبب سو، د شپې د خونخوارو سپرو سره په ښار صفا کي د دولت خان پر کور ورتوی سول. دولت خان او د هغه زوی نظر محمد خان ئې (د ۱۱۱۵هـ = ۱۷۰۳م کال په شاوخوا کي) ووژل. ابدالي قبیلې د خپل مشر دولت خان په وژنه ډېر خواشیني سول او د هغه زوی رستم خان ئې پخپل مشرتوب وټاکه. رستم لایق سړی وو او د سرور خان بامیزي او کټه خان اکوزي په کومک ئې د اولسوالۍ چاري پر مخ بېولې او د ده کشر ورور زمان خان د یرغمل په توگه په کرمان کي د صفوي حکومت په لاس کي وو. ځکه نو رستم خان د صفویانو سره برملا مخالفت نه سو کولای، خو د کندهار په جنوب کي ئې د بلوڅانو په واسطه صفوي لښکر تباه کی او د څلور کاله وروسته چي رستم مړ سو، نو ابدالي قبیلې هم بې مشره پاته او سره تیت سوې او د پښتني قبیلو مشرتوب د هوتکو د کهول نامتو مؤسس حاجي میرویس لاس ته ورغی او ابدالي مشران هرات ته ولاړل، هلته ئې خپلي حکمرانۍ ته ادامه ورکړه (د ۱۱۱۹هـ = ۱۷۰۷م).

دمخه مو وویل چي حیات سلطان ابدالي د دولت خان په وختو کي په ملتان کي اوسېد. هغه وخت چي په (۱۱۲۳هـ = ۱۷۱۱م) کال کي خسرو خان په کندهار کي د پنځه ویشتو زرو تنو صفوي لښکر سره د میرویس خان له لاسه تباه سو، عبدالله خان د حیات سلطان زوی د خپل زوی اسدالله خان سره له ملتانه راغی او په هرات کي ئې پر صفوي

بیگلر بیګي عباس خان شاملو باندي یرغل وکی. د هرات لمر لویدیځي خوا ته د غوریان د دوښاخ په غره کي ابدالي قبیلې او هراتیانورباندي راغونډ سول او اسفزار ئې ونیو او د صفوي نوی حکمران جعفر خان ئې مات کی. دې افغاني لښکر د (۱۱۲۹هـ = ۱۷۱۶م) د روژې پر ۱٦ هرات ونیو او غوریان او کولاب او بالامرغاب او بادغیس ئې د هرات د ټولو سیمو سره پخپل حکومت پوري ونښلول. هغه وخت چي فتح علي خان ترکمان له اصفهانه د خورا لوی لښکر سره د دوی مقابلې ته راغی، د غوریان په کوسویه کي ئې هغه ټول لښکر تر تېغ تېر کی او په هرات کي ئې د ملي حکومت اعلان وکی. اسد الله خان په هغه جګړه کي چي په (۱۱۳۲هـ =۱۷۱۹م) کال ئې د خاشرود پر غاړه په دلارام کي د شاه محمود هوتک سره وکړه ووژل سو او عبدالله خان چي د خپل زوی له مړیني څخه ډېر ویرجن سوی وو، د هرات د ملیونو مشرتوب ئې د الکوزي مشر عبدالغني خان په مشوره د دولت خان زوی زمان خان ته چي فعال او لایق سړی وو، وسپاره. ده ابدالي قبیلې د هرات د ټولو ملي قواوو سره یو کړې او د صفویانو جګړن امیران ئې د جعفر خان بیګلربیګي سره یو ځای د هرات په ښار کي ووژل. صفوي دربار صفي قلي خان ترکمان د لوی لښکر سره له مشهده د هرات خواته راوکوچاوه، خو د هرات ملي لښکر د زمان خان په مشري صفي قلي او د هغه لښکر د کافر کلا په ډګر کي ووژل او زمان خان تر دوو کالو او پنځو میاشتو پوري په ډېر بریالیتوب حکومت وکی او په (۱۱۳۵هـ = ۱۷۲۲م) کال له دنیا ولاړ.

د زمانخان تر مړیني وروسته د عبدالله خان زوی محمد خان د کندهار له ښوراوکه راغی او د هرات د حکمرانۍ واګي ئې په لاس کي ونیولې او تر مشهد پوري پر مخ ولاړ. هغه ښار ئې څلور میاشتي کلابند کی (د ۱۱۳٦هـ = ۱۷۲۳م په شاوخوا کي) او خپل نفوذ ئې په خراسان کي خپور کی. د غوریان لمر لوېدیځي خوا ته ئې د سنګان کلا ونیوله، خو ابدالیانو دی خلع کی او د ده پر ځای ئې د زمانخان مشر زوی ذوالفقار خان د کندهار له ښوراوکه راوغوښت او د ځان امیر ئې وټاکه (۱۱۳٦هـ) او د نزاع د لیري کولو له پاره ملي جرګه جوړه سوه. دې جرګې د باخرز او بادغیس حکمراني ذوالفقار خان ته ورکړه او د عبدالله خان زوی رحمان خان ئې د فراه په حکمرانۍ وګوماره او په هرات کي ئې د ملیونو د مرکزي حکومت له پاره د عبدالله خان بل زوی الله یار خان له ملتانه راوغوښت (۱۱۳۸هـ ۱۷۲۵م).

الله یارخان او ذوالفقار خان زړور مړونه ول او د نادرشاه افشار د متجاوزو لښکرو په مقابل کي ئې سخت جنګونه وکړل او په (۱۱۳۹هـ) کال چي نادر شاه مشهد ونیو او اته زره تنه لښکر ئې د سنګان کلا ته واستول نو د هرات حکمرانانو په یوه ملي جرګه کي د نادر په مقابل کي خپل ملي قوتونه راغونډ کړل او په (۱۱۴۱هـ =۱۷۲۸م) کال الله یار خان په تربت جام کي د نادري لښکر مخه ونیوله. نادر په یوه لیک کي د الله یار څخه روغه وغوښته خو نه منله سوه او په کافر کلا کي جګړه ونښته او د نادر پښه ټپي سوه او د هرات لښکر را پر شا سو هرات ته راغی، خو الله یار خان بیا د خپل لښکر سره له هراته څخه دوه فرسخه لیري د پریان په رباط کي د نادر مقابلې ته ورغی او ذوالفقار هم د جبهې شا ته د ده ملاتړ کاوه. نادر شاه مجبوره سو، چي د دوی سره روغه وکړي او پر هرات باندي د دوی حکمراني ومني. هغه وو، چي تر دوو میاشتو پرله پسې جګړو وروسته د (۱۱۴۱هـ = ۱۷۲۸م) کال د ذوالحجې د میاشتي په څلورمه بېرته مشهد ته ولاړ.

یو کال وروسته د هرات ملیونو د عبدالغني الکوزي په قیادت الله یار خان مروچاق ته واستاوه او د هغه پر ځای ئې د هرات حکومت ذوالفقار خان ته وسپاره (۱۱۴۲هـ د شوال ۳). ذوالفقار د لښکر په تجهیز لاس پوري کی او د اتو زرو تنو سره ئې د مشهد ښار کلابند کی او د (۱۱۴۳هـ = ۱۷۳۰م) کال د محرمي تر ۱۳ پوري ئې جګړه وکړه او تر هغه وروسته بیرته هرات ته راغی او له هغې خوا څخه نادرشاه بیا د هرات د نیولو نیت وکی او د (۱۱۴۳هـ = ۱۷۳۰م) کال په روژه کي ئې دغه ښار کلابند کی، څنګه چي له کندهاره شاه حسین هوتک هم د هرات مدافعو ملیونو ته کومک واستاوه، ځکه نو ذوالفقار هم په ډېره مړانه جنګېدی او ښار ئې دښمن ته نه سپاره، څو چي په همدې وخت کي بیا الله یار له مرو چاق څخه راغی او د (۱۱۴۴هـ = ۱۷۳۱م کال د صفري په ۱۸) هرات ته ننووت او ذوالفقار هم د جګړې واګي ده ته وسپارلې او پخپله د خپل کشر ورور احمد خان سره (چي وروسته احمد شاه ابدالي سو) کندهار ته ولاړ او همدا بېلتون بې شکه د ملیونو د کار د سستېدو سبب سو. الله یار هم د نادر سره په مړانه وجنګېدی او تر یو کال پوري ئې د هرات څخه دفاع وکړه خو په پای کي له هغه ښاره ووت او د ملتان خوا ته رهي سو او نادر پر هرات بری وموند او پر هرات باندي د ابدالیانو د مشرتوب دوره د (۱۱۴۴هـ = ۱۷۳۱م) کال د روژې په اوله پای ته ورسېدله او تر هغه وروسته په (۱۱۶۰هـ

= ۱۷۴۷م) کال په کندهار کي احمد شاه ابدالي بيا د افغاني سلطنت بنسټ کېښود او هرات د پخوا په شان د افغاني هيواد برخه پاته سو.

د هرات د ابداليانو د حکمرانۍ سيمي:

د هرات ښار او شاوخوا ئې–اوبه–شافلان–کوسويه–غوريان–پوريان–جام–لنگر–خواف–باخرز–زوزن–د مشهد تر حدودو–او جنوباً د هلمند له غاړو تر ميوند او فراه او سيستان پوري او شمالاً بادغيس او آب مرغاب.

د کندهار ابداليان:

۱– ملک اودل = ابدال د ترين زوی (۴۴۰هـ شاوخوا)

۲– ملک سليمان زيرک د عيسیٰ زوی (د ۷۵۰ هـ شاوخوا)

۳– ملک بارک د زيرک زوی (د ۷٦۰هـ شاوخوا)

۴– ملک پوپل د زيرک زوی (د ۷۸۳هـ شاوخوا)

۵– ملک حبيب د پوپل زوی (د ۸۰۰هـ شواوخوا)

٦– ملک بامي د حبيب زوی (۸۵۰ هـ شاوخوا)

۷– ملک بهلول د کاني زوی او د بامي نمسی (د ۸۹۰ هـ شاوخوا)

۸– ملک صالح د معروف زوی او د بهلول نمسی (د ۹۵۰هـ شاوخوا)

۹– ملک سدو د معروف زوی د بهلول نمسی (په ۹٦۵هـ کي زېږېدلی او په ۱۰۳۱هـ کي مړ دئ).

۱۰– خضر خان د سدو زوی (په ۱۰۳٦هـ کي مړ دئ).

۱۱– ملک مغدود د سدو زوی او کامران د سدو زوی (د ۱۰۵۰هـ شاوخوا)

۱۲– خداداد سلطان او شېر خان د خضر خان زامن (د ۱۰۷۰هـ شاوخوا)

۱۳– سرمست خان د شېر خان زوی (د ۱۱۱۰هـ شاوخوا)

۱۴– دولت خان د سرمست خان زوی (د ۱۱۱۵هـ شاوخوا)

۱۵– رستم خان د دولت زوی (د ۱۱۱۹هـ شاوخوا)

د هرات ابداليان:

۱٦– حيات الله خان د خداداد سلطان زوی (د ۱۱۲۳هـ شاوخوا)

۱۷– عبد الله خان د حيات سلطان زوی (د ۱۱۳۰هـ شاوخوا)

۱۸– زمانخان د دولت خان زوی (۱۱۳۲هـ – ۱۱۳۵هـ)

۱۹- محمد خان د عبدالله خان زوی (د ۱۱۳٦هـ شاوخوا)

۲۰-ذوالفقار خان د زمانخان زوی (۱۱۳٦ - ۱۱۴۴هـ)

۲۱- الله یار خان د عبدالله خان زوی (۱۱۳۸ - ۱۱۴۴هـ)

۲۲- رحمان خان د عبدالله خان زوی (۱۱۳۸ - ۱۱۴۴هـ)

مأخذونه او مراجع:

دائرة المعارف برتانیکا - د آریانا مجله - پټه خزانه د کابل چاپ - مخزن افغاني قلمي - تاریخ سلطاني د سلطان محمد خالص کندهاري د ۱۲۹۸ د بمبي چاپ - تذکرة الملوک د راورټي په حواله - لوی احمد شاه بابا د کابل چاپ - آئین اکبري - تاریخ احمد قلمي - خورشید جهان - تتمة البیان - تاریخ نادر شاه - روِضة الصفای ناصري ۸ ټوک - جهانکشای نادري - عمل صالح ۲ ټوک - تاج التواریخ ۲ ټوک - تاریخ ایران د سرپرسي سایکس - خلاصة الانساب خطي - کابل مجله ۲ ټوک - نادر نامه، منظوم خطي - پښتانه شعراء، لومړی ټوک - د ۱۹۴۵ کال کالنۍ - صولت افغاني - مجمع التواریخ - مشاهیر ابدالیان - عباسنامه - تاریخ روسای پنجاب - شوکت افغاني - احمد شاه بابا د کابل چاپ د میر غلام محمد غبار تالیف.

(۷۵ لمبر نسب نامه دي وکتل سي)

لومړۍ برخه — **۷۵ – لمبر**

ابداليان

اودل (ابدال) د ترين زوی ۴۴۰ھ حدود
سليمان ځيرک د عيسی زوی ۷۵۰ھ حدود

- بارک (۷۶۰ھ حدود)
- پوپل (۷۸۳ھ حدود)
  - حبيب (۸۰۰ھ حدود)
  - بامی (۸۵۰ھ حدود)
  - کالي
  - بهلول (۸۹۰ھ حدود)
  - معروف
    - ملک صالح (۹۵۰ھ حدود)
      (د احمدشاه بابا د لوی وزير شاه ولي خان کورنۍ)
    - ملک سدو (تولد ۹۶۵ھ مړ ۱۰۳۱ھ)
      - خواجه خضرخان
        د کندهار مرزبان
        مړ – ۱۰۳۶ھ
        - دوهمه برخه وګورئ
      - مودود خان
        کندهار – ۱۰۵۲ھ
        - حسين خان – مړ ۱۰۹ھ
          د ملتان د ناظمانو شجاع
          خان او مظفرخان کورنۍ
      - زعفران خان
      - کامران خان
        (کندهار – ۱۰۵۰ حدود)
        - د وزير رحمت الله خان او
          ناظم محمدعثمان خان
          کورنۍ (ملتان)
      - بهادرخان

۷۵ – لمبر

ابدالیان

خواجه خضر خان

- شېرخان (کندهار – ۱۰۷۰ه)
  - سرمست خان
    - رستم خان (کندهار) ۱۱۱۹ه
    - محمد زمان خان د هرات شاه (۱۱۳۲ – ۱۱۳۵ه)
      - احمد شاه بابا (دریمه برخه وګورئ)
      - ذوالفقار خان (د هرات حکمدار (۱۱۳۶ – ۱۱۴۴ه)
        - لقمان خان (د کندهار نائب (مړ ۱۱۶۲ه)
    - نظر محمد خان مقتول (۱۱۱۵ه)
- خداداد سلطان (کندهار – ۱۰۵۰ه)
  - حیات سلطان (ملتان او هرات) (د ۱۱۲۳ه حدود)
    - عبدالله خان د هرات حکمران (۱۱۳۰ه حدود)
      - محمد خان د هرات حکمران (۱۱۳۶ه حدود)
      - اسدالله خان په دلارام کې ووژل سو (۱۱۳۲ه حدود)
      - الله یار خان د هرات حکمران (۱۱۴۴ه حدود)
      - رحمان خان د هرات حکمران (۱۱۴۴ه حدود)
  - لښکرخان (ملتان)

ابدالیان

۱ - احمد شاه بابا (ابدالي) بن زمان خان (تولد ۱۱۳۵هـ - مړ ۱۱۸٦هـ) کندهار
د سلطنت دوره (۱۱٦۰ - ۱۱۸٦هـ)

۲ - تیمورشاه   سلیمان   داراب   شهاب   سکندر   پرویز

۳ - شاه زمان   ۵ - شاه شجاع   ٦ - حاجي فیروزالدین   ۸ - ایوب
۴ - شاه محمود   همایون   ۷ - سلطان علي
مونس
قیصر
ملک قاسم
۹ - کامران (۱۲۳۴ - ۱۲۴۵هـ)   ملک حسن   ۱۲ - یوسف (هرات) (۱۲۷۲هـ)   حاجي میرمحمد
جهانګیر   محمدرضا   محمدمحسن   محمد اسمعیل
سعادت   علي احمد
سلطان علي   احمد شاه
جلا الدین   شېرمحمد
۱ - فتح جنګ کابل (۱۲۵۸هـ حدود)   پیرمحمد (شکارپور)
۱۱ - شاه پور (کابل - ۱۲۵۸هـ حدود)
تیمور (شکارپور او کندهار)
نادر

دین محمد   سیف الدین   تاج محمد
خداداد
جان محمد
شاه محمد

هوتکیان

(۱۱۲۰هـ - ۱۱۵۰هـ)

د دې تاریخچې په سر کې مو د پښتون د کهول په احوال کې ولوستل چې د پښتون له درو زامنو څخه یو هم بېټنی یا بېټ نیکه نومېد، چې د دې شیخ له اولاده او د متو له نسه چې د ده لور وه د (غرزي = غلجي = غلزي) په نامه د پښتنو د مشهورو غلجیو قبیلو ټبرونه مشهور سول.

دا نوم بې شکه "غرزی" د "کوهزاد" په معنا دئ ځکه چې په افغانستان کې د سرېو او ځایو د زیاتو نومو ریښې د پښتو د "غر" د کلمې څخه راوتلي دي او حتّی د غور–غرچه–غرج–غلج–خلج ټولو کلمو ریښې له دې کلمې څخه راولاړې سوي دي، چې په منځنۍ آسیا کې د ځایو او قبیلو له پاره استعمالېږي.

توماسچک وایي چې د گر (GAR) یعني غر کلمه لرغونې باکتري دري کلمه ده او "غرچه" د آمو لوړې خوا ته د غرني ولایت د اریایي اوسېدونکو نوم دئ او له دې جهته نو غرچه او خلیج او غلیج او غرچ د غره د زوی یا غرزي او کوهزاد په معنا دي. د "غر" کلمه چې اوس په پښتو کې د غره په معنا ژوندۍ او مستعمله ده د اوستا په (هوم یشت) کې "گیری" راغلې چې په خورده اویستا کې هم لیدل کېږي او په سنسکریت کې هم "گیر" او "گیری" (GIRI) د غره په معنا وو، حتّی عربانو د پخواني گر شاه لقب (ملک الجبال) د تعریب په اصول جرشاه کړی دئ (د تاریخ طبرستان ۵۶ – ۱۸۳ مخونه).

په پښتو کې غرځه–غرځنۍ د "کوهي = غرني" په معنا دئ، چې د غرچه او دلچه = غلجی نوم له هغه څخه راوتلی دئ او غلچیان د پامیر او زرافشان د رود په درو کې اوسي.

عربي جغرافیا لیکونکو هم دې نکتې ته اشاره کړې ده، چې "غر" د "جبل" په معنا د غرشستان او غرجستان په تاریخي نومو کې دخیل وو. یاقوت د البشاري په

حواله وايي چي: غرج اصلاً د غره په معنا دئ او خراساني مؤرخانو چي دا کلمې د خپلو وطنوالو څخه اورېدلي دي هم د "غرجستان" نوم په اصلي شکل "غرستان" ليکلی دئ، چي د غر + ستان څخه عبارت دئ (غر- د کوه په معنا او "ستان" د ظرفيت پخوانۍ علامه ده).

مثلاً منهاج سراج جوزجاني چي د دې هيواد له خلکو څخه وو، زياتره د عربو د غرجستان او غرشستان پر ځای غرستان ليکي او د طبقات ناصري په زړو خطي نسخو کي څو واره غرستان ليده کېږي.

په هر صورت غلجی= غلزی يو پخوانی نوم دئ چي معنا ئې د غره زوی او د افغاني غلجيانو لومړی نيکه په همدې نامه يادېده. ده درې زامن درلودل او د زامنو نومونه ئې هم آريائي زړو نومو ته ښخي ورته دي:

توران – تولر – بولر او موږ پوهيږو چي "تور" له هغو پخوانيو آريائي نومو څخه دئ چي په اوستا کي راغلي دي او دا نوم تر اوسه په پښتنو کي په مختلفو صورتو (تور – تورانی – تورک – توری) رواج لري. همدا راز "بولر" يا "بلور" يو زوړ نوم دئ چي د گلگته تر سيمو د نورستان پر خلکو اطلاقيده او د بارتولد په قول تر اوسه هم د هغه ځای ځيني تور پوښه قبايل ځانونه "بلور" بولي او دا کلمه تر ۱۸ پېړۍ پوري په چيني کتابو کي ليده کېږي او محمد حيدر دوغلت چي د (۹۳۲هـ) په شاوخوا کي ژوندی وو او پر دې سيمو ئې حکمراني کوله نو د کشمير له ناوې څخه د کابل تر ناوې پوري او شمالاً تر يارکند او کاشغر پوري ئې دا سيمي بولر او بلورستان وبللې او تر ده دمخه منهاج سراج او محمد عوفي د غوري دورې مؤرخان د شغنان او تخارستان او درواز د غرو په لړ کي بلور هم راوړی او مستربيلو وايي چي: بولر يا بلور کلمې د باختر د کلمې طبعي تحريف دئ. په هر صورت د غلجي، توران، تولر او بولر کلمې او نومونه ټول پر دې دلالت کوي چي دوی پخوانۍ آريائي ريښې لري او هم دا ثابتوي چي افغاني غلجيان هم د آريائي نژاد سره ټينگه اړه لري.

خو "هوتک" (د کندهار او کلات د غلجيو قبيلو څخه) د هوتکو د قبيلې لومړی نيکه چي د پښتو اشعار ئې د پټې خزانې په واسطه موږ ته را رسېدلي، د انساب د خاوندانو په قول دبارو زوی او د پورتني نومو ړي تولر نمسی وو چي ده بيا څلور زامن: ملکيار، يوسف، دولت او عرب نومي درلودل او د هوتکو د پاچهۍ د مؤسس ميرويس

خان پلار ښالم خان په اتم پلار ده ته رسېږي. په دې ترتیب: ښالم د کرم زوی، د مند نمسی، د عمر کړوسی، د جلال الدین کوسی، د قطب کودی چي هغه بیا د اسحاق زوی، د حسین نمسی، د ملکیار کړوسی او د هوتک کوسی وو.

د هوتکو کهول د ترنک او ارغنداو پر غاړو محلي اولسوالان ول او لکه چي وویل سول د چنګېزیانو سره ئې سختي جګړې وکړې، خو د دوی د ژوند مفصل حالات لاس ته رانغله، یوازي دا معلومه ده چي تر میرویس خان دمخه د کندهار له جلدکه تر غزني د غلجیو قبیلو مشرتوب او اولسوالي په سلطان ملخي توخي پوري اړه درلوده، چي دمخه ئې یادونه وسوه.

د میرویس خان پلار ښالم خان چي د خپل وخت له مشرانو څخه وو، د سلطان ملخي لور نازو نامې په نکاح کړه او د هغه له نسه څلور زامن حاجي میر خان، عبدالعزیز، عبدالقادر او یحیٰی خان پیدا سول.

له دې زامنو څخه حاجي میر خان یا میرویس خان هغه نومیالی وو، چي له غزني څخه تر کندهاره ئې خپل نفوذ خپور کی او د توخي او ابدالي د دوو ټبرو (چي له کندهاره تر غزني ئې حکومت کاوه) او د ډهلي او اصفهان د دوو شاهنشاهیو د تاریخي نفوذ تر منځ ئې په اولسي چارو کي لوی لاس درلود، څو چي په کندهار کي ئې د خپلواک سلطنت بنسټ کښېښود. دی د سید جمال الدین افغاني او سلطان محمد خالص په قول د متین فکر او لوړو اخلاقو خاوند او هم ښه ژبور سړی وو او څنګه چي له یوې خوا ئې مور د توخي حکمرانانو له کهاله څخه وه او له بلي خوا ئې د ابدالي کامران خان (چي دمخه ئې یادونه وسوه) خانزاده نومي لور کړې وه، ځکه نو ابدالي او توخي قبیلو دواړو د ده ملا تړله او له بل پلوه د ده خپل کهول هم له ډېرو پېړیو راهیسي په هوتکو کي نفوذ درلود او اولسوالي ئې کړې وه.

د همدې صفتو له مخي میرویس د کندهار د ابدالیو او غلجیو د ټبرو له خوا د "بابا" په لقب وپېژندل سو او هغه وخت چي صفوي نصراني حکمران ګرګین خان کندهار ته راغی او پر خلکو ئې هغسي ستمونه وکړل چي د زغملو نه ول، نو میرویس څلور واره اصفهان ته ولاړ او د شاه حسین صفوي دربار ته ئې د خلکو فریاد ورساوه او هم ئې د دربار اوضاع له نژدې څخه وکتله. د ده یو ملګري "رېدي خان" پخپل منظوم کتاب "محمود نامه" کي چي د میرویس د زوی په نامه ئې نظم کړی دئ، د میرویس

داد خواهي او د شاه حسین صفوي جواب داسې بیانوي:

چې میر خان تللی اصفهان ته ونه   مخ ئې مکې د پاک سبحان ته ونه
پاچا تې عرض کړ ټول اقوال د پښتون   د ګرګین ظلم بد احوال د پښتون
پاچا ویل: "زه نسوای کولای چاره   د ګرګین خان ظلم و ستم د پاره
که ئې معزول کړم کندهار نه پرېږدي   جور و ستم او خپل شعار نه پرېږدي
ګرګین خو ګرګ دئ ګرګ خو ظلم کوي   وینې تووینه هم پسونه څیري
زه هم خایف یم چې به څه کړم ګرګین   نامسلمان دئ، ارمنی دئ، بېدین
نه په اسلام کې ځان پاوبند ګڼینه   نه نصراني نه له عیسیٰ بېرینه
بېرېږم زه چې خدای کړي قهر ښکاره   د سلطنت په رڼا کور سي تیاره"
میر خان ویل: "اې حسین پاچا وګوره   حال د حاکم او رعایا وګوره!
ګرګ دي ایله کې پر رمه سو شبان   جور و ستم کاندي بېحد ګرګین خان
موږ له طاقت نسته چې کړو به زیاتی   صبر پر ظلم د ظالم ارمني
دا څلورم وار دئ راغم سلطانه   عرض د ظالم له لاسه کړم سلطانه!
که پاچا نکړي داد خواهي د مظلوم   ظالم حاکم کا، ظلم ډېر په محکوم
جور چې ډېر سي سلطنت سي برباد   د ظلم قصر پوپنا بې بنیاد

عربیه: الملک یبقي مع الکفر ولا یبقي مع الظلم

کافر کولای سلطنت سي مدام   که وکړي داد، نه وي جابر پر انام
مګر ظالم خو نسي کړای سلطنت   خالق رحیم دئ، ورکوي خلافت
چاته؟ چې زړه ئې وي په مهر و دان   د خدای عیال ګڼي پر مځکه انسان
سلطانه! واوره په ښې غوږ دا وینا   مکړه ستم د خلق الله پر هر چا
د ستمګارو پای ورانی دئ، خراب   د ظلم اور ئې کا پخپله تراب
د مظلوم آه داسې کاري وي ګوره   چې اور ئې نه ځي د ظالم له کوره
لمبې به بلې کا د ظلم پر کور   ټول به کاندي بېنوا په دې اور
ښایي ظالم چې رحم وکا په ځان   په ظلم خوار نه کړي خپل ځان او جهان
سلطانه! ګوره پر ځان رحم وکړه   خپل کلی کور په جور مه ورانوه"

څنګه چې صفوي پاچا د میرویس فریاد وانه وربد او د اصفهان له درباره نا امیده سو، نو له هغه ځایه بیت الله ته ولاړ او د عربو د عالمانو څخه ئې د ګرګین ګرجي نصراني

سره د جنګ جواز او د هغه د وژلو فتوا واخيستله او د اصفهان په دربار کي ئې هم دوني نفوذ ومونډ، چي درباريان ئې پر ګرګين بانديلا بدګمانه کړل. تر هغه وروسته نو حاجي ميرويس کندهار ته راغی او په کندهار کي ئې د ارغنداو پر غاړه د کندهار د اوسني ښار څخه شپږ ميله ليري په کوکران کي يوه لويه ملي جرګه جوړه کړه او خلکو ته ئې د اصفهان د دربار اوضاع بيان او د حجاز د علماوو فتوا ښکاره کړه او له دوی څخه ئې تعهد واخيست.

په دوهمه جرګه کي چي د کندهار د زياتو قومو مشرانو لکه سيدال خان ناصر، بابوجان بابی، بهادر خان، پيرمحمد مياجي هوتک، يوسف خان هوتک، عزيز خان نورزی، ګلخان بابر، نور خان برېڅ، نصرو خان الکوزی، يحيٰی خان د ميرويس ورور، محمد خان د هغه وراره او يونس خان کاکړ ګډون کړی وو، د خپلواکۍ د اعلان وثيقه لاسليک سوه او ټولو په قرآن عظيم لوړه وکړه.

تر هغه وروسته ميرويس خان د کندهار د ټولو قومو په مرسته د صفويانو بيګلربيګي ګرګين خان او د هغه ټول لښکريان ووژل او د کندهار ښار ئې ونيو او د ګرګين وراره الکسندل ميرزا د هغه ستمګر مړی واخيست او د هغه د ښځو او کوچنيانو سره هرات ته وتښتېد.

وروستني مؤرخان د دې ملي مشر او قايد د آزادۍ غوښتلو د نهضت په نيټه کي اختلاف لري، مثلاً شېرمحمد ئې د (۱۱۲۰هـ) کال د صفري مياشت او سلطان محمد ئې د (۱۱۲۱هـ) کال صفره ليکي، خو نواب صمصام الدوله د هغې پېښي کال (۱۱۲۰هـ) ګڼلی او خافي خان مؤرخ وايي چي په (۱۱۱۹هـ) کال په هند کي د محمد اعظم شاه دربار ته د ګرګين د وژلو خبر ورسېد. ملسون د افغانستان په تاريخ کي (۱۷۰۹م = ۱۱۲۱هـ) کال ليکلی دئ او ميرزا محمد خليل صفوي (۱۱۲۲هـ) کال ښوولی دئ.

خو د پټې خزانې روايت تر ټولو مؤرخانو موثق او د باور وړ دئ، ځکه چي د پټې خزانې ليکونکي هغه پېښې پخپلو سترګو ليدلي او هم ئې مستقيماً له خپل پلار څخه روايت کړی دئ، چي په ۲۹ د ذيقعدة الحرام سنه (۱۱۱۹) هجري اولس ټول سول او د جنت مکان حاجي مير په مدد په کندهار ورننوتل او دښمنان ئې ټوله مړه کړل (پټه خزانه).

کندهار د جغرافي موقعيت له حيثه د ايران او هند د دوو شاهنشاهيو تر منځ ډېر

اهمیت درلود او هغه وخت چي ملي مجاهدینو د میرویس په مشري په کندهار کي د خپلواکۍ بیرغ ورپاوه، د هند تیموریه دربار د دې خبر په اورېدو وربېرېدېد او د پښتنو خپلواکي ئې د ځان له پاره لوی خطر وباله، دا ځکه چي د هند تیموري حکمداران د غوریانو او خلجیانو او لودیانو د امپراطوریو او برم د بېرته نوي کېدو څخه وبېرېدل، لکه صمصام الدوله او خافي خان چي لیکي:

هغه وخت چي د پښتنو د خپلواکۍ د اعلان خبر د هند تیموریه دربار ته ورسېد، نو په ښکاره ئې د مجبوریت په سبب د پښتنو خپلواکي تر یو ځایه په رسمیت وپېژندله، خو په پټه ئې د اصفهان د دربار سره مخابره او مفاهمه وکړه، چي د دې پېښي د مخنیوي په غرض چي د خافي خان په تصریح د دواړو هیوادو او اولسو له پاره د صایبي رایي مخالفه پېښه وه، ډېر ژر زیار وباسي (منتخب اللباب). خو حاجي میرویس چي د دوو قوي شاهنشاهیو تر منځ په خپل خطرناک موقعیت ښه پوهېدلی وو، په دریمه جرگه کي ئې د اولس مشران راغونډ کړل او وروسته تر هغه چي ئې د افغان اولس سیاسي موقف د دوو شرقي او غربي دولتو تر منځ وښووه او د دوی قوتونه ئې څرگند کړل نو وې ویل: "که زما سره یو سئ او زما ملا وتړی نو خپل د خپلواکۍ بیرغ به هسک وساتو او پرې به نه ږدو، چي بیا د پردیو د مریتوب کړۍ زموږ په غاړه کي ولوېږي. هغه کسان چي د پردیو مریتوب مني د هغو سره هیڅ اړه او خپلوي نه لرو او نور دي زموږ په هیواد کي نه اوسي".

ملي جرگې چي د ملي مشر وینا واورېدله نو ده ته ئې د موافقت لاس ورکی او ټینگه وعده ئې ورسره وکړه چي د خپل ژوند تر وروستۍ سوگلۍ پوري به د خپلي ملي خپلواکۍ او آزادۍ څخه دفاع کوي (تتمة البیان).

د گرگین او د هغه د ملگرو د وژلو خبر د گرجي لښکر د هغه بقیة السیف په واسطه اصفهان ته ورسېد، چي د گرگین د خوا د ښښین د سیمي د ترین د ټبر د مخنیوي له پاره هغې خوا ته تللی وو او د بېرته راگرزېدو په وخت کي میرویس شړلی او پارس ته تښتېدلی وو او هم پخپله میرویس صفوي پاچا ته لیک واستاوه او د افغان او فارس د جگړې د کتاب د مؤلف په قول په هغه لیک کي ئې لیکلی ول: "پاچا دي له تدبیره کار واخلي او کندهار ته دي لښکر نه رالېږي، ځکه ټوله پښتانه د دوی وژلو ته توري په لاس ولاړ دي او که مجبوره سي ښایي چي کندهار د ډهلي پاچا ته وسپاري، له دې سببه نو

صفوي پاچا باید د دې هیواد سیاسي موقع په نظر کي ونیسي". همدا شان ئې د ډهلي دربار ته لیک واستاوه او په هغه کي ئې د دواړو خواوو، د سني مذهب د درلودلو یادونه وکړه او طمع ئې ور پیدا کړه، چي که د هند دربار د ده مرسته وکي په راتلونکي وخت کي به د صفوي توابعو یوه برخه د اصفهان پر خلاف وپاروي.

مګر صفوي دربار وغوښته چي میرویس د تهدید او بېرولو له لاري د ځان تابع کړي، نو ځکه ئې میرویس ته یو استازی راوستاوه، چي د ملیسون په قول جاني خان او د سرجان مالکم او سید جمال الدین افغاني په قول محمد جامي خان نومېد. دې استازي له صفوي دربار څخه یو پیغام راوړی وو، چي د ایران پاچا د ګرګین وژل بخښي، خو میرویس باید اطاعت ته غاړه کښېږدي او صفوي لښکر کندهار ته پرېږدي او سربېره پر هغه نوموړي استازي افغاني زعیم د مقابل لوري له عظمت او شوکت او د دوی د کار د بدي خاتمې څخه وبېراوه، خو میرویس چي قوي زړه او ټینګ اعصاب درلودل، په ډېره مړانه ئې داسي جواب ورکړ: "ته فکر کوې، چي عقل او حکمت یوازي په ناز او نعمت کي لاس ته راځي او زموږ په غرو کي ئې اثر نسته. ستا پاچا که څه کولای سوای خپل کار ئې په زور پر مخ بېوه. دې بې فایدو خبرو ته اړ نه وو..." (سر جان ملکم).

میرویس امر وکی چي: هغه دروهلي صفوي استازی زندان ته بوزي او د ملیسون په قول په دې کار کي ئې دوه لوی مقصده درلوده، لومړی دا چي د ایران د دربار جواب ځنډ پیدا کړي، څو چي د لښکر تهیه کول او رالېږل هم وځنډېږي او بل دا چي د اصفهان دربار ته څرګنده سي، چي د افغاني خپلواکۍ بیرغ ټینګېدونکی نه دئ او د صفوي دربار تهدید او تطمیع د ده او نورو زړورو پښتنو پر روح څه اغېزه نه لري.

څنګه چي د لومړي سفیر را استول میرویس خان د آزادۍ غوښتني له ټینګ عزم څخه و نه ګرزاوه، نو د اصفهان درباریانو له یوې بلي وسیلې څخه کار واخیست او د هرات حکمران محمد خان بلوڅ ئې چي د میرویس پخوانی دوست او د حج په سفر کي هم ورسره وو، د سفارت په توګه کندهار ته واستاوه، څو چي په دوستانه ډول د افغان ملي مشر سره خبري وکي او د خپلواکۍ تود نغری په دوستانه نصیحتو سوړ کي، خو افغان مشر نوي استازي ته وویل:

"خدای ته شکر وباسه چي ستا د ملګرۍ حق مي سترګو ته درېږي او که دا نه وای نو تا به هم د نورو په شان پاداش لیدلی وای. زموږ د غرو آزاد خلک بیا د مړیتوب په

قيد کي نه سي لوېدلای. زړورو زمريانو زنځير شلولی دئ او له تېکو را ايستلي سوي توري بېرته په تېکو کي نه ايښوولي کېږي".

میرویس د دوستۍ د حق د احترام په اساس محمد خان په ښه عزت وساته او په دې وسیله ئې د اصفهان دربار ته ثرگنده کړه، چي دی او د ده قوم به خپله ملي خپلواکي بیا له لاسه و نه باسي او د میرویس د دې مېړني ثبات او خلل نه منونکي عزم په مقابل کي د اصفهان دربار د هرات حکمران ته چي د محمد خان پر ځای مقرر سوی وو، په (۱۱۲۲هـ = ۱۷۱۰م) کال امر وکړ، چي پر کندهار یرغل وکي، خو میرویس د پنځو زرو پښتنو سپرو سره د هغه مخه ونیوه او سخته لویه ماته ئې ورکړه.

په راتلونکو (۱۸) میاشتو کي د اصفهان له خوا څلور واره نور پر میرویس او د پښتنو پر آزادۍ غوښتونکو باندي لښکرکښۍ وسوې، خو ټوله بېرته ناکامه پر شا ولاړې او وروستی پلا پنځه زره تنه لښکر د تبرېز د حکمران محمد خان په مشرۍ دې خوا ته وگمارل سول، چي یوازي پنځو سوو پښتنو سپرو پر شا وشړل او تر زرو زیات کسان ئې په جنگ کي ووژل سول او تپیان ئې په ډگر کي پاته سول او پخپله حکمران هم د درو زامنو سره د پښتنو جنگیالیو په لاس کښېووت.

دې پرلپسې ماتو او ناکامیو د اصفهان دربار مجبوره کی، چي لویه لښکر کښي وکي، ډېر په قهر سو او خورا لوی خونخوار لښکر ئې را وويست او د دې لوی لښکر سالاري ئې د گرجستان د حکمران او وژل سوي گرگین وراره خسرو خان یا کیخسرو خان گرجي ته ورسپارله، چي د دربار له زبردستو کسانو څخه وو او دا د دې له پاره چي گوندي خسرو خان به د خپل اکا د خون اخیستلو په کسات د عصبیت د جوش له لاري کار پر مخ بوزي. هغه وو، چي خسرو د کندهار خوا ته پر مخ راغی او په فراه کي ئې واړول. په دې لویه لښکرکښۍ کي ئې د خراسان ټول امیران او د هرات حاکم او د کرمان حکمران علي قلي هم د خسرو ملگري ول.

میرویس په دې وخت کي د پټې خزانې د مؤلف پلار داود هوتک په فراه کي د پښتني قواوو سالار وټاکه، چي همهلته د خسرو سره ونښت، خو خسرو پر مخ راغی او میرویس د لږ قوت سره گرشک ته نژدې د هلمند پر غاړه تیار ناست وو. د خسرو لښکر د میرزا محمد خلیل په قول پنځوس زره سپاره او پلي ول، چي مجهزه توپخانه او خزانه هم ورسره وه او په دې کي (۱۲۰۰هـ) تنه خالص گرجیان ول، چي خاص د گرگین د خون

اخیستلو له پاره راغلي ول. بالمقابل پښتني ملي قواوي لږ وې، ځکه نو را پر شا سوې او د خسرو لښکر کندهار کلابند کی (۱۱۲۳هـ = ۱۷۱۲م).

کندهاریانو د ښار په ساتلو کي په ډېره مېړانه پښې ټینګي کړې او په هره حمله کي ئې صفوي لښکر پر شا وواهه. پخپله میرویس هم خپل قوتونه له سره نوي راغونډ کړل او د کندهار د جنوب له خوا ئې د بلوڅو د پښین د ترینو او نور قومونه د وطن د ساتني له پاره راوپارول او د خسرو پر لښکر ئې یرغل وکی او د ذخیرو د رارسېدو لاره ئې پر وتړله، خسرو چي خپل نیم لښکر په دې اخ و ډب کي بایللی وو، وې غوښته چي بېرته پارس ته وتښتي، خو میرویس د خپلو (۱٦) زرو تنو سره پر هغه یرغل وکی او د جان مالکم په قول د صفوي تېري کوونکو له (۲۵) زرو تنو څخه یوازي پنځو سوو تر اوو سوو تنو پوري له مړیني ځان وژغورلای سو.

خسرو خان هم په جګړه کي د خپل اکا په سرنوشت اخته او ووژل سو او سر ئې د کندهار د کلا په پښو کي کښېښووه او دا د ۱۱۲۳هـ کال د روژې پر ۲۸ (او د مجمع التواریخ په قول په ۱۱۲۴هـ کي) پېښه سوه. تر دې خونړۍ جګړې وروسته چي کندهاري ننګیالیو صفوي تېري کوونکي ټول ووژل، د اصفهان دربار یو بل لوی مدهش لښکر د محمد رستم خان په قوماندانی کندهار ته راواستاوه، خو څنګه چي د ملي مشر موټ او بازو د اولس په اتفاق او مرسته ډېر سخت غښتلی وو، نو ځکه دې لښکر هم څه کار پر مخ نه بوت او مات سو او رستم د دې له پاره چي د خپلو اسلافو په سرنوشت اخته نه سي بېرته پارس ته پر شا سو (۱۱۲٦هـ = ۱۷۱۴م).

همدارنګه محمدزمان قورچي باشي هم له اصفهانه د لوی لښکر سره کندهار ته راواستول سو، چي دا سړی د میرزا خلیل په قول د بسطام په سیمه کي آخرت ته د مرګ په سفر ولاړ. څنګه چي په دې وخت کي د هرات ملیون هم (لکه چي وویل سوه) د ابدالي امیرانو په مشرتوب د متجاوزو صفویانو سره مقاومت کاوه، ځکه نو تر هغه وروسته کندهار ته د صفوي لښکر را استول ممکن نه سول او میرویس هم په کندهار کي د ښه واک خاوند او غښتلی ملي مشر سو، چي خلکو ورته د (بابا) لقب ور کی.

ده په دې وخت کي د ډهلي د دربار سره خپل سیاسي روابط ډېر ښه ساتل او (د کندهار ملي دولت) ئې هغه دربار ته په رسمیت معرفي کړی وو او په پای کي ئې د سیاسي دوستانه روابطو د لا ټینګښت له پاره خپل ورور حاجي امکو د سفیر په حیث د

هند د تیموري پاچا فرخ سیر دربار ډهلي ته واستاوه او د هغه په لاس ئې دوستانه سوغاتونه ورولېږل. د ډهلي دربار هم د کندهار ملي حکمران په رسمیت وپېژاند او د (حاجي امیر خاني) خطاب ئې د توري او پیل د سوغاتو سره د میرویس ملي دربار ته راواستاوه، (مجمع التواریخ) چي په دې سیاسي وسیله میرویس د خپل هیواد د لمر خاته خوا څخه تر یو څه حده ډاډه سو.

د میرویس د حکمرانۍ حدود له فراه او شینډنډ (سبزوار) او سیستان څخه نیولې تر پښین او د سلېمان د غره تر لمنو او شمالاً تر غزني پوري رسېدل او پر ابدالي او غلجي قبیلو ئې په مساوي توګه حکومت کاوه او بلوڅانو هم ورسره مرسته او ملګري کوله. ده د شاهۍ لقب و نه مانه او په هغه جرګه کي چي د کندهار قومو د ده د سترو خدمتو د تقدیرولو له پاره ئې دی پخپله پاچهي مانه، ده خلکو ته وویل: "ما د دې لهپاره ستاسي خدمت نه دئ کړی چي پاچاهي وکم، یا د پاچهۍ پر تخت کښېنم او خولۍ کږه کښېږدم.

زه په دې ښه نه ابسم، چي پر تاسي پاچهي وکم، بلکي په دې ښه ابسم، چي ستاسي خدمتګاري وکم. ماته همدا بس ده، چي اولس راته (بابا) ووایي، نور نو نه جواهر غواړم او نه سره او سپین زر.

زما همدا بس دي چي ستاسي خدمت وکم او تاسي د خپلو زامنو په څېر وروزم.
زما پاچهي د لاسه نه کېږي. زه ستاسي کوچنی خادم یم!"
د ده د دې خبرو مطلب د دري ژبي یو شاعر داسي منظوم کړی دی:

نه خدمت نمودم که شاهی کنم	بتخت شهي کج کلاهی کنم
نزیبد مرا شاهی و سروری	سر افرازم از افسر چاکری
مرا بس که گویند قومم "پدر"	ندارم طمع گوهر و سیم و زر
همین افسرم به که خدمت کنم	شما را چو فرزند خود پرورم
نه دیهیم شاهی بود در خورم	شما را همی کمترک چاکرم

میرویس یو ځیرک او پوه او دپلومات سړی وو. د ګاونډیانو په سیاسي اوضاع ښه پوه او په صفوي دربار ښه خبر وو. د حکمدارۍ په دود او دستور ښه پوهېد. اته کاله ئې د یو مشر بابا په حیث د خپل اولس مشرتوب وکی. خلک ئې راضي وساتل او په هره موقع کي ئې د خلکو په درد خوړل او د مهربان پلار په څېر ئې وروزل.

په کندهار کي تر اوسه خلک ورته (بابا) وايي او د يوه بزرگ قطب په شان د ده د مزار زيارت کوي او د ځينو نارغيو له پاره د ده د مزار خاوره شفا بولي. وايي چي، دې نوميالي مشر جگه ونه، قوي اندامونه او سپينه اوږده ږيره درلوده. پر سر ئې ورېښتان نه ول. سپين پرتوگ او سپين کميس ئې اغوستل او يو پټو ئې درلود، چي د کليو په ملي جرگو کي به ئې پر مځکه د خلکو په منځ کي غوړاوه او د کليوالو په څېر به پر هغه کښېنوست او نور به ئې هم پر خپل پټو کښېنول او ملي پېښي او قضايا به ئې د خپل صايب فکر په مرسته حل کول او خلک به ئې د يو بل سره دوستۍ، ښېگڼي، همدردۍ او مرستي ته بلل.

ميرويس د خپلو وطنخواهانه مجاهداتو په پای کي د افغاني سلطنت او ملي عظمت مړه ډېوه بيا په کندهار کي بله کړه او د خپلواکۍ او آزادۍ هېر سوی درس ئې د خپلو خلکو غوږو ته ورساوه او د (۱۱۲۷هـ کال د ذيحجة الحرام پر ۲۸ نېټه) له دې دنيا لاړ او د افغان په تاريخ کي ئې د تل له پاره نېک او ښه نوم پرېښوو. دی د کندهار د ښار لمر لوېدو خواته د کوکران په کلي کي د لوی سړک پر غاړه ښخ او دا بيت ئې پر مزار ليکلی دئ:

بر سر مرقد ما چون گذری همت خواه
که زيارتگه مردان جهان خـواهد بود
(۷۶ – ۷۷ عکس)

له ميرويس څخه دوه زامن پاته سول. يو محمود چي د پلار د مړيني پر وخت ۱۸ کلن وو او بل حسين چي ۱۴ کلن وو.

د ميرويس تر مړيني وروسته ئې ورور پر ځای کښېنوست، چي د مليسون او جان مالکم او سيد جمال الدين په قول (عبدالله) او د ده د معاصرينو لکه جهانکشای نادري او مجمع التواريخ او پټه خزانه او همدا رنگه د سلطان محمد او شېرمحمد او روضة الصفای ناصري او انسکلوپيدي اسلامي په موثوق قول (عبدالعزيز) نومېد. دې سړي د خپل ستر ورور په شان لوړ همت نه درلود او په مجردي چي واکمن سو، ملي جرگه ئې راوبلله او خلکو ته ئې د صفويانو د اطاعت منل پېشنهاد کړل. ملي جرگې دې جوغ ته غاړه کښې نه ښووه، خو عبدالعزيز د اصفهان دربار ته استازی ولېږه او په درې شرطه ئې د اصفهان د دربار اطاعت ومانه:



حاجي میرویس خان
۷٦-لمبر عکس



د کندهار په کوهکران کي د میرویس نیکه مزار
۷۷-لمبر عکس

لومړی د هغه باج او خراج معافول چي د ګرګین په وختو کي اخیستل کېده.

دوهم کندهار ته د صفوي لښکر نه راتګ.

دریم د عبدالعزیز په اولاده کي د پاچهۍ دوام.

څنګه چي پښتانه ملي خلک د عبدالعزیز په دې ناوړه وضعیت خبر سول، د دوی ځلوېښتو زړو مشرانو د میرویس د مشر زوی محمود سره لاسونه یو کړل، څو چي ئې عبدالعزیز آخرت ته واستاوه.

خو په پټه خزانه کي لیکل سوي دي چي:

"میر عبدالعزیز چي د حاجي میر خان ورور وو، پس له مرګه د ورور په کندهار کي مشر سو، خو د اولس رعایت ئې کم کا، څو چي په (۱۱۲۹) سنه هجري د شپې د نارنج له قصره له بامه خطا سو او راولوېد، مړ سو" (پټه خزانه– ۱۰۹ مخ).

ملیسون د دې پېښي نېټه د (۱۷۱٦م) کال مارچ لیکي، چي د همهغه (۱۱۲۹هـ) کال سره برابره ده.

په هر صورت د کندهار ملي خلکو دا پردی پرسته سړی د مکافات پړاو ته واستاوه او پرې ئې نه ښوو، چي خپله ملي خپلواکي چي د زړو پښتنو زلمیانو په وینو اخیستل سوې وه، له لاسه وباسي او د عبدالعزیز تر مړني وروسته ئې د میرویس مشر زوی چي محمود نومېد، خپل مشر وټاکه او محمود تر (۱۱۳۴هـ =۱۷۲۱م) کال پوري د کندهار د پاچا په حیث حکمراني وکړه، خو څنګه چي د پلار په شان ئې لوړ همت درلود، نو د ملي حکومت د پراختیا په فکر کي سو او په همهغه کال ئې د فراه او سیستان له لاري پر کرمان یرغل وکی او د هغه ځای د حاکم (لطف علي) سره تر روغي وروسته بیرته کندهار ته راغی، خو آرام نه کښېنوست او بیا ئې په همهغه (۱۱۳۴هـ) کال په کندهار کي ملي تازه دمه قواوي راغونډي کړې او د صفوي دولت پر پایتخت اصفهان ئې حمله وکړه او هغه ښار ئې کلابند کی او تر اتو میاشتو کلابندۍ وروسته د صفوي کورنۍ وروستي پاچا شاه حسین د ایران تاج او تخت محمود ته وسپاره او پایتخت ئې د پښتنو بریالي لښکر ته پرېښوو.

شاه محمود د ایران فاتح د اصفهان تر نیولو وروسته د خپلي شهنشاهۍ په وختو کي د خپلو لویو سپه سالارانو لکه سیدال خان ناصر، پیر محمد میاجي، محمد خان او عبدالله خان بلوڅ په واسطه لویي لښکرکښۍ وکړې، څو چي تر دوه نیمو کالو پاچهۍ

وروسته د (۱۱۳۷هـ = ۱۷۲۵م) کال د برات په ۱۲ شپه په اصفهان کې د دماغي خلل د ناروغۍ په سبب د (۲۷) کالو په عمر ووژل سو او دا د سلطان محمد او شېرمحمد او د مأثر الامراء او رضة الصفای ناصري قول دئ، خو سید جمال الدین او ملیسون د ده د وژلو نېټه (۱۷۲۵م = ۱۱۳۸هـ) کال لیکلی دئ.

د اصفهان د فاتح شاه محمود تر وژلو وروسته د میرویس وراره د عبدالعزیز زوی شاه اشرف په اصفهان کې د افغاني سلطنت پر تخت کښېنوست او د هغې زېرکۍ په اثر چې ئې درلوده د سلطنت چارې ئې په ډېره ښه او سمه توگه اداره کړې او سیدال خان ناصر ئې بیا د افغاني لښکرو سپه سالار وټاکه او هري خواته ئې لښکرکښۍ او فتوحات وکړل. د ده د وخت له مهمو پېښنو څخه یو هم د بغداد د والي احمد پاشا لښکرکښي وه، چې د شاه اشرف د جلوس په دریم کال د (۱۱۳۹هـ کال د برات له ۱۲ څخه د ۱۱۴۰هـ = ۱۷۲۷م کال تر منځ) وسوه او شاه اشرف پخپل لښکر ترکان مات کړل، خو نور ئې پښتانه نه پرېښووه چې د ترکانو سره ونښلي، دا ځکه چې شاه اشرف نه غوښته د ترکانو او پښتنو تر منځ زیات مرگ او ژوبله وسي. هغه وو، چې د شاه اشرف د ښه سیاست په اثر دا پېښه تر (۹) میاشتو وروسته په روغه او صفا تصفیه سوه او د ده د جلوس په پنځم کال (۱۱۴۲هـ = ۱۷۲۹م) د عثماني خلیفه دریم سلطان احمد خان له خوا راشد پاشا د سفیر په ډول د شاه اشرف دربار اصفهان ته راغی او هم له افغاني درباره محمد علي خان بلوڅ د ایلچي په حیث عثماني دربار ته ولاړ او په دې توگه د افغاني او عثماني دولتو تر منځ ښه روابط ټینگ سول.

تر هغه وروسته شاه اشرف د ایران له شمال څخه د روسي قواوو د تېري مخه هم ونیوه، خو په داخل کې د نادر افشار غوندي بډه (حریف) سره مخامخ سو او د افغاني قوت رسۍ سره وشلېدله، دا ځکه چې له کندهاره چې د هوتکي پاچهۍ مرکز وو، هم په ایران کې افغاني لښکرو ته مرسته و نه رسېدله او له همدې سببه اشرف څو ځایه ماته وکړه او تر پنځو کالو او (۷) میاشتو پاچهۍ وروسته له ایرانه را پر شاسو او د هلمند پر غاړه د گرمسېر د ملخان کلا ته راغی او له هغه ځایه ئې د کښته ښوراوک زرد کوه ته پناه یووړه او همهلته د عبدالله خان بلوڅ د زوی ابراهیم نامي له لاسه ووژل سو او دا پېښه د (۱۱۴۲هـ = ۱۷۲۹م) په پای کې وه.

خو په کندهار کې چې د هوتکو د پاچهۍ مرکز وو، تر (۱۱۳۵هـ) کال وروسته چې

شاه محمود اصفهان ونیو د ده کشر ورور شاه حسین حکومت کاوه. دی عالم او ادیب او ادب پالونکی پاچا وو. د ده د پاچهۍ وخت په کندهار کې په آرامۍ او هوسایۍ تېر سو او د پټې خزانې په قولو چې د ده په دربار کې لیکلې سوې، د ده امر له هراته او فراه او شین ډنډ (سبزوار) څخه نیولې تر غزني او گومل پورې چلیدی او هم ئې د شال (کوټې) او پښین سیمې د پنجاب د حدودو تر دېرۀ اسماعیل خان او دېرۀ غازي خان پورې ونیولې او همدا رنگه د کندهار د قواوو له خوا د ملتان صوبه تر تهدید لاندې ونیوله سوه او د افغاني قواوو پرمختگ تر ملتانه ورسېد. په دې وخت کې د هوتکو شهنشاهي د اوسني بلوچستان په شمول د دجلې له غاړو څخه تر ملتان پورې رسېدلې وه، چې په لمر لوېده خوا ته شاه محمود او شاه اشرف او لمر خاته پلو ته شاه حسین حکومت کاوه.
د شاه حسین د پاچهۍ آرامي دورې تر (۱۱۴۹هـ = ۱۷۳۶م) پورې دوام درلود او د همدې کال د درجب په (۱۷) وو، چې نادر افشار د افغانستان د سیمو د نیولو په غرض لښکر راویوست، ځکه چې ده په پارس او گرجستان کې د افغاني قواو پایځوړ سره تیت او پرک کړی وو او دا وخت ئې نو بې د کندهار د هوتکي دولت له ماتولو څخه بل کار نه درلود. هغه وو چې نادر شاه د کوچني اختر د میاشتې په دوهمه له سیستانه راتېر سو او د شوال پر ۱۸ د دلخک او دلارام له لارې د هلمند پر غاړه د گرشک کلا ته راورسېد او د هغه ځای تر نیولو وروسته د کوچني اختر د میاشتې پر (۲۱) له هلمنده راپوریوت او د (۱۱۴۹هـ = ۱۷۳۶م) کال د ذیقعدې د میاشتې په سر کې د کندهار ټینگه کلا، چې هوتکي پایتخت وو، کلابنده کړه.

د کندهار زلمي مدافع شاه حسین د نامتو سپه سالار سیدال خان ناصر په ملاتړ او ملگرۍ تر یوه کاله او څو میاشتو پورې د کندهار له ښاره په ډېره مړانه دفاع وکړه او نادر شاه ئې پرې نه ښوو، چې سره د خپل ډېر غښتلي نظامي قوته یې هم کندهار ونیسي.

د (۱۱۵۰هـ = ۱۷۳۷م) کال د ذیحجې د میاشتې په سر کې د شاه حسین نظامي مقاومت پای ته ورسېد، ځکه چې تر هغه دمه لا د ده زړور سپه سالار سیدال خان ناصر د ده د زوی محمد نامي سره د کلات په کلا کې د نادر افشار لاس ته ورغلی وو او سیدال د نادر په امر ړوند کړه سوی وو.

له دې جهته نو شاه حسین نادرشاه ته تسلیم سو او د کندهار د سقوطه سره د هوتکو د شاهنشاهۍ ستوری هم ولوېد او ټول افغانستان د نادر افشار لاس ته ورغی

او د سلطان محمد په قول شاه حسین تر ۱۵ کاله پاچهي وروسته د نادر په امر مازندران ته فرار کړه سو او همهلته د ۱۱۴۹هـ کال (باید ۱۱۵۱هـ = ۱۷۳۸م وي) د برات دمیاشتي پر لسمه دنادري قهر په زهرو له دنیا ولاړ. (۷۸-۷۹-۸۰ لمبر عکس).

د افغانستان په تاریخ کي د هوتکو د حکمرانۍ دېرش کلنۍ دوره د داخلي نهضت او د خپلواکۍ غوښتني د احساس د جوش له حیثه خورا مهمه دوره ده، ځکه چي په دغه دوره کي څو واره پرله پسې په کندهار کي د داخلي او ملي حکومت بنسټ کښېښوده سو، چي وروسته بیا احمدشاه بابا پر هغه بنسټ د افغاني سلطنت ماڼۍ ودانه کړه. دې دورې پښتون اولس دنیا ته په زړورتوب وپېژاند. پخپله میرویس غښتلی او منلی محبوب شخصیت درلود او د پوهي او پښتني روزني په غېږ کي پالل سوی وو. مور ئې نازو د سلطان ملخي لور عالمه او شاعره مېرمن وه، چي پټه خزانه د دې او د میرویس خان د لور "زینبي" پښتو شعرونه راوړي.

سربېره پر هغه د هوتکو په دوره کي ډېر ادیبان او د توري او قلم خاوندان ول، لکه سیدال خان ناصر ستر پښتون سپه سالار او بهادر خان او پیرمحمد میاجي او داودخان چي د هغې دورې، هم جنگیالي سالاران او هم پوهیالي عالمان او شاعران ول. د هوتکو په وخت کي د پټې خزانې کتاب د پښتو د لرغونیو او معاصرو شاعرانو د ژوند د حالاتو په باب کي د شاه حسین د دربار د منشي محمد هوتک په قلم ولیکل سو او همدا رنګه ملا باز محمد توخی او ملا یار محمد هوتک (د ارکان خمسه مؤلف) او ملا یونس توخی او ملا اکبر (په پښتو کي د جامع الفرایض مؤلف) او ملا زعفران توخی (د سلطان په قول تره کی او د امیر عبدالرحمٰن په قول توخی) د شاه حسین وزیر او د "ګلدستۀ زعفراني" مؤلف، او الله یار اپریدی د پښتو شاعر او د دېوان خاوند او رېدی خان (د شاه محمود هوتک د فتوحاتو په باب کي په پښتو ژبه د محمود نامې ناظم) او ملا عادل (په پښتو د محاسن الصلوة مؤلف) او ملا نورمحمد (په پښتو د نافع المسلمین مؤلف) د هوتکي عصر شاعران او مؤلفان ول.

شاه حسین د کندهار د ښار د نارنج په شاهي ماڼۍ کي، چي کندهوالي ئې تر اوسه سته ادبي جرګې درلودلې، عالمان او ژبور ادیبان ئې پالل، میا عبدالحکیم کاکړ (مشهور په نانا صاحب چي د اوسني بلوچستان په چټیالۍ کي ښخ دئ) د همدې عصر له نومیالیو روحانیونو او صوفیانو څخه وو، چي په نقشبندیه طریقه کي د خپل وخت له اقطابو څخه ګڼل کېږي.

شاه محمود هوتک

۷۸ -لمبر عکس

شاه اشرف هوتک
۷۹ - لمبر عکس



شاه حسين هوتک

۸۰ –لمبر عکس

هوتکیان:

۱- میرویس خان د ښالم خان زوی (۱۱۱۹ - ۱۱۲۷هـ)

۲- عبدالعزیز د ښالم خان زوی (۱۱۲۷ - ۱۱۲۹هـ)

۳- *شاه محمود د میرویس زوی (۱۱۲۹ - ۱۱۳۷هـ)

۴- *شاه اشرف د عبدالعزیز زوی (۱۱۳۷ - ۱۱۴۲هـ)

۵- *شاه حسین د میرویس زوی (۱۱۳۵ - ۱۱۵۰هـ)

مأخذونه:

مخزن افغاني-تذکرة الابرار-جغرافیای تاریخی ایران-معجم البلدان-طبقات ناصري-حیات افغاني-مأثر الامراء-منتخب اللباب ۲ ټوک-تاریخ افغانستان د ملیسون تالیف-تتمة البیان-سر جان مالکم-پټه خزانه-روضة الصفای ناصری-تاریخ افغانستان د علي قلي میرزا-تاریخ نظامي ایران لومړی ټوک-تاریخ ایران د سرپرسي سایک-نادر نامه (قلمي)-سیر المتأخرین-مجمع التواریخ-میرویس بابا د کابل چاپ-تاریخ کرمان-خورشید جهان-تاریخ سلطاني-صولت افغاني-د صفویانو سقوط او پر پاریس باندي د افغانانو سلطه د لوکهارت انګلیسي تالیف ۱۹۵۸م-د محمد علي حزین د احوال تذکره-بدایع الوقایع.

سدوزيان

(۱۱٦۰–۱۲۵۸هـ)

دمخه مو وويل چې نادر شاه د امام قلي زوی (جلوس ۱۱۴۸هـ = ۱۷۳۵م) له ایرانه د هوتکو د پاچهۍ کمبله ټوله کړه او هم ئې په هرات کې د ابداليانو حکمراني له منځه يووړه او په تېره بيا د کندهار په نيولو ئې د هوتکو پاچهي بېخي ختمه کړه.

نادر شاه د کندهار د زاړه ښار د کلابندۍ په وخت کې د کندهار د اوسني ښار د جنوب خوا ته په نمناکو مځکو کې د "نادر آباد" په نامه يو ښار ودان کی او په هغه کې ئې په (۱۱۵۰هـ = ۱۷۳۷م) کل پخپل نامه سکه ووهله او زوړ ښار ئې تر نيولو وروسته ونړاوه، چې تر اوسه پر همهغه وران حال پاته دئ. نادر په همهغه کال د افغانستان شمالي ولايتونه له بدخشانه تر بلخ او ميمنې او د آمو تر سينده د خپل زوی رضاقلي په واسطه ونيول او د کندهار تر نيولو وروسته ئې د سلطان محمود او بابر سياست وچلاوه او د افغاني مشرانو سره ئې نرمه رويه راواخيسته. عبدالغني خان الکوزی ئې د هرات د ابداليو قبيلو د مشر په حيث وپېژاند او پيرمحمد خان هروي ته ئې د بلوڅو او خاران حکومت ورکی او حاجي اسماعيل الکوزی ئې د هرات د اسفزار حاکم وټاکه او اشرف خان غلجي ته ئې د کلات حکومت وسپاره.

ده نژدې څلويښتو زرو ته پښتانه زړور سپايان د نورمحمد خان علي زي په مشري چې لقب ئې "مير افغان" وو، پخپل لښکر کې واخيستل او د سياسي زيرکۍ په سبب ئې پر خپلو افغاني عسکرو بشپړ باور او اعتماد وکی. نادر شاه د زمان خان ابدالي زوی احمد خان او ذوالفقار خان چې په کندهار کې د شاه حسين هوتک په امر بنديان ول، ونازول او په مازندران کې ئې جاگير او تنخا ورته وټاکله (۱۱۵۱هـ = ۱۷۳۸).

نادر شاه بې ځنده د کابل خواته رهي سو. د غلجو کلات ئې ونيو او خپل لښکر ئې غزني او کابل ته واستاوه. په دې وخت کې د کابل حکمران د ډهلي د دربار له خوا ناصر خان يو غښتلی، زړور او د خلکو خوښ سړی وو، خو څنگه چې ئې د ډهلي د دربار

له خوا ملاتړ نه کېدی او حتی د ده تنخا ئې هم نه ورکوله، ځکه نو د ده د مقاومت قوت لږ وو. سره له هغه ناصر خان د شرزه خان او نورو افغاني قبیلو په مرسته له کابل څخه دفاع کوله او رحیمداد خان کوتوال په ښار کي کلابند وو، ځو چي په پای کي نادر شاه د کابل د ښار کلاوي وراني کړې او وې نیولې (۱۱۵۱هـ) او همدا رنګه د نادر زوی د بامیان او ضحاک او د هندوکش د لمنو د نورو کلاوو نیولو ته مخه کړه او د کابل او پېښور د لاري خانان عباس خان او سعد الله خان هم د نادر له خوا ونیول سول، خو ناصر خان د کابل او پېښور تر منځ پښتانه قبایل د نادر په مقابل کي جنګ ته چمتو کړل او د نادر د زوی شهزاده نصرالله د لښکر سره ونښت. ناصر خان په یوه جګړه کي ټپي او ګرفتار سو، خو نادر شاه هغه بیا له خپلي خوا د کابل او پېښور په حکمرانۍ وګوماره او پخپله ده د اېران او افغان د تازه دمه لښکر سره پېښور ونیو او بیا تر لاهور او ډهلي پوري پر مخ ولاړ (۱۱۵۲هـ = ۱۷۳۹م).

نادر شاه د ډهلي تر قتل عام او چور او چپاو وروسته د انګرېزي اووه اتیانیم ملیونو پونډو په اندازه ثروت او جواهر او د شاه جهاني تخت طاوس سره پېښور ته راستون سو (۱۱۵۲هـ) او چي تر اټک راپوري ووت، د یوسفزو سره ونښت او په ډېر تلوار د خیبر تر درې راتېر سوو، ځو چي تر کابل پوري سیمي ئې تصفیه کړې. تر هغه وروسته د کابل له جنوبي لاري د کورم او بنګښ او دېره جاتو او سند خوا ته ولاړ او د سند د سیند ټولي لمر لوېده خوا ته مځکي ئې ونیولې او د بولان د درې له لاري کندهار او هرات ته ولاړ او په (۱۱۵۳هـ) کال ئې د خپلو فتوحاتو جشن چي له ماوراء النهر او خوارزم څخه نیولې د سند تر سینده او د دجله او فرات او سیحون پوري رسېدل، په مشهد کي جوړ کی او د (۱۱۵۴هـ = ۱۷۴۱م) کال په شاوخوا کي ئې احمد خان ابدالي له مازندران څخه راوغوښت او د ابدالي لښکر په مشرۍ ئې خپل همرکاب وټاکه. احمد خان شپږ کاله د نادر شاه سره په حضر او سفر کي د جهاندارۍ په چارو کي تجربه وکړه او داغستان او ایروان ته ئې د نادر شاه په جنګي سفرو کي خپل جنګي رشادتونه وښوول او تر دې حده ئې د نادر خاصه توجه ځانه ته واړوله چي نادر شاه به تر ځان وروسته پر ده باندي د پاچهۍ د مقام د نیوو زیری کاوه.

نادرشاه تر زیاتو فتوحاتو وروسته د مزاج د اوښتلو په سبب له طبیعي حد څخه ووت او د خپلو شاوخوا خلکو په وینو تویولو او وژلو ئې لاس پوري کی، ځو چي د ده

خپل نژدې درباري خلک ځني وبېربېدل او د (۱۱۶۰هـ = ۱۷۴۷م) کال د دريمي خور (جمادي الاخرى) پر ۱۱ د يکشنبې په شپه د خبوشان په فتح آباد کي د محمد خان قجر او موسىٰ افشار او خواجه بېگ افشار او صالح قرقوي له خواد نورو اويا تنو درباريانو په اتفاق ووژل سو.

نادر افشار يو زړور، هوښيار او خونکار سړی وو. د ده سياست په افغانستان کي د قهر او ناز سره ګډ وو. ده د هرات د ابداليانو ملي مشرتوب له بېخه ويوست او بيا ئې په کندهار کي د هوتکو پاچهي هم له منځه يووړه او د دې دواړو ټبرو مشران چي په افغانستان کي ئې د خپلواکۍ بيرغ جګ ساته، د ده له لاسه ژوبل او برباد سول، خو د دې قهر او ناز غضب سره، سره ئې په ټول افغانستان کي د نومو‌ړو قبيلو د پاته مشرانو سره جوړ سو او هغه ئې ونازول او ډېر پښتانه زړور زلميان ئې په خپل لښکر کي د افغاني سالارانو په قيادت واخيستل او هغه ئې وپالل.

که له يوې خوا نادر شاه د پښتنو ملي حکومت په هرات او کندهار کي له پښو واچاوه او د کندهار د زاړه ښار کنډوالې تر اوسه د ده د وران کاريو شاهدي دي، نو له بلي خوا د احمد خان ابدالي غوندي مېړه پالنه به چي وروسته ئې په کندهار کي بيا د پښتنو د لويي پاچهۍ خښته کښېښووه، هم د ده د ښو يادګارو څخه وګڼل سي.

په هر حال، د نادر شاه تر وژلو وروسته احمد خان ابدالي او نورمحمد خان عليزي مير افغان د پښتنو او اوزبکو سپايانو په مرسته د نادر شاه حرم د ياغي لښکريانو له چور او چپاو څخه وژغوره، چي د دې خدمت په بدل کي د نادر شاه د حرم له خوا د "کوه نور" مشهور الماس چي په هند کي له لوديانو پښتنو څخه بابر او د هغه کورنۍ ته پاته سوی وو او د ډهلي تر نيولو وروسته د نادر شاه لاس ته ورغلی وو، ورکړه سو او ټولو پښتني قواوو هرات ته مخه وکړه او د (۱۱۶۰هـ = ۱۷۴۷م) کال د رجب په مياشت کندهار ته ورسېدل او د دوی د رسېدو سره سمدستي پښتنو مشرانو د نادرآباد نوي کلا ته نژدې د شيرسرخ پر هديره باندي ملي جرګه جوړه کړه ، چي په هغه کي د پښتنو د ځينو مشهورو قبيلو مشرانو لکه نورمحمد خان ميرافغان د عليزو مشر، او محبت خان د پوپلزو مشر او موسىٰ خان د ساګزو مشر او نصرالله خان د نورزو مشر او حاجي جمال خان د بارکزو مشر ګډون کړی وو.

دې ملي جرګې له شوره ډکي اته غونډې وکړې او په دې غونډو کي د قبيلو

مشرانو و نه سو کولای چي يو د بل حکمراني پر ځان ومني. نورمحمد خان ميرافغان عليزي د مشرتوب او تجربې او نفوذ له حيثه د دې کار وړ ښکارېده، څنګه چي د تند مزاج خاوند وو، و نه ټاکل سو. دوهم سړی چي حاجي جمال وو، هم دوني پوخ، متين او د نفوذ څښتن وو، چي نورو مشرانو د ده د راتلونکي استبداد، قدرت او استيلا څخه په زړو کي تشويش درلود او ټولو خلکو د پاچهۍ د مقام له پاره داسي سړی لټاوه، چي د پښتني آزاد مزاج او د ملي ديموکراسۍ او قوي جرګې د اصولو سره ئې سمون درلودای او په راتلونکي وخت کي ئې پر دوی په استبداد او زور حکومت نه کولای او په عين زمان کي د غښتلي او قوي قبيلې خاوند هم نه وای.

د دې لويي تاريخي جرګې په نهمه غونډه کي د ټولو خلکو سترګي احمد خان ابدالي ته واوښتلې، چي ۲۵ کلن خليق، حليم، تجربه لرونکی او ازمويلی سوی زلمی وو او هم ئې قبيله کوچنۍ او (سدوزي) ډېر لږ ول او پښتنو مشرانو دا باور درلود چي دا کشر زلمی پر دوی په استبداد او شدت حکومت نه سي کولای، ځکه ئې نو دی په پاچهۍ ومانه او د دې ښه انتخاب په سبب ئې د پښتنو له لاسه وتلی لرغونی برم او عظمت بيا راژوندی کی.

په دې وخت کي صابر شاه نومي يو ملنګ د استاد لايخوار کابلي زوی، چي د ښېر سرخ په هديره کي اوسېد د خپلي کوډلي را و ووت او هديرې ته نژدې له کښت څخه ئې ځو ووږي پرې کړل او د دې نوي انتخاب سوي زلمي پاچا په بګړۍ کي د پاچهۍ د "خول" په توګه وټومبل او دا د (۱۱۶۰هـ = ۱۷۴۷م) کال د رجب په مياشت کي پېښه سوه (جولای ۱۷۴۷م). احمد شاه ابدالي د هرات د حکمران زمانخان (چي دمخه ئې يادونه وسوه) زوی، په خټه ابدالي سدوزی په (۱۱۳۵هـ = ۱۷۲۲م) کال د زرغونې نومي مېرمني له نسه چي په خټه الکوزۍ وه، په ملتان يا هرات کي وزېږېد او سره له دې چي د سن له مخي کشر وو، خو د خپل سلطنت په وختو کي ئې افغانستان ته لوی خدمت وکی، چي په همدې سبب د افغانستان خلکو ورته د "بابا" لقب ورکی.

خو ده په خپل مهر کي چي طاوسي شکل ئې درلود دا جمله کيندلې وه "الحکم الله يافتاح- احمد شاه در دران" د (دراني) کلمه که څه هم پخوا په تاريخو کي په شاذ ډول استعمالېدله، خو تر هغه وروسته ئې ښخي د (ابدالي) کلمې ځای ونيو او تر اوسه ټول ابداليان ځانونه (دراني) بولي.

احمد شاه په افغانستان کي اداري او لښکري او مالي او مدني تشکيلات تاسيس کړل او وزيران ئې وټاکل، چي اشرف الوزراء بېگي خان باميزی مشهوره په شاه ولي خان د ده وزير اعظم وو او په يکشنبه د ربيع الثاني په لومړۍ ورځ (۱۱۶۸هـ = ۱۷۵۳م) کال ئې د (احمد شاهي ښار) په نامه د کندهار د اوسني ښار بنسټ کښېښوو او په (۱۱۶۶هـ) کال ئې د کابل جنگي حصار ودان کی او هم ئې د هندوکش په شمال کي د تاشقرغان ښا ر جوړ کی (۱۱۸۲هـ) او په کندهار او مشهد او اټک او ډهلي او روهليکنډ او پېښور او ټټه او ډېره غازي خان او کشمير او کابل او ملتان او هرات کي ئې پخپل نامه سکه ووهله او د ده د سرو زرو او سپينو زرو او مسو پر سکو د احمد شاهي دولت رسمي نښان دوې څوکي لرونکې توره او د غنمو وږی او ستوری کيندل سوی وو او پر ځينو سکو دا بيت هم وو:

حاکم شد از قادر بيچون باحمد پادشاه
سکه زن بر سيم وزر از پشت ماهی تا بماه

احمدشاه په اوسطه توگه يو لک عسکر ساتل او له پنجاب او کشمير او سنده نيولې د آمو تر سيند او مشهد او بحيره عرب پوري د ده د هيواد ټول عايدات (۳۱) مليونه روپو ته رسېدل، خو جنگي اولجې او خزانې او نور زيات ثروتونه چي د هند په جگړو کي لاس ته ورتله، له دې حسابه مستثنٰی دي.

احمد شاه بابا د خپلي پاچهۍ په وختو کي دا جنگي سفرونه کړي دي:

د احمد شاه بابا جگړئيز سفرونه:

۱- د (۱۱۶۰هـ = ۱۷۴۷م) کال په پای کي ئې غزني او کابل او پېښور ونيو او په کابل او پېښور کي ئې (تيموري او نادري پخوانی حاکم) ناصر خان مات کی او عبدالصمد خان مومندزی د اشنغر يو مشر د احمدشاهي لښکر سره يو ځای سو. احمدشاهي سپه سالار سردار جهانخان، ناصر خان د اټک ها خوا ته وځغلاوه او پخپله احمدشاه کندهار ته ولاړ.

۲- په (۱۱۶۲هـ = ۱۷۴۹م) کال د دېرشو زرو پليو او سپرو سره له کندهاره راووت او د کابل او پېښور له لاري د اټک او جهلم غاړو ته ورسېد. د لاهور حکمران شهنواز خان د وزير الممالک قمر الدين خان په واسطه له ډهلي څخه مرسته وغوښته او د پنجاب د سيند پر غاړه د احمدشاهي لښکر سره مخامخ سو، خو د جنگ له ميدانه

وتښتېد او احمد شاه لاهور ونيو او بيا ئې نو نصير خان بلوڅ مطيع کړ.

څنګه چي د ۱۱۶۱ هـ کال د لومړۍ خور پر ۲۲ د جمعې په ورځ د مالوپور په جګړه کي وزير الممالک قمرالدين خان ووژل سو، ځکه نو د ډهلي ګورګاني پاچا محمد شاه د لاهور ولايت د هغه خلف ميرمنو معين الملک ته وسپاره او احمدشاه د ډهلي د دولت سره روغه وکړه او اباسين ئې د دوو هيوادو تر منځ وېش وټاکه. د لاهور د حکمران ميرمنو معين الملک سره ئې هم روغه وکړه. د سيالکوټ او ګجرات او د پنجاب د اورنګ آباد او امرتسر ماليات ئې د ميرمنو پر غاړه کښېښووه، چي هر کال به ئې احمدشاهي لوی دېوان ته رسوي. کندهار ته بيرته د رارسېدو پر وخت ئې د قبيلو ځيني مشرانو چي د ده پر خلاف ئې دسيسه جوړه کړې وه، لکه نورمحمد خان ميرافغان عليزی او ګدو خان او محبت خان پوپلزی ئې ووژل.

۳- په ۱۱۶۳ هـ ۱۷۴۹م کال هرات ته ولاړ او هغه ښار ئې تر څلورو مياشتو کلابندۍ وروسته له امير عالم خان څخه ونيو او د سردار جهان خان پوپلزي په مشري ئې پنځه زره سپاره تربت جام ته ولېږل او هرات ئې درويش علي خان هزاره ته وسپاره او پخپله مشهد ته رهي سو او هغه ښار ئې تر څلورو مياشتو کلابندۍ وروسته د نادر شاه نمسي شاهرخ ميرزا ته ورکی او پخپله د نشاپور خوا ته ولاړ، خو څنګه چي د نشاپور حاکم عباس قلي خان بيات مقاومت وکی، او له بلي خوا د ژمي سخت موسم راغی، احمدشاه د هرات له لاري کندهار ته راوګرځېد.

۴- د بلوچستان سفر: د احمد شاه د جلوس په وخت کي د کلات حکمران او د براهوي خان د نادر شاه له خوا د مير عبدالله مشر زوی مير محبت خان وو، خو څنګه چي بلوڅان د هغه د کشر ورور امير نصير خان پر خوا ول، او د احمدشاه حضور ته ئې هم عرض کړی وو، نو ځکه په ۱۱۶۴هـ کال چي احمد شاه د خراسان له سفره راوګرزېد سمدسي ئې له کندهاره د بلوڅو کلات ته مخه وکړه، په دې وخت کي مير نصير خان د سند په خدا آباد کي ميانورمحمد کلهوره ته ناست وو، او مور ئې بي بي مريمه په کندهار کي وه او دواړو شاهي مرسته غوښتله.

احمد شاه مستنګ ته تر رسېدو وروسته کلات ته رهي سو، مير محبت خان، حاجي رحيم خان بابی د کلام الله سره د احمدشاه حضور ته شفيع واستاوه، احمدشاه هم د سمدستي له پاره د کلات خاني مير محبت خان ته پرېښووه، بېرته کندهار ته راغی او

نوموړي خان خپله یوه خور چې بي بي میر گوهر نومېدله د آخون محمد حیات په وسیله په غزني کې د احمدشاه حضور ته واستوله، چې د هغه په نکاح سوله.

تر څو میاشتو وروسته د بلوڅو د خانۍ د مسئلې د فیصلې له پاره د هغې سیمې ټول نومیالي سرداران کندهار ته د احمدشاه حضور راوغوښتل سول، او نصیر خان هم د خپلې مور سره هلته وو، څو په پای کې احمدشاه، میر محبت خان د طهماسپ خان په لاس بندي کی او میر نصیر خان ئې د کلات په خاني وگوماره (۱۱۶۴هـ).

خو میرنصیر خان په کلات کې سر واخیست او د خودسرۍ بیرغ ئې پورته کئ، هغه وو، چې د بلوڅو د قبیلو یوې برخې په کندهار کې د احمدشاه حضور ته استغاثې وکړې. احمدشاه چې دا خبر واورېد، دستي ئې حرکت وکی او کلات ئې دوولس ورځې کلابند کی، خو د جنگ او وینو تویولو امرئې ورنه کی، څو چې په پای کې نصیر خان د آخون محمد حیات او وزیر شاه ولي خان په واسطه د احمدشاه حضور ته ورسېد او وبخښل سو او تر هغه وروسته ئې په احمدشاهي لښکر کښیو کې گډون کاوه.

۵- په ۱۱۶۴هـ کال بیا احمدشاه د خپل لښکر سره د هرات له لاري پر نشاپور حمله وکړه. د نشاپور کلا ئې په لویو توپو سورۍ کړه او وې نیوله، او د هغه ځای حکومت ئې بېرته عباس قلي خان بیات ته، چې تسلیم سوی وو، وسپاره. احمدشاه د خراسان شاوخوا پاکه کړه او د مشهد د حکمران شاهرخ میرزا سره ئې په دې شرط روغه وکړه چې سکه او خطبه د ده په نامه وي او د جام او باخرز او تربت او خواف او ترشیزو ولایتونه احمدشاه ته وسپاري، تر هغه وروسته شاهرخ خپله سکه په دې بیت ښکلې کړه:

یافت از الطاف احمد بادشاه
شاهرخ بر تخت شاهی تکیه گاه

احمد شاه له مشهده هرات ته راغی او وزیر شاولي خان ئې مرو او میمنې او اندخود او بلخ او بامیان او بدخشان ته واستاوه، چې نوموړي وزیر د افغانستان ټول شمالي ولایتونه د هیواد په مرکز پوري وتړل.

۶- په ۱۱۶۵هـ = ۱۷۵۱م کال د پنجاب د سیمو د تصفیې له پاره لاهور ته ولاړ، میرمنو معین الملک تر شلور میاشتو پوري مقابله وکړه، خو تر هغه وروسته تسلیم سو او احمدشاه دی د هغه ځای د حاکم په حیث وپېژاند.

په دې سفر کې د احمدشاه له حضوره (ایشیک اقاسي) شاغاسي عبدالله خان د کشمیر نیولو ته وګومارل سو، چې هغه سیمې ئې ونیولې او خواجه عبدالله کوچک ئې د کشمیر حاکم او سکیجون هندو ئې د هغه ځای مستوفي وټاکه او قلندر خان پښتون ئې د ډهلي دربار ته سفیر واستاوه او ګورګاني احمدشاه ومنله چې پنجاب او سند او کشمیر دې د احمدشاهي هیواد برخه وي.

احمد شاه د پنجاب او ملتان او کشمیر د چارو تر سمون وروسته د سند د سیند ښي غاړې ته راپوري ووت، بنو او کابل ته راغئ او له دې ځایه بېرته کندهار ته ولاړ.

۷ – د ۱۱۶۷هـ کال په سر کې احمد شاه سند ته یو سفر وکی، چې شرح به ئې وروسته راسي، خو د همدې کال په منځ کې له کندهاره هرات ته ولاړ او د خراسان تر تصفیې وروسته ئې مشهد کلابند کی او د نادرشاه نمسی شاهرخ میرزا د ده اطاعت ته غاړه کښېښووه. احمدشاه د ړانده شاهرخ نیابت نور محمد خان افغان ته وسپاره، جام او باخرز او خاف او تربت او ترشیز ئې په هرات پوري وتړل او شاه پسند خان ئې د شاهرود او بسطام او سبزوار د نیولو له پاره واستاوه.

تر هغه وروسته احمدشاه عباس قلي خان بیات په نشاپور کې کلابند او تسلمېدو ته ئې مجبور کی او بیا ئې هم دی د نشاپور په حکومت وګوماره او د هغې طایفې ځو کورنۍ ئې غزني او کابل ته ولېږلې او په ۱۱۶۸هـ کال بېرته کندهار ته وګرزېد.

۸ – په ۱۱۶۸ هـ چې میرمنو معین الملک مړ سو، احمد شاه د هغه زوی میرمنو د لاهور حکمران وټاکه، څنګه چې کوچنی وو، نو د خپلې مور مغلاني بیګم په کومک ئې حکومت کاوه. په دې وخت کې د مغلاني بیګم او امیرانو تر منځ اختلاف پېښ سو او د نواب عبدالصمد خان زوی خواجه عبدالله خان نوموړی مېرمن بندي کړه او له احمدشاهي حضوره ئې د لاهور د حکمرانۍ مقام وغوښت، خو احمد شاه د جهان خان سپه سالار ورور امان خان پوپلزی د لاهور د چارو د سمون له پاره ور واستاوه، مګر هغه څه کار پر مخ نه بوت او په (۱۱۷۰هـ) کال آدینه بېګ د ډهلي د لښکر سره لاهور ونیو او د کاله ئې دېرش لکه روپۍ ډهلي ته ورکولې.

دا وخت په کشمیر کې سکجیون هندو هم د احمدشاه له اطاعته سر وغړاوه او افغاني حکمران خواجه کوچک ئې وواژه او د ډهلي له خوا ئې د کشمیر حکمراني ونیوله. همهغه وو، چې احمدشاه له کندهاره لاهور ته ولاړ او د هغو سیمو تر تصفیې

وروسته ئې نورالدين خان باميزی کشمير ته واستاوه او هغه سکجيون ونيو او کشمير ئې بېرته په افغاني هيواد پوري وتاړه.

احمد شاه له لاهوره ډهلي ته مخه کړه او په کرنال کي ئې د اصالت خان يوسفزي زوی نواب نجيب الدوله مخي ته راغی او د (۱۱۷۰هـ) کال د دريمي خور (جمادي الاولی) پر ۷ د جمعې په ورځ ډهلي ته ننووت، دوهم عالمګير ئې د ډهلي پر تخت کښېناوه او د هغه د ورور شهزاده عزيزالدين لور ئې شهزاده تېمور ته وکړه او د ډهلي د وزارت چاري ئې د قمر الدين خان زوی نظام الدوله ته وسپارلې او نواب نجيب الدوله ئې د هند سپه سالار وټاکه. احمدشاه د ډهلي د شاوخوا تر تصفيې او د هغه ځای د باغيانو تر وهلو وروسته عبدالصمد خان اشنغري مهمندزي د سرهند حاکم او سرفراز خان ئې د دوآبه ستلج او بياه حاکم او شجاع خان ابدالي ئې د ملتان حاکم او شهزاده تيمور ئې تر سند اوتته پوري د لاهور حاکم وټاکه او سپه سالار جهان خان ئې د سکانو مخنيوي ته وګوماره او بلند خان سدوزي ته ئې د کشمير حکومت وسپاره او د (۱۱۷۰هـ = ۱۷۵۶م) کال په پای کي کندهار ته راوګرزېد.

۹- د پاني پت غزا:

وروسته تر هغه چي احمد شاه په (۱۱۷۰هـ) کال له هنده راوګرزېد، په پنجاب کي نوي فتنې پيدا سوې او د فيروز جنګ زوی غازي الدين او آدينه بېګ پورته سول او سکانو هم په پنجاب کي قوت پيدا کی او د جنوب له خوا هم د مرهټه لويو قوتو د ډهلي پاچهي تهديدوله او پنجاب ئې هم ونيو، چي شهزاده تيمور او سپه سالار جهان خان د دې ټولو قوتو او فتنو له مخنيوي څخه عاجز سول، په دې وخت کي د هند اسلامي مشاور او د ډهلي اميرانو احمد شاه وباله چي د هند د اسلامي پاچهۍ د ساتلو او نجات له پاره له کندهاره د هند خوا ته رهي سي او امام الهند شاه ولي الله دهلوي هم د احمدشاه حضور ته ليکونه واستول او دی ئې هند ته وباله، ځکه نو احمدشاه له کندهاره په (۱۱۷۱هـ) کال د بلوڅو کلات ته وخوځېد او هلته ئې نصير خان چي سر ئې اخيستی وو، د روغي او خير خواهۍ له لاري تسليمېدو ته مجبور کی، بيا نو د کندهار د دېرشو زرو او د بلوڅو د لسو زرو عسکرو سره د نصير خان او د سراوان و جاله وان د سردار مير عبدالنبي د ورور مير عبدالکريم او نورو په مشري د بولان له درې څخه تېر سو (۱۱۷۲هـ) او د سند د سيند غاړو ته ورسېد او له هغه ځايه د لاهور خوا ته وخوځېد او

سارنپور ته ولاړ. هلته د هند د پښتنو ستر مشران لکه سپه سالار نجیب الدوله او سعدالله خان روهیله او حافظ الملک رحمت خان او د هغه زوی عنایت خان او دوندي خان او قطب خان د لسو زرو تنو لښکرو سره د احمدشاه حضور ته راغلل او دا وخت د احمدشاه ټول لښکر چي په هغه کي د کندهار او پېښور او بلوڅو او د هند د پښتنو غازیان راغونډ سوي ول، شپېتو زرو پلیو او سپرو ته رسېده، چي توپخانه هم ورسره وه.

احمدشاهي لښکرو د هندوانو او سکانو سره تر ډېرو جګړو وروسته چي دښمنانو ته ئې ډېري ماتي ورکړې، وروستنۍ فیصله کوونکې جګړه د پاني پت پر ډګر د لسو لکو مرهټانو او هندوانو سره وکړه او په دې جګړه کي ئې د دښمن په زرو، زرو جګړن کسان تر تېغ تېر کړل او د (۱۱۷۴هـ – ۱۷۶۰م) کال د څلرمي خور (جمادي الاخری) پر شپږمه نېټه ئې لویه سوبه او فتح په برخه سوه، چي د دې ستري غزا جنګي اولجي او غنایم (۵۰) زره آسان، دوه لکه غوایي او پنځه سوه پیلان او څو زره اوښان ول او ۲۲ زره بندیان لاس ته ورغلل، چي بې له یوه ابراهیم نامي نور ټول وبخښل سول.

احمدشاه د پاني پت تر لویي سوبي او د مرهټانو څخه د هند د مسلمانانو تر نجات او ژغورلو وروسته د دوهم عالمګیر زوی شاه عالم په ډهلي کي پاچا او د میرزا جوان بخت زوی ئې ور نائب السلطنه کی او نواب شجاع الدوله ئې د فرزندخان او رستم هند په لقب وزیراعظم او پښتون نواب نجیب الدوله ئې سپه سالار وټاکه او د پنجاب حکومت ئې زین خان مومند ته ورکی او پخپله کندهار ته راغی او شهزاده تیمور ئې د هرات حکمران وټاکه.

۱۰ - د سکانو ترټنه:

هغه وخت چي احمدشاه د پاني پت تر فتح وروسته کندهار ته راوګرزېد، په پنجاب کي جیساسنګهـ د بغاوت بیرغ پورته کی، چي د رنجیت نیکه چهرت سنګهـ او لاجت هم په دې بغاوت کي لاس درلود او د پنجاب نایب الحکومه زین خان ئې کلابند کی.

احمدشاه د دې فتنې د مخنیوي له پاره د (۱۱۷۵هـ = ۱۷۶۳م) کال په لومړۍ نیمایي کي لاهور ته ولاړ او په ۴۸ ساعته کي ئې د امرتسر خوا ته ۱۳۵ میله واټن وواهه او په "روهي" کي د سکانو د دوه زره تنه لښکر سره مخامخ سو او د ۱۱۷۵هـ کال د رجب د ۱۱ نېټې په جګړه کي ئې د شلو زرو سکانو په شاوخوا کي ووژل او مات ئې کړل او د

پټيالې او سرهند حکومت ئې امیر سنګهـ ته ورکی او د ۱۱۷۵هـ کال د برات تر ۷ پوري لاهور ته بريالی راوګرزېد او نورالدين خان باميزی ئې کشمير ته واستاوه او هغه ياغي مستوفي سکجيون بندي کی او کشمير ئې بيا ونيو.

احمدشاه د پنجاب د چارو په سمون تر ۱۱۷۹هـ کال پوري اخته وو او د ملتان او ډېره اسمعيل خان له لاري ګومل او غزني ته راغی، خو په دې سفر کي له سختي ګرمۍ څخه ناروغه سو او په ۱۱۸۱ق کابل ته راغی.

۱۱- بخارا ته تګ:

په ۱۱۸۱هـ کال وزير شاه ولي خان د شپږو زرو سپرو سره له کندهاره بلخ او بدخشان ته واستول سو.

څنګه چي د بخارا حکمران شاه مرادبی د افغانستان په شمالي سيمو کي ياغيان پارول ځکه نو په ۱۱۸۲هـ کال پخپله احمدشاه د هرات له لاري ميمنه او اندخود او بلخ او شبرغان تصفيه کړه، په دې وخت کي د بخارا پاچا د آمو د شمال په قرشي کي لښکر راغونډ کړی وو، خو احمدشاه د بخارا د مسلمان لښکر سره جګړه او مقابله د خپل شان سره وړ و نه بلله نو د بخارا د پاچا سره ئې روغه وکړه او د آمو سيند ئې د دواړو هيواد وېش وټاکه.

په دې سفرکي وزير شاه ولي خان د جوزجان له فيض آباد څخه خرقه شريفه کندهار ته راوړه چي تر اوسه په دې ښار کي سته.

۱۳- خراسان ته تګ:

څه وخت دمخه د احمدشاه له خوا د نادر شاه ړوند نمسی شاهرخ ميرزا د خراسان پاچا ټاکلی سوی او د احمدشاه د شاهنشاهۍ تابع وو.

څنګه چي د ۱۱۸۳ هـ په شاوخوا کي د شاهرخ زلمي زوی نصرالله ميرزا او د تون او طبس حاکم علي مردان خان سر اخيستی وو او د فارسي د پاچا کريم خان زند دربار ته ئې رجوع هم کړې وه، ځکه نو د ۱۱۸۴هـ کال په سر کي احمدشاه له کندهاره هرات او مشهد ته ولاړ. په دې سفر کي د بلوڅو پاچا نصير خان چي د احمدشاهي دربار تابع وو، د شلو زرو تنو سره د خراسان په جګړه کي ښې کارنامې وکړې او د ترشيز په کلا کي ئې علي مردان مغلوب کی، چي د دې خدمتو په مقابل کي د احمدشاه له حضوره د ډېره غازيخان د داجل او هرند سيمي او د بلوڅو ولجې هم ده ته وبخښلې سوې.

خو احمدشاه د مشهد تر لنډي کلابندۍ وروسته د نصرالله میرزا عذر ومانه او د شاهرخ لور گوهرشاده ئې شهزاده تیمور ته وکړه او نصرالله میرزا ته ئې د (فرزند خاني) لقب ورکی او د خراسان پاچهي ئې شاهرخ ته وبخښله او د ۱۱۸۴ﻫ کال د صفري پر ۸ د هرات له لاري کندهار ته راغی.

احمدشاه او سندھ:

په (۱۱٦۰ﻫ) کال چي نادرشاه افشار ووژل سو او احمدشاه ابدالي په کندهار کي د افغانستان په پاچهي وټاکل سو، په سندھ کي میا نورمحمد کلهوره د نادري تر امر لاندي امیر وو. په (۱۱٦۱ﻫ) کال = (۱۷۴۸م) کال احمدشاه هند ته سفر وکی. ده په سندھ کي د میا نورمحمد کلهوره امارت په رسمیت وپېژاند او هغه ته ئې د (شاهنواز خان) لقب ورکی. هغه هم د کندهار دربار ته د کالنیو مالیو د ورکړي تعهد وکی.

څنگه چي تر هغه وروسته میا نورمحمد د خراج په ورکړه کي سستي وکړه، احمد شاه یو فرمان ورواستاوه او په هغه کي ئې د مالیو ورکړه وغوښته، چي (خایف) سندهي د هغه فرمان مضمون د احمد شاه له خولې د (نامۀ نغز) په دې بیت کي داسي ځای کړی دئ:

رساندی تو گر گنج در باج ما
شدی ایمن از تاب تاراج ما

دا فرمان چي د سندھ دربار ته ورسېد، میا نورمحمد د اطلس او کمخاب او دیبا او وریښمو د کالیو او قرنفل او مشک او عود او عنبر قیمتداره سوغاتونه د یوې درې کسیزي جرگي په لاس د بهایي خان کلهوره په مشرۍ د کندهار دربار ته واستول او وې ویل:

سلامی رسانش بعجز و نیاز   که ای شا افغان گردن فراز
منم بندۀ تاجدار تو ام   به فرمانبرداری نامدار تو ام
من از لطف تو چشم دارم بهی   بر شاه من میکنم آگهی

دا سفارتي جرگه چي احمدشاهي دربار ته ورسېده، د دواړو دربارو دوستانه مناسبات تر ښخوا لا ښه سول او د شیخ محمد مرید قانونگو زوی شېرمحمد محفوظ سرخوش د سندھ د دربار له خوا د وکیل په حیث کندهار او کابل ته وټاکل سو، چي تر ۱۱٦۸ﻫ کال پوري په کابل کي وو، خو سره له دې هم له سندھ څخه هغه مالیې چي د

ورکړي وعده ئې سوې وه، د کندهار دربار ته راونه رسېدلې، ځکه نو احمدشاه د سردار جهان خان سپه سالار په مشرۍ یو لښکر د هند د سفر له پاره چمتو کی، چې په (۱۱۶۶ه = ۱۷۵۳م) کال په سندھ کې د سپه سالار د ورتلو آوازه گډه سوه، خو د همهغه کال په پای کې څرگنده سوه، چې پخپله پاچا د سندھ خوا ته رهي سوی دئ.

د (۱۱۶۷ه کال د محرمي په څلرمه = د ۱۷۵۳م د نومبر پر لومړۍ نېټه) احمدشاه د محمد آباد شگي (ریگستان) ته رسېدلی وو. د سندھ دربار په ډېر تلوار دېوان گدومل د سفیر په توگه د ده حضور ته واستاوه، چې د میا نورمحمد د اطاعت او انقیاد خبر ورورېي او څو چې ئې وس وي د احمدشاه د پرمختگ مخه ونیسي.

گدومل د سکهر پل ته نژدې شاهي لښکرگاه ته ورسېد، خو تر دوو ورځو پوري ئې پاچا و نه لیدلای سو، څو چې شاهي موکب نوښاره ته راغی او هلته گدومل د پاچا حضور ته ورغی او د پاچا په راضي کولو کې ئې ډېر زیار ویوست. وایي چې احمدشاه ډېر غضبناک وو، خو گدومل هم هوښیار سړی او ژبور او په کار پوه سفیر وو، چې په لطائف الحیل ئې د شاهي غضب په آراamolو کې زیار یوست. دی په دې پوه وو، چې احمدشاه اولیاء الله ته عقیده لري، نو څو جواله ئې له خاورو ډک کړه او د نورو سوغاتو سره ئې وړاندې کړه. احمدشاه پوښتنه وکړه: په دې جوالو کې څه شي دي؟ گدومل ورته وویل: د سندھ ډېر ښه سوغات، یعني د سندھ د اولیاوو د قبرو پاکې خاورې.

احمدشاه هغه سوغات ته په درنه سترگه وکتل او قهر ئې کښېنوست او د سندھ د خلکو سره ئې نرمه رویه راواخیستله، خو میا نورمحمد په دې وخت کې سندھ پرېښوو او لمر خاته خوا جیسلمیر ته ولاړ او هلته د (۱۱۶۷ه کال د صفر پر ۱۲ = د ۱۷۵۳م د دسمبر پر ۹) د کورهره په سرکهات کې د ستغي (خناق) په ناروغۍ مړ سو.

په تذکرۂ مخادیم کهرا کې د احمدشاه یو فرمان سته چې د ۱۱۶۷ه کال د محرمي پر ۲۱ لیکل سوی او له هغه څخه څرگندېږي چې احمدشاه د همهغه کال په سر کې سندھ ته تللی وو. د زیاتو مؤرخانو قول هم د دې لیکني سره سمون خوري او لکه چې وویل سوه احمدشاه د همدې کال په منځ کې خراسان ته ولاړ. یعني له سندھ څخه تر راگرزېدو وروسته ئې د خراسان خوا ته مخه کړې وه.

د میا نورمحمد تر مړیني وروسته ئې زوی محمد مرادیاب خان د ده پر ځای کښېنوست او د احمدشاه حضور ته ئې یو وکیل واستاوه او د مالیاتو ورکړه ئې ومنله.

احمد شاه هم دی د سندهد حکمران په حیث وپېژاند او د (سربلند خان) لقب ئې ورکی.

څنګه چي د ښکارپور ښار همېشه د کلهوره د حکمرانانو او د بلوڅو د داود پوتره د قبیلو تر منځ د شخړي او نزاع ځای وو، ځکه نو احمدشاه هغه ښار د سبۍ په ولایت پوري وتاړه او د هغه ځای اداره ئې افغان حاکم ته وسپارله او په دې وسیله د افغانستان تجارت د ښکاپور له لاري تر ماوراء النهر او خراسان پوري جاري سو او دې ښار یو مهم تجارتي مرکزیت وموند. سربېره پر دې احمدشاه په سند کي اسمعیل خان پني د شهنشاهۍ د دربار د نماینده په حیث وټاکه او اسماعیل، محمد آباد ته ورغی او څو تنه عاملان ئې د سیدشاه محمد تر اداري لاندي تتنه او نورو ښارو ته واستول، چي له هغې جملې څخه صالح خان تتنه ته ولاړ او د پخواني حاکم ګل محمد خان خراساني ځای ئې ونیو او د مالیو په ټولولو ئې لاس پوري کی.

په دې وخت کي احمدشاهي سفیر محمد بېګ شاملو هم تتنه ته راغی او ده آقا محمد صالح د تتنه حکمران وټاکه، او د ښار سپین ږیري او مخ روبي ئې شهریاري حضور ته وروستل، څنګه چي د اسمعیل او شاملو د ګومارل سوو کسانو تر منځ اختلاف پیدا سو، نو ځکه قاضي محفوظ د تتنه حکمران وټاکل سو، په دې وخت کي چي محمدمراد یاب خان د احمدشاه له خوا دسندهامیر وپېژانده سو او د سربلند خان لقب ورکړه سو په دې ټوله موده کي د میا نورمحمد مرحوم سفیر دېوان ګدومل په شاهي دربار کي فعالیت کاوه، څو چي د کلهوره د امارت د کهول مشران ئې دربار ته نژدې کړل او احمدشاه دوی په رسمیت وپېژندل او د محمد مراد یاب خان کوچنی ورور محمد عطر خان ئې په شاهي دربار کي د یرغمل په توګه مېلمه وساته. په دې روغه جوړه کي محمدمراد یاب خان احمدشاهي دربار د سندهـ تر ټاکلي مالیې څه قدر زیاته مالیه منلې وه.

تر هغه وروسته د سندهـ مشران او مخ روبي په امرکوټ کي د خپل نوي امیر محمد مراد یاب خان حضور ته ورغلل او هغه د امیري مرکز ته بوت (د ۱۱٦۷هـ کال د صف ۱٦) او شیخ ظفرالله د تتنه په حاکمي وګومارل سو.

په دې وخت کي دېوان ګدومل د احمد شاهي فرمان او د فخر وړ سوغاتو سره د احمدشاه له حضوره امر کوټ ته ورسېد او هغه فرمان او سوغاتونه ئې نوي امیر ته وړاندي کړل او نصیر پور ته نژدې په یوه میدان کي د محمد مراد یاب خان د پر تخت

کښېناستو جشن جوړ سو او په همهغه ځای کي د نوی ښار (مراد آباد) بنسټ کښېښو و سو (د ۱۱۷۱هـ محرمه = ۱۷۵۷ م ستمبر).

محمد مراد یاب خان درې کاله په کامراني حکومت وکی، خو ځیني مشران ورسره مخالف سول او د (۱۱۷۱هـ د ذیحجې پر ۱۳ = ۱۷۵۷م) ئې دی پخپل ټاټوبي کي کلابند او بندي کی او بله ورځ ئې د ده ورور میا غلام شاه پر تخت کښېناوه. ده د سندهـ د خلکو او مشرانو په تسلي کي زیار ویوست او د فتح نامي په قول مرادیاب خان عیاش او لا ابالي سړی وو او ژوند ئې په لهو او لعب کي تېراوه او خلک ځیني ناراضه ول، ځکه نو میر بهرام خان د نورو مشرانو سره لاس یو کی او دی ئې د امیرۍ له تخته راواچاوه، خو د مراد یاب خان سکنی ورور یار محمد خان چي په خدا آباد کي وو او د بهادر شاه زوی مقصود فقیر چي له مخ روبو څخه وو، مخالفان پاته سول.

دا وخت د سندهـ داخلي اوضاع ګډه وډه وه او عطر خان د امیرانو بل ورور چي د کندهار په شاهي دربار کي ئې د یرغمل په توګه ژوند کاوه د خپلو حقوقو په باب کي ئې د دربار د مشرانو په واسطه د احمدشاه حضور ته عرض وکی او له شاهي حضوره هم یو فرمان صادر او عطر خان د سندهـ د امیر په حیث وپېژانده سو. د دې خبري په اورېدو سره په سندهـ کي احمدیار خان یو لښکر غونډ کی خو سرائي مشرانو چي د عطر خان په نامه د احمدشاهي فرمان صادرېدل واورېده نو په احتیاط ئې قدم اخیسته او میا غلام شاه چي په دې منځ کي څه چانس نه درلود، د (۱۱۷۱هـ کال د صفر پر ۲۵ = د ۱۷۵۷م د نومبر پر ۸) د خپلو قواوو سره د سند د رېګستان خوا ته رهي سو او په همدې وخت کي مقصود فقیر ته د عطر خان لیکونه ورسېدل، چي د هغو په اثر محمد مرادیاب خان له بنده خلاص سو او د سرائی د یوې ډلي مشرانو سره د نوي ټاکل سوي امیر عطر خان لیدو ته ورغی او میا غلام شاه د راجه لیکهي او خپلو نورو طرفدارو مشرانو سره لیري پاته سو.

عطر خان چي سندهـ خالي ولید، بې له کم مانعه ور ننوت، احمدیار خان چي دا خبر واورېد د نوښاره خوا ته پر شا سو او د (۱۱۷۱هـ په دوهمه خور = د ۱۷۵۷م په دسمبر) کي محمد مراد یاب خان هم ورسره یو ځای سو.

د سرائي مشرانو او دې دوو ورونو دا خیال کاوه چي عطر خان به د دوی د مشرتوب حقوق وپېژني او دوی به د سندهـ په امارت ومني، خو عطر خان تر دوی رند او

جاه پسند وو او د وروښو تر لیدو دمخه ئې پر دوی د بندیگرت او خدا آباد ته د دوی د بېولو حکم وکی، له همدې وخته د عطر خان په نسبت د خلکو او مشرانو بدګماني شروع سوه او احمدشاهي دربار ته د مالیو په ټولولو او ورکړه کي ئې زیار ویوست او خلک ئې په تنګ کړه، خو د دې کار تر عهدې و نه وتلای سو، ځکه نو په لږ موده کي خلکو وغوښتل چي دی د امارت له تخته راواچوي.

په دې وخت کي میا غلام شاه چي په ادې پور کي فرار وو، بهاولپور ته ورسېد او خپل زوی میا سرفراز خان ئې هلته پرېښوو. پخپله سندھ ته ولاړ او د (۱۱۷۱ھ) کال د روژې په پای کي په روهري کي د عطر خان سره مخامخ سو.

تر څو جنګو وروسته د شوال په اوله ورځ عطر خان او ورور ئې احمدیار خان د مقصوده سره ماته وکړه او وتښتېدل او میا غلام شاه بریالی سو او د سرائي د مشرانو سره سیوستان ته راغی (د ۱۱۷۱ھد شوال اوله = ۱۷۵۸م).

لږ وروسته محمد مراد یاب خان مړ سو او میا غلام شاه د خلکو او مشرانو رضا لاس ته راوستله او په کامراني سره ئې امارت کاوه، خو عطر خان او احمدیار له سندھ کلات ته ولاړ او د کلات نصیر خان ته ئې پناه یووړه او د سندھ د وکیل ګدومل په واسطه ئې خپل عرایض د احمدشاه حضور ته ولیکل. احمدشاه له کندهاره د دوی د ملاتړ له پاره یو لښکر ورواستاوه احمدیار خان په شاهي دربار کي پاته سو او عطر خان د شاهي لښکر د افسر عطائي خان سره بیا پر سندھ یرغل وکی او د فتحنامې د مؤلف په وینا د احمد شاه له حضوره یو فرمان د داود پوتره د قبیلو په نامه ولېږل سو، چي د عطر خان سره مرسته وکي، ځکه نو د داؤد پوتره یو لوی لښکر د بهادر خان یک ګوش په مشري هم د عطر خان خدمت ته حاضر او ورسره یو ځای سو.

میا غلام شاه د (۱۱۷۲ھ = ۱۷۵۹م کال تر دوهمي خو (ربیع الثاني) وروسته) د لښکر په ترتیب لاس پوري کی او د دواړو خواوو لښکري په چاکچیکان کي سره مخامخ سوې. سختي جګړې ونښتې او میر بهادر خان تالپور چي د غلام شاه له خوا جنګېده د جګړې په ډګر کي ووژل سو او عطر خان په روغه راضي سو او د روغلیک (صلح نامې) له مخي ئې سندھ پر درو برخو ووېشه، یوه برخه میا غلام شاه ته ورکړه سوه او دوې برخي عطر خان او ورور ته ئې ورکړل سوې.

خو د دې دوو وروڼو تر منځ هم شخړه پیدا سوه او میا غلام شاه د (۱۱۷۲ھ =

۱۷۵۹م کال په روژه کې) پر عطر خان یرغل وکی او هغه ئې له نوښاره څخه وځغلاوه او ټول سنده ئې ونیو، څو چي په (۱۱۷۵هـ = ۱۷٦۲م) کال په کندهار کي د سنده د سفیر گدومل په زیار له احمدشاهي درباره یو فرمان د امارت د سوغاتو سره غلام شاه ته ورسېد او دی ئې د (شاه وردي خان) په لقب د سنده د امیر په حیث وپېژانداو تر هغه وروسته په (۱۱۷۷هـ = ۱۷٦۴) د کچه تر فتوحاتو وروسته له احمدشاهي حضوره د (صمصام الدوله) لقب هم ورکړه سو او دوه احمدشاهي فرمانونه یو د ۱۱۷۷هـ کال د دوهمي خورپر ۲۰ او بل د ۱۱۷۷هـ کال د دریمي خور پر اوله د ده په نامه صادر سو او په (۱۱۸۱هـ = ۱۷٦۷م) کال کي د غازي خان او اسماعیل خان دېرې هم د احمدشاه له خوا میا غلام شاه ته وسپارلي سوې او ده په ۱۱۸۲ هـ کال په پخواني نیرون کوټ کي د حیدر آباد کلا ودانه کړه او هلته واوسېد، څو چي د (۱۱۸٦هـ) کال د دریمي خور پر ۳ (۱۷۷۲م د اگست پر ۲) د گوزڼ (فلج) په ناروغۍ مړ سو.

د عبدالحمید جوکیه په قول غلام شاه یو وار د خپلي حماسې د جوش په وخت کي وویل چي: زما لښکر ټول باید چمتو اوسي چي احمدشاهي ښار (کندهار) نیسم. د همدې وینا په وخت کي د فالج ناروغۍ حمله ورباندي وکړه، له خبرو ولوېد او ژر مړ سو.

د میا غلام شاه تر مړیني وروسته د سنده مخ روبو او مشرانو د ده زوی محمد سرفراز پر تخت کښېناوه. دوې میاشتي وروروسته چي احمدشاه ابدالي په کندهار کي له دنیا ولاړ، نو میا سرفراز خان میر بهرام خان تالپور د تعزیت او اطاعت د عرض له پاره د افغانستان نوي پاچا تیمورشاه د احمدشاه زوی ته راواستاوه. د کندهار دربار د سند د حکمرانۍ فرمان د سوغات سره د ده په نامه ورولېږه او د خدایار خان لقب هم ده ته ورکړه سو.

د احمد شاه مړینه او د ده خویونه:

احمدشاه د خپل ژوند په پای کي د پرله پسې جگړئیزو سفرو د زحمتو په سبب کمزوری سو او دی ئې د کندهار له ښاره د کوږک د توبې غره ته چي لوړ وو او ښه هوا ئې درلوده بوت، څو چي تر څو میاشتو وروسته د (۱۱۸٦هـ) کال د رجب په شلمه د جمعې په شپه همهلته د خوراړه (آکله) په ناروغۍ وفات سو او وزیر شاه ولي خان او یاقوت خان خواجه سرا د ده مړی کندهار ته راوی او په هغه ځای کي ئې ښخ کی، چي ده

دمخه ټاکلی وو او د مړیني پر وخت ۵۱ کلن وو او ۲۶ کاله ئې پاچهي وکړه (۸۱ لمبر عکس).

هغه گنبده چي اوس په کندهار کي د دې نومیالي پاچا پر مزار ولاړه ده، د دوو تاریخي قطعو په استناد چي میرزا هادي خان د دربار منشي باشي ویلي دي په (۱۱۹۰هـ) کال د تیمورشاه په امر ودانه سوې ده او له دې دوو مصرعو څخه:

بگو "فیض آباد عالی مقام"

او:

"مزار شاه فردوس برین" گو

د دې گنبدي د ودانۍ نېټه څرگندېږي. (۸۲ لمبر عکس)

احمدشاه متشرع، حنفي مذهبه، عالم او په دیني احکامو پابند باسواده سړی وو. د ده د پښتو اشعارو دېوان په ۱۳۱۹هـ ش کال د عبدالحي حبیبي په زیار په کابل کي چاپ سو، چي په هغه کي د ده عشقي، تصوفي، حماسي او اخلاقي کلام په دوه نیم زره بیتو کي راغلی او د شعر مشهور اقسام غزل، رباعي، قطعه، مخمس او مربع لري.

د ده په کلام کي د تصوف ښه ښه ښکاره ده او ځیني اخلاقي او وطني اشعار هم پکښي سته. ده د خپل عصر دوو تنو عارفانو د جلال آباد د حصارک شاه فقیر الله ته چي په ښکارپور کي ښخ دئ او د پېښور میا محمد عمر ته (چي په ۱۱۹۰هـ کي مړ دئ) ارادت درلود او له ده څخه په تصوف او عرفان کي هم ځیني منثور کلمات او ملفوظات پاته دي، چي د پېښور قاضي ملا محمد غوث پر هغو باندي د شرح الشرح په نامه په فارسي ژبه شرح لیکلې وه.

خو په سیاست کي احمدشاه تل د اسلامي ورورگلوۍ او نرمۍ او دوستۍ پر خوا وو. په ډهلي او بخارا او خراسان او بلوچستان او سندھ کي ئې د خپلو معاصرو امیرانو سره د روغي له لاري مسالمت امېزه رویه درلودله او د شهنشاهۍ عظمت او عسکري اقتدار باوجود ئې هغه ټول امیران چي سرکښي به ئې کوله، څو واره عفو کړه او تاج بخښي ئې وکړې، چي حتّی د هغه وخت سترگور او د نظر خاوندان د ده دې تاج بخښۍ او د نظر وسعت ته هېښ حیران پاته سوي دي او د شاه ولي الله دهلوي په قول د ابدالي دا رویه د دې مادي دنیا په چارو کي حساب نه وه. احمدشاه د جهانگیرۍ سره سره د مسلمان له وینو تویولو څخه ځان ژغوره، د جهاندارۍ په چارو کي ئې له عدالت او



لوی احمد شاه بابا
۸۱ –لمبر عکس



په کندهار کې د احمدشاه بابا مزار ۸۲ – لمبر عکس

انصاف څخه کار اخیست او خلک ئې د خپلو زامنو په شان پالل، نو ځکه پښتانه ده ته (بابا) وايي او دا د هغه لقب دئ، چي بې له میرویس او رحمانه د بل چا په برخه سوی نه دئ.

البته احمدشاه جنګيالی او فاتح وو، خو د ده له ټولو فتوحاتو او عسکري اعمالو څخه څرګنده ده، چي یو غارتګر، خرابکاره، ستم پیشه او مظلوم وژونکی نه وو او که یو کار د روغي او مسالمت له لاري پر مخ تلای د مسلمانانو سره ئې په جګړه لاس نه پوري کاوه او د ورور په مقابل کي ئې توره نه ایستله. احمدشاه زموږ په ملي تاریخ کي د اوسني افغانستان د مؤسس او د افغانستان د خلکو د عظمت مجدد او د یو متحد هیواد او یو اولس جوړونکي په حیث لوړ مقام لري. او د سیالکوټي علامه اقبال په قول:

او دل و دست گهر ریزی که داشت
سلطنت ها برد و بی پروا گذاشت

او له همدې سببه ځیني لیکونکي ده ته ګوته نیسي چي ده ولي د ډهلي پاچهۍ نالایقو واکوالانو ته پرېښووه؟ خو که د شاه ولي الله دهلوي مکتوبات او د نورو هندي مسلمانانو نومیالیو او امیرانو لیکونه وکتل سي، نو دا څرګندېږي چي هغه وخت احمدشاه هند ته د چور او چپاو له پاره نه وو تللی، بلکي د ده یوازینی هدف او مطلب دا وو، چي د هغه ځای مسلمانانو ته چي له ده څخه ئې استرحام کړی، نجات ورکړي او بل دا چي ده نه غوښته د خپل ملي قوت مرکز یعني افغانستان پرېږدي او د پښتنو د نورو پاچهانو لکه خلجیان، سوریان، لودیان او نورو کورنیو په شان په هند کي ورک او مستهلک سي او یا دا د جهاد في سبیل الله دیني خالص خدمت په دنیوي ککړتیا ولړي او د ډهلي د پاچهۍ د نیولو او جهانګیرۍ په حرص ئې ککړ کي، چي کټ مټ همدغه رویه ئې څو واره د افغانستان د نورو ګاونډیانو امیرانو سره په بخارا، خراسان، سند او بلوچستان کي وکړه.

د افغانستان طبیعي حدود تل د احمدشاه په نظر کي ول او که ئې د لمر خاته خوا د پنجاب او کشمیر مځکي تر خپلي اداري لاندي ساتلې دا کار ئې د خپل هیواد د ساتني له پاره وو. دی پوهېده چي د ده د پاچهۍ د واک او قدرت چینه پخپله د افغانستان خاوره او د افغانستان خلک دي، ځکه ئې نو که د پاني پت د فتح او د ډهلي

د نیولو سره د خپلي پاچهۍ او قدرت مرکز پرې ایښی وای او خپلي انساني او فکري او اداري قواوي ئې د هند په ارت هیواد کي مستهلکي کړي وای، ممکنه وه، چي د ده هیواد افغانستان د پاچهۍ د مرکزیت له نعمته بې برخي محروم پاته سوی وای او د ده کهول هم د هغو نورو هندي سوو افغاني کهولو په سرنوشت اخته سوی وای چي بېخي له منځه تللي دي.

احمدشاه د ده د اشعارو د دېوان په شهادت د خپل وطن او خپلو خلکو سره توده مینه او زیاته علاقه درلودله او په عین حال کي صوفي مشربه دیندار سړی وو، نه ئې غوښتل چي د هند پاته مسلمانان امیران او خپل گاونډي مسلمانان امیران د خپلي جهانگیرۍ او د خپل دولت او جاه د حرص له پاره له منځه یوسي او د خپل ملي مرکزیت په محو کولو خپلي مراندي پخپله پرې کي، ځکه نو د ده سیاست تل دا وو، چي خپل گاونډي امیران ئې د شهنشاهۍ تر بیرغ لاندي د دوستۍ او پلارگلوۍ په توگه ساتل او خپل ځان ئې د کم هیواد غاصب او قهار او سرابن جهانگیر نه ښووه.

تر احمدشاه وروسته:

د احمد شاه بابا تر مړیني وروسته د ده له اتو زامنو څخه د ده کشری زوی شهزاده سلیمان د وزیراعظم شاه ولیخان په زیار په کندهار کي پاچا سو. د ده مشر زوی تېمور چي د پلار په ژوند د لاهور او ملتان حکمران وو او هلته ئې سکه هم وهله او په دې وخت کي ئې په هرات کي حکمراني کوله، دستي د کندهار خوا ته رهي سو. (۸۳ لمبر عکس) سلیمان ئې له تخته واچاوه او شاه ولي خان ئې وواژه او لږ موده وروسته ئې پایتخت له کندهار کابل ته رانقل کی، قاضي فیض الله دولت شاهي ئې وزیر او د حاجي جمال خان محمدزي زوی سردار پاینده خان ئې د سرفراز خان په لقب د کندهار د درانیو قبېلو مشر وټاکه او د خپلي پاچهۍ دوره ئې په کامراني او د ورته پورته سوو کسانو په مدافعه کي تېروله او څنگه چي د خراسان خلک درې واره نادري شهزاده شاه رخ میرزا ته پورته سول، تېمورشاه هم درې واره د هغه ملاتړ او کومک وکی او دریمه پلا احمد خان نورزي پورته سوي کسان خورا سخت پر سر وټکول او هم په (۱۱۸۸ھ = ۱۷۷۴م) کال عبدالخالق خان سدوزی تېمورشاه ته یاغي سو، خو تېمور هغه مات او ړوند کی او بیا په (۱۱۹۳ھ = ۱۷۷۹م) کال د پېښور او خیبر مشران لکه فیض الله خان خلیل او ارسلا خان مومند د پېښور په بالاحصار کي تېمورشاه کلابند کی، خو تېمور پر دوی بریالی

تیمورشاه

۸۳–لمبر عکس

سو او ټول ئې ووژل. څنګه چې د سيکانو لښکر پر ملتان حمله کړې وه نو ځکه تېمورشاه په (۱۱۹۶هـ = ۱۷۸۱م) کال هغه ښار بيرته ونيو. په سندهـ کي هم مير فتح علي خان تالپور ياغي سو، خو د تېمورشاه لښکر نظامي مشر مدد خان د تالپور قبيلې پر سر ټکولې او بېرته ئې همهغه مير فتح علي خان د هغه ځای حکمران کی (د ۱۲۰۱هـ = ۱۷۸٦م په شاوخوا کي). دوه کاله وروسته په کشمير کي آزاد خان سر واخيست، خو تېمور هغه بېرته آرام کی (۱۲۰۳هـ = ۱۷۸۸م). څنګه چې د بخارا پاچهان د سدوزو د دولت مطيع او دوستان ول، ځکه نو احمدشاه هم تل د دوی د دوستي مراعات کاوه، خو د تېمورشاه په وخت کي شاه مراد معصوم منغيتي مرو ونيوله، ځکه نو تېمورشاه د يو لک تنه لښکر سره د کندوز او آقچې له لاري ورغی او په نتيجه کي ئې د شاه مراد سره روغه وکړه او د آمو سيند ئې وېش وټاکه (۱۲۰۴هـ = ۱۸۹۳م) او هيواد ئې خپلو زامنو ته داسي ووېشه، چې کندهار ئې همايون ته او هرات ئې محمود ته او پېښور ئې عباس ته او کابل ئې زمان ته او غزنه ئې شجاع ته او کشمير ئې کوندل ته وسپاره او پخپله دی تر دوويشتو کالو پاچهی ورروسته په داسي حال کي چې پلرنی هيواد ئې له کشمير او پنجاب او سنده تر آمو او د خراسان تر مشهده ساتلی وو د (۱۲۰۷هـ = ۱۸۹۳م) کال د شوال پر اوومه په کابل کي مړ سو او څليرويشت زامن ئې پاته سول، چې د هغو له جملې څخه زمانشاه چې مور ئې يوسفزۍ وه او د سردار پاينده محمد خان محمدزي په کومک د کابل پر تخت کښېنوست او خپل وروڼه ئې د کابل په بالاحصار کي بنديان کړل، خو همايون ورور ئې له کندهاره د ده مقابلې ته راووت او د غلجيو په کلات کي ئې ماته وکړه او بلوچستان ته وتښتېد.

زمانشاه دننه په هيواد کي په سختو خانه جنګيو اخته سو. د افغانستان خارجي رقيبانو د وروڼو له دې نفاقه څخه ګټه واخيسته، د شمال له خوا د بخارا منغيتي پاچهانو او د جنوب له پلوه د سندهـ ميرانو او د لمر لوېدو له خوا آقا محمد قاجار او د لمر ختو له پلوه سکانو د هيواد سرحدونه تهديد کړل، ځکه نو زمانشاه په (۱۲۰۸هـ = ۱۷۹۳م) کال د سکانو د خطر د مخنيوي په غرض د پنجاب خوا ته متوجه سو، خو چې پېښور ته ورسېد، همايون ورور ئې د سندهـ د ميرانو په مرسته د بولان له خوا راغی او کندهار ئې ونيو، ځکه نو شاه زمان و نه کولای سو، چې د پنجاب سيمه تصفيه کي دستي ئې پر کندهار يرغل وکی او همايون ئې ونيو، ړوند ئې کی او له هغه ځايه د

سند هـ د تالپور د میرانو د سرکوټلو له پاره د بولان تر درې تېر سو او د فتح علي تالپور سره ئې د درې لکو طلاوو په اخیستلو روغه وکړه او بېرته د خپل بل ورور محمود مقابل ته چي له هراته ئې لښکر را ایستی وو ورغی او هغه ئې په فراه کي مات کی او د محمود د مور په شفاعت ئې هغه بېرته د هرات حکمران وټاکه او تر هغه وروسته ئې بلخ هم د بخارا له اوزبکو پاچهانو څخه ونیو او په (۱۲۱۰هـ = ۱۷۹۵م) کال د خپل لښکر سره تر اټک پوریووت او په حسن ابدال کي ئې د سکانو لښکر سره ومروړل او د دېرش زره تنه لښکر سره ئې لاهور بیا ونیو. څنګه چي محمود ورور ئې په هرات کي بیا سر اخیستی او یاغي سوی وو، بېرته کابل او کندهار ته وګرځېد او محمود له هراته ایران ته وتښتېد او زمانشاه هرات خپل زوی شهزاده قیصر ته وسپاره (۱۲۱۲هـ = ۱۷۹۷م). زمانشاه یو لوړ همته او ادعا طلبه سړی وو او په کابل کي ئې د یوه لوی لښکر په تهیه لاس پوري کی چي پر هند یرغل وکي او د احمدشاه شهنشاهي بیا نوې کي او هم د انګرېزانو د متجاوزو قواوو په مقابل کي د هند د مسلمانانو سره مرسته وکي په دې وخت کي ناپلیون هم مصر ته رسېدلی وو او د زمانشاه دربار ته ئې یو پیغام راواستاوه چي په هند کي د انګرېزانو د متجاوزو او بریالیو قواوو مخه ونیسي او د فرانسې امپراطور ته د دوستۍ او همکارۍ له لاري ور وړاندي سي، ځکه نو زمانشاه هم په هند کي د انګرېزانو د استعماري قواوو د مخنیوي له پاره ملا وتړله او د هند د نیولو په غرض د خورا درانه قوت سره پېښور ته رهي سو (د ۱۷۹۸م د اکتوبر ۲۵ = ۱۲۱۳هـ) ده په لاهور کي د رنجیت سنګهـ سره سیاسي خبري اتري وکړې او هغه ئې خپل اطاعت منلو ته واداره کی او پر ډهلي باندي د یرغل له پاره ئې خپل لښکر سمبالاوه.

د انګرېزانو سیاست پوهانو چي په هند کي تر اوسه خپل مخ ته داسي درونډ خنډ نه وو لیدلی او له بلي خوا ئې د زمانشاه په مقابل کي لښکري قوت هم نه سو راایستلای، نو په سیاسي فعالیت ئې لاس پوري کی او لارډ ولزلي د هند ګورنر جنرال د برتانیا د دولت یو سفیر کپتان جان مالکم د ایران دربار ته واستاوه او د (۱۸۰۱م کال د جنورۍ د لسمي نېټې) تړون ئې د ایران سره لاسلیک کی، چي د هند په اثر د ایران پاچا تعهد وکی چي که افغان پاچا پر برتانوي هند حمله وکي، د قاجار لښکر به پر افغانستان تجاوز وکي او که افغان پاچا یا فرانسه پر ایران یرغل وکي او د ایران په بحري سواحلو کي مداخله وکي د انګرېز دولت به خپل فوجونه د ایران مرستي ته

واستوي. پر دې تدافعي او حربي تړون سربېره د برتانيا سفير جان مالکم لا پخوا د آقا محمد قاجار پر ځای ناست فتح عليشاه پر خراسان او هرات باندي لښکرکښی ته پارولی وو، څو چي په دې وسيله زمانشاه د جبهې شاته د خطر سره مخامخ کي او هغه پر هند باندي له يرغل څخه منصرف کي (۱۲۱۴هـ = ۱۷۹۹م) ځکه چي د زمانشاه دې لښکرکښيو په هند کي لوی انقلاب اچولی وو او نژدې وو، چي د احمد شاه د فتوحاتو تاريخ بيا تکرار سوی وای.

د ولزلي دا سياسي فعاليت چي د ايران په دربار کي ئې د ملکم په واسطه کړی وو، بريالی سو او څنګه چي د قاجار لښکر د انګرېز په تحريک او پارونه پر خراسان يرغل وکی شاه زمان مجبور سو، چي د پېښور او کندهار له لاري خپل ځان هرات ته ورسوي، فتح عليشاه چي په خپل مقصد چي د هند د نيولو څخه د شاه زمان را ګرځېدل وه، بريالی سو، نو خپل لښکر ئې له خراسانه بيرته وغوښت.

خو د زمان شاه له مغزو د هند د نيولو فکر و نه ووت، او بيا ئې له افغاني قواوو څخه يو لوی لښکر جوړ کی او په پېښور کي ئې په قوي تجهيزاتو لاس پوري کی، انګرېزي استعمار غوښتونکو چي دی په هند کي د ځان خورا غښتلی او قوي رقيب باله نو د ده له پاره ئې اساسي چاره وسنجوله او وې غوښتل چي د ده د ورونو له رقابت او د افغاني داخلي نفاق (يعني زموږ د ملي تباه کوونکي ناروغی) څخه کار واخلي، او خپل دا خطرناک رقيب بېخي له منځه يوسي. دا وار د انګرېزي سياست پوهانو نظر په ايران کي د زمان شاه پر فراري ورور شهزاده محمود باندي ولوېد، چي هغه وخت ئې د سردار فتح خان بارکزي سره په ايران کي د فرار شپې ورځې تېرولې او څنګه چي سردار پاينده خان د فتح خان پلار د شاه زمان په امر وژلی سوی وو ځکه نو فتح خان هم د شاه زمان له مخالفو څخه ګڼل کېده.

بايد وويل سي چي فتح خان په هغه وخت کي يو غښتلی، هوښيار او متنفذ شخصيت وو، چي په درانيو قبيلو کي له فراه تر کندهاره يوازنی مرد ميدان او د ملي قوت خاوند ګڼل کېده. ده ډېر فعاله او غښتلي وروڼه درلودل، او د ده کهول تر شاهي کهول وروسته د افغاني قوت يوازينی چينه وه.

د قاجار په دربار کي د انګرېز کاردارانو شاه محمود د شاه زمان د رقيب په حيث پېژاند، چي په ترهلي او پرېشانه حالت له هيواده وتلی او د ايران خاوري ته ئې پناه وړې

وه، ځکه ئې نو دا وار محمود د قاجار د پاچا په وسیله وپاراوه او د سردار فتح خان په ملګري د سیستان او فراه له لارې د افغانستان خاورې ته راننه ووت، دوی د درانو او بارکزو قبیلو په مرسته چې د ایران له وېشه تر کندهاره پرتې وې سیستان او فراه او کندهار ونیول، او بیا چې ئې یو لوی او قوي لښکر مجهزه او تیار کی نو د سردار فتح خان په مشري ئې د کابل خوا ته مخه وکړه، شاه زمان چې په پېښور کې د هند د نیولو په نیت لښکر جوړ او د دې خبر په اورېدو کابل ته راغی او د خپل ورور او سردار فتح خان د مخنیوي په غرض تر غزني تېر سو، د دواړو وروڼو لښکر د غزني او مقر تر منځ په تازي کې سره وجنګېدل او په نتیجه کې زمان شاه مات سو او د خپل ورور په لاس کښېوتی او دستي ئې ړوند کی او انګرېزانو په دې لویه پېښه خپل خطر ناکه رقیب له منځه یووی او هم ئې په افغانستان کې د کور په کور جنګېدو اور بل کی، چې تر هغه وروسته هیچا د هند د نیولو فکر و نه کی، دا وه د کور په کور جنګېدو او داخلي نفاق بده نتیجه چې تل ئې د افغان کور وران کړی دئ.

محمود دستي د کابل پر تخت کښېنوست (۱۲۱۵هـ =۱۸۰۰م) او سردار فتح خان محمدزی ئې د ځان وزیر کی او دا وخت وو، چې افغانستان د وزیر فتح خان د وروڼو په لاس ورغی او محمود تش په نامه پاچا وو.

شجاع الملک د زمان شاه سکني ورور چې له لیرې دا ویرجنې پېښې لیدلې، په پېښور کې ئې لښکر جوړ کی او د محمود مقابلې ته را ووت، د شاه محمود لښکر چې درې زره تنه له کابله راغلي ول، په اشپان نومي ځای کې ئې د شجاع الملک د لښکر سره جنګ وکی او شجاع الملک د خیبر غرو ته پر شا کی (۱۲۱۶هـ = ۱۸۰۲م)، خو داخلي جنګو شاه محمود هم پر آرامه پرې نه ښووه او په (۱۲۱۷هـ = ۱۸۰۲م) کال کې د غلجیانو سره او هم په پېښور کې د شجاع او اپریدو سره او د هیواد په شمالي سیمو کې د اوزبکو د حکمرانانو سره چې له جیحونه ئې تېرې کړې وو، لوی جنګونه پېښ سول او د ایران قاجاري دولت هم د نادري کهول پایڅوړ چې په خراسان او مشهد کې ئې د افغاني پاچهانو تر سلطې لاندې حکومت کاوه، له بیخه ویوست او مشهد ئې ونیو او له بلې خوا د بلوڅو امیرانو ته هم د خپلواکۍ فکر پیدا سو، د دې ټولو فتنو باوجود شاه محمود چې عیاش او تن پروره سړی وو، په خپله ئې کار نه کاوه او د هیواد چارې ئې ټولې وزیر فتح خان او د هغه وروڼو ته سپارلې وې، څو چې خلکو بلوا وکړه او د شاه

ولي خان باميزي زوی مختارالدوله شېرمحمد خان چي د ده پيشكار وو شجاع الملک ته د کابل د پاچهۍ دپاره بلنه ورکړه، شجاع هم په (۱۲۱۸هـ = ۱۸۰۳م) کال له پېښوره کابل ته راغی او د پاچهۍ پر تخت کېښنوست او شاه محمود ئې خلع کی او وې باخښه، څنگه چي د محمود زوی شهزاده کامران او وزیر فتح خان په کندهار کي ول، ځکه نو شاه شجاع د شاه زمان زوی شهزاده قيصر د هغو د مخنيوي له پاره واستاوه، او هغه کندهار بې جنگه ونیو او کامران ئې فراه ته پر شا وشاړه او وزیر فتح خان خپل ځان شاه شجاع ته تسليم کی او د گرشک جنوبي خوا ته د بارکزو د ناوې د ادې په کلا کي ظاهراً منزوي سو، خو په باطن کي ئې د سياست په چارو کي له مداخلې څخه توجه نه وه اوښتې او په (۱۲۱۹هـ = ۱۸۰۴م) کال چي شاه شجاع په پېښور کي د ېرش زره تنه لښکر غونډ کړ او د کشمېر او پنجاب او سند د تصفيې له پاره رهي کېده، په کندهار کي شهزاده قيصر د خپل اکا پر خلاف شورش جوړ کی، خو شاه شجاع د خپل وراره غوړونه تاو کړل او بيرته ئې د کندهار حکمران کی او په خپله ئې روغه ورسره وکړه، خو داخلي اوضاع ناارامه او ښورېدلې وه، او د پاچا ناپوهو وربرو کامران او قيصر تل په مخالفت گوتي وهلې، څنگه چي شاه شجاع د کشمير او پېښور په جگړو کي اخته وو او د داخلي مخالفانو د مقابلې له پاره ئې فرصت نه درلود، نو ځکه د افغانستان اوضاع بحراني، تيت پرکه او پرېشانه وه په دې وخت کي د انگرېز متجاوزو قواوو هندوستان تر لودهيانې پوري ونيو او څنگه چي د ايران په دربار کي د فرانسې، د ورځ په ورځ زياتېدونکي اغيزې څخه بېرېدل او غوښته ئې چي د هند په فتوحاتو کي خپل اروپايي رقيبان بيخي له منځه يوسي او د هند پر لويه مځکه يوازي خپله واچوي، ځکه نو د برتانوي هند د حکومت له خوا يو ايلچي (الفنستون) د مسټرلسترچي سره د (۱۸۰۹م کال د مارچ پر ۵) په پېښور کي شاه شجاع ته راغله، دی ئې پر افغانستان باندي د ايران له احتمالي حملې څخه وبېراوه، او په نتيجه کي د شاه شجاع او برتانوي هند تر منځ د دوستۍ لومړی تړون وتاړه سو، چي هغه بيا د (۱۸۰۹م کال د جون په ۱۷، ۱۲۲۴هـ) د هند گورنر جنرال لارد منتو تصديق کی، دې تړون دفاعي بڼه درلوده، ځکه چي په لومړۍ او دوهمه ماده کي ئې ويل سوي چي که فرانسه او ايران د افغان پاچا پر متصرفاتو تېری وکي، د برتانوي هند دولت د کابل د پاچا سره کومک کوي او نه پرېږدي چي پر افغانستان تېری وسي او دريمه ماده ئې د دواړو خواوو دوستانه روابطو او يووالي او دوستۍ ته اشاره

کوي چي افغان پاچا به خپل هیواد ته هیڅ یو فرانسوی نه پرېږدي او دواړي خواوي به یو د بل په هیواد کي مداخله نه کوي، تل به د دوستۍ د مراتبو مراعات کوي.

دا تړون د شاه شجاع په درد و نه خوړ، بلکي دی ئې د خلکو په نزد منفور کی او شاه محمود بیا د وزیر فتح خان په مرسته دی دوه کاله په هیواد کي دننه په جګړو او فتنو اخته وساته، ځو چي په پای کي ئې ماته وکړه او په هندوستان کي ئې برتانوي دولت ته پناه یوړه (۱۲۲۶هـ = ۱۸۱۱م). خو دوهمه پلا بیا د انګرېزانو په ملاتړ پر تخت کښېنوست یعني دی په هند کي د برتانوي هند دولت د دې له پاره وساته چي په راتلونکي وخت کي په افغانستان کي د دوی د کار وسیله وي.

خو شاه محمود چي دوهمه پلا پر تخت کښېنوست د هیواد د چارو واګي اصلاً د وزیر فتح خان په لاس کي وې، چي دې زړور وزیر بلوچستان او سند او کشمیر د ځان تابع کړه او د شاه محمود په نامه ئې پر هیواد حکم کاوه او افغانستان ئې خپلو ورونو ته سپارلی وو، ځنګه چي په دې وخت کي رنجیت سنګ د اټک کلا ونیوله نو فتح خان په ضلع هزاره کي تر یوې سختي جګړې وروسته هغه مات کی او کشمیر ئې هم خپل ورور سردار محمد عظیم خان ته ورکی (۱۲۳۰هـ = ۱۸۱۴م). دا وخت هرات د محمود د ورور حاجي فېروزالدین په لاس کي وو، په (۱۲۳۲هـ =۱۸۱٦م) کال فتح علي شاه قاجار د هرات د نیولو اراده وکړه ځکه نو فتح خان د کابل له لښکر سره هرات ته ولاړ، لومړی ئې حاجي فېروزالدین ونیو کابل ته ئې واستاوه او بیا ئې د هرات لمر لوېدو ته د کهسان په جګړه کي د قاجاریانو د لښکر لس زره تنه ووژل او له هراته ئې وشړل او په خپله د هرات د چارو په سمون او تنظیم بوخت سو، خو په دې وخت کي یوه بد مرغه پېښه وسوه او هغه دا چي سردار دوست محمد خان د وزیر ورور په هرات کي د حاجي فیروزالدین کور ته ورننه ووت، د ښځو ګېڼې او پسول او جواهر او دانه نښانه قیمتي ملابند چي د (تاریخ احمدشاه دراني د مؤلف) شېرازي په قول پنځوس زره تومنه قیمت ئې درلود د نورو نفایسو سره واخیستل او کشمیر ته ولاړ او دې پېښي پر شاه محمود او کامران ډېره ناوړه اغېزه وکړه او د دوی او وزیر فتح خان د کهاله تر منځ بدوردي او کینه پیدا سوه او همدا د کرکي او بدبینۍ احساس وو، چي په فجیع توګه د وزیر فتح خان د وژلو د سدوزو و بارکزو د کهاله تر منځ د دښمنۍ سبب سو.

شاه محمود خپل ناپوه او کینه ناک زوی کامران هرات ته واستاوه او کامران د

وزیر فتح خان د ورور د اعمالو د کسات اخیستلو په غرض وزیر فتح خان ونیو او د هغه پوه وزیر په سترگو ئې سیخ ومانده، ړوند ئې کی (۱۲۳۳هـ = ۱۸۱۷م). د شهزاده کامران دا کار په ظاهره د فتنې د ارامولو سبب وگاڼه سو، خو ړانده وزیر ډېر غبنتلي او فعاله وروڼه درلوده، هغو چې د خپل مشر ورور ړندول واورېده په ټول هیواد کي له کشمیره تر هراته فتنې وخوټېدلې او د قهر او غضب د اور لمبې پورته سوې، سردار دوست محمد خان له کشمیره راوگرځېد کابل ئې ونیو او شاه محمود ئې غزني ته وشاړه.

له ها خوا کامران د ۱۲ زرو لښکریانو سره په غزني کي د پلار کومک ته راورسېد او له بلي خوا سردار محمدعظیم خان له کشمیره د سردار دوست محمد خان مرستي ته راغی او د کابل او غزني په منځ کي سره وجنگېدل، خو محمود او کامران ماته وکړه، او په همدې وخت کي ئې ړوند وزیر فتح خان هم دوردگو په سیدآباد کي د کسات له مخي په ډېر بد عذاب وواژه او بند پر بند ئې پرې کئ (۱۲۳۴هـ = ۱۸۱۸م) او دوی په خپله هرات ته ولاړل او هلته د حکومت پر سر د محمود او حاجي فیروزالدین تر منځ شخړه پیدا سوه او کامران پر دواړو بریالی سو او دوی ئې ووژل (۱۲۴۵هـ = ۱۸۲۹م) او په خپله کامران تر (۱۲۵۸هـ = ۱۸۴۲م) کال پوري پر هرات حکومت وکی.

دا وخت چي پر ټول هیواد د نفاق اور بل وو، د ایران قاجاري دولت بیا په (۱۸۳۲م) کال دېرش زره تنه لښکر د تزاري روسیې په پارونه او تحریک د عباس میرزا په قوماندانۍ د هرات د نیولو له پاره را واستول، خو څنگه چي انگرېزانو قاجاریان له هغي لښکرکښۍ څخه منع کړل او هم په خپله هراتیان خپل هیواد افغانستان ته وفاداره ول او قاجاري لښکر یان ئې پرې نه ښوول، ځکه نو هرات د پخوا په شان د افغاني سلطنت په مرکز پوري مربوط پاته سو.

سدوزي پاچهان:

۱– *احمد شاه بابا ابدالي د زمان خان زوی (۱۱۶۰هـ = ۱۱۸۶هـ)

۲– سلیمان د احمد شاه زوی (۱۱۸۶هـ)

۳– *تېمور شاه د احمد شاه زوی(۱۱۸۶هـ = ۱۲۰۷هـ)

۴– *زمان شاه د تیمور شاه زوی (۱۲۰۷هـ = ۱۲۱۵هـ)

۵– *شاه محمود د تیمور شاه زوی (۱۲۱۵هـ = ۱۲۴۵هـ)

٦- *شاه شجاع د تیمور شاه زوی (۱۲۱۸هـ = ۱۲۵۸هـ)
۷- فیروزالدین د تیمور شاه زوی (په هرات کي د. ۱۲۳۰هـ شا وخوا)
۸- *کامران د شاه محمود زوی (په هرات کي ۱۲۳۴هـ = ۱۲۴۵هـ)

مأخذونه:

حیات افغانی - سراج التواریخ - تحفه الحبیب - تاریخ سلطانی - خورشید جهان - سیرالمتاخرین، د سرجان ملکم تاریخ - تاج التواریخ - احمد شاه بابا - لوی احمد شاه بابا - مجمل التواریخ بعد نادریه - د فروغي تاریخ ایران - د عباس اقبال تاریخ عمومي - جهانکشاي نادری - دایرة المعارف اسلامي - صولت افغاني - تاریخ احمدي (قلمي) رهنمای افغانستان - مجمع التواریخ - ریاض المحبة - خصایل السعادة - خلاصة الانساب (قلمي) رهنمای افغانستان - مجمع التواریخ - ریاض المحبة - خصایل السعادة - خلاصة الانساب (قلمي) - نادر نامه (قلمي) - مکتوبات سیاسي شاولي الله - مکتوبات شاه فقیر الله - د رنجیت ظفر نامه - حیات حافظ رحمت خان - تاریخ نظامي ایران - تاریخ پښتون - شوکت افغاني - تاریخ پشاور - جریدۀ شمس النهار کابل - جریدۀ سراج الاخبار - تاریخ افغانستان د ملیسون - احمد شاه درانی د گنداسنگ په انگرېزي - تاریخ احمدشاه درانی د سید حسین شیرازي - عماد السعاده د سید غلام علي خان - راجگان پنجاب د گریفن په انگرېزي - تاریخ بلوچستان - خزانۀ عامره - تاریخ سندهـ د مولانا مهر - تاریخ سند په انگرېزي - گزیتیر سندهـ - تاریخ کلهوره په انگرېزي[۲] - تحفة الکرام.

[۲] وروستنۍ وقایع او تاریخي حوادث به په دوهم ټوک کي ولیکل سي.

اوومه برخه:

محمدزيان*

له (۱۲۱٦هـ) تر (۱۳۳۸هـ)

محمدزي د کندهار د بارکزيو درانيو يوه پښه ده. د دوی پخوانی نيکه (محمد) د کندهار د ابداليو د قبيلو د حکمران ملک سدو هم مهالی وو، چي د (۱۰۰۰هـ – ۱۵۹۱م) په شاوخوا کي ئې د کندهار د جنوب ختيځ خوا ته په ارغسان کي له خپلي کوچنۍ قبيلې سره ژوند کاوه.

محمد د عمر زوی د دارو او بارک په ټبر پوري چي د سړبن ابدالي پښتنو يوه څانگه ده اړه لري. د محمد نيکه مزار اوس هم د کندهار په ارغسان کي دئ. د محمد اولادې د بارکزيو قبيلو په منځ کي د رياست مقام لاره، مرکز ئې د بارکزيو ناوه گرشک وو چي د هلمند پر غاړه پروت دئ. تر اوسه هلته د ادې کلا سته دا د دغه کهاله پخوانی ځای دئ.

لکه مخکي چي مو ولوستل د شېرسرخ په جرگه کي چي د پادشاه د ټاکلو له پاره جوړه سوې وه د دغي قبيلې مشر حاجي جمال خان د حاجي يوسف زوی د يارو لمسي د محمد کړوسي هم گډون کړی وو، هغه وروسته د احمدشاه په دربار کي مشاور گڼل کېده چي په (۱۱۸۴هـ) مړ او د کندهار په جنوبي سيمه (ذاکر کلي) کي ښخ سو. تر ده وروسته ئې زوی سردار پاينده خان د کندهار په جنوب کي له ارغسانه د هلمند د بارکزيو تر ناوې پوري د بارکزيو قبيلو د مشر په توگه وپېژندل سو. تېمورشاه ده ته مهم منصبونه ورکړل. ده د کشمير د آزادخان او د عبدالخالق سدوزي د پاڅون په ټکولو او د مومندو لالپورې ته د تېمور د زوی شهزاده عباس په شړلو کي تېمورشاه ته غوره

* د ارواښاد استاد عبدالرؤف بېنوا په ترجمه کړې نسخه کي د محمدزايانو برخه نه ده راغلې، حاضر متن مو د ښاغلي عبدالودود کرزي له ترجمې څخه د کتاب د تکميل په موخه ور اضافه کړ (م. روهيال).

خدمتونه وکړل چي له همدغه امله د سرفراز خان په لقب وویاړل سو.

خو د تېمورشاه تر مړیني وروسته زمانشاه د ده پر ځای رحمت الله خان سدوزي ته د وفادارخان په لقب وزارت ورکړ او سردار پاینده خان د هلمند غاړي ادې کلا ته وشړل سو. خو دا چي نوموړی ځای د خلکو د ورتګ ځای وو، نو زمان شاه دی له ځینو همکارانو سره په کندهار کي وواژه (د روژې ۱۳ مه ۱۲۱۴هـ – ۱۷۹۹م). سردار پاینده خان شل تکړه او مېړني زامن لرل چي د پلار تر وژل کېدو وروسته په افغانستان کي خواره سول، د سردار پاینده خان مشر زوی سردار فتح خان له کندهاره د زمانشاه ورور شاه محمود ته چي په ایران کي اوسېده پناه ورووړه، هماغسي چي د سدوزیو په اړه مو وویل: دا مهال زمانشاه پر هند د یرغل له پاره سل زره لښکر جوړ کړی وو، انګرېز سیاسي استازو د دغه لښکر د ناکامېدو له پاره هري خوا ته لاس او پښې وهلې، ډېر ډارېدل چي ناپلیون د زمانشاه له دربار سره له سیاسي خبرو او اړیکو څخه ګټه وا نه خلي، ځکه ئې د ایران د قاجاریه حکومت په مرسته شاه محمود ولمساوه او افغانستان ته ئې د زمانشاه پر خلاف راواستاوه. سردار فتح خان هم د سیستان او فراه له لاري هیواد ته راستون سو. د محمود د ځواکونو په مشری ئې پر کندهار یرغل وکړ، د (تازي) په جګړه کي ئې شاه زمان مات او د محمود په حکم ئې هغه ړوند کړ. دوی کابل هم ونیو او د شاه زمان وزیر رحمت الله خان سدوزی ئې وواژه.

همدا چي شاه محمود د کابل پر تخت کښېناست، سردار فتح خان ئې د (شاه دوست) په لقب خپل وزیر وټاکه، ټول هیواد ئې هغه او د هغه ورونو ته پرېښوو (۱۲۱۶هـ – ۱۸۰۱م). د سردار پاینده خان محمدزي زامن له همدغه مهاله د افغانستان حکمرانان سول، فتح خان چي هراړخیز واک ئې لاره خپل ټول ورونه ئې د افغانستان پر ولایتونو حکمرانان کړل. یو ازي یو ورور سردار دوست محمد خان ئې له ځانه سره په مرکز کي وساته، محمد عظیم خان او بیا وروسته عبدالجبار خان ته ئې کشمیر ورکړ. پېښور ئې تر اټکه یارمحمد خان او سلطان محمد خان ته وسپاره. سند او ښکارپور ئې رحمدل خان، غزني ئې شېردل خان، بامیان ئې کهندل خان، کندهار او د هغه خواوشا له کلاته تر بولان درې او فراه پوري مهردل خان او پردل خان ته او دېره جات تر پنجاب او د پېښور تر غرنیو سیمو پوري نواب عبدالصمد خان او د هغه زوی نواب زمان خان ته ورکړه سول. په دغه کشمکش کي هیواد د جګړو او وینو بهولو ډګر سو خو په هرات کي وزیر فتح

خان د شهزاده کامران د وزیر عطامحمد خان په لاس ړوند کړای سو (۱۲۳۴هـ – ۱۸۱۸م).

دغي پېښي بارکزي ورونه غچ اخیستو ته اړ کړل او سخت اړدوړ پیل سو. وروسته تر هغې چي د سدوزو د کهاله وروستی ټغر ئې ټول کړ، د وزیر فتح خان د ورونو تر منځ هم د پادشاهۍ پر سر شخړي راوزېږېدې. تر هغه چي سردار دوست محمد خان په کابل عیدگاه جومات کي خپل امارت اعلان کړ او د کابل د امیر په توگه ئې په نامه خطبه ولوستل سوه (۱۲۵۴هـ – ۱۸۳۸م).

امیر بې له ځنډه په افغانستان کي خپل ټول زامن پر خپلو سیمو وټاکل خو رنجیت سنگهـ د افغانستان له کورنیو شخړو څخه گټه واخیسته او گرد پنجاب ئې تر پېښوره ونیو. سردار سلطان محمد خان هم د بالاکوټ په جگړه کي د میر احمد خان بریلوي او مولوي اسماعیل په مشرۍ د مجاهدینو په شهادت او د پېښور په صوبه کي د یارمحمد خان او د هغه د ورور په مړینه، کمزوری سوی وو. دا بېره هم وه چي رنجیت سنگهـ به پر خیبر یرغل وکړي، ځکه نو امیر دوست محمد خان د یوه لیک له لاري د هند له گورنر جنرال لارډبنتک څخه د پېښور د بیرته نیولو په چار کي مرسته وغوښته او د باسول له لاري ئې له شپېته زریز لښکر سره د پېښور پر لوري حرکت وکړ. خو سردار سلطان محمد خان د امیر لښکر تار په تار او امیر بیرته ناکام له پېښوره خیبر او جلال آباد ته راستون سو. په دې توگه اشنغر تر کوهاټ او ټله د امیر ورور سلطان محمد خان ته پاته سو (۱۲۴۵هـ – ۱۸۳۸م).

امیر دوست محمد خان د رنجیت سنگهـ د ماتولو په تکل د لیکونو له لاري له انگلیس، ایران او زاري روس دولتو څخه مرسته وغوښته. د هند وایسرای لارډ آکلینډ په (۱۸۳٦ – ۳۷م) د برتانوي هند له خوا سرالکساندر برنس، میجر لیچ، لفټننټ او دومستر لارډ د لومړني سیاسي او اقتصادي هیئت په توگه کابل ته ولېږل.

په عین وخت کي د روسیې یو نفر نماینده ویتکویچ[۳] هم کابل ته رسېدلی وو چي د کابل دربار او د کندهار حکمرانان ئې په سند او پنجاب کي د انگلیس د پرمختگ پر خلاف هڅول. امیر دوست محمد خان له الکساندر برنس سره په دې شرط مفاهمه

---

[۳] Vithievitck په ۱۳۳۸کي کابل ته راغی، خو دا سفیر په غیر رسمي ډول د روسیې د وزیر مختار له خوا په تهران کي کابل ته رالېږل سوی وو (اریانا –ټ ۲، ګ ۱).

وکړه، چي که د انګلیس دولت دوه زره ټوپک ورکړي او د سند دریاب د لوېدیځ مځکي هم ده ته پرېږدي نو دی به تل د انګلیسانو دوست او همکار وي.

مګر د هند برتانوي دولت د روس له احتمالي حملو څخه د هند د ساتلو له پاره پر شاه شجاع سدوزي چي له سلطنت څخه خلع او په لودهیانه کي فراري وو نظر درلود. پر دې اساس لارډ آکلینډ د اکتوبر په لومړۍ (۱۸۳۸م) د افغان او انګلیس لومړۍ جنګ پیل کړ او د امیر دوست محمد خان د خلع او ریښي کښلو له پاره ئې ملا وتړله.

شاه شجاع چي په دغه وخت کي د خپل تخت و تاج د لاس ته راوړلو له پاره هر ډول پستۍ ته حاضر وو، د مارچ پر ۱۲مه (۱۸۳۴م) ئې خپل لومړی تړون چي ۱۴ مادې ئې لرلې له مهاراجه رنجیت سره وتاړه که څه هم مخلوع پاچا په دغه وخت کي هیڅ ډول حقوقي او رسمي حیثت نه لاره، خو په معاهده کي ئې ټول کشمیر، پنجاب او د اټک، پېښور مځکي تر خیبر او سند پوري رنجیت ته پرې ښوولې، دواړو خواوو (د ۱۱ – ۱۳ – ۱۴) مادو پر بنسټ د خطر په وخت کي د یوه بل لښکري مرسته قبوله کړه، د تجارت د جریان په هکله ئې هم ځیني مواد په دغه تړون کي ځای کړل، خو څرنګه چي دغه تړون یوازي د شاه شجاع او رنجیت تر منځ وو او انګلیسانو په هغې کي ګټه نه درلوده د هند برتانوي دولت هغه و نه منله په هغه پسې د لاهور تړون د (جون ۲۶ – ۱۸۳۸م) د برتانوي ګورنر، جنرال مهاراجه رنجیت سنګهـ او شاه شجاع الملک تر منځ په شمله کي د جولای پر ۲۵مه ۱۸۳۸م وتړل سو (دا هغه کال دئ چي روسي نماینده ویتکوویچ کابل ته راغلی وو) په دغه معاهده کي چي ګورنر او رنجیت سنګهـ حقوقي شخصیتونه ول او اختیارات ئې درلودل دریم شخص شجاع الملک په هیڅ ډول د خپل هیواد د استازي صلاحیت نه لاره، په دغه وخت کي دی یو فراري او له ملي حقوقو ناقد سړی وو.

په هر حال د لاهور تړون د مسټر ډبلیو ایچ مکناټن په ذریعه چي د لارډ آکلینډ د هند د نائب السلطنه له لوري ئې استازیتوب لاره، په (۱۸) مادو کي لاسلیک سو، شاه شجاع د افغانستان د تاج و تخت د بیا نیولو د وعدې په مقابل کي د افغانستان له ټولو مځکو چي په ماوراء بولان او خیبر کي وې لاس واخیست او په کال کي ئې دوه لکه روپۍ باج له پنځه زریز لښکر سره ومانه چي د تاج و تخت تر لاس ته راوړو وروسته ئې رنجیت ته ورکي او له بل هیڅ دولت سره چي د انګلیس او مهاراجه د دولت مخالف وي د دوستۍ او سیاسي اړیکو تړون و نه کړي. په هرات کي به هم خپل وراره حکمران وپېژني

او د هرات په امورو کې به مداخله نه کوي.

اتلسمه ماده د پوځي يووالي د تضمينولو تړون وو چې که له تړون کوونکو څخه يو (انګليس، رنجيت او شاه شجاع) د کوم طرف تر خطر لاندي راسي نور به له ده سره د خطر په دفع کولو کې لښکري مرسته کوي، په دغه عجيبه تړون کې چې د دوو حکومتو او يوه فراري له خوا لاسليک سو انګليس لښکريانو د سرجان کين په قوماندانۍ شاه شجاع د (۱۸۳۹م فبروري ۱۲۵۴هـ) د سند او بولان له لارو راوست او پر کندهار ئې حمله وکړه. د اپريل پر ۲۰ – ۱۸۳۹م = ۱۲۵۵هجري ئې د کندهار ښار ونيو او د امير ورونه ايران ته وتښتېدل. شاه شجاع د کندهار پر پاچهي تخت باندي کښېناست (د صفر ۲۳ – ۱۲۵۵هجري). په کندهار کې مکناټن له شاه شجاع څخه ژمنه واخيسته چې د انګليس عسکر به له يوه نفر سياسي نماينده سره د تل له پاره په افغانستان کې پرېږدي او په دغه ډول د برتانيې عسکر د شاه شجاع په ملګرتيا د غزني له لاري او همدارنګه (کپتان ويډ) د شهزاده تېمور د شاه شجاع له زوی سره د خيبر او جلال آباد له لاري پر کابل باندي حمله وکړه (د اګست پر ۱۷ – ۱۸۳۹م = غره جمادی الاخر ۱۲۵۵ هجري). شاه شجاع ئې په کابل کې پر پاچهۍ کښېناوه. امير دوست محمد خان له خپلو زامنو سره بخارا ته ولاړ خو په هغه ځای کې د بخارا پاچا دی بندي کی. د هند ګورنر جنرال لارډ آکلينډ د کابل د فتح او د امير دوست محمد خان د ايستلو له کبله د لندن دربار له خوا د ارل Earl په لقب ووياړل سو (۱۸۳۹م).

دغه مهال چې د حکومت مشران او امير له هيواد څخه ولاړل او وطن ئې دښمن ته پرېښوو، افغان ملت د انګليس متجاوز لښکر ته د غزا اعلان وکی او له هر لوري پر انګليسي لښکرو د افغاني ډلګيو له خوا حملې پيل سوې، يو کال وروسته امير دوست محمد خان له خپل زوی محمد افضل خان سره له بخارا څخه راغی، له آمو څخه راتېر سو مګر په ايبک کې ئې د انګليس له لښکر څخه ماته وخوړه او تاشقرغان ته ولاړ (۲۸ ستمبر ۱۸۴۰م – ۱۲۵٦هجري). تر دې وروسته امير خپل ځان انګليس ته تسليم او کلکتې ته ولېږل سو (نوامبر ۱۸۴۰). خو ملي مجاهدينو د کابل په شمال کې د مسجدي خان، سلطان محمد نجرابي او نورو په مشرۍ د فرنګي متجاوزانو په مقابل کې په غزا لاس پوري کی، عبدالله خان اڅکزي، امين الله خان لوګري او نورو هم د ۱۲۵۸هجري د منې په سر کې د کابل په ښاوخوا کې د خلکو په اتفاق پر شاه شجاع او فرنګيانو راپورته

سول، سردار محمد اکبر خان د امیر دوست محمد خان زوی هم د شمال له لوري له دوی سره یو ځای سو او پر انګلیسانو باندي ئې کار تنګ کی، په دغه کش و ګیر کي مکناټن Sir. W. Macnaghter د ستمبر په ۲۳ مه نېټه ۱۸۴۱م د سردار محمد اکبر خان په لاس په کابل کي ووژل سو او الکساندر برنس هم د نومبر پر دوهمه نېټه ۱۸۴۱م د غازیانو له خوا وژل سوی وو. وروسته په خپله شاه شجاع هم په کابل کي د غازیانو په لاس ووژل سو (د صفر ۲ – ۱۲۵۸هجري د اپریل ۳ – ۱۸۴۲م) (وګورئ ۸۴ نومره عکس). څرنګه چي د انګلیس عسکر د دغه کال په ژمي له کابل څخه د جلال آباد پر لوري ولاړل په لار کي د افغاني غازیانو په لاس ټول ووژل سول.

انګلیسانو په دغه جنګ کي ډېر زیانونه ولیدل یعني (۳۰) زره تنه ئې ووژل سول او (۲۱) کروړه هندی روپۍ ئې مصرف سوې، په پای کي د خپل ځان له ساتلو څخه هم عاجز سول او د افغاني غازیانو له لاسه له یو تن پرته چي ډاکټر برایډون[۴] نومېد یو هم ژوندی پاته نه سو. بیرته ئې امیر دوست محمد خان له هند څخه راووست، امیر د خپل مجاهد زوی وزیر اکبر خان په همت د کابل پر تخت بیا کښېناست، ورونه ئې له ایران څخه راغلل پر کندهار باندي حکمرانان سول او هرات د یارمحمد خان الکوزي د شهزاده کامران د وزیر په لاس کي پاته سو.

امیر دوست محمد خان د خپل امارت په دوهمه دوره کي د لومړي جنګ مشهور مشران چي د هیواد د ساتلو په لاره کي ئې قربانۍ ورکړي وې لکه نایب امین الله خان لوګری، سردار سلطان احمد خان سرکار، محمد شاه خان بابکرخېل، نواب محمد زمان خان او زوی ئې شجاع الدوله خان، محمد عثمان خان او نواب جبارخان، مسجدي خان او نور تر باور لاندي را نه وستل او د هیواد په چارو کي ئې شامل نه کړل، برعکس ټول هیواد ئې د خپلو زامنو تر واک لاندي وساتی، پر دې اساس سردار سلطان احمد خان د امیر وراره او زوم چي له ده څخه مایوس سوی وو کندهار ته ولاړ او له هغه ځایه ئې له پنځه زرو کندهاري لښکرو سره پر کابل حمله وکړه، خو امیر ده ته په مقر کي ماته ورکړه تر هغه وروسته سلطان احمد خان ایران ته فرار سو او د امیر نامتو مجاهد زوی

---

(۴) William Brydon ولیم برایډون (۱۸۱۱ – ۱۸۷۸م) د انګلیسي لښکرو ډاکټر چي له دیارلس زریز لښکر څخه یوازي دی ژوندی پاته سو او جلال آباد ته ورسېد. د جنورۍ ۱۳ مه – ۱۸۴۲ (انډین بیوګرافي ۵۸).

شاه شجاع
۸۴ –لمبر عکس

وزیر اکبر خان هم په مزار شریف کې له دې دنیا ولاړ (۱۲۶۳هجري = ۱۸۴۶م) (وګورئ: ۸۵ نومره عکس).

سردار محمداکرم خان د امیر زوی په شمالي ولایاتو کې ایشان اوراق د میر بلخ، ایشان صدور د اقچې، میر حکیم خان د شبرغان والي، میر بابا بیګ د ایبک رئیس، غضنفرخان د اندخوی سالار، ګنج علي د خلم مهتر، محمودخان د سرپل داور او شاه مراد د قطغن برید ساتی مطیع کړل، تر آمو پر مخ ولاړ او د هیواد شمالي برید ئې وساته (۱۲۶۵هجري ۱۸۴۸م). په دې ډول یوازې کندهار او هرات د امیر له امارت څخه دباندې پاته سول. څو کاله وروسته کندهاري سرداران د امیر ورونه (کهندل، پردل، مهردل) مړه سول او رحمدل پاته سو، ده له خپلو وړېرونو سره جنګ وکړ. په (۱۲۷۱هجري = ۱۸۵۵م) د رجب ۱۱مه امیر دوست محمد خان خپل ولیعهد سردار غلام حیدرخان جمرود ته ولېږه چې د سرجان لارنس د پنجاب چیف کمشنر د اندریو مارکویس د هند له ګورنر جنرال استازي سره ئې وکتل او د پېښور تړون چې د مارچ پر ۳۰مه ۱۸۵۵م سوی وو او درې مادې ئې لرلې د هند له برتانوي دولت سره وکړ.

دغه تړون د دوستۍ د مراسمو او د یو او بل د هیواد په چارو کې د طرفینو د نه ګوتوهنې مضمن وو. دریمې مادې ویل چې تړون کوونکي به یو د بل دوست – دوست او دښمن به دښمن بولي.

په دغه تړون سره امیر له ختیځ لوري مطمئن سو، ضمناً ئې د کندهار په نیولو کې برتانوي هند دولت پلوي هم ترلاسه کړه، تر هغه وروسته ئې له کابل څخه لښکر ویوست کندهار ئې ونیو او خپل زوی غلام حیدر خان ته ئې وسپاره. په دې ډول کندهار مستقیماً د کابل په امارت پورې اړه پیدا کړه.

خو په هرات کې د سدوزو د کورنۍ پایڅوړ د یارمحمد خان الکوزي د کامران د وزیر په لاس له منځه ولاړ، یارمحمد خان الکوزی هم په (۱۲۶۷هـ – ۱۸۵۹م) کال وفات سو او نالایق زوی ئې چې سیدمحمد خان نومېده د ده پر ځای کېنېناست، خپل مسکوکات ئې د ناصرالدین شاه قاجار په نامه ووهل، خو د هرات خلکو دغه وضع خوښه نه کړه هغه ئې وواژه او شهزاده یوسف د حاجي فیروزالدین لمسی چې د سدوزیانو له پاته شونو څخه وو د هرات په پاچهۍ وټاکه (محرم ۱۲۷۲هـ = ۱۸۵۵م). تر هغه چې ناصرالدین شاه هرات ته لښکري راولېږلې او هغه ښار ئې ونیو (۱۲۷۳هـ).

وزیر اکبر خان غازي

۸۵-لمبر عکس

افغاني مشرانو هرات د افغانستان پخوانۍ نه بېلېدونکې برخه ګڼله او نه ئې غوښتل چې پردي هیوادونه دي په هغه کي لاس ولري، په دې اساس امیر دوست محمد خان له مرکز سره د هرات راساً یو ځای کېدل غوښتل. په دغه وخت کي امیر دوست محمد خان انګلیسانو جمرود ته دعوت کړ او د سرجان لارنس په ذریعه ئې د پېښور تړون په (جنوري ۲۶ – ۱۸۵۷م = ۲۹ د جمادی الاول ۱۲۷۳ھ) کال له ده سره وتاړه، دغه تړون چې د (۱۲) مادو درلودونکی وو د هند د ګورنر جنرال جان وایکونت کیننګ له لوري د جان لارنس چیف د پنجاب کمشنر او لفټننټ کرنل ایچ لي ایدواردس، د پېښور کمشنر په وسیله له امیر سره وتړل سو.

تړون وایي: دا چې د ایران پاچا تړون مات او پر هرات ئې قبضه وکړه او په افغانستان کي مداخله کوي، نو د هند انګلیسي حکومت به امیر دوست محمد خان ته مرسته ورکړي او د ده د مځکو په ساتلو کي به د قاجاریانو پر خلاف زیار وباسي، تر هغه وخته پوري چې له قاجاري دولت سره جنګ جاري وي د میاشتي یو لک روپۍ به امیر ته ورکوي په دې شرط چې: امیر خپل سواره او توپخانه لښکر له (۱۸) زره پلیو سره ډېر ښه وساتي او تل (۱۳) زره روزل سوي لښکر ولري. په کابل، کندهار، بلخ او یا په هر ځای کي چې له قاجاریانو سره جنګ ونښلي، د انګلیس نمایندګان به له هندي عملې سره مقرر وي څو د مرستي پیسې د دوی تر نظارت لاندي په لښکري چارو کي ولګول سي، خو په کورنیو چارو کي به ګوتي نه وهي او یوازي به له جنګي پېښو څخه خبر اخلي.

امیر دي خپل یو نماینده په پېښور کي مقرر کړي او سربېره به پر میاشتنۍ مرستي پنځه لکه روپۍ نقدي ده ته ورکوي. په مقابل کي امیر نه سي کولای په پټه یا ښکاره له بل دولت سره په سیاسي مفاهماتو لاس پوري کړي، څلور زره ټوپک ئې هم د دغه تړون پر اساس امیر ته په ټل کي وسپارل.

سربېره پر دې انګلیس دولت پر قاجاري دولت هم سیاسي فشار راووست چې هرات چې د افغانستان د مځکي پخوانۍ برخه ده ژر خوشي کړي همدا رنګه ئې په نومبر ۱۸۵۷م = ۱۲۷۳هجري یو لښکر له جنګي کښتیو سره د عرب د بحیرې له لاري پر بوشهر باندي وروهڅاوه، هغه ښار ئې ونیو او د هغه پرېښوولو ئې د هرات په پرېښوولو پوري اړ کړه.

دا چي د پردې تر شا يا د سياست په فضا کي د هرات په باره کي په هند، لندن، تهران او کابل کي فعاليت کېده د تړون د نص او د انګليس له بحري لښکرکښيو څخه ښکاره ده، خو د افغانستان او هرات خلک هم د قاجاريانو تر بار لاندي را نه غلل، هر طرف ته ملي حرکتونه وليدل سول، سربښندويه خلک د آزادۍ په لار کي پر خوځښت راغلل او له هرات څخه ئې د متجاوزو لښکرو ايستل وغوښتل. پر دې اساس قاجاريه لښکر د جولاى پر ۲۷ مه – ۱۸۵۷ = ۱۲۷۳هجري هرات تخليه او مشهد ته ولاړل، خو په دغه وخت کي هماغه سردار سلطان احمد خان سرکار د امير وراره هرات ته راغى او دى ئې د هغه ځاى حکمران وپېژاند، په دغه ډول زړورو هراتيانو خپل ښار د پرديو له واکمنۍ خلاص کړ.

دغه سردار د انګليس له مخالفو عناصرو څخه وو، چي په لومړي جنګ کي د ملي مجاهدينو له مشرانو څخه ګڼل کېده، پر دې اساس په هرات کي د ده سته والى د هند د دولت له پاره خاطرجمعي نه وه.

هرات ته د سردار له راتلو سره خلک پر ده باندي راټول سول او سياسي فعاليت هم شروع سو، د برتانيا حکومت يو سياسي هيئت د ميجر تيلر په مشرتابه له بغداد څخه هرات ته ولېږه، په دې توګه د روس دولت يو هيئت د خانيکوف په رياست د سردار دربار ته راولېږه، سلطان احمد خان د انګليس لېږلي په ناکامۍ له هراته وايستل (۱۲۷۴هجري) او په آزادۍ سره ئې حکم چلاوه.

د هغه بل لوري امير دوست محمد خان چي له مرکز سره د هرات په يو ځاى والي د خلکو هيله وليده په خپل لښکر باندي ګوتي ووهلې او پر هرات ئې حمله وروړه، د صفري پر لسمه ۱۲۷۸هـ ۱۸۶۱م ئې خپل وراره او زوم سلطان احمد خان په هرات کي کلابند کړ.

کلابندي ۱۸ مياشتي اوږده سوه، سلطان احمد خان له نړۍ سترګي پټي کړې، زوى ئې شهنواز خان هم تر دوو مياشتو پوري مقاومت ته دوام ورکړ، خو تر دوو مياشتو وروسته د امير په لاس ورغى (د ذيحجې اتمه ۱۲۷۸هـ ۱۸۶۱م). خو امير په خپله څو ورځي وروسته د سالنډۍ په مرض د ۷۷ کالو په عمر له دې دنيا څخه ولاړ او په هرات کي د خواجه عبدالله انصاري د مزار تر څنګ په ګازرګاه کي ښخ سو (د ذيحجې ۲۱ – ۱۲۷۸هـ = ۱۸۶۱م). هغه ګټور کار چي امير د خپل عمر په پاى کي د هيواد د

یووالي په خاطر وکړ، په افغاني مرکزي دولت پوري د هرات تړل وو چي سیاسي وحدت او د هیواد پخواني حدود ئې تامین کړل (وګورئ ۸٦ نومره عکس).

امیر دوست محمد خان د محمدزو کورنۍ، امیر او په (امیر کبیر) مشهور دئ چي د سپینو زرو د روپیو پر سکه باندي ئې دغه بیت لیکل سوی وو:

سیم و طلا شمس و قمر میدهد نوید
وقت رواج سکهٔ پاینده خــان رسید

دی یو جاه طلب، نرم خویه او عشرت دوست سړی، خو زړه ور او مدبر وو، چي ۱۴ منکوحه ښځي او په سلهاوو سراري او (۵۲) اولاده ئې درلودل. (۲۹) تنه اولاد ئې د ده تر مرګ وروسته په افغانستان کي د بېروونکو کورنیو جنګو لامل وګرځېدل.

په لومړي امارت کي چي امیر دوست محمد خان کابل ونیو د خپلو ورونو جرګه ئې جوړه کړه او د ۱۲۴۲هجري کال د ربیع الثاني د میاشتي د تړون له مخي چي اصل ئې د کابل په موزیم کي موجود دئ، هیواد ئې په خپل منځ کي ووېشه د دغي جرګې ریاست نواب عبدالصمد خان کاوه چي تر ټولو مشر وو او دغه لاندنی تړون ئې د ده په ضمانت سره وکی:

۱. کوهاټ و هنګو او د هغه توابع چي پخوا بنګښ ورته ویل کېده نواب عبدالصمد خان ته.
۲. پېښور سردار یارمحمد خان، سلطان محمد خان، پیرمحمد خان او سیدمحمد خان ته. اشنغر او د هغه توابع، له یو لکو روپیو سره د کابل له عایداتو چي امیر دوست محمد خان ورکولې.
۳. د حصارک غلجایي سیمه د کابل ختیځ خوا نواب عبدالجبار خان ته.
۴. کابل، کوهدامن، لوګر او د هغه توابع تر بامیان پوري امیر دوست محمد خان او سردار امیرمحمد خان د ده سکه ورور ته.
۵. نواب محمد زمان خان او د ده سکه ورونو ته (د نواب اسدخان زامن د پاینده خان لمسي) د کابل د ختیځ خوا، لغمان، جلال آباد، تر خیبر او د هغه تر توابعو پوري.
٦. سردار حبیب الله خان او سردار محمداکرم خان (د سردار محمدعظیم خان د امیر د مړه ورور زامن) ته لوګر، بتخاک، څرخ، میدان او غوربند.



امیر دوست محمد خان

۸۶-لمبر عکس

۷. کندهاریو سردارانو پنځو وروڼو (پردل، کهندل، شېردل، رحمدل، مهردل) ته کندهار له شاه جوی څخه تر فراه پوري.

د هیواد په دغو اوو برخو کي پورتنیو اشخاصو حکم چلاوه، نواب اسد خان ډېره جات په خپل واک کي لاره او رحمدل خان د بولان پر درې تر ښکارپوره پوري حکمراني کوله.

د بارگزیو وروڼو د هڅو دغه نتیجه وه چي سدوزیو د سلطنت له ضعف څخه وروسته هیواد په خپل منځ کي ووېشی. د احمدشاه بابا د شاهنشاهۍ قوي مرکزیت له منځه ولاړ پر دې اساس قوي او نیرومند هیواد موقتاً په ناتوانۍ او تجزیې محکوم سو.

د موهن لال په قول چي د سید حسین د کابل مستوفي او د مستوفیت د غړو دېوان میتها او دیوان بیربا او له (یارام) څخه ئې اورېدلي دي د ده د امارت په لومړۍ دوره کي د امیر د قلمرو ټول عواید (۲۵۰۹۲۳۸) کابلۍ روپۍ وې، چي د کابل او د هغه له شمالي سمت څخه له غوربند، میدان وردگ، غزني، بهسود، بامیان، زرمت، گردېز، هزاره، کورم، خوست، جلال آباد او لغمان څخه لاس ته راتلې.

د کندهار تر یووالي او د کندهاري سردارانو د خپلواکۍ تر پای ته رسېدو وروسته د امارت عایداتو د فراه له شاوخوا څخه تر کندهار او شاه جوی د کابل په مرکز پوري اړه پیدا کړه، د فیض محمد هزاره په وینا امیر له دغو عوایدو څخه (۱۵) لکه روپۍ تنخوا د کندهار پاته سردارانو ته چي د ده ورېرونه ول مقرره کړه.

خو د پېښور، اشنغر او د هغه توابع حکمرانانو سردارانو عایدات د کاله (۶۹۲) زره روپیو په شاوخوا کي ول، چي هره روپۍ (لس شاهي) له لسو آنو سره برابره وه او پر دې سربېره د خوراکه بابو د مالیې، د هندوانو د جزیې او له نورو متفرقاتو څخه هم د (٦٢) زره روپیو په شاوخوا کي عاید وو چي ټول (۷۵۴) زره روپۍ سي (د پېښور تاریخ).

په دغه ډول که موږ د کابل، کندهار او پېښور پر عایداتو او مالیاتو سربېره د شمالي ولایاتو عایدات یعني قطغن، بنگښ او ختیځه خوا لغمان او ډېره جات ټول په جلا ډول سره د (۵۰) لکو روپیو په شاوخوا کي اټکل کړو نو د بارکزو وروڼو (امیر دوست محمد خان او وروڼه ئې) ټول د لس ملیونو روپیو په شاوخوا کي کېدې.

په دغه وخت کي د افغانستان له لاري د هند او بخارا تجارت روان وو، له امرتسر

او ښکارپور څخه تجارتي قافلې کابل، کندهار، بخارا او مشهد ته تللې، په ځانګړي ډول د کشمير د شالو او نفيسه پارچو تجارت کېده. څرنګه چي د ۱۸۶۲ په تجارتي راپور کي راغلي دي چي د افغانستان او هند ټول تجارت ۹۳۹۱۱۸ پونډه وو او ګمرکي محصول هم په سلو کي دوه نيمي روپۍ اخيستل کېده. د کوچيانو په وسيله هم د يو ميليون او درې لکو روپيو مالونه له افغانستان څخه هند ته وړل کېده او د يو ميليون او شپږ لکو روپيو مالونه واردېدل. په کابل کي ملا رحيم شاه، غلام قادر او ښکارپوري ګوپالداس او په کندهار کي ملا جلال اڅکزی او ملا نسو لوی تاجران ول. د کابل ګمرک د څلورو لکو روپيو په شاوخوا کي تجارتي محصول درلود. په کابل کي سيد حسين خان او رووسته عبدالرزاق خان او ميرزا عبدالسميع خان مستوفي الممالک (د ماليې وزير) وو، ميرزا محمدحسن خان د سلطنت دبير (سرمنشي)، شاغاسي شېردل خان بارکزی د کورنيو چارو او دربار وزير، غلام محمد خان پوپلزی لښکري مشاور، قاضي عبدالرحمن خانعلوم بارکزی د عدليې وزير او قاضي القضاة مير حاجي د مير واعظ زوی د ديني امورو مشاور او فراموز خان نورستانی سرلښکر او د امير د دربار سپه سالار وو.

خو د امير لښکر د مستر کيمپل انګليسي (چي په لومړي جنګ کي مسلمان سوی او نوم ئې شېرمحمد اېښودل سوی وو) او امريکايي ډاکټر هارلان چي د رنجيت سنګه له دربار څخه کابل ته راغلی وو تر اداري او تعليم لاندي وو او نايب عبدالصمد هندی وو، چي د هغو شمېر د سلطنت په لومړۍ دوره کي (۱۲) زره سوعاره، درې نيم زره پياده ټوپک لرونکي، (۵۰) لوی توپونه او (۲۰۰) کچرو په منځ کي توپونه ول، سوارانو يو تن (۱۲۰) روپۍ او پلي يو تن (۸۴) روپۍ د کاله تنخوا درلوده، خو د امير دوست محمد خان د امارت په پای کي د ده عسکري تشکيلات داسي ول:

۱. په کابل کي دوه پلي غنډونه له (۱۸) صحرايي توپو سره دوه درانه توپونه يو مورتر او يو زنبورک.
۲. په بلخ کي درې پلي غنډونه او دوه سواره غنډونه له ۱۶ صحرايي توپو سره.
۳. په باميان کي يو پلي غنډ له دوو جبل توپو سره.
۴. په کوهستان کي يو پلي غنډ له دوو صحرايي توپو او دوو جبل توپو سره.
۵. په فراه کي يو پلي غنډ او څلور صحرايي توپونه.

٦. په گرشک کي یو پلي غنډ او څلور صحرایي توپونه.
٧. په غزني کي یو پلي غنډ او څلور صحرایي توپونه.
٨. په آقچه کي یو پلي غنډ او دوه صحرایي توپونه.
٩. په غلزیي کلات کي یو پلي غنډ د درو جبل توپو او یو صحرایي توپ سره.
١٠. په کندهار کي درې پلي غنډونه او یو سپور غنډ له دوو ثقیلو، دوو جبل او دوولس صحرایي توپو سره.
١١. په زمینداور کي یو پلی غنډ له څلورو صحرایي توپو سره.

په دغه ډول د امیر تر اداري لاندي مځکو کي یوولس عسکري مرکزونه ول او هر غنډ ٨٠٠ تنه چي په ورځنیو تمریناتو کي ٦٠٠ نفر حاضرېدای سول، خو هر غنډ سواره عبارت وو له (٣٠٠) تنو څخه چي ټول منظم عسکرئې عبارت ول له:

١٦ پلي غنډونه، هر غنډ ٨٠٠ تنه – ټول ١٢٨٠٠ تنه.
٣ سواره غونډونه ٣٠٠ تنه – ټول ٩٠٠ تنه.

٦٧ صحرایي توپونه – ٦ جبل توپونه – ۴ ثقیل توپونه، یو مورتر چي ټول منظم عسکر، ١٣٧٠٠ تنه له ٨١ توپو سره ول، پر دې سربېره د ایله جاري لښکرو شمېر د ضرورت په وخت کي په کابل کي ٣١ زره، په کندهار کي ١٨ زره، په هرات کي ٢٢ زره، په بلخ کي ٢٩ زره وو (افغانستان د لندن طبع: ١٩٠٦م). مگر کورنی امنیت د کوتوال او د کوتوالۍ د پولیس په ذریعه اداره کېده، شرعي محاکمو عدلیه امور اداره کول، چي قاضي د خانعلوم په ذریعه د امیر له حضوره ټاکل کېده. د امیر د حکمدارۍ اوله دوره یو ډول مشترک امارت وو چي افغانستان د ده د وروڼو تر منځ د پخواني تړون له مخي وېشل سوی وو، هر ورور په خپله حکومتداري سیمه کي خپلواکي درلوده، په دوهمه دوره کي د هیواد مرکزیت قوي سو او د امیر د وروڼو نفوذ له منځه ولاړ، د ده د امارت توابع د امیر د زامنو تر منځ ووېشل سول، مگر دوی د پلار په اجازه سره حکم چلاوه او د خپلو سیمو له عوایدو څخه ئې یوه برخه د خپلو مصارفو له پاره گرځوله او پاته ئې د کابل په خزانه کي تحویلوله، د پلار له اجازې څخه پرته ئې ټول کارونه سر ته نه سول رسولای، په دوهمه دوره کي د امیر زامنو په دغو سیمو کي حکم چلاوه:

سردار شېرعلي خان د بنگښ په کورم کي (د پېښور جنوبي خوا).

سردار محمد افضل خان په زرمت د کابل په جنوب کي چي وروسته د بلخ په نیولو

او حکمرانۍ باندي مامور سو.

وليعهد سردار غلام حيدر خان په غزني او کندهار کي چي وروسته په جلال آباد کي حکمران او د ده پر ځای سردار شمس الدين د امير سکه وراره چي په کوهستان کي حاکم وو په غزني کي وټاکل سو.

سردار محمد اعظم خان پره لوگر د کابل په جنوب کي.

سردار محمد شريف خان په باميان د کابل شمال لوېديځ او وروسته په کلات او فراه کي.

سردار محمد امين خان په کوهستان د کابل په شمال کي.

سردار محمد اکرم خان په هزاره جات د کابل په لوېديځ کي چي وروسته شمالي ولايتو او قطغن ته وگومارل سو.

سردار محمد اکبر خان په لغمان او جلال آباد کي د کابل ختيځه خوا.

د امير تر مړيني وروسته په هرات کي د ده وليعهد سردار شېرعلي خان د امارت اعلان وکړ (د ذيحجې ١٢مه – ١٢٧٨ هجري ١٨٦١م) او په دغه سجع ئې سکه ووهله:

جــمال دولت پاينده قسمت ازليست
وصی دوست محمد امير شېرعليست

يو له هغو مهمو سړيو څخه چي له امير شېرعلي خان سره د تخت ناستي پر مهال په هرات کي وو سيد جمال الدين افغان دئ چي ده ته ئې د کورني سمون پروگرام او د نوي مدنيت د اصولو طرح ورکړه، خو امير د خپل لومړي امارت په دوره کي چي تر (١٢٨٣ هـ – ١٨٦٦م) پوري پنځه کاله وه، له خپلو ورونو سره په کورنيو جگړو بوخت وو، د هيواد د سمون له پاره ئې فرصت و نه موند، سيد جمال الدين هم له هيواده ووت، د آسيا او اروپا هيوادو د ځوانانو اروا ئې راوينښه کړه، د اسلامي يووالي ږغ ئې اوچت او د اروپايي ښکېلاک په وړاندي ئې ستره مبارزه پيل کړه.

مومندو قبيلو په (١٢٨٠هـ – ١٨٦٣م) کال د سعادت خان د زوی سلطان محمد خان په مشرتابه د انگرېز په وړاندي پاڅون وکړ.

امير شېرعلي خان خپل زوی محمدعلي خان او وزير محمدرفيق خان لودين، مومندو ته ولېږل چي له قبايلو سره خپل اړيکي وساتي، خو انگرېز د ده امارت په رسميت و نه پېژاند، د امير ورور محمد اعظم خان ئې د ده پر خلاف په پېښور کي وساته،

تر ده وروسته د امیر بل ورور محمدافضل خان هم سر غړاو سو او د هندوکش په (باجگاه دره) کې ئې د ده له لښکر سره جگړه وکړه، خو په پای کې ئې غاړه کښېښووه او بندي سو، زوی ئې سردار عبدالرحمن خان بخارا ته ولاړ.

تر دې وروسته ئې له خپل بل ورور محمدامین خان سره چې د کندهار حکمران وو د کلات د ترنک په کجباز کې جگړه وکړه، په نوموړې جگړه کې ئې ورور محمدامین او زوی محمدعلي دواړه ووژل سول (۱۲۸۲ هـ – ۱۸۶۵م). یو کال وروسته عبدالرحمن خان له بخارا راوگرځېد او د محمداعظم خان په مرسته ئې پر کابل یرغل وکړ او وئې نیو. د امیر شېرعلي خان مشر ورور محمدافضل خان ئې پر پلاز (تخت) کښېناوه (۱۲۸۳هـ – ۱۸۶۶م) او امیر شېرعلي خان کندهار ته ولاړ.

امیر محمدافضل خان د کورنیو جگړو پر مهال تر یوه کال امارت وروسته مړ سو (۱۲۸۴هـ) او د ده بل ورور امیر محمداعظم خان د کابل پر تخت کښېناست، وراره ئې عبدالرحمن خان د هیواد شمالي ولایتونه ونیول او بیا ئې له کابل سره وتړل.

خو کندهار او هرات له امیر شېرعلي خان سره پاته سول. ده هلته نوی پوځ چمتو کړ او د کندهار له لاري ئې پر کابل ورودانگل. هغه ئې ونیو او امیر محمداعظم خان او عبدالرحمن خان ایران ته ولاړل، محمداعظم خان همهلته مړ سو او روسي حکمران (جنرال کوفمن) په ترکستان کې د عبدالرحمن خان هرکلی وکړ او په سمرقند و تاشکند کې ئې مېشت کړ.

امیرشېرعلي خان دوهم ځل د ټول افغانستان امیر وگڼل سو (۱۲۸۵هـ – ۱۸۶۸م).

امیر دا ځل په کابل کې په نویو اصولو لښکر جوړ کړ، نوي ښوونځي ئې پرانیستل، د (شمس النهار) په نامه ئې د افغانستان لومړنی اخبار چاپ او خپور کړ، په کابل کې ئې نوې چاپخونه جوړه کړه او په هغې کې ئې ځیني کتابونه، له هغې ډلي (پوځي قواعد) له انگرېزي څخه په پښتو او دري وژباړل او چاپ ئې کړل.

امیرشېرعلي خان سید نورمحمد شاه کندهاری د وزیر (صدراعظم) په توگه وټاکه او د وزیرانو لومړنی کابینه ئې منځته راوسته چې عصمت الله خان د کورنیو چارو، ارسلا خان د بهرنیو چارو، حبیب الله خان وردگ د مالیې، حسین علي خان د دفاع او احمدعلي خان د زېرمو (خزانو) وزیران او محمدحسن خان د دربار منشي وو. نوموړې کابینه د افغانستان له استوگنو قامونو څخه پرته له ژبنیو او قامي توپیرونو

جوړه سوې وه، چې د شاهي کورنۍ او د امیر له خپلوانو څخه هیڅوک هم پکښې نه ول.
دغه کار دا راښیي چې امیر په سیاسي چارو کې په پراخه سینه او اسانۍ چلند کاوه او د
هیوادوالو تر منځ ئې عدل په پام کې ساته.

د امیر له یادوني وړ کارو څخه یو هم د نوي، چمتو او سمبال پوځ جوړول دي، سره
له دې چې دغه پوځ هیواد او امیر ته د اړتیا او گواښ پر مهال مرستندوی نه سو، خو بیا
هم د دغې دورې په تاریخ کې د یادوني وړ ښکاري.

دغه پوځ په اتو پوځي هډو: کابل، جلال آباد، شېرآباد، کندهار، کورم، هرات،
میمنه او بلخ کې په لاندني شمېر درې ټولگیه وو:

۱. ٦٢ پلي غنډونه، هر غنډ ٦٠٠ جنگیالي –ټول ۳۷۲۰۰ جنگیالي
۲. ١٦ سپاره غنډونه، هر غنډ ٦٠٠ جنگیالي –ټول ۹٦۰۰ جنگیالي.
۳. د پیلانو، آسونو، غویانو او کچرو د توپخانو ټول ۵۱۹۰ جنگیالي.

په دې گڼه د ټولو وسله والو چمتو پوځیانو شمېر په ۱۸۷۲م کال (۵۱۹۹۰) وو،
سربېره پر دې (۸۰۰۰) پلي او (٦۰۰۰) سواره ایله جاري (پوځي ډوله) هم ول.

د وسلو ډولونه ئې (۴۰۸۲۵) انگرېزي او افغاني ټوپک او (۳٦۹) انگرېزي
توپونه ول. برتانوي هند دولت د ۱۸۷۷م تر مارچه پوري امیر شېرعلي خان ته نه ویشت
زره ټوپک بخښلي ول (افغانستان–هملتون).

امیر د توپونو د جوړولو له پاره په کابل او هرات کې کارخانې جوړې کړې چې په
هغو کې ئې ارابه لرونکي دراندہ توپونه جوړول، همدا راز ئې د ټوپک جوړولو
کارخانې هم لرلې چې تر اوسه هم په هماغو کارخانو کې جوړ سوي توپونه سته.

د برتانوي هند دولت چې د افغانستان اوضاع ډاډمنه او سمه ولیده د نوامبر د
(۲مي) نېټې (۱۸٦۸م – ۱۲۸۵هـ، شوال) لیک له لاري ئې د امیر شېرعلي خان سلطنت
په رسمیت وپېژاند، دوولس زره ټوپک او شپږ سوه زره روپۍ ئې ورته راولېږلې.

امیر د اړیکو د لا ټینگښت له پاره د هند د وایسرای په بلنه په (۱۲۸٦هـ –
۱۸٦۹م) امبالې ته ولاړی. د هند گورنر جنرال د سیاسي کنفرانسونو په ترڅ کې د امیر
ټولي غوښتني و نه منلې، د افغانستان په چارو کې ئې د امیر په ښېگڼه د نه لاسوهني
څرگندونه وکړه او (۱۲۰۰۰) ټوپک ئې له درې سوو زرو روپیو سره امیر ته ډالۍ کړې.

امیر چې کابل ته راستون سو، خپل کشر زوی (عبدالله) ئې خپل ځای ناستی

وټاکه او مشر زوی ئې (محمدیعقوب) له کابله وتښتېد او په هرات کې ئې اړدوړ پیل کړ، خو امیر دی د هرات حکمران وټاکه او د ناخوالو مخه ئې ونیوله.

امیر ځینو سیاسي پوښتنو ته پام واړاوه، له تزاري روسیې سره ئې د افغانستان د شمالي بریدونو په ټاکلو لاس پوري کړ، له ایران سره ئې د انګرېز په منځګړتابه د هلمند د اوبو وېش پیل کړ او صدراعظم سیدنورمحمد شاه ئې تهران ته واستاوه، وروسته بیا نوموړوي صدراعظم د برتانوي هند له دولت سره د شملې (۱۸۷۳م) او پېښور (د جنوري ۳۰ مه ۱۸۷۷م) په کنفرانسونو کې ورګډ سو، خو څه هوکړه و نه سوه. دغه دیپلوماتیکي ویناوي کېدې چې د روسیې دولت پر (خیوا) یرغل راوړ، هغه ئې ونیوله او هند ته ګوابښ لا پسې کلک سو (ربیع الاول – ۱۲۹۰ه).

څرنګه چې د پېښور په کنفرانس کې د صدراعظم نورمحمدشاه دریځ کوم ځای و نه نیو او دی هماله ته ناروغ او مړ سو، دا مهال د برتانوي هند دولت د افغانستان پر بریدونو خپل څرګند سیاست (فارورډ پالیسي) تر کار لاندي ونیوله او د هند د ساتني له پاره ئې تېری یوازینی لار وګڼله.

د روسیې دولت چې خپل استازی (جنرال ستولیتوف)[5] کابل ته رالېږلی وو د ده راتګ د هند سیاست چاري اندېښمن کړل، تر هغې چې د افغان – انګرېز دوهمه جګړه ئې پیل کړه او د افغانستان پر خاوره ئې تېری وکړ.

د انګرېز سمبال جګړه مار د (۱۸۷۸م د نومبر پر ۲۰ مه) د خیبر، کورمې او بولان له لاري پر مخ تلل، امیر شېرعلي خان د روس د مرستي په هیله په خورا ګډوډۍ کي کابل پرېښوو او مزار شریف ته ولاړ او هلته د ماتي په درشکل کې د ۱۲۹۶ه ۱۸۷۹م کال د صفري پر ۲۹ مه د (نقرس) په ناروغۍ مړ سو (وګورئ: ۸۷ نومره عکس).

---

[5] د دغه سیاسي پلاوي د هرکلي څرنګوالی چې د روسي مختار وزیر Stoletoff په مشرتابه راغلی وو د ګولوس Golos جریدې د ۱۸۷۸م کال د نومبر میاشتي په ګڼه کي چې په سنتپترزبورګ کې خپرېده راغلی او ژباړه ئې د اریانا مجلې د دوهم کال په لومړۍ ګڼه کي چاپ سوې ده.

له جنرال ستولیتوف سره ۲۲ قزاقان، ۱۵ قرغیزان او ۴ چوپړي ملګري ول، دی د جون پر ۱۴مه له سمرقنده راوخوځېد او د ۱۸۷۸م کال د اګست پر ۱۱مه د کابل بالاحصار په شاهي ودانۍ کې امیر ته راورسېد.

امیر شېرعلي خان
۸۷ -لمبر عکس

د امیر تر تګ وروسته په کابل کي ناوړي پېښي منځته راغلې، وګړي بې مشرتابه پاته ول او دښمنان پر مخ راتلل.

دا مهال ځینو مشرانو شهزاده یعقوب خان تر اته کالو بند وروسته له زندانه راوایست او د ۱۲۹۶هـ کال په ربیع الاول کي ئې په پاچهي وټاکه.

انګرېز جګړه مارو په خونړي ځواک افغانستان ونیو او د امیر ناپوه زوی ئې خپلي پوځي هډې (ګندمک) ته بوت. ګندمک د کابل – جلال آباد تر منځ یو ځای دئ چي د افغان غازیانو د لومړۍ جګړې پر مهال انګرېز لښکر تر پایه هلته سټ سوی وو، خو اوس د امیر دغه ناپوه زوی دغلته راکښل سو او د ګندمک کرغېړن تړون ئې چي د افغانستان په تاریخ کي یو تور ټکی دئ او د دغه هیواد مځکنۍ بشپړتیا ئې دړي وړي کړه لاسلیک کړ. د ۱۲۹۶هـ د جمادی الثاني ۴ = ۱۸۷۹م د می ۲۶ مه.

د ګندمک تړون چي لاسلیک سو، په ټول هیواد کي کلک اړودوړ پېښ وو. یعقوب خان هم په کابل کي د پردیو تر سیوري لاندي اوسېده، دی هیڅکله هم د ټول افغانستان د پاچا په توګه و نه پېژندل سو او تر څو میاشتو وروسته له افغانستانه هند ته وتښتېد او د برتانوي هند په غېږ کي ولوېد، ځکه نو دغه تړون حقوقي ارزښت نه لري. د نوموړي تړون له مخي خیبر، پښین او کورمه له افغانستانه بېل او برتانوي هند په خاوره پوري وګنډل سول. سرلویس کیوناري Sir Piere louis Napoleon Cava Gnari[٦] چي د ګندمک په تړون کي د انګرېزانو استازی وو د انګرېزي استازي په توګه د (۱۹۷۹م کال د جولای په میاشت) په کابل بالاحصار کي استوګن سو. خو څو میاشتي وروسته په افغانستان کي ملي غورځنګ پیل سو او افغان غازیانو د پرنګیانو په وژلو لاس پوري کړ. د کابل بالاحصار پوځیانو هم پاڅون وکړ او د مجاهدینو ملګري سول، تر ټولو لومړی ئې په بالاحصار کي انګرېز استازی د هغه له همکارانو سره وواژه (د ۱۲۹۶هـ د روژې ۱٦ مه = ۱۹۷۹د ستمبر ۳مه).

د افغان انګرېز دوهمه جګړه ډېره توده پر مخ تله، ستر ملي مجاهدین د جنرال

---

[٦] د جنرال ادولف زوی په ۱۸۵۷م کال د ایست انډیا کمپنۍ په لښکر کي شامل سو، وروسته ئې په هند او نورو سرحدي سیمو کي لوړي دندې وموندلې او تر ۱۸۷۷ کال پوري د کوهاټ او پېښور واکمن وو. په ۱۸۸۷م کال د سرچمبرلین د کابل پلاوي غړی وو، چي افغاني مامورینو د دغه پلاوي د راتګ مخه ونیوله (انډین بیوګرافي ۷٦).

چمبرلین[۷] Sir N Chamberlain چې د خیبر درې له لارې ئې پیاوړې انګرېزي ځواک سره یرغل کړی وو، جنرال رابرټس Sir E. Robert چې د کورمې له لارې پر مخ راتلی او جنرال سټیوارټ J. Stewart چې د بولان درې له لارې ئې یرغل کړی وو په وړاندې په مېړانه ودرېدل.

د انګرېز دغه بشپړ سمبال پوځونه تر پنځوسو زرو لږ نه ول. خو غازیانو ستره مېړانه وښوده، د مجاهدینو مشران لکه: محمد جان خان وردګ، ملا مشک عالم اندړ، صاحبخان تره کي، سردار ایوب خان او محمد عثمان خان ساپي او نورو په بېلابېلو ځایو کې له یرغلګرو سره جګړې وکړې. له دغو ټاکونکو جګړو څخه یوه هم چې انګرېزان ئې وځپل د میوند د ډګر جګړه وه. په نوموړې جګړه کې له هرات او کندهار د امیر شېرعلي خان د زوی سردار محمدایوب خان، جرنیل تاج محمد خان سلیمانخېل په مشرۍ او د مولوي عبدالرحیم کندهاری او د کندهار د نورو پوهانو په فتواء ملي ځواکونه راغونډ سول.

سردار ایوب خان له هرات او فراه څخه ګرشک ته راغلی وو او انګرېز پوځ د جنرال بروس Burrows په مشرتابه د میوند پر ډګر د هغه مخ ته ورغی، توده جګړه ونښته او د ۱۸۸۰م د جولای د ۲۷مې تر مازیګري پورې د غازیانو په بری او د پرنګیانو په ماته پای ته ورسېده، د انګرېز ژوندی پاته لښکر کندهار ته وتښتېد او په حصار کې دننه پټ سو. جنرال رابرټس تر دوه ویشتو ورځو وروسته ځان له کابله کندهار ته ورساوه (د ۱۸۸۰ د اګسټ له ۹ مې تر ۳۱ مې) او د سپټمبر پر لومړۍ ئې د سردار ایوب خان پوځونه ژوبل کړل، سردار له خپلو ملګرو سره هرات او له هغه ځایه ایران ته ولاړی. په ایران کې د برتانوي هند د دولت لاس ته ورغی او د ژوند تر پایه په راولپنډۍ او لاهور کې استوګن سو (۱۹۱۴ د اپریل ۱۷ مه).

د دغه غازي مزار د پېښور سهېل ته د سید حبیب په هدیره کې دئ. د امیر زوی

---

[۷] په ۱۸٦۵ کال زوکړی (د چارلس چمبرلین زوی) چې په ۱۸۷۳ کال د هند حکومت په لښکري خدمت کې شامل سو، په (۱۸۷۸ – ۸۰م) له رابرتس سره په افغان جګړه کې وو. تر دې وروسته په مدراس او کشمیر کې لښکري منصبدار وو. په ۱۸۹۰ کال د خیبر د قواوو قوماندان او تر دې وروسته په جنوبي افریقا کې د لارد رابرتس ځانګړی سکرتر وو. په ۱۹۰۰م کال د ایرلنډ د قواوو انسپکټر جنرال وو (انډین بیوګرافي ۷۷).

يعقوب خان هم د ۱۲۹۶ هـ په ذيحجه ۱۸۷۹ کال له خپل کهاله او خپلوانو سره له کابله وتلی وو. انگرېزانو چي نېغ په نېغه و نه سو کړای چي په افغانستان کي پښې ټينگې کړي، ځکه ئې د محمدافضل خان له زوی سردار عبدالرحمن خان سره چي تاشکند ته تښتېدلی وو اړيکي ومونډلې. سردار په چټکۍ تر امو راواوښت او چاريکار ته راغی، د برتانوي هند له سياسي استازي سرليپل گريفين Lepel Henry Griffin سره خبرواترو ته کښېناست، چاريکار ته له راتلو سره سم ئې خپل امارت اعلان کړ (د ۱۸۸۰ د جولای ۲۷ مه).

د انگرېز سياست چارو، عبدالرحمن خان چي وسپنيز سړی وو ومانه او په بهرني سياست کي د اطاعت منني په شرط ئې د مرستي ژمنه ورکړه. سردار د اړتيا له مخي ومنله او د ۱۲۹۶هـ د روژې پر پنځمه کابل ته راغی او پر تخت کښېناست.

امير عبدالرحمن خان چي د ده د کتاب له مخي له کوچنيوالي د اداري په چارو پوه او د ژوندانه ډېري سړې تودې ئې ليدلي وې، ده د افغانستان د خلکو اروا ښه پېژندله او په دې پوهېده چي د خپلي پاچهۍ د ساتلو له پاره د هيواد د قبيلو له مشرانو سره څه ډول کلک چلند وکړي او له برتانوي هند سره په بهرني سياست کي څومره پوست وي چي له هغوی څخه هم په خپله کار واخلي.

په دغه ډول نوي امير پر کابل برلاسی سو او ژر ئې په دغه ښار کي امنيت ټينگ کړ او بيا کندهار ته ولاړی.

خو مخکي تر ده جنرال رابرټس له لسو زرو جگړنو سره محمدايوب خان له کندهاره ايستلی او ايران ته شړلی وو.

همدا چي امير کندهار ته ورسېد، انگرېزانو هغه ته وسپاره، جنرال رابرټس د کندهار او بولان درې له لاري او جنرال سټيوارټ د جلال آباد او خيبر له لاري له افغانستانه ووتل او افغان – انگرېز دوهمه جگړه پای سوه.

امير عبدالرحمن خان په کندهار کي خپل مخالفين ووژل، هغه سيمي ئې گرد سره اېل کړې، د افغانستان د نورو سيمو اېلولو ته ئې هم پام واړاوه، ډېر ژر ئې خپل مخالفان مړه، بنديان او يا بهر ته وشړل.

د برتانوي هند دولت هم امير غښتلی کړ، په (۱۸۸۰م) کال ئې پنځه سوه زره روپۍ، څو سوه توپونه او څو زره ټوپک ورکړل، هر کال ئې ۱۸ زره پونډه مرسته ورسره

کوله، په دې توګه امیر ژر پیاوړی او پر ټول هیواد واکمن سو . په ۱۸۸۱ع کال ئې هرات او کندهار ونیول او په ۱۸۸۴ئې بدخشان او شغنان لاس ته راوړل. په واخان کې ئې علیمردان وپرځاوه او پر ځای ئې غفارخان تاتار د حاکم په توګه وټاکه.

تر هغه وروسته ئې د افغانستان شمالي ولایتونه تر میمنې او اندخوی پوري په ۱۸۸۵ کال ونیول او خپل تره زوی محمداسحاق خان ته ئې وسپارل، خو نوموړی سردار په ۱۸۸۸ع هلته سرغړاو سو .

د ده پر مهال غلجیو له غزني تر کلاته پاڅون وکړ، خو امیر هغوی پر سر وټکول او تر دې وروسته ئې د منځني افغانستان هزاره ګان هم اېل کړل (۱۳۱۱هـ – ۱۸۹۳ع).

د کونړ شمال ته کوهسار او بلورستان چې سپین کالي او تور کالي کافران پکښې اوسېدل او تل به د افغاني حکومت له واکمنۍ څخه بهر ول هم په (۱۳۱۳ = ۱۸۹۵) د امیر له حکم سره سم د جنرال غلام حیدرخان څرخي تر برید لاندي راغلل، ټول وګړي ئې اېل او مسلمان کړل او په (نورستان) ئې ونوماوه.

امیر په کورنیو چارو کې زړه ور، جنګیالی او پیاوړی واکمن وو، چې د مخالفانو په وژلو کې ئې ساری نه لاره، دی نوښتګر او په نړیوالو پېښو پوه سړی وو، څه نا څه لیک لوست ئې هم زده وو. په دري ژبه ئې (پندنامه) نومی کتاب هم لیکلی او (تاج التواریخ) ئې هم د ده په لاربښوونه لیکلی او په ده پوري اړه لري.

ده د ډاډمنو سپه سالارانو په مشرۍ لکه: غلام حیدرخان څرخي، فرامرزخان، غلام حیدر خان لنډی پیاوړی پوځ جوړ کړ، په ځانګړې توګه ئې د جاسوسۍ اغېزمنه کړۍ منځته راوسته، کارپوه حاکمان ئې هري خوا ته ولېږل، په افغاني ولایتو او ښارو کې ئې د پوستې څانګې پرانیستې، شرعي محکمې ئې بیا روغې کړې، دین پوهان ئې د کابل په شاهي مدرسه کې په ښوونه او روزنه بوخت کړل، چاپخونه ئې جوړه او د ټوپک جوړولو یوه کارخانه ئې هم ودانه کړه.

د پلازمېنې د مستوفي الممالک او د ولایتونو د مستوفیانو تر څارني لاندې ئې د مالیې څانګې سمې کړې، د کورني تګ له پاره ئې د راهدارۍ پاڼې (لارپاڼې) دود کړې او غله، لار شکوونکي او ناړامي ئې تر کلک څار او ګواښ لاندي ونیول، ځکه نو امنیت ټینګ او سوداګري او صنعت وده ومونده او ټول هیواد د یوازینۍ اداري خاوند سو .

خو په بهرني سیاست کې:

امیر پوست سړی او ښه ډیپلومات وو، له انگلیس دولت سره ئې په سړه سینه چلند کاوه، تل به ئې د دوستۍ لار هواروله، مادي او معنوي مرستي ئې منلې. وروسته تر هغه چي د امارت په پیل کي ئې هیواد ایل کړ او په ۱۸۹٦ع ئې د (ضیاء الملة والدین) بلنوم واخیست او په نوموړي بلنامه خطبه وویل سوه، سکه ووهل سوه، ناړامي او سرغړاوي ټول ووژل او پاته ئې وشړل. بیغمه د هند د گورنر جنرال لارد دفرین د لیدو له پاره راولپنډۍ ته ولاړ او د دوستۍ مزي ئې لا پسي ټینگ کړل (۱۸۸۵م). څو کاله وروسته ئې خپل کشر زوی سردار نصرالله خان لندن او د انگرېز ملکې دربار ته هم واستاوه (۱۹۸۵–اپریل، ۱۳۱۲ه).

له گاونډیو هیوادونو سره د امیر د مهال غوره سیاسي پېښي:

۱/ د تزاري روسیې دولت د هرات پر شمالي سیمه (پنجده) یرغل وکړ (۱۳۰۳ه–۱۸۸۵ع). سره له دې چي د افغاني پوځونو قوماندان جنرال غوث الدین په مېړانه ساتنه کوله خو پنجده د روسانو لاس ته ورغله.

امیر عبدالرحمن خان په تاج التواریخ کي په دې اړه داسي لیکي:

"د ۱۸۸۴ع کال د جولای په میاشت کي د بریدونو د ټاکلو له پاره د انگرېزي کمیسیون مشر جنرال سرلمسدون او د روسي کمیسیون مشر جنرل یلتای غوره سوی وو، خو د کار تر پیل وړاندي روسانو پنجده ونیوه.

تر دې پېښي وروسته یو بل کمیسیون چي مشري ئې سرجوزف ویست رجوی Sir west Ridgeway د هند د بهرنۍ څانگي دوهم منشي کوله او غړي ئې کرل هیولدیچ، کرنیل ایت او قاضي اسلم خان ول، د هند حکومت له خوا د افغانستان او روس د برید ټاکني له پاره وټاکل سو، نوموړي کمیسیون د ۱۸۸٦م کال د اکتوبر پر میاشت خپل کار پای کړ.

امیر د هغوی د خدمت او هڅو ستاینه وکړه او د سرو زرو نښانونه ئې ورکړل، په پای کي د ۱۸۸۷م په جولای کي د برید ټاکني وروستۍ هوکړه په سنتپترزبورگ کي لاسلیک او پنجده په رسمي توگه له افغانستانه بېله سوه.

د رجوي په تړون کي د ذوالفقار له خولې تر خواجه سالاره پوري سیمي راغلې.

امیر له هند دولت څخه غوښتل چي هغه د پامیر تر کوهسار پوري په نخښه کړي، خو داسي و نه سول تر دې وروسته په ۱۸۹۳ع کرنیل ایت د پخواني تړون پاته ټکي هم حل کړل، په دې توګه امیر وکړای سول چي د دوو سترو امپراتوریو تر منځ حکمراني وکړي.

۲/ بل هغه سیاسي کار چي امیر د افغانستان د خلکو د جرګې له خوښي پرته وکړ او د هغه له کبله د افغانستان په تاریخ کيستره ګرمه د ده پر غاړه ده، هغه د ډیورنډ تړون دئ چي د برتانوي هند له دولت سره ئې د افغانستان ختیځ او جنوبي بریدونه وټاکل.

امیر وایي: ما له هندي وایسرایانو لارډرپن او لارډ سالیسبري څخه هیله وکړه چي د هند د بهرنیو چارو وزیر د برید ټاکني د کمیسیون د مشر په توګه را ولیږي خو زما ناخوښۍ او د سردار اسحاق خان ناړامۍ هغه وځنډاوه.

لارډ لنسډون د سلطنت نایب لارډ رابرټس دغه کار ته غوره کړ، خو رابرټس چي په افغانستان کي ناوړه سابقه لرله او کېدای سوه چي خلک ورته راپورته سي، ما د هغه راتګ وځنډاوه چي په پای کي د ۱۸۹۳م د سپتمبر په وروستیو کي د هند د بهرنیو چارو وزیر سرهنري مارتیمر ډیورنډ Sir Moteimer Durand [۸] د برید ټاکني د کمیسیون په مشرتابه کابل ته راغی.

د دغه کمیسیون غړي کلنل الیس، کپټان مانریس اسمت، مستر کلارک، مستر وانلد او څو نور هندیان ول.

په کابل کي له امیر سره سیاسي مرکه پیل سوه او په پای کي ئې د ډیورنډ کرغېړن تړون لاسلیک سو.

نوموړي تړون اووه مادې لرلې چي د هغه له مخي د ډیورنډ برید له بلوچیستانه تر چترال او واخان پوري وټاکل سو.

د چمن، پښین، چغني، وزیرستان، بلند خېل، کورمه، پاړه چنار، اپریدي، باجوړ، سوات، بنیر، دیر، چیلاس او چترال چي د افغانستان مځکه وه، له افغانستانه بېله او په

---

[۸] د ۱۸۵۰م د فبرورۍ پر ۱۴مه زوکړی، د میجر جنرال سرایج زوی دئ. ایم ډیورنډ په ۱۸۷۳د بنګال هیوادني خدمت ته ونیول سو، په ۱۸۷۹ په کابل کي د رابرتس سیاسي سکرټر وو، له ۱۸۸۴ – ۹۴ م کالو پوري د هند حکومت د بهرنیو چارو سکرتر او وروسته په تهران کي د انګریز سفیر وو (مادرید، واشنګټن هند بیوګرافي، ۱۲۸).

هند پوري وتړل سوه او د انګرېز له لوري امير ته د يو ميليون و دوو سوو روپيو پر ځای د کاله يو ميليون و اته سوه زره روپۍ وټاکل سوې همدا راز ئې د وسلو د مرستي ژمنه هم ورکړه.

په دغه ډول د ډيورنډ تړون د ګندمک کرغېړن تړون رښتينی کړ، خو امير زوی يعقوب خان په بېړني، ګډوډ حالت او د پرديو لښکرو د يرغل په ترڅ کي په زور د ګندمک تړون لاسليک کړی وو، همدا راز دی چي د خلکو استازي او د هيواد پاچا نه وو، ځکه نو هاغه تړون هم حقوقي ارزښت نه لاره.

امير عبدالرحمن خان د ملت د استازو او ولسي جرګې له منلو يا نه منلو پرته په ځانګړې توګه ډيورنډ تړون منلی وو.

په هر ډول د ډيورنډ کميسيون د ۱۸۹۳م د نوامبر پر ۱۴ مه له کابله ووت.

امير عبدالرحمن خان د خپل امارت په پيل کي د ۱۳۰۰ هـ شاوخوا ۵۸۷۴۰ پوځيان لرل، خو په کابل، هرات، کندهار، بلخ، جلال آباد، اسمار، امو غاړه او د ايران او هند په بريدونو کي ئې د امارت تر ټينګښت وروسته دغه چمتو او ايله جاري پوځيان لرل:

- (۸۰) پلي غنډونه هر غنډ (۷۰۰) سړي ټول (۵٦۰۰۰) سړي.
- (۴۰) سواره غنډونه هر غنډ (۴۰۰) سړي ټول (۱٦۰۰۰) سړي.
- (۱۰۰) د توپخانې بتريي هره يوه (۱۰۰) سړي له (٦) توپو سره، ټول (۱۰۰۰۰) سړي.
- شاهي ځانګړي پلي (۴) غنډه (۱۰۰۰) سړي ټول ۲۴۰۰ سړي.
- پوليس ځواک ټول (۲۰۰۰۰) سړي.
- سواره ايله جاري ټول (۱۰۰۰۰) سړي.

په دې توګه د ټول وسله وال پوځ شمېر ۱۴۸۴۰۰ ته رسېده، چي امير د هغوی په مرسته وکړای سو چي په هيواد کي بېساري امنيت ټينګ او سرغړاوی وټکوي.

امير عبدالرحمن خان په کابل کي د سکې وهلو، د کارتوسو، ټوپکو، وسپنګرۍ، توپ جوړولو، عرق ايستلو، څرمني، بوټ جوړولو، صابون، د ګنډني کارخانې، چاپخونه او صحافۍ جوړي کړې.

پوځي، کورني، عدليه، د ودانولو، روغتيا، کانو، سوداګرۍ، د پوستې څانګې او ديني مدرسې ئې پرانيستې، څو ماڼۍ او کابل شاهي ارګ ئې ودان کړ او ټول هيواد

ئې تر يوازينۍ اداري لاندې راووست چې دغه هڅې ئې د منني وړ دي.

امير عبدالرحمن خان تر ۲۱ کالو امارت وروسته په کابل کې د (نقرس) په ناروغۍ مړ سو (۱۹ جمادی الثاني ۱۳۱۹ = ۱۹۰۱م) (وګورئ: ۸۸ نومره عکس).

ده خپل زوی ته داسي اېل او له سرکښو تش هيواد پرېښوو چې خلک ئې د نامه په اورېدلو لړزېدل او تر مرګ وروسته ئې هم د ده مړينه نه باوروله.

تر ده وروسته ئې مشر زوی حبيب الله خان د (سراج الملة والدين) په بلنامه د کابل پر تخت کښېناست (د اکتوبر ٦مه ۱۹۰۱م) او په (۱۹۰۴م) ئې خپل مشر زوی عنايت الله د هند وايسرای لارډکرزن ليدو ته واستاوه، وروسته د هند د بهرنيو چارو سکرتر لويس وليم کابل ته راغی او له امير سره ئې (د مارچ پر ۲۱مه ۱۹۰۵م = ۱۴ محرم ۱۳۲۳هـ) تړون لاسليک کړ.

د امير حبيب الله خان د ۱۸ کلن سلطنت پر مهال پرته له يوه پاڅونه چې په جنوبي کې د جانداد احمدزي په مشرتابه سوی وو بله پېښه نه ده ليدل سوې، ځکه چې پلار ئې وړاندي هيواد د کار له سړو تش کړی وو، په دې توګه امير په وړ چاپېريال کې په سړه سينه ژوند کاوه.

په ۱۳۲۵کال ئې کندهار، هرات، ميمنه او بلخ وکتل او د ۱۹۰۷ په جنورۍ د سلطنت د مرستيال لارډمنتو په بلنه هند ته ولاړی او همدغه کال د مارچ پر اوومه د پېښور او خيبر له لاري بيرته راستون سو.

امير له وزګارتيا او کورني امنيت سره سره هم په هيواد کې کوم غوره کار و نه کړ، ده د نوي مدنيت څو کوچنۍ نخښې راوړې، له هغو څو وړو کارو څخه چې ده وکړل، د حبيبي په نامه د يوه ملکي ښوونځي پرانيستل، يو پوځي ښوونځی او په کابل کې څو نور لومړني ښوونځي دي. همدا راز ئې (سراج الاخبار افغانيه) خپور کړ او په کابل کې ئې دوې چاپخوني، څو مانۍ، باغونه، سړک او دمه ځايونه ودان کړل.

د لويې جګړې (۱۹۱٦م) پر مهال ئې ځان ناپيېلی وباله.

د امير کورني سياست د پلار په توپير پوست وو او خلک ئې نه ازارول، په خپله

امیر عبدالرحمن خان

۸۸-لمبر عکس

ئې ديني حکمونه (روژه، لمونځ) پر ځای کول، خو د ادارې په ډول، تشکيل، ماليې غونډولو او نورو هيوادنيو چارو کي ئې د وخت له غوښتنو سره سم بدلون را نه وست او هماغه له پلاره پاته زوړ سيستم ئې پر ځای پاته سو.

امير حبيب الله خان د ۱۳۳۷ھ د جمادی الاولی پر اتلسمه د پنجشنبې په شپه (۱۹۱۹م) د لغمان د کله گوش په ښکارځي کي د توپنچې په گولۍ وويشتل سو او له نړۍ ئې سترگي پټې کړې (وگورئ: ۸۹ نومره عکس).

په جلال آباد کي ئې ورور د پاچهۍ بېغ پورته کړ خو د افغانستان خلکو د خپلواکۍ او مځکنۍ بشپړتيا د گټلو له پاره د اتلولۍ غورځنگ پيل کړ، افغان خپلواکي غوښتونکو د (۱۲۹۷ل = ۱۳۳۷ق = ۱۹۱۹م) د مارچ پر لومړۍ د امير حبيب الله خان دوهم زوی سردار امان الله خان د پاچهۍ پر تخت کښېناوه او د خپلواکۍ جگړه پيل سوه[۹].

---

[۹] د نوي خپلواکۍ او نوي افغانستان تر جوړېدو را وروسته پېښې بېل تاريخ ليکلو ته اړتيا لري، ځکه نو دغه کتاب دلته پای سو.

امیر حبیب الله خان

۸۹- لمبر عکس


نقشهٔ تخمینی سه امپراتوری افغانی
(۱) تیموریان هرات
(۲) هوتکیان قندهار و اصفهان
(۳) احمد شاه کبیر (قندهار)
افغانستان کنونی
این نقشه در تعیین حدود سیاسی مدار اعتبار نیست
بحیرهٔ ارال
خوارزم
بخارا
سمرقند
دوشنبه
مرو
سرخس
مشهد
نیشاپور
هرات
کابل
غزنه
قندهار
کشمیر
پشاور
لاهور
ملتان
دهلی
اجمیر
اصفهان
کاشان
کلات
سیستان
کرمان
ضمیمهٔ تاریخ مختصر افغانستان ج ۲

۹۰–لمبر نقشه

فکري او اجتماعي اوضاع

د کندهار د هوتکي دولت تر سقوط او د نادر افشار تر موقتي سلطې وروسته چې لس کاله ئې دوام وکی، په (۱۱٦۰هـ ق) کال د احمد شاه نهضت او د آزاد افغانستان نوي جوړښت د هغو پر له پسې پېښو نتيجه ده، چې پخوا د افغانستان په تاريخ کي پېښي سوي وې او د افغانستان د خاوري اجتماعي او اقتصادي اوضاع دا غوښته چې د روښان او خوشحال او ميرويس د هڅو او جنبشو په نتيجه کي يو افغاني آزاد او غښتلی دولت منځ ته راسي.

د افغانستان خلکو د هرات د تېموريانو د دولت تر سقوط وروسته څو پېړۍ د فترت دورې د صفويانو او بابريانو د يرغلو په پېښو کي د سختۍ او تريخوالي او د کور په کور جنګېدو په حال کي تېري کړې او د خپل ملي مرکزيت له نه درلودلو څخه متحسس ول، څو چې د کندهار هوتکيانو او د هرات ابداليانو د اېران د صفويانو پردۍ سلطه ئې پر شا وشړله او له منځه ئې يووړه او روښانيانو او خوشحال خټک او ايمل خان مومند او شېرين خان ترين او نورو د هند بابري پاچهانو د سلطې د پايڅوړ سره مقابلې وکړې او خپل اولس ئې د اسارت له جوغه وژغوره.

په دې هولناکه اخ و ډب کي خلک په سخته او کلکه مبارزه اخته ول، د علومو او ادبياتو او فرهنګ پالني ته ئې هم فرصت نه درلود، خو بيا هم ليده کېږي، چې په کندهار کي د شاه حسين هوتک دربار د ادب او اديبانو او پوهانو د پالني ځای وو او د دې دربار منشي محمد هوتک د پټې خزانې کتاب وليکه، چې د (۱۱۴۰هـ ق) د شاوخوا د فکري او ادبي حرکت يوازنی ښکارندوی دئ.

د احمد شاه دربار هم له فکري نظره روښانه معلومېږي، ځکه چې پخپله احمد شاه د ښې قريحې خاوند شاعر او تصوف خوښوونکی سړی وو، چې د پښتو شعر دېوان لري او د ده په کورنۍ کي تېمورشاه د دري او پښتو دېوان څښتن او شاه شجاع د دري شعر د دېوان درلودونکی وو او د شاه زمان زوی شهزاده عبدالرازق چې دري ئې تخلص

کاوه او د شاه شجاع زوی شهزاده نادر او نور څو تنه شهزادګان باذوقه شاعران ول.

احمد شاه د خپل هیواد په ښاور کي علمي کورنۍ وروزلې، چي د هغو پایڅوړ په وروستیو دورو کي د خورا لویو فکري، ادبي او سیاسي کارنامو مصدر وګرزېد، لکه د کندهار د بارکزیانو د خانعلوم کورنۍ چي د خپلو اکۍ تر جګړې پوري د قاضي القضاة منصب په همدې کورنۍ کي پاته وو او دا منصب د اوس وخت د عدلیه وزیر د منصب سره سم وو او په دې کورنۍ کي د علمي تالیفاتو خاوندان هم تېر سوي دي او یا د دوی په تشویق نورو مؤلفانو د کتابو په تالیف لاس پوري کړی دئ، لکه ملا محمدسعید بارکزی چي د سدوزي شاه محمود په وختو کي قاضي القضات وو او د هغه زوی قاضي عبدالرحمٰن خان چي د نصیحة المومنین د رسالې مؤلف دئ او د عبدالقادر سلیمانخېل زوی امیرمحمد د امیر شېرعلي خان په وختو کي ئې د الدافعه رساله د خان ملا عبدالسلام د محمد سعید په تشویق لیکلې وه.

د الکوزي ملا اسمٰعیل کورنۍ هم د احمدشاه په وختو کي په کندهار کي وه، چي زوی ئې ملا احمد د معقول او منقول استاد او د احمدشاهي ښار قاضي او د بیان الوافیه لطوایف الصوفیه و تعلیم السلوک او د کاشفه او فارقه رسالو مؤلف وو، چي د ۱۲۳۳ﻫ کال د دوهمي خور (ربیع الثاني) پر ٦ مړ دئ. د ملا احمد ورور پیر محمد هم په کندهار کي د هغه عصر نامتو عالم وو، چي په ۱۲۳۳ﻫ کال ئې د عقیدة المشایخ والعلما کتاب په عربي ژبه لیکلی دئ.

قاضي غلام محمد هوتک هم د کندهار له نامتو عالمانو او د ښار قاضي وو، چي په ۱۲٦۴ﻫ کال ئې د ارشارالحق کتاب په عربي ژبه ولیکه او د هغه زوی عبدالاحد په کندهار کي د سید جمال الدین سره آشنایي درلوده او د توخي محمد حسن زوی محمد نور هم د جامع السکوک په نامه په عربي ژبه د ۱۲۳۰ ﻫ په شاوخوا کي کتاب لیکلی دئ او د میا فقیر الله جلال آبادي شاګرد وو.

د ملا بابړ موسٰی خېل علمي کورنۍ د هوتکیانو له وختو په کندهار کي وه، چي زوی ئې مولوي فیض الله په احمدشاهي عصر کي د اشرف الوزراء شاه ولي خان د کورنۍ استاد او په منطق کي د تدریسي رسالې مؤلف وو او تر هغه وروسته د سدوزو د وختو په پای کي د فیض الله زوی مولوي حبیب الله مشهور په محقق قندهاري په کندهار کي ژوند کاوه (۱۲۱۳– ۱۲٦۳ﻫ) چي په عربي، دري او پښتو ژبو ئې په معقولو

او منقولو علومو کي ۳۳ ټوکه کتابه تالیف کړي دي او په ریاضي او منطق او اصول فقهه او نورو اسلامي مروجه علومو کي ئې تازه او بکر انتقادي آثار لیکلي دي او تر ده وروسته د ده زوی مولوي عبدالرحیم او نمسي ئې مولوي عبدالروف او د هغه زامن مولوي عبدالواسع او مولوي عبدالرب د را وروستو دورو نامتو عالمان ول، چي په صحافت او معارف او د عدلي قوانینو په ترتیب کي ئې د ستاینې وړ خدمتونه کړي دي.

د هرات د سلجوقیانو علمي کورنۍ د ملا محمد له اولادې څخه وه، چي په روز آباد کي ښخ دئ او احمدشاه بابا د هغه زوی علامه ملا میرزا هرات ته راووست او د پای حصار مدرسه ئې وروسپارله. له دې کورنۍ څخه ډېر عالمان او مدرسان پیدا سوي دي، چي د هغو له جملې څخه ملا عبدالاحد خلیفه او ملا محمد عمر د محمد ایوب زوی او د نورالدین نمسی او د ملا میرزا کړوسی وو، چي څو کتابه ئې تالیف کړي او یو له هغه څخه په اصول فقه کي الملهم نومی کتاب دئ (د ۱۲٦۰هـ شاوخوا) او هم د محمدصدیق زوی ملا محمدرفیق سلجوقي د رسالهٔ نحو مؤلف او محمود مشرف او خلیفه محمد حسن خوش نویس د هغې کورنۍ پوهان او هنرمندان غړي ول.

یوه بله عملي او سیاسي کورنۍ په پېښور کي ډېره مشهوره وه چي ستر نیکه ئې د تاج خان زوی اخون ترکمان د کندهار له غوري مرغې څخه تللی او د پېښور د شمالي سیمي په امازي کي اوسېد او زوی ئې ملا محمدغوث د حاجي محمد سعید واعظ شاګرد په علم او عرفان مشهور او په پېښور کي د احمدشاه له خوا قاضي وو، چي په منطق کي ئې پر میرزا کلان حاشیه لیکلې وه او د احمدشاه په نامه ئې د ده د عرفاني وینا په شرح کي یو کتاب د شرح الشرح په نامه په دري ژبه هم تالیف کړی دئ او د ده نمسی د دادالله زوی قاضي عبدالکریم یو کتاب د نصاب التوحید په نامه ولیکه، خو د محمدغوث نمسي او د قاضي اکبرشاه زوی قاضي محمدحسن چي په خان علماء ملقب وو د سردار پاینده خان د کورنۍ استاد او د شاه شجاع وزیر وو، چي د ده له خوا ئې په ۱۸۳۸م کال د لاهور درې خواییز (مثلث) تړون لاسلیک کی. همدا راز قاضي طلا محمد د قاضي حسن زوی د علم او ادب خاوند د شعر دوه دېوانونه ئې په دري او عربي ژبو درلوده او د جواهر نغز او سلوة التقریر في ترجمه التحریر او نفحة المسک او تسلیه العقول او سلوة الکئیب مؤلف او د قصیده بائیه ویونکی وو او قاضي عبدالقادر د

فضل قادر زوی او د قاضي حسن نمسی د امیر شېر علي خان د دربار عسکري سرمنشي او له انگرېزي څخه په پښتو او دري د عسکري قواعدو د کتاب مترجم وو، چي دا کتاب د کابل د شمس النهار په مطبعه کي چاپ سوی دئ.

د هرات د برناباد د میرزایانو کورنۍ هم د فرهنگ او ادب پوهان خلک درلودل، چي د هغو له جملې څخه میرزا ارشد د خواجه محمد صلاح منشي خلف او متخلص په فایض د هرات د ابدالیانو او درانیانو منشي او خطاط وو، د اشعارو دېوان او ډېره خوږه مثنوي ئې درلوده (د یولسمي پېړۍ منځ) او بل میرزا ابو طالب د ده مشر وراره چي مایل ئې تخلص وو، هم د دري اشعارو دېوان درلود او د محمد کاظم زوی میرزا رضا د اشعارو مجموعه درلوده او د اربعین او برناباد د منثوري تذکرې خاوند په هرات کي د شاه محمود د دربار او وزیر فتح خان منشي وو او د سدوزو په همدې عصر کي میرزا محمد هادي متخلص په عشرت هروي په هرات کي د شهزاده تیمور منشي باشي وو، چي ملا عبدالله روزي او ملک سنجر د غور د ملکانو اولاد او باسهل و ملا مسکین (د هزاره لهجې شاعران) په هرات کي د ده معاصرین ول. د سدوزو په دوره کي او تر هغه وروسته د مجددیانو کورنۍ هم زیات روحاني شهرت درلود او ښه عالمان او د ښې قریحې شاعران پکښې پیدا سوي دي، چي په ټوله منځنۍ اسیا کي له خراسانه نیولې تر سرهند او ماوراء النهر او د چین د خاوري تر څنډو پوري د نقشبندي طریقت د تلقین مرجع ول او یو ډول خراساني اسلامي ثقافت ئې روزلی دئ، چي مدار ئې شریعت او تصوف وو، خو په نقشبندي طریقت کي ئې تصوف تل د خلکو په گټه او د اخلاقو د سمون له پاره بې له انزوا او رهبانیته استعمالاوه او څنگه چي نقشبندي مجددیانو د افغاني پاچهانو د دربارو سره رابطه درلوده ځکه ئې نو د سیاست او فرهنگ او ټولنه کي هم قوي لاس درلود.

دا فاروقي کورنۍ د شهاب الدین فرخشاه اولاده ده، چي د کابل شمال ته د پنجشېر د فرخشاه په دره کي ښخ دئ او امام رفیع الدین له همدې کورنۍ څخه له کابله سرهند ته ولاړی او د ده له اولادې څخه شیخ احمد مجدد الف ثاني د مولانا عبدالاحد زوی چي د نسب سلسله ئې په ۲۸ واسطه حضرت عمر فاروق ته رسېدله، د ۹۷۱هـ کال د شوال پر ۱۴ په سرهند کي وزېږېد او په طریقت کي ئې د خواجه محمد باقي کابلي (چي په ۱۰۱۲هـ کي مړ دئ) لاس ونیو او استفاضه ئې وکړه او په هند او افغانستان کي ئې

ستر علمي او روحاني شهرت درلود (د ۱۰۳۴ هـ کال د صفري پر ۲۸ د سه شنبې په ورځ د ٦۳ کالو په عمر په سرهند کي وفات سو).

د سدوزو د شهنشاهۍ په وختو کي له دې کورنۍ څخه شاه غلام محی الدين مجددي د غلام صادق زوی او د حضرت مجدد شپږم نمسی او د هغه زوی شاه نظام الدين متخلص په نظام د دري ديوان خاوند په ښکاپور کي روحاني شهرت او د کرهڼي ډېري مځکي ئې درلودلې او د غلام صادق بل ورور شاه غلام محمد نومېد او د دوی د بل ورور شاه عزت الله اولاده په يارکند کي اوسېدله او شاه صفي الله متخلص په صفي د دري ديوان خاوند او څلور نور کتابونه ئې هم تاليف کړي ول (۱۱۵٦– ۱۲۱۲هـ) او د يمن په حديده کي ښخ دئ او د ده اولاده په کابل او ننگرهار کي ول، چي د هغو له جملې څخه شاه عبدالباقي متخلص په باقي (چي په ۱۲۸۷هـ کال په کابل کي مړ دئ) د دري اشعارو ديوان ئې درلود او د کابل د شور بازار د حضرتانو نيکه دئ او زوی ئې غلام عمر متخلص په عمر (د ۱۲۹۰ هـ په شاوخوا کي) او د هغه زوی ناصرالدين متلخص په جانان او شمس المشايخ فضل محمد متخلص په فضلي د ديوان خاوندان شاعران ول او شاه فضل الله د شاه غلام نبي زوی او د شاه غلام محمد نمسی (۱۱۸۴ – ۱۲۳۸هـ) د عمدة المقامات مؤلف او په دري شعر کي د ديوان خاوندان شاعران ول او د شاه زمان د دربار له لويو روحاني کسانو څخه ول او هم محمد حسن د عبدالرحمٰن زوی او د شاه فضل الله دريم نمسی د انساب الانجاب او انيس المريدين او نورو مؤلف دئ. مير احمد متخلص په اظهر (۱۲۰٦– ۱۲٦۹هـ) د پېښور او بدخشان له حضرتانو څخه د هفت مجلس او اربعين او سبيل الرشاد او مناقبت الطاهرين مؤلف د غزلياتو ديوان او شپږ مثنوي او څو کتابونه نور لري.

د علي خان پوپلزي کندهاري د زوی وکيل الدوله عبدالله خان کورنۍ هم اداري او لښکري د فرهنگ او ادبي ذوق خانوندان درلودل. د هغه له جملې څخه پخپله عبدالله (چي پلار ئې په ۱۲۰۱هـ کي مړ دئ) دري شعر وايه او د هغه زوی محمد علم خان وکيل الدوله متخلص په علم هم په دري ژبه شعر جوړاوه (دی په ۱۲۹۳هـ کي مړ دئ) او مير هوتک خان متخلص په افغان د زمان خان پوپلزي زوی (د ۱۲۱۸هـ په شاوخوا کي) له هنرمندو شاعرانو څخه وو. په دري ژبه ئې ديوان درلود او بل ورور ئې الله يار خان راسخ هم شعر وايه او مولوي محمد ابراهيم بل ورور ئې د خپل وخت له عالمانو څخه وو

او دې کورنۍ د هنر او ادب او فرهنګ په خپرونه کي لوی لاس درلود.

بله ادبي او روحاني کورنۍ د شیخ سعد الدین احمد انصاري د عبدالغفار د زوی کورنۍ ده، چي صوفي او ادیب سړی وو او د ده آثار د معدن وحدت او دېوان شور عشق او نور تر ۴۳ ټوکه پوري رسېږي. دی د کابل په ده یحیٰی کي په ۱۲۲۵ھ کال وفات سو او زوی ئې میر ظهورالدین ظهور د شعر دېوان لري او د طب د کتابو مؤلف وو. د ده بل زوی میر امام الدین متخلص په درویش د پښتو او دري ژبو شاعر او د احوال و آثار حاجي صاحب پای منار مؤلف وو او میر قطب الدین متخلص په فارغ د دري ژبي شاعر د مثنوي سمرقند مؤلف وو او میر حسام الدین احمد او میر نجم الدین احمد او میر نظام الدین احمد او میر فخر الدین مولوي او میر ناموس د سعد الدین شاعران زامن ول او هم میر سیف الدین عزیزي د میر مقام الدین زوی (د ۱۲۸۲ھ په شاوخوا کي) د دري شعر د قریحې خاوند وو.

د دې دورې شاعران او لیکونکي دا دي:

سید ابوالحسن متخلص په عنوان چي په ۱۱۲۳ھ کال د بدخشان په جرم کي زېږېدلی او په ۱۲۰۶ھ کال وژل سوی دئ او عبدالرحمٰن عارض بدخشي چي په ۱۲۲۳ھ کي مړ دئ او میرزا محمد واصل فروغي د شاه زمان معاصر او امیر سبحان قلي خان دروازي (د ۱۲۳۰ھ په شاوخوا کي) او لعل محمد عاجز د پیر محمد زوی ملقب په عبدالشافي په دري ژبه د اشعارو د دېوان خاوند چي په ۱۲۳۸ھ کال مړ دئ او د تیمور شاه د دربار طبیب وو او میر عصمت الله متخلص په کشوري د عبدالله زوی د بلخ د دهدادي د اشعارو د دېوان خاوند وو، چي په ۱۲۵۷ کي مړ دئ، او جنید الله حاذق د صوفي اسلام هروي زوی چي په ۱۲۵۹ھ کال په کندهار کي مړ دئ، د اشعارو دېوان او د یوسف او زلیخای حاذق په نامه ئې مثنوي درلود او شهاب ترشیزي هروي د تیمورشاه د وختو شاعر او د دېوان خاوند او میر محمد نبي احقر بدخشي چي په ۱۲۶۹ھ کال په رستاق کي مړ دئ، په عروضو کي د حدایق الحقایق د کتاب او د قوافي د رسالې او په فلسفه او حکمت او دینیاتو کي د هشت بهشت مؤلف او د لیلی او مجنون د حضرت امام حسین د شهادتنامې د مثنویاتو ناظم او د میرزا علي خان زوی میرزا محمد محسن دبیر (۱۲۲۷- ۱۲۸۲ھ) د محمدزو پاچهانو د دربار منشي او د لعل محمد خان عاجز کابلي زوی میرزا عبدالواسع (۱۲۰۸ - ۱۲۸۳ھ) د اشعارو د دېوان خاوند او علي تقي

متخلص په وصفي (د ۱۲۰۰ه‍ پا شاوخوا کي) د اشعارو د دېوان څښتن او فرحت هروي د اشعارو د دېوان لرونکی او ولي طواف کابلی د محمد علي زوی (د ۱۲۸۸ ه‍ په شاوخا کي) د دري ژبي ناخوانه شاعر او د محمد نبي خلمي زوی ملا عبدالقيوم صوفي مشربه شاعر چي په ۱۲۶۵ه‍ کي زېږېدلی د اشعارو د دېوان او د تنبيه المرايي او قيامت نامې د مثنوي او د دري او ترکي د مجمع الاشعار او درة الشهزاد د مثنوي خاوند او محمد غلام غلامي د ملا تيمور زوی د انګرېز او افغان د لومړۍ جګړې د پيښنو په باب کي د جنګ نامې په نامه د منظومې ويونکی او د مير واعظ د کورنۍ (د ۱۲۵۶ه‍ شاوخوا) مير محترم حافظ چي د دري اشعارو د دېوان خاوند او د مرتضٰی کابلي زوی مير مجتبٰی متخلص په الفت (چي په ۱۲۲۴ه‍ کي زېږېدلی) د اشعارو د دېوان څښتن او د مراد محمد بدخشي زوی ملا عبدالله چي د خپلو اشعارو دېوان ئې په ۱۲۹۸ه‍ کال ترتيب کړی دئ او د ميرزا محمود سالک بالاحصاري (د ۱۲۶۰ه‍ په شاوخوا کي) د اشعارو د دېوان خاوند او د وزير فتح خان منشي شرر کابلی د اشعارو د دېوان خاوند او په بخارا کي ګل محمد عثمان د عجايب الاخبار او ګلشن اسرار او بزم طرب او نزهة المشتاق او ګلچين بساتين او مشرق انوار او نورو کتابو مؤلف (د ۱۳۰۰ه‍ په شاوخواکي) او د نذر علي زوی قربان متخلص په کاتب د ناظم الوقايه او مفاتيح الاعجاز ناظم او د اشعارو د دېوان لرونکی او مير عنايت الله بدخشي د اصول المعيشت ناظم او اشعارو د دېوان خاوند (چي په ۱۲۹۰ه‍ کي مړ دئ) او د مير يوسف علي بدخشي زوی برهان الدين لاغر د جام جم او روضۀ نور ناظم او د اشعارو د دېوان خاوند (د ۱۲۹۱ه‍ په شاوخوا کي) او د مير احمدشاه بدخشي زوی مير محمود شاه د اشعارو د دېوان خاوند (چي په ۱۲۹۵ه‍ کي مړ دئ) او د عبدالصمد رستاقي زوی سيد جعفر د ګلشن عشق او چمن عشق ناظم او د اشعارو د دېوان لرونکی (چي په ۱۲۸۴ه‍ کي مړ دئ) او نعمت الله محوي ميمنوي د اشعارو د دېوان خاوند او د سکندر هروي زوی احمد قلي د آتش فشان په نامه د شاعرانو د تذکرې ليکونکی (د ۱۲۹۰ه‍ په شاوخوا کي) او محمد رسول شهيد مارملي بلخي شاعر د دېوان خاوند (د ۱۲۷۰ه‍ په شاوخواکي) او د يعقوب علي بارکزي لور عايشه د دري ژبي شاعره او د تيمورشاه په وختو کي د دېوان مېرمن او د سکندر خان لور محجوبه هروي د دري ژبي شاعره (د ۱۲۶۴ه‍ په شاوخوا کي) او د سيد محمد عظيم لور مستورۀ غوري د غور د پرچمن

اوسېدونکې (د ۱۲۴۵ه په شاوخواکي) د اشعارو د دېوان مېرمن او د سيد عبدالله کرخي هروي لور مريم د دري ژبي شاعره او د دېوان ميرمن (۱۲۵۷– ۱۳۰۸ه) او د مير حسين زوی سيد حسين بالاحصاري کابلی متخلص په شامل (۱۲۳۸ – ۱۳۰۵ه) په دري ژبه د دوو دېوانو خاوند او د محمد هاشم ملقب په دبيرالملک زوی ميرزا محمد نبي واصل (۱۲۴۴ – ۱۳۰۹ه) د امير شېرعلي خان او امير عبدالرحمٰن خان د دربار سرمنشي په دري ژبه د دېوان خاوند او د محمدامان دروازي زوی شمس الدين شاهين د بدايع الصنايع مؤلف او د ليلٰی او مجنون او تحفة دوستان ناظم او احمد علي شاه کندهاری په دري ژبه د دېوان خاوند (چي په ۱۳۱۱ه کي مړ دئ) او سيد مير مشواہی هروي (۱۲۸۰ – ۱۳۳۳ه) په دري ژبه د دېوان خاوند او هم رسام او خطاط چي ډېر متين اشعار ئې درلودل او سيد فخر الدين مجنون شاه کابلی (۱۲۴۲– ۱۳۰۵) د دبستان خيال مؤلف او رحمت بدخشي د ميرزا اسمٰعيل زوی (د ۱۳۰۰ ه په شاخوا کي) او عبد الغفور نديم کابلی (۱۲۹۶ – ۱۳۳۴ه) په دري ژبه د دېوان خاوند او د رحمت الله زوی نديم بلخي (۱۲۵۰ –۱۳۳۶ه) د شعر د دېوان لرونکی او محمد ابراهيم حسرت کابلی (۱۲۵۰– ۱۳۳۸ه) د شعر د دېوان خاوند او د مخمس د پنځو کتابو او د تحفة شهنشاهي ناظم او د شهاب الدين زوی سيداحمد مشهور په اديب پشاوري (۱۲۶۰– ۱۳۴۹ه) د پخو او متينو اشعارو د دېوان خاوند وو او د عربي قصيدو او قيصرنامې ويونکی.

له پښتو شاعرانو څخه:

عبدالرحيم هوتک د دېوان خاوند، عبدالحميد مومند (۱۱۰۰ – ۱۱۵۰ه) د در و مرجان په نامه دېوان او د شاه و گدای په نامه د مثنوي خاوند، همدا شان نيرنگ عشق او شرعة الاسلام په پنځلسو زرو بيتو کي د ده آثار دي (۱۱۴۸ه) او پير محمد کاکړ چي د اشعارو دېوان ئې په ۱۱۹۶ه کال بشپړ سوی او هم ئې د پښتو گرامر کوچنی کتاب د معرفة الافغاني په نامه په ۱۲۳۸ه کال ليکلی دئ او شمس الدين کاکړ کندهاری چي په ۱۲۳۸ه د شعر دېوان او د سراج الموتي په نامه کتاب او نور منظوم کتابونه ئې درلودل او شاه حسين هوتک او د عبدالله زوی مسعود د آدم خان او درخو د نکل ناظم (د ۱۲۰۰ه په شاوخوا کي) او ملا پير محمد هوتک د سرور زوی د ۱۱۴۰ ه شاوخوا کي د افضل الطريق ناظم او د داود خان کندهاري زوی محمد هوتک د پټې خزانې او خلاصة الفصاحة مؤلف (د ۱۱۴۲ه په شاوخوا کي) او د حسين زوی عبدالرشيد (په ۱۱۶۹ه

کال) په فقهه کي د رشيدالبيان مؤلف او نورمحمد کندهاری د شاه محمود هوتک د حالاتو په باب د محمود نامې ناظم (د ۱۱۶۰هـ په شاوخوا کي) او شېر محمد هوتک (۱۰۹۲ –۱۱۷۵هـ) د اسرار العارفين او تجويد افغاني مؤلف او اخوند گدا د نافع المسلمين مؤلف او د اشعارو د دېوان خاوند (د ۱۱۶۰هـ په شاوخوا کي) او محمدي صاحبزاده د پېښور په ۱۱۸۰هـ کال د اشعارو د دېوان لرونکی او حافظ مرغزی په ۱۱۱۶هـ کال د احمد شاهي شهنامې ناظم او محمد مظفر د اسماعيل زوی د ۱۱۲۶هـ په شاوخوا کي د اعثم کوفي د تاريخ مترجم او د حافظ رحمت برېڅ زوی نواب الله يارخان د ۱۲۲۸هـ کال په شاوخوا کي د عجايب اللغات پښتو مؤلف او عبدالکريم کاکړ کندهاری په ۱۳۳۴هـ کال د زين العلم ناظم چي له عربي عين العلم څخه ئې ترجمه کړی وو او حافظ الپوري (په ۱۲۰۰هـ کال) د دېوان خاوند او قاسم علي اپريدی د څو کتابو مؤلف او عبدالعظيم سواتی د اشعارو د دېوان لرونکی (۱۱۶۷ – ۱۲۵۳هـ) او ملا محمد حسن تلوکاني کندهاری د اشعارو د دېوان خاوند چي په ۱۲۴۵هـ کال مړ دئ، رحمت داوی کندهاری د اشعارو د دېوان او د ليلٰی او مجنون د مثنوي خاوند د (۱۲۱۰هـ په شاوخوا کي) او ميا نعيم متې زی په ۱۲۳۰هـ کال د شعر د دېوان خاوند او معين الدين پشاوری په ۱۲۵۶هـ کال د وامق او عذرا ناظم او عبدالرسول کندهاری د اشعارو د دېوان او د سفرنامې او آزادنامې څښتن (۱۲۹۰هـ) او ملا جمعه بارکزی کندهاری شاعر چي په ۱۲۵۹هـ کي مړ دئ او عزيز خان رښاخېل د ۱۲۵۰هـ په شاوخوا کي د هرات د جنگنامې ناظم او د عبدالرحمٰن زوی مراد علي کاموي په ۱۲۸۲هـ کال د تفسير يسير مؤلف، دوست محمد خټک کندهاری په ۱۲۹۰هـ کي د بدر منير او بحرالعلوم او اخلاق احمد مؤلف او معزالله مومند په ۱۲۰۰هـ کي د شعر د دېوان خاوند او ميرزا حنان کندهاری او صديق اخوندزاده او گل محمد هلمندی د اشعارو د دېوان خاوند.

د پښتو شاعراني:

نازو توخې د سلطان ملخي لور او د حاجي مير ويس خان هوتک مور په ۱۰۶۱هـ کي زېږېدلې ده او د ميرويس خان لور زينبه هوتکي (په ۱۱۲۷هـ کي مړه ده) او سپينه هروي (د ۱۲۵۵هـ په شاوخوا کي).

له عالمانو څخه مولوي محمد اعظم اندړ د غزني د شلگر اوسېدونکی او مولوي عبدالله غزنوي او ملا عبدالحق د کندهار د خرقې شريفي متولي او صوفي محمد رسول

ساکزی (په ۱۲۸۷هـ په کندهار کي مړ دئ) او ملا مشک عالم اندړ غزنوي او ملا سکندر (چي د امير شېر علي خان د لښکر قاضي وو) او ملامحمود او ملا عبدالله د اناردرې قاضي او ملا عبدالفتاح او ملا ابوالحسن (د ۱۲۷۰هـ په شاوخوا کي د هرات عالمان) او محمد حسين د مداح الکوزي کندهاري زوی چي د مير زاهد هروي د تصور او تصديق پر حاشيې باندي د شرح انکشافيه مؤلف او مسعودګل د قاضي عبدالرحمٰن پېښوري زوی په ۱۲۲۶هـ کي د عجايب الاخبار مؤلف او عبدالحليم کاکړ کندهاری په ۱۲۳۴هـ کي د ردحليميه علي مطاعن احمديه مؤلف او ملا عبدالحق د عبدالغفور خروټي زوی د پښتو د ياقوت السير ناظم او د شرح اربعين مؤلف او ملا قطب توخی چي په کندهار کي ئې پر ډېرو ادبي کتابو شرح ليکلي دي او مولانا عبداللطيف د تيمور شاه د دربار صدر العلماء (چي په ۱۱۹۴هـ کي مړ دئ) او مولوي محمد عمر ساکزی چي د تجويد په علم کي ئې په پښتو يو کتاب تاليف کړی او په ۱۲۰۵هـ کي مړ دئ او سعدالله خروټی چي پر جلالين او پر مولوي عبدالغفور ئې شرح ليکلې او په ۱۲۰۹هـ کي مړ دئ.
سره له دې چي په دې عصر کي علمي او ادبي هڅه بيخي پر ځای ولاړه نه وه او لکه چي ومو ليدل د هيواد په هر ګوټ کي پوهان ول، خو که په انتقادي او مقايسوي نظر ئې وګورو دا دوره نسبت پخوا ته د علم او ادب د زلميتوب او فعاليت دوره ګڼلای نه سو، بلکه دا د تقليد او انتحال دوره ده، ځکه نو په دې دوره کي علمي او فکري بکر آثار لږ ليده کېږي.

د دري ژبي ادبياتو هم د دې عصر په نثر او نظم کي د انحطاط دوره وهلې ده او کم ابتکار پکښي نه ليده کېږي او بايد وويل سي، چي حضرت نورالدين عبدالرحمٰن جامي د دري ژبي خاتم شعرا وو، خو بالعکس د پښتو ژبي ادب ښه وده وکړه او د پيرمحمد کاکړ کندهاري او حميد مومند او نورو غوندي د ابتکار او ښې قريحې خاوندان شاعران پکښي پيدا سول او په تېره بيا حميد او کاظم خان خټک متخلص په شيدا د هندي سبک چاشني په پښتو ګډه کړه.

د سدوزو د وختو په دري ادبياتو کي داسي شاعران لرو چي د حافظ او جامي او د خراسان او عراق د سبک پيروان دي، خو تر ۱۲۵۰هـ وروسته په دري ادب کي يوه هڅه او حرکت مومو، چي زموږ شاعران د هند د سبک پيښې (تقليد) کوي، او دا هغه اغېزه ده، چي د ميرزا عبدالقادر بېدل د اشعارو د کليات بشپړ مقبوليت په نتيجه کي منځ ته

راغلې ده او په غزل کي د دې سبک لومړی پیرو سردار مهردل خان د سردار پاینده خان زوی دئ، چي مشرقي ئې تخلص وو. تر هغه وروسته سردار غلام محمد خان طرزي او زوی ئې محمدامین عندلیب هم د دې سبک ډېره پیروي کوي، حال دا چي په همدې کورنۍ کي د سردار پاینده خان ورور سردار هارون خان او سردار غلام حیدر خان او سردار احمد خان د امیر دوست محمد خان زامن درې سره شاعران او په دري ژبه دېوانونه لري، سردار شهنواز خان د سردار سلطان احمد خان سرکار زوی او خوشیدل خان د مشرقي زوی او سردار محمد حسن خان سیاه د تیمور قلي خان زوی او د وزیر فتح خان ورور (د ۱۳۰۰هـ شاوخوا) او سردار محمد عزیز د سردار شمس الدین خان زوی (د ۱۳۱۰هـ شاوخوا) او سردار عباس خان د سردار سلطان محمد خان زوی شاعر او د گل عباسي او جواهر خمسه او عناصر اربعه مؤلف او د تفسیر کلام الله مفسر (۱۲۵۲ – ۱۳۴۳هـ) هم په دري ژبه شعر ویلی دئ، خو د دوی په کلام کي د هند د سبک د پیروي اغېزه او د هغه سبک شاعرانه تلازمات او د تخیل طرز لړلیده کېږي.

د احمد شاه بابا له وختو بیا د امیر عبدالرحمٰن خان د دورې تر پایه (د ۱۳۲۰هـ شاوخوا پوري) دري شعر د پخوانیو شاعرانو په تېره بیا د هند د سبک د فکري او عروضي تقلید په قالب کي پاته سو او هغه شاعران چي په دې دوو پېړیو کي منځ ته راغله، ټول د تېرو دورو د شاعرانو مقلدان ول، خو د افغان او انگرېز تر لومړۍ او دوهمي جگړې وروسته چي د هند او شمال له خوا د اروپایي نوي مدنیت اغېزي افغانستان ته راورسېدلې، د دې ځای پر ادب ئې هم اغېزه وکړه او همدا د (۱۳۲۰هـ ق شاوخوا) د افغانستان په نویو ادبیاتو کي د نوي فکر ځرک ښکارېږي.

هغه بدلون چي د اروپا د صنعت او مدنیت اغېزه د دې وخت په ادب کي راووست هغه فکري بدلون دئ، چي د شعر پر ظاهري سبک او قالب باندي ئې اثر و نه کی او زموږ شاعرانو همهغه پخواني عروضي قالبونه معتبر وبلل، خو لږ تر لږه زموږ پر ملي ادب د نوي فکر اغېزه ولوېدله او وینو چي مولوي محمدسرور واصف کندهاري د جهان اوضاع ته د ځیر کېدلو او نوي مدنیت ته د ترغیب او تشویق په باب کي یوه قصیده ویلې ده او د ۱۲۹۰هـ په شاوخوا کي د امیر شېرعلي خان په وختو کي لومړی وار د (شمس النهار) په نامه یوه جریده د کابل له بالاحصاره خپره سوه او تر هغه وروسته په ۱۳۲۳هـ کال د سراج الاخبار افغانستان لومړۍ گڼه د مولوي عبدالروف خان کندهاري

په مدیریت د پوهانو د یوې ټولنې له خوا چاپ سوه او د معارف د خپرېدو او د ښوونځیو او مطبوعاتو د تاسیس او د ادبي نویو عصري آثارو د تالیف او ترجمې هڅه هم شروع سوه او د دې نوي فکري او ادبي هڅې مخکښ او پېشوا د سردار غلام محمد خان طرزي کندهاري زوی محمود طرزي وو، چې په ۱۲۸۴ھ کال په غزني کې زېږېدلی او د ۱۹۳۳م کال د نومبر پر ۲۲ په استانبول کې مړ سوی دئ. ده په ۱۳۲۹ھ ق کال سراج الاخبار افغانیة چې په ۱۳۲۳ھ ق کال ئې یوازې یوه ګڼه خپره سوې وه، بیا راژوندی کی او هغه ئې تر اتو کالو پوري د یوې پنځلس ورځنۍ موقوتې جریدې په توګه خپره کړه، چې د افغانستان د خلکو د ویښتوب او خپلواکۍ غوښتنې محرک سو او د دري ژبې په نثر او نظم کې ئې نوی فکر او نوې انشاء وروزله او شل کتابه ئې له ترکي څخه په دري ژبه ترجمه او یا تالیف کړل او دی لومړی سړی دئ، چې د افغانستان د صحافت او لیکنې په جهان کې ئې د فکري او ادبي نوي مکتب اساس کېښېښوو.

دا وخت دئ، چې د پښتو او دري ژبو نورو لیکونکو او شاعرانو هم افغاني ادب ته نوی فکر ننه ایست او د عبدالعلي مستغني (۱۲۹۳ – ۱۳۵۲ھ ق) او قاري عبدالله (۱۲۸۸ھ ق – ۱۳۲۲ھ ش) او عبدالغفور ندیم او عبدالهادي داوي او مولوي صالح محمد هوتک او مولوي غلام محی الدین افغان او مولوي عبدالرب کندهاري او د نورو لیکونکو او شاعرانو په شان منځ ته راغلل او سره له دې چې د دوی لیکنې په زړو کلاسیکي قالبو کې وې خو څه نه څه ئې نوي افکار او مفاهیم چې شلمې پېړۍ زېږولي ول هم وروزل.

د ۱۹ پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې د انګرېز استعمار او تسلط چې د نوي تمدن او صنعتي بدلون مبادي ورسره ول پر ټول هندوستان د سند د سیند تر غاړو خپور سو او زموږ د هیواد د لمر ختیزو طبعي سرحدو سره ونښت او افغان او انګرېز لومړۍ جګړه چې په ۱۹۳۹م کال د سند د لښکر (اندس ارمي) له خوا شروع سوې وه تر پنځو کالو وروسته د افغان ملي قوت په بري او د متجاوزو لښکرو په قطعي ماته پای ته ورسېدله او تر هغه وروسته د هند د وسپني لاره هم دې خوا ته را اوږده سوه او د تګ او راتګ لاره ئې وسپړله او د بمبیي او کراچي بحري بندرو هم افغاني سرحدو ته د بحري انتقال لاره خلاصه کړه، حال دا چې د هیواد لمر لوېدو خوا ته یعني په قاجاري ایران او د شمال پلو ته په تزاري روسیې کې هم د نوي مدنیت مبادیو او نوي فکر وده موندله او دې ټولو

اغېزناکو عواملو د افغانستان د خلکو پر ژوند او فکر او سیاست او اداره باندي هم اغېزه کوله.

د دې فکري هڅي او حرکت له ممثلانو څخه یو هم سید جمال الدین د کونړ د سید صفدر زوی وو (۱۲۵۴ – ۱۳۱۴هـ ق) چي خپل جهاد ئې له افغانستانه د شرق د بدمرغۍ او بدبختۍ د درو عاملو (استعمار، استبداد او خرافاتو) پر ضد شروع کی او په هند، اېران، عثماني ترکیه او مصر کي ئې فکري او اصلاحي نوی نهضت راووست او بین المللي شهرت ئې وموند او ده ته د افغانستان او د شرق د هیوادو د ویښتوب او نوي فکر لومړی روزونکی ویل کېدای سي، خو د استعمار دسیسو او په افغانستان کي د شهزادګانو کورنیو جنګو او په هیواد کي د مرکزي دولت نستوالي پرې نه ښوده، چي دا فکري هڅه او حرکت خپل طبیعي تګ ته دوام ورکي، څو چي امیر شېرعلي خان د خپلي پاچهۍ په دوهمه دوره کي وکولای سوه، لومړۍ افغاني کابینه د سید نور محمد شاه کندهاري صدراعظم په مشري تاسیس او د شمس النهار جریده او منظم لښکر او یوه برخه عصري تشکیلات منځ ته راولي او په سیاست کي ئې هم آزاد خط مشي تعقیب کړل. خو د افغان او انګرېز د دوهمي جګړې شروع (۱۲۹۵ – ۱۲۹۷هـ ق) دا سلسله پرېکړه او د امیر عبدالرحمٰن خان دوره (۱۲۹۷ – ۱۳۱۹هـ ق) د استبداد تر فشار لاندي په یو ډول فکري جمود کي تېره سوه، څو چي ۱۳۲۳هـ ق کال په کابل کي د سراج الاخبار ټولنه تاسیس او په نوي فکري هڅه ئې بیا لاس پوري کئ او مولوي عبدالرؤف کندهاري سراج الاخبار نشر کی او په کابل کي دارالعلوم حبیبیه هم تاسیس سو، چي دا نو د ساینس او نویو مضمونو د تدریس شروع وه.

دې فکري هڅي سره له دې چي خارجي او داخلي خنډونه او موانع ئې درلودل، په ۱۳۲۹هـ ق کال د سراج الاخبار افغانیه د بیا را ژوندي کولو په واسطه د محمود طرزي له خوا ادامه وموندله او د اخوان افغان په نامه په کابل کي لومړی افغاني سیاسي حزب تاسیس سو، چي مرام ئې مشروطیت، خپلواکي او داخلي اصلاحات ول، خو د دې حزب غړي په ۱۳۲۵هـ ق کال یا ووژل سول او یا بندیان سول او تر ۱۳۲۹هـ ق چي سراج الاخبار د محمود طرزي په واسطه بیا خپور سو، همدا د اخوان افغان حزب هم بیا راژوندی سو او تر ۱۳۳۷هـ ق پوري ئې د افغاني روشن فکرانو په تنظیم او د معارف په خپرونه کي ئې زیار ویوست او د هیواد د بشپړي سیاسي آزادۍ ګټلو او خپلواکۍ د جهاد له پاره د

اولس په عمومي قيام او د افکارو په تنوير کي د دې ټولني زيار ګټور وو او چي په ۱۹۱۹م کال کي افغان اولس خپله خپلواکي بېرته وګټله ټولو روشن فکرانو دنيا ته د نوي آزاد افغانستان د ورپېژندلو او د ادارې د نوي تشکيل او د مدني چارو په ترتيب او د معارف د تعميم او د ښوونځيو د تاسيس او د مطبوعاتو د پراختيا په لاره کي زيار وېوست چي دا ګټور زيار تر اوسه جاري دئ.

مأخذونه او مراجع

هغه کتابونه چي د دې کتاب په ليکلو کي له هغو څخه استفاده سوې ده:

۱. د سيد جمال الدين افغان (تتمة البيان) د قاهرې چاپ، ۱۹۰۱م.

۲. د افغان او فارس جګړه، له لاتيني څخه په انګرېزي د جارج نيون هامفورد ايزک ترجمه، د لندن چاپ.

۳. زندګاني نادرشاه، د نورالله لارودي ليکنه، تهران، ۱۹۳۹م.

۴. روضة الصفای ناصري، ۸ ټوک د رضا قلي هدايت ليکنه، تهران، ۱۳۰۲ه ق.

۵. پټه خزانه او پايڅوړئې د حبيبي په قلم، کابل ۱۹۴۴م.

۶. آئين اکبري، د ابوالفضل ليکنه، لکنهو، ۱۳۱۰ه ق.

۷. تاريخ افاغنه (اردو) د سيد ظهور الحسن موسوي ليکنه، د هند چاپ، ۱۳۳۰ه ق.

۸. تاريخ نظامي اېران، لومړی ټوک، تهران ۱۳۱۵ه ش.

۹. نادر نامه (خطي) د حبيبي د کتب خانې نسخه، مؤلف ئې معلوم نه دئ.

۱۰. سيرالمتأخرين، د غلام حسين ليکنه، د لکنهو د نولکشور چاپ.

۱۱. درهٔ نادره، د ميرزوا مهدي استرآبادي ليکنه، بمبئي ۱۳۰۹ه ق.

۱۲. آريانا مجله، د تاريخ ټولني له خپرونو څخه.

۱۳. د کاوه مجله، ۲ کال، د برلين چاپ ۱۳۰۳ه ش.

۱۴. تاريخ اېران، د سرجان مالکم، بمبئي ۱۸۶۸م.

۱۵. تاريخ افغانستان، د مليسون تاليف، د لندن دوهم چاپ، ۱۸۷۸م.

۱۶. تاريخ سلطاني، د سلطان محمد خالص کندهاري تاليف، بمبئي ۱۲۹۸م.

۱۷. خورشيد جهان، د شيرمحمد ليکنه، ګنداپور، لاهور ۱۸۹۴م.

۱۸. منتخب اللباب، د خافي خان، ايشاټک سوسايټي، کلکته ۱۸۹۶م.

۱۹. حيات افغاني، د محمد حيات خان، لاهور ۱۸٦۷م.

۲۰. ميرويس نيکه، د بېنوا ليکنه، کابل ۱۳۲۵هـ ش.

۲۱. مجمع التواريخ، د ميرزا محمد خليل مرعشي صفوي، تهران، ۱۲۲۸ هـ ش.

۲۲. عباسنامه، د محمد طاهر وحيد قزويني، تهران، ۱۳۲۹هـ ش.

۲۳. خلاصة الانساب ابدالي (قلي)

۲۴. مشاهير ابداليان، د حبيبي، کابل ۱۳۲۵هـ ق.

۲۵. رهنماى افغانستان، کابل ۱۳۲۸هـ ش.

۲٦. لوى احمد شاه بابا، د حبيبي، کابل، ۱۳۱۹هـ ش.

۲۷. دول اسلاميه، د خليل ادهم، استانبول، ۱۹۲۷م

۲۸. مخزن افغانيو دنعمت الله هروي، (قلمي)

۲۹. تذکرة الابرار و الشرار، د اخون درويزه، پېښور د هندو پريس چاپ، ۱۳۰۸هـ ق.

۳۰. صولت افغاني، د محمد زردار خان افغان، د لکنهو د نولکشور چاپ، ۱۸۷٦م.

۳۱. تاريخ افغانستان، لومړى او دوهم ټوک، د کهزاد، کابل ۱۹۴٦م.

۳۲. افغانستان در قرن نزدهم، د سيد قاسم رښتيا، د کابل چاپ ۱۳۲۹هـ ش.

۳۳. اکبرنامه، منظومه، د حميد کشميري، کابل ۱۳۳۰هـ ش.

۳۴. در زواى تاريخ افغانستان، د احمد علي کهزاد، کابل ۱۹۵۲م.

۳۵. مشاهير الشرق، د جرجي زيدان، لومړى ټوک، قاهر، ۱۹۱۰م.

۳٦. المسالک و الممالک، د بن خرداذبه، ليدن، ۱۳۰٦هـ ق.

۳۷. دائرة امعارف اسلامي، ليدن، ۱۹۲۷م.

۳۸. ايرانشهر، د مارکوارت، د برلين چاپ، ۱۹۰۱م.

۳۹. د کرستن سين د (ساسانيانو په وخت کي ايران)، ترجمه، د ډهلي چاپ ۱۹۴۱م.

۴۰. فتوح البدان، د بلاذري، قاهره ۱۹۰۱م.

۴۱. مجمل التواريخ و القصص، د بهار چاپ، تهران ۱۹۳۸م.

۴۲. تاريخ سيستان، د بهار چاپ، د تهران ۱۹۳۴م.

۴۳. تاریخ طبري، د بلعمي ترجمه، لکنهو ۱۹۱٦م.
۴۴. چچنامه، د علي حامد کوفي سندي، د اودپونه چاپ، ډهلي، ۱۹۳۹م.
۴۵. د امان افغان جریده، د کابل چاپ ۱۹۱۹م.
۴٦. د پښتنو تاریخ، د قاضي عطاء الله، د پېښور چاپ، ۱۹۴۷م.
۴۷. د ابن الندیم الفهرست، قاهره، ۱۳۴۸هـ ق.
۴۸. د پېښور د موزیم کتیبې، د عبدالشکور، پېښور ۱۹۴۸م.
۴۹. تاریخ التمدن الاسلامي، د جرجي زیدان، قاهر ۱۹۰۲م.
۵۰. تاریخ ادبیات فارسي، د براون، لندن، ۱۹۰۲ – ۱۹۲۴م.
۵۱. کتاب انخراج، د قدامه بن جعفر، لیدن ۱۸۹۲م.
۵۲. تاریخ روابط سیاسي ایران، د نجف قلي معزي، تهران، ۱۹۴۷م.
۵۳. تاریخ هند، د دولافوز، تهران، ۱۹۳٦م.
۵۴. اقبال نامه جهانګیري، د معتمد خان بخشي، کلکته، ۱۸۸۵م.
۵۵. تزک جهانګیري، د فیروز هادي، چاپ لکنهو، ۱۳۲۷هـ ق
۵٦. ماثر رحیمي، د عبدالباقي، کلکته، ۱۹۲۵م.
۵۷. تزک بابر، د عبدالرحیم خان خانان ترجمه، بمبئ ۱۳۰۸هـ ق.
۵۸. رقعات عالمګیر، د دارالمصنفین اعظم ګدهـ چاپ، ۱۹۴۵م.
۵۹. منتخب التواریخ، د عبدالقادر بدایوني، د کلکتې چاپ.
٦۰. اکبر نامه، د ابو الفضل، کلکته، ۱۸۸٦م.
٦۱. عالمګیر نامه، د محمد کاظم، ۱۸٦۸م.
٦۲. طبقات اکبري، د نظام الدین هروي، کلکته، ۱۹۳۱م.
٦۳. ماثر الامراء، د صمصام الدوله، کلکته، ۱۳۰۹م.
٦۴. بابر، د فرانسوي فرنارد ګروناد، د پاریس چاپ، ۱۹۲٦م.
٦۵. فارس نامه، د ابن البلخي، د کمبرج چاپ، ۱۹۲۱م.
٦٦. افغانستان در عصر تیموریان هند، د حبیبي، د کابل چاپ، ۱۳۴۱.
٦۷. تاریخ فرشته، د محمد قاسم، د لکنهو چاپ، ۱۳۲۱هـ ق.
٦۸. زینت الزمان في تاریخ هندوستان، د ملک الکتاب شیرازي، بمبئ ۱۳۱۰هـ ق.

٦٩. تاريخ مختصر هند، د ابو ظفر ندوي، د اعظم گدهـ چاپ، ۱۳۵۵هـ ق.
۷۰. مجمع السلاطين، د نواب محمد غوث خان، بمبئي ۱۲۷۹هـ ق.
۷۱. تاريخ ایران، د عبدالله رازي، تهران، ۱۹۳٦م.
۷۲. كيمبرج هستري آف انډيا، ۴ ټوک، لندن.
۷۳. مطلع سعدين، د عبدالرزاق سمرقندي (خطي، کابل)
۷۴. روضة الصفا، د مير خواند، لکنهو.
۷۵. تاريخ سند، د سيد معصوم، بمبئي ۱۹۳۸م.
۷٦. مفتاح التواريخ، د جان وليم بيل، لکنهو.
۷۷. لب التواريخ، د يحيٰى قزويني، تهران ۱۹۳۵م.
۷۸. پر بابر نامه باندي د بيورج تعلقات، لندن، ۱۹۲۲م.
۷۹. تاريخ هند، د ارسکن، لندن، ۱۸۵۴م.
۸۰. تاريخ گزيده، د حمدالله مستوفي، لندن، ۱۹۱۹م.
۸۱. مخزن الاسلام، پښتو، د اخوند درويزه (خطي)
۸۲. سلوک الغزات، پښتو، د ملامست زمند (خطي)
۸۳. تاريخ مرصع، د افضل خان خټک، هرتفورد، ۱۸٦۰م.
۸۴. د خوشحال خان د کلياتو مقدمه، د حبيبي، کندهار، ۱۹۴۰م.
۸۵. پښتانه شعرا، ۱، ۲ ټوک، د حبيبي، کابل ۱۹۴۰م.
۸٦. تاريخ افغاني، د شيخ امام الدين خليل (خطي، کابل)
۸۷. الكامل، د ابن الاثير، د مصر د بولاق چاپ، ۱۲۹۰هـ ق.
۸۸. زين الاخبار، د عبدالحي گرديزي، تهران، ۱۹۳۵هـ ق.
۸۹. طبقات ناصري، د منهاج السراج، د حبيبي چاپ، په کابل کي، دوه ټوکه، ۱۳۴۲هـ ق.
۹۰. تذکرة الاولياء پښتو، د سليمان ماکو، د پښتانه شعراء په لومړي ټوک کي، کابل ۱۹۴۰م.
۹۱. تاريخ بيهقي، د ابوالفضل بيهقي، ۳ ټوک، تهران ۱۹۴۷م.
۹۲. تاريخ يميني، د ابو النصر العتبي، قاهره، ۱۲۹۰هـ ق.
۹۳. تاريخ بخارا، د محمد فرشخي، تهران ۱۹۳۷م.

۹۴. حدود العالم، مؤلف ئې معلوم نه دئ، تهران ۱۳۴۰هـ ش.
۹۵. پادشاهان متأخر افغانستان، د يعقوب علي خوافي، کابل ۱۹۵۳م.
۹۶. قابوس نامه، د تهران چاپ، ۱۹۴۰م.
۹۷. جغرافياى تاريخي ايران، د بارتوند، تهران ۱۹۲۸م.
۹۸. مسالک الممالک، د اصطخري، ليدن ۱۸۷۷م.
۹۹. احسن التقاسيم، د المقدسي، ليدن ۱۸۷۷م.
۱۰۰. چهار مقالۀ عروضي او د محمد قزويني تعلقات، ليدن ۱۹۰۹م.
۱۰۱. جوامع الحکايات، د عوفي (خطي، کابل)
۱۰۲. لباب الالباب –د عوفي، ليدن، ۱۳۲۱هـ ق.
۱۰۳. منتخبات آداب الحرب والشجاعة، د فخر مدبر، لاهور.
۱۰۴. طبقات سلاطين اسلام، د لن پول، تهران، ۱۳۱۹هـ ش.
۱۰۵. تاريخ مختصر ايران د پاول هورن، تهران ۱۹۳۴م.
۱۰۶. تاريخ ادبيات ايران، د دکتور شفق، تهران، ۱۹۴۲م.
۱۰۷. اخبار الدولة السلوقية د صدر الدين علي، تهران ۱۹۳۷م.
۱۰۸. ذيل جامع التواريخ، د حافظ ابرو، تهران ۱۹۳۷م.
۱۰۹. جهانکشاى جويني، تهران ۱۳۱۵هـ ش.
۱۱۰. تاريخ مفصل ايران، د عباس اقبال، تهران، ۱۹۳۲م.
۱۱۱. حبيب السير، د خواند مير، بمبئي ۱۲۷۳هـ ق.
۱۱۲. سيرة جلال الدين، د محمد نسوي، تهران ۱۳۴۴هـ.
۱۱۳. تاريخ هرات، د سيفي هروي، کلکته، ۱۹۴۳م.
۱۱۴. ظفرنامه د شرف الدين علي يزدي، د کلکته چاپ.
۱۱۵. د تعديل نسب نامه آل کرت مقاله، د حبيبي په قلم، د آريانا مجله ۶۸ گڼه، کابل ۱۹۴۸م.
۱۱۶. رياض الانشاء، د محمود گاوان، حيدر آباد، دکن.
۱۱۷. نسب نامۀ افغنه، د محمد عبد السلام خان عمر خېل، هند، ۱۹۱۴م.
۱۱۸. عمل صالح، د محمد صالح لاهوري، کلکته، ۱۹۳۹م.
۱۱۹. تزک افغاني، د محمد عباس خان رفعت، د هند چاپ، ۱۲۹۹هـ ش.

۱۲۰. فرهنگ اوستا، بمبئي چاپ.
۱۲۱. خوشحال خان خټک، د دوست محمد کامل، پېښور ۱۹۵۱م.
۱۲۲. تاريخ افغانستان، د علي قلي ميرزا، تهران.
۱۲۳. تاريخ ايران، د فروغي، تهران ۱۳۱۸هـش.
۱۲۴. تحفة الحبيب، د فيض محمد هزاره (خطي)
۱۲۵. تاج التواريخ، د امير عبدالرحمٰن، بمبئ، ۱۳۲۳هـق.
۱۲۶. مجمل التواريخ بعد نادريه، د ابن محمد امين، تهران ۱۹۴۰م.
۱۲۷. احمد شاه بابا، د مير غلام محمد غبار، کابل، ۱۹۴۴م.
۱۲۸. رياض المحبة، د نواب محبت خان، (قلمي)
۱۲۹. د شاه ولي الله دهلوي سياسي مکتوبات، د خليق احمد نظامي چاپ، علي گدهـ، ۱۹۵۰م.
۱۳۰. د شاه فقير الله علوي مکتوبات، لاهور.
۱۳۱. ظفر نامۀ رنجيت، د امرنات، لاهور، ۱۹۲۸م.
۱۳۲. حيات حافظ رحمت خان، د سيد الطاف علي بدايون، ۱۹۳۳م.
۱۳۳. سراج التورايخ، ۲ ټوک، د فيض محمد هزاره، د کابل چاپ، ۱۳۳۱هـق.
۱۳۴. د امير دوست محمد خان ژوند، د موهن لال، کلکته، ۱۸۳۲م.
۱۳۵. د بارکزو عروج، د لايسيس، لندن.
۱۳۶. د کابل پاچهي، د الفنستن، لندن ۱۸۵۱م.
۱۳۷. د هند د غرب شمال سرحد، د سر ونيم بارتن، لندن.
۱۳۸. د افغان جگړه، د ديورنډ، لندن..
۱۳۹. د غزني او کابل سياحت، د واين اثر، لندن.
۱۴۰. د سنداردو، د هوک اثر، لندن.
۱۴۱. د هند شمال ته سفر، د کونولي، لندن
۱۴۲. افغانستان، د سر مکموهن، لندن، ۱۹۲۹م.
۱۴۳. د افغانستان برباردي، د جنرال سيل، لندن.
۱۴۴. د هند سرحدونه، د هولديچ، لندن.
۱۴۵. افغانتسان، د کپتان گري، لندن.

۱۴۶. بلوچستان، د پوټنچر، لندن.
۱۴۷. تاریخ افغانستان، د سرپرسي سايکس، لندن.
۱۴۸. د پښتو ادبیاو تاریخ، ۱، ۲ ټوک د حبیبي، کابل ۱۹۵۰م.
۱۴۹. مؤرخان گمنام افغان، د حبیبي، کابل ۱۹۴۶م.
۱۵۰. محاربهٔ کابل، د قاسم علي، آگره، ۱۲۷۲هق.
۱۵۱. فتوح السلاطین، منظوم د حسامي، آگره، ۱۹۳۸م.
۱۵۲. تاریخ احمدي، د منشي عبدالکریم، نولکشور، ۱۲۶۶م.
۱۵۳. نوای معارک، د عطا محمد، د حبیبي چاپ په کراچي کي، ۱۹۵۹م.
۱۵۴. د پښتنو گرامر مقدمه، راورتي، کلکته، ۱۸۵۶م.
۱۵۵. الاصابه في تميز الصحابه، د ابن حجر عسقلاني، مصر، ۱۳۲۳هق.
۱۵۶. کتاب البلدان، د یعقوبي، لیدن، ۱۸۹۲م.
۱۵۷. سیاست نامه، د خواجه نظام الملکو تهران چاپ.
۱۵۸. ریسز آف افغانستان، د دبلیو بلیو، کلکته.
۱۵۹. فتوحات عرب در آسیای میانه، د گب، د لندن چاپ، ۱۹۲۳م.
۱۶۰. خلافت، د ولیم تمبل میور، لندن، ۱۹۲۴م.
۱۶۱. تاریخ الاسلام السیاسي و الدیني و الثقافتي و الاجتماعي، د حسن ابراهیم، درې ټوکه، د قاهرې چاپ ۱۹۴۸م.
۱۶۲. تاریخ مبارکشاهي، د یحیٰی بند احمد سهرندوی، کلکته، ۱۹۳۱م.
۱۶۳. قانون همایوني، د خواند میر، کلکته، ۱۹۴۰م.
۱۶۴. تذکرهٔ همایون و اکبر، د بایزید بیات، کلکته، ۱۹۴۱م.
۱۶۵. خصایل السعاده، د محمد سعادت خان ترین لکنهو، ۱۸۵۵م.
۱۶۶. تاریخ عمومي، د عباس اقبال، دوهم چاپ، تهران ۱۳۰۵هش.
۱۶۷. مرآة الاشباه، د محمد حسن، د اوده چاپ.
۱۶۸. د کابل کالنۍ، له ۱۹۳۰څخه تر ۱۹۵۳م پوري، د کابل چاپ.
۱۶۹. د کابل مجله، ۱، ۲ ټوک د میر غلام محمد غبار د (افغانستان ونگاهي بتاریخ آن) مضمون ۱۹۳۱– ۱۹۳۲م.
۱۷۰. حدیقة الاقالیم، د مرتضٰی حسین بلگرامي لکنهو، ۱۲۹۶ه.

۱۷۱. مسکوکات افغانستان در عصر اسلام، د احمد علي کهزاد، کابل ۱۹۳۹م.
۱۷۲. منجم العمران، د سید محمد امین خانجي، مصر، ۱۳۲۵هـ ق.
۱۷۳. فصلي از خلاصة الاخبار، د خواند میر، د گویا اعتمادي چاپ، کابل، ۱۹۴۶م.
۱۷۴. آثار هرات، ۳ ټوکه، د خلیل الله افغان، هرات ۱۹۲۹م.
۱۷۵. خراسان، د میر غلام محمد غبار، کابل ۱۹۴۷م.
۱۷۶. واقعات شاه شجاع، د شاه شجاع سدوزي، کابل، ۱۹۵۳م.
۱۷۷. وفیات الاعیان، د ابن خلکان، د مصر بولاق، ۱۲۹۹هـ ق.
۱۷۸. مروج الذهب، د مسعودي، پاریس، ۱۸۶۱م.
۱۷۹. تاریخ عرب، د فلیپ هتي، لندن، ۱۹۳۴م.
۱۸۰. تجارب الامم، د ابن مسکویه، لیدن، ۱۹۰۹م.
۱۸۱. شوکت افغاني، د محمد عبدالحکیم خان لودي، آگره، ۱۳۲۵هـ ق.
۱۸۲. دول الاسلام، د شمس الدین ذهبي، حیدرآباد، دکن ۱۳۳۳هـ ق.
۱۸۳. تاریخ محمد شاهي، د فیض الله بنیاني (خطي، پېښور)
۱۸۴. تزک تیموري، بمبئ، ۱۳۲۶هـ ق.
۱۸۵. سبحة المرجان في آثار هندوستان، د سید غلام علي بگرامي، د بمبئي، چاپ، ۱۳۰۳هـ ق.
۱۸۶. تذکرۂ نصرآبادي، تهران ۱۳۱۵هـ ش.
۱۸۷. مجالس النفایس، د میر علي شیر نوايي، تهران ۱۹۴۴م.
۱۸۸. تذکرۂ علمای هند، د رحمان علي، لکنهو ۱۲۹۲هـ ق.
۱۸۹. د پښتونخوا د شعر هار و بهار، د فرانسوي جم دارمستتر. پاریس، ۱۸۸۸م.
۱۹۰. د افغان د ۱۷ پېړۍ اشعار، د بیدولف، د هرتفورد چاپ، ۱۸۹۰م.
۱۹۱. هفت اقلیم، د امین احمد رازي، کلکته، ۱۹۱۸م.
۱۹۲. شمع انجمن، د سید صدیق حسن بهوپال، ۱۲۹۲هـ ق.
۱۹۳. شکرستان افغاني، د میر احمد شاه رضواني، لاهور، ۱۳۰۵هـ ق.
۱۹۴. بهارستان افغاني، د میر احمد شاه رضواني، لاهور، ۱۳۰۵هـ ق.
۱۹۵. سکینة الفضلا، د عبدالحکیم رستاقي، ډهلي، ۱۳۵۰هـ ق.

۱۹۶. قاموس الاعلام، د شمس الدین سامي، استانبول، ۱۳۰۸هـق.
۱۹۷. مذکر احباب، د حسن خواجه بخاري (خطي، برلین)
۱۹۸. حجة الاورنگ شاهیه، د تاش محمد القندزي (خطي، کابل)
۱۹۹. آتشکدۀ آذر، د لطف علي آذر، د بمبئ چاپ، ۱۳۰۹هـق.
۲۰۰. ګلشن روه، د راورټي، هرتفورد، ۱۸۶۰م.
۲۰۱. چراغ انجمن، د عبدالحکیم رستاقي، ډهلي ۱۹۲۹م.
۲۰۲. تذکرۀ حسیني، د محمد حسین سنبهلي، لکنهو، ۱۲۹۲هـق.
۲۰۳. کلید افغاني، د هیوز، لاهور، ۱۸۹۳م.
۲۰۴. جامي، د علي اصغر حکمت، تهران ۱۹۴۰م.
۲۰۵. خزانۀ عامره، د غلام علي آزاد، دهند چاپ.
۲۰۶. تاریخچۀ شعر پښتو، د عبدالحي حبیبي، د کندهار چاپ، ۱۹۳۵م.
۲۰۷. ریاض الشعرا، د واله داغستاني، (خطي، کابل)
۲۰۸. مرآة الخیال، د امیر شیرعلي لودي، د هند چاپ.
۲۰۹. تذکرة الخوانین، د عبدالباري آسي، د لکنهو چاپ
۲۱۰. خزینة الاصفیاء، د مفتي غلام سرور لاهوریو لکنهو، ۱۹۱۴م.
۲۱۱. د عبدالقادرخان خټک د دیوان مقدمه، د عبدالحي حبیبي، د کندهار چاپ، ۱۹۳۷م.
۲۱۲. فوایدالشریعة، پښتو، د اخون قاسم پاپین خېل، د لاهور چاپ.
۲۱۳. تاریخ روسای پنجاب، د سر لیپل ګریفن، لاهور.
۲۱۴. د پېښور تاریخ، د رای ګوپال داس، لاهور، ۱۸۷۰م.
۲۱۵. البرامکه، د محمد عبدالرزاق، د هند چاپ.
۲۱۶. د ګندهار پخوانی جغرافیا، د موسیو فوشه، کلکته، ۱۹۱۵م.
۲۱۷. اخبار برامکه، د عبدالعظیم ګرګاني، تهران، ۱۲۱هش.
۲۱۸. تاریخ تمدن ایران ساساني، د سعید نفیسي، د تهران چاپ، ۱۳۳۱هش.
۲۱۹. تهذیب و تمدن اسلامي، لومړی او دوهم ټوک، د رشید اختر بدوي، د لاهور چاپ، ۱۹۵۲م.
۲۲۰. نقود الاسلامیه، د مقریزي (خطي نسخه، دمشق، د تهذیب او تمدن

اسلامي په ذريعه)
۲۲۱. تاريخ طبرستان، د بهاوالدين محمد بن حسن بن اسفنديار، په ۶۱۳هـ ق كي د تهران چاپ، ۱۳۲۰هش.
۲۲۲. افغانستان بيک نظر، د مير غلام محمد غبار، د کابل په کالنۍ کي چاپ سوی.
۲۲۳. روضة السلاطين، د فخري هروي، د تبريز چاپ، ۱۳۴۵هـ ش.
۲۲۴. تاريخ ادبيات فارسي، د ډاکتر براون، د لندن چاپ.
۲۲۵. تاريخ ادبيات در ايران، د ډاکتر صفا، د تهران چاپ، ۱۳۳۸هـ ش.
۲۲۶. تاريخ الادب العربي، د بروکلمان (د عربي خطي نسخو فهرست) ۱۹۶۲م.
۲۲۷. د بهار سبک شناسي، دريږ ټوکه، د تهران چاپ، ۱۳۳۷هـ ش.
۲۲۸. آريانا انتيکوا، د ويلسون، د لندن چاپ ۱۳۳۷هـ ش
۲۲۹. طبايع الحيوان مروزي، د مينارسکي چاپ په لندن کي، ۱۹۴۲م.
۲۳۰. مجمل فصيحي، ۳ ټوکه، په مشهد کي د محمود فرخ چاپ، ۱۳۳۹هـ ش.
۲۳۱. کتاب الهند، د البيروني، د حيدرآباد دکن چاپ ۱۹۵۸م.
۲۳۲. آثار الباقيه، د البيروني، د حيدرآباد دکن چاپ، ۱۹۵۸م.
۲۳۳. معجم الانساب، د زامباور، د قاهرې چاپ، ۱۹۵۱م.
۲۳۴. فضايل بلخ، د عبدالحي حبيبي په تصحيح، تهران ۱۳۵۰هـ ش.
۲۳۵. جغرافيای خلافت شرقي، د جي، لي سترينج اردو ترجمه، د حيدرآباد دکن چاپ، ۱۹۳۰م.
۲۳۶. الاعلام، د خيرالدين زرکلي، د قاهرې چاپ، ۱۹۵۹م.
۲۳۷. راحة الصدور راوندي، د تهران چاپ، ۱۳۳۳هش.
۲۳۸. احياء الملوک در تاريخ سيستان، د ملک شاه حسين سيستاني، د تهران چاپ، ۱۳۴۴هـ ش.
۲۳۹. مقالات الشعراء، د مير علي شير قانع تتوي، د کراچي چاپ، ۱۹۵۷م.
۲۴۰. تکملهٔ مقالات الشعراء، د محمدابراهيم خليل تتوي، د کراچي چاپ، ۱۹۵۸ع.

پای